د افغانستان لنډ تاريخ

ليکوال

اروا ښاد پوهاند عبدالحی حبيبی

ژباړن

الحاج عبدالودود کرزی

۱۳۷۸لمريز

Ketabton.com

The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	:	د افغانستان لنډ تاریخ
لیکوال	:	پوهاند عبدالحی حبیبي
ژباړن	:	الحاج عبدالودود کرزی
سمونکی او کتونکی	:	محمد داود وفا
کمپوز او طرح د	:	حفیظ الله
کمپوزینګ	.	ایشیاسافټ، پېښور
د چاپ شمېر	:	۱۰۰۰ ټوکه
د چاپ نېټه	:	غبرګولی ۱۳۷۸ هـ ل
د چاپ ځای	.	سپین پرنټرز (پرائیویټ) لمیټډ کوئټه.

د دې کتاب د چاپ ټول حقوق په ژباړونکي پورې اړه لري

n: The Digital Library

ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبی

com: The Digital Library

لړلیك

۱- د کتاب د لیکوال لنډ ژوند لیك .... (د)
۲- د ژباړونکي لنډ ژوند لیك .... (ی)
۳- خپلې خبرې .... (ل)
۴- د لیکوال سریزه .... (ن)
۵- **لومړی برخه**
د افغانستان تر تاریخ دمخه دورې ته یوه کتنه ۱
۶- تر اسلام دمخه تاریخي افغانستان ۱۴
۷- د پردیو هخامنشیانو واکمني ۵۰
۸- د سکندر یرغلونه ۶۲
۹- په آریانا کښې، مور یا لنډمهالې واکمني او بودایي لویه اغیزه ۷۱
۱۰- یونان باختري خپلواك سلطنت ۸۳
۱۱- ساکان، پارتیان او پهلوایان ۹۱
۱۲- کوشانیان ۹۹
۱۳- د کوشانیانو پایڅوړ او د هپتالیانو منځته راتګ ۱۱۴
۱۴- هپتالیان ۱۱۸
۱۵- افغانستان د اسلام د پیدایښت په وخت کښې ۱۲۷
۱۶- د افغاني فرهنګ تاریخي بنسټونه ۱۳۴

The Digital Library

۱۷- **دویمه برخه**

افغانستان ته د اسلام راتګ او د خلفاوو دوره ۱۴۱

۱۸- د حضرت عثمان رض خلافت ۱۴۳

۱۹- د علي رض خلافت ۱۴۶

۲۰- اموي دوره ۱۴۸

۲۱- د عباسیانو واکمني ۱۵۸

۲۲- په اموي او عباسي دوره کښې د افغانستان ټولنیز او مدني احوال ۱۶۵

۲۳- **دریمه برخه**

خپلواکه اسلامي دوره ۱۸۱

۲۴- صفاریان ۱۸۶

۲۵- سامانیان ۱۹۶

۲۶- پښتانه واکمنان ۲۰۲

۲۷- فریغونیان ۲۰۴

۲۸- د ملتان لودیان ۲۰۸

۲۹- د تخارستان د باینجور کورنۍ ۲۱۲

۳۰- د غرستان شاران ۲۱۴

۳۱- د اندراب امیران ۲۱۶

۳۲- چغانیان امیران - آل محتاج ۲۱۷

۳۳- سیمجوریان ۲۲۰

۳۴- غزنویان ۲۲۳

۳۵- د سلجوقیانو او خوارزم شاهیانو واکمني ۲۴۰

۳۶- غوریان ۲۴۴

۳۷- خوارزمشاهیان ۲۶۶

۳۸- **څلورمه برخه**

د خوارزم شاه وروستنی ماتې او د چنګیز منخته راتګ ۲۷۳

۳۹- د چنګیزیانو په وخت کښې د کرت اولاده او افغاني امیران ۲۸۵

۴۰- **پینځمه برخه**

د هرات تیموریان ۲۹۶

۴۱- د کونړ حکمرانان او یو سفزیان ۳۰۶

۴۲- د هند تیموریان ۳۱۰

۴۳- **شپږمه برخه**

روښانیان ۳۴۴

۴۴- توخیان ۳۶۵

۴۵- ابدالیان ۳۶۸

۴۶- هوتکیان ۳۷۸

۴۷- سدوزیان ۴۰۰

۴۸- احمد شاه بابا ۴۰۵

۴۹- تر احمد شاه وروسته ۴۲۸

۵۰- **اوومه برخه**

محمد زایان ۴۴۰

۵۱- ټولنیزه او فکري اوضاع ۴۷۵

۵۲- اخځلیکونه ۴۹۳

m: The Digital Library

د کتاب د لیکوال لنډ ژوند لیک

اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي د ۱۳۲۸هـ. قمري کال د ربیع الثاني پر ۱۷ مه (۱۲۸۷هـ.ل) د پنجشنبې په ورځ د کندهار ښار د بامیزو په کوڅه کښې زیږېدلی او په ختېه کاکړ دی.

ده خپلې لومړنی زده کړې د کندهار په لومړنیو ښوونځیو کښې تر پینځم ټولګي پورې سرته رسولې دي. تر پینځم ټولګي وروسته په ۱۳۰۶هـ ل کال همهلته د لومړني ښوونځي ښوونکی وټاکل شو.

په ۱۳۰۷هـ ل د کندهار د "طلوع افغان" اخبار مرستیال وټاکل شو، چې بیا په ۱۳۱۰هـ ل کال د "طلوع افغان" اخبار بشپړه چلوونه ده ته وسپارل شوه، لس کاله پرله پسې یې د هغه اخبار د چلوونکي په توګه کار وکړ او هغه اخبار یې په ښه عالمانه توګه وچلاوه په تېره بیا یې د پښتو ژبې او ادب له پاره روښانه خدمتونه وکړل.

هلته یې د پښتو څو قلمي آثار، لکه د خوشال خان ختېك کلیات او د عبدالقادر خان ختېك دیوان تدوین، تصحیح، مقابله او له اوږدو سریزو سره چاپ کړل او هم یې د پښتو یو قاموس د "سپېڅلې پښتو" په نامه چې لس زره لغتونه لري له دري ژباړې سره ترتیب او خپور کړ. سربېره پر هغه یې د(تاریخچه پښتو) تر سرلیك لاندې د پښتو ادب مفصله تاریخچه او تذکره په دري ژبه و نیکله چې د طلوع افغان په اخبار کښې په پرله پسې ډول خپره شوه او د هغه اخبار له لارې یې د پښتو ژبې د ډېرو ښو لیکوالانو او شاعرانو همکاري جلب او هم یې نوي لیکوالان او شاعران وهڅول.

په ۱۳۱۹ هـ.ل کابل ته راوغوښتل شو او د پښتو ټولنې مشر وټاکل شو چې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیال په توګه یې هم کارکاوه. د پښتو ټولنې تر مشرتابه وروسته په ۱۳۲۰ هـ.ل کال د پوهنې وزارت مشاور وټاکل شو. تر دې وروسته د ده په هاندو هڅه به ۱۳۲۳ کال په کابل پوهنتون کښې د ادبیاتو پوهنځی پرانېستل شو چې همدې یې

رییس وټاکل شو. په ۱۳۲۵ هـ ل کال د کندهار ولایت د پوهنې رییس او بیا په ۱۳۲۶ هـ ل کال په (چمن) کښې افغاني وکیل التجار مقررشو، په ۱۳۲۷ هـ ل کال چې د ملي شورا وکیلان ټاکل کېدل حبیبي صاحب په ملي شورا کښې د کندهار ښار د خلکو له خوا وکیل انتخاب شو، خو د وکالت دوره یې لا پوره نه وه چې په ۱۳۳۰ هـ.ل له خپلې کډې سره پاکستان ته لاړ. او په ۱۳۴۰ هـ ل کال (لس کاله وروسته) بیرته هېواد ته راستون شو. په ۱۳۴۴ هـ ل کال په کابل پوهنتون کښې د پوهاند په علمي رتبه د ادبیاتو پوهنځي استاد وټاکل شو.

په ۱۳۴۵هـ.ل (۱۹٦٦) کال د پوهنتون پراستادی سربېرد د تاریخ ټولنې رییس هم شو.

په ۱۳۵۱ هـ.ل (۱۹۷۲) کال د عظمی صدارت د فرهنګی چارو مشاور وټاکل شو.

په ۱۳۵۲ هـ.ل کال بیا د ادبیاتو پوهنځي استاد شو، په ۱۳۵۶هـ.ل کال د ادبیاتو په پوهنځي کښې د ماستری د دورې استاد شو.

په ۱۳۵۷ هـ.ل کال د افغانستان د علومو اکاډمی علمي مشاور، او په ۱۳۵۹هـ.ل ۱۹۸۰ کال د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت علمي مشاور شو.

سربېره پر دې "استاد" تر هېواد دننه او بهر په (۳٦) نړیوالو علمي او ادبي سیمینارونو کښې برخه اخیستې ده.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي څه کم شپېته کاله د افغانستان د فرهنګ د خدمت له پاره شپه اوورځ پر ځان یوه کړې وه او داسې اثار یې افغاني فرهنګ ته وړاندې کړل چې له ستاینې نه یې قلم عاجز دی، استاد حبیبي په پای کښې د ۱۳٦۳ل کال د ثور پر ۱۹ په کابل کې مړ او همهلته ښخ کړای شو. موږ نه غواړو چې داستاد د ژوندانه پر ټولو اړخونو، علمي هڅو او د هغه پر ګڼو علمي خدمتونو رڼاواچوو، ځکه په دې اړه یوې لیکنې نه لیکنو، کتاب نه کتابونو، سمینارنه سمینارونوته اړتیاده دلته، د "استاد" یوازې څوچاپ شوي آثار په لنډ ډول در پیژنو:

۱- د خوشال ختېك ملغلرې (د خوشال ختېك کلیات) سمون، مقابله، تعلیقات او مقدمه، کندهار ۱۳۱٦هـ ل.کال

۲- د عبدالقادرختېك دیوان سمون، مقابله، تعلیقات او مقدمه، کندهار ۱۳۱۷هـ ل.کال

۳- پښتو او پښتونواله، کندهار ۱۳۱۷ هـ ل کال.

۴- پسرلنی سندره پښتو منظومه ۱۳۱۷هـ ل.

۵- د احمدشاه بابا دیوان، سمون، مقابله او مقدمه کابل ۱۳۱۹ هـ.ل کال.

The Digital Library

٦- پټه خزانه،تصحيح، تعليق او دري ژباړه کابل ۱۳۲۳، تهران ۱۳۳۵، کابل ۱۳۵۴، کابل ۱۳۵٦ هـ ل کال

۷- د پښتو ادبياتو تاريخ (۲)ټوکه کابل ۱۳۲۵-۱۳۵۳ (لومړي ټوک) ۱۳۳۸-۱۳۴۲ دوهم ټوك.

۸- پښتانه شعرا (۱) ټوك کابل ۱۳۲۰هـ ل

۹- ملتان کا لودي خاندان (په اردو ژبه) لاهور ۱۹۴۹ م کال

۱۰- د پښتو ادبياتو تاريخ، د ادبياتو پوهنځي د دريم ټولګي له پاره کابل ۱۳۴۷هـ ل کال

۱۱- د پښتو ادبياتو تاريخ د ادبياتو پوهنځي د څلورم ټولګي له پاره ۱۳۴۸هـ ل کال.

۱۲- د افغانستان پښپلیك- کابل- ۱۳۵۳هـ ل کال

۱۳- د البيروني کتابښود ، کابل ۱۳۵۲هـ ل.کال

۱۴- په اوسني پښتو شعر کښې د ژوند څپې ، کابل ۱۳٦۰هـ ل کال.

۱۵- د پير روښان د خير البيان مقدمه ، کابل ۱۳۵۳هـ ل. کال.

۱٦- د پښتو ادب په تاريخ کښې قصيده کابل ۱۳۵۷هـ ل.

۱۷- پښتود تاريخ او لغت په رڼا کښې- کابل ۱۳۴۷هـ ل. کال

۱۸- د پښتو ژبې او ادب موقف د مرکزي آشيا د خلکو په تمدنونو کښې (انګليسي) ۱۳۵۴هـ ل کال.

۱۹- د شيخ الاسلام عبد الله انصاري سيرت او شخصيت ۱۳۵۵ هـ ل کال

۲۰- د خوشال سوات نامه سريزه او نښلونې، کابل ۱۳۵۸هـ ل کال

۲۱- دامير علي شير فکري اوسياسي شخصيت، کابل ۱۳٦۰هـل کال.

۲۲- پښتو نثر ته کره کتنې کابل ۱۳٦۰هـ ل کال.

۲۳- آسماني نغمې او لاهوتي سرودونه- کابل ۱۳٦۰هـ ل. کال

۲۴- د سليمان ماکو تذکرة الاولياء سريزه، کابل- ۱۳٦۲هـ ل کال.

۲۵- وضع اصطلاحات پشتو، کندهار ۱۳۱۷هـ ل. کال.

۲٦- تاريخچه سبکهای شعر پښتو، کندهار ۱۳۱۹هـ ل کال.

۲۷-تاريخچه شعر پښتو- کندهار ۱۳۱۴هـ ل کال

۲۸- مشاهير ابداليان (تر احمد شاه بابا د مخه)- کابل ۱۳۱۹هـ ل کال.

۲۹- غزنه، کابل ۱۳۱۵هـ ل کال.

۳۰- تاريخ افغانستان در عصر تيموريان هند، کابل ۱۳۴۲هـ ل کال.

۳۱- جوانمردان و عياران- کابل ۱۳۲۱هـ ل کال.

۳۲- سردار مهر دل خان مشرقي شاعر کندهاري کابل ۱۳۱۲هـل کال.

۳۳-طبقات ناصرى(په دوو ټوکو کښې)سريزه، مقابله،سمونه او نښلونې، ۱۳۴۳هـ ل

۳۴- مورخان گمنام افغانستان، کابل ۱۳۲۳هـ ل کال

۳۵- زرنج و احوال تاريخي آن، کابل ۱۳۱۳ هـ ل کال.

۳٦- تحقيقات راجع به ترجمان البلاغه، کابل ۱۳۳۰هـ ل کال.

۳۷- تحقيقات راجع په پټه خزانه ، کابل ۱۳۲۴ل کال.

۳۸- محقق کندهارى، کابل ۱۳۱۴هـ ل کال.

۳۹- تاريخ افغانستان بعد از اسلام ، کابل ۱۳۴۵ او ۱۳۵۷هـ ل کال

۴۰- خليلى نامه، درى ۱۳۳۴هـ ل کال

۴۱- پښتو و لويکان غزنه ،کابل ۱۳۴۲هـ ل کال

۴۲- طبقات الصوفيه امالي شيخ الاسلام خواجه عبد الله انصاري، سمون، مقابله، نښلونې او حاشيې، ۱۳۴۲ کابل.

۴۳- کتابهاي گمشده تاريخ غزنويان ، کراچى ۱۳۳۸هـ ل کال.

۴۴- نواى معارك- مقابله، سمون او نښلونې کراچى ۱۳۳۷هـ ل کال.

۴۵- روابط ادبى سند با افغانستان ، کراچى ۱۳۳۷هـ ل کال.

۴٦- شاعر هير مند هارون خان افغان ، کراچى ۱۳۳۸هـ ل کال.

۴۷- جغرافيايي تاريخى افغانستان، کابل، ۱۳٦۲هـ ل کال.

۴۸- مادر زبان درى- کابل ۱۳۴۳هـ ل کال.

۴۹- صد ميدان خواجه عبد الله انصاري ترتيب او سمون، کابل ۱۳۴۲هـ ل کال.

۵۰- زين الاخبار گرديزي، ترتيب مقابله، سمون او نښلونې، تهران ۱۳٦۳هـل کال.

۵۱- رهنماى تاريخ افغانستان کابل ۱۳۴۸هـ ل کال.

۵۲- نگاهى به سلامان و ابسال جامى کابل ۱۳۴۳هـل کال.

۵۳- رساله سه رشته طريقت خواجه گان از جامى، کابل ۱۳۴۳ل کال.

۵۴ - تاريخ المختصر الادبيات البشتو (په عربي ژبه)، کابل ۱۳۵۷هـل کال.

۵۵- تاريخ مختصر افغانستان (۲) ټوکه - کابل ۱۳۴٦، ۱۳۴۹ل. کال.

۵٦- متون ادبى- کابل پوهنتون، ۱۳۴٦هـ ل کال.

۵۷- لغته البشتو ،قاهره ۱۹٦۵ م

The Digital Library

۵۸- تصوف- کابل پوهنتون، ۱۳۴۶هـ ل کال.

۵۹- تاج کابل شاه در کعبه، کابل ۱۳۴۸ل. کال.

۶۰- تاریخچه خط و نوشته های کهن در افغانستان، کابل ۱۳۵۰ هـ ل.

۶۱- هفت کتیبه قدیم، کابل- ۱۳۵۰هـ ل کال.

۶۲- فضایل بلخ، مقابله، سمون او نبنلونې- تهران ۱۳۴۹هـ ل کال.

۶۳- سواد اعظم، مقابله، سمون او نبنلونې- تهران ۱۳۴۸هـ ل کال ۰

۶۴- ظهیر الدین محمد بابر، کابل ۱۳۵۱ هـ ل کال.

۶۵_ اصل خلجیان افغان، تهران ۱۳۴۹ هـ ل کال

۶۶- شرح بیتین مثنوي ازمهر دل خان مشرقی ،ترتیب او سریزه- کابل ۱۳۵۲هـ ل کال.

۶۷- کتاب شناسي البیرونی (ترجمه و تکمله) کابل ۱۳۵۲، تهران ۱۳۵۲هـ ل کال.

۶۸- هنر عصر تیموریان، تهران، ۱۳۵۵ هـ ل کال ۰

۶۹- روضة الفریقین، سمون او نبنلونې، تهران ۱۳۵۹هـ ل کال.

۷۰_ فردوسي و شاهنامه، (ژباړه) ډیلی، ۱۹۴۲ ـ ع کال.

۷۱- انتخابی از حدیقه حکیم سنایي (انتقادي متن) کابل۱۳۵۶هـل کال.

۷۲- تعلیقات بر تاریخ تلفظ پشتو، کابل۱۳۵۶هـ ل کال ۰

۷۳- تاریخ بیداری سیاسي افغانستان، پېښور ۱۳۲۹هـ ل کال .

۷۴- تاریخ گویي به تعمیه در اشعار دری ، کابل ۱۳۶۰هـ ل کال.

۷۵_ منازل السایرین در دایره وجود، کابل ۱۳۵۵هـ ل کال ۰

۷۶- تحقیق بر تاریخ وفات سنایي، ۱۳۵۶هـ ل کال۰

۷۷- خودی و بی خودی در اندیشه اقبال، کابل۱۳۵۶هـ ل کال.

۷۸- مدرسه شاه شهید و غرجستان و ...کابل ۱۳۵۵هـ ل کال.

۷۹- شاعر اندیشه مولانا جلال الدین بلخی، ۱۳۵۳هـ ل کال.

۸۰- نامهای برخی از ایزدان کوشانی، کابل ۱۳۵۹هـ ل کابل.

۸۱- ادیان عصر کوشانی (انگلیسي)کابل ۱۳۵۹هـ ل کال.

۸۲- زنده گی نامه ابن سینا، کابل ۱۳۵۹هـ ل کال.

۸۳- شناختنامه میافقیر الله جلال آبادی، کابل ۱۳۵۹هـ ل کال.

۸۴- بابر در افغانستان (انگلیسي) فرانسه، ۱۹۸۰م.

۸۵- امیر کروړ و دودمان او، کابل ۱۳۶۰هـ ل کال.

۸۶- اشعارو دیوان تیمور شاه افغان، کابل ۱۲۱۳ هـل کال.

۸۷- درد دل (دري مثنوي)، کابل ۱۳۶۱هـ ل کال.

۸۸- جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل ۱۳۶۴هـ ل کال .

۸۹- ادبیات جهان، د طلوع افغان اداره.

۹۰-افغان در تاریخ.

۹۱- امیر کروړ او د هغه کورنۍ، کابل، ۱۳۶۱ هـل.

۹۲- بلاد قدیم و تاریخي خراسان.

۹۳-په شلمه پېړۍ کښې د افغانستان هنر، کابل، ۱۳۶۰ هـل کال.

۹۴- تاریخ تجزیه شهنشاهي افغان.

۹۵- تاریخ افغانستان از آغاز دورهٔ اسلامي، لاهور.

۹۶- تاریخ سیاسي افغانستان.

۹۷- د کوشانیانو دین، کابل، ۱۳۵۸ هـل کال (انگلیسی).

۹۸- فضایل بلخ، ایران، ۱۳۴۹هـل کال.

۹۹- کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل، کابل، ۱۳۶۲ هـل کال ۰

۱۰۰- کلید شاهنامه.

۱۰۱- نسب و زادگاه سید جمالدین افغاني، کابل ۱۳۵۵ هـل کال.

۱۰۲- نوموړکي مؤرخین کابل ۱۳۵۹ هـل کال.

۱۰۳- افغان و افغانستان، د ح.ر ژباړه، د ساپي د موقوفاتو اداره، ۱۳۷۶ل، پېښور.

The Digital Library

د ژباړونکي لنډ ژوند لیك

الحاج عبدالودود کرزی د الحاج جرنیل امیر محمد خان کرزي زوی د کندهار ولایت د کرز سفلی کلي اوسېدونکی دی، لومړنۍ زده کړې یې د کندهار د حاجي جمال کرز په لومړني ښوونځي کښې تر سره کړي او د ثانوي زده کړو د نور سره کولو له پاره د کندهار ښار د احمد شاه بابا په لېسه کښې شامل شو. په ۱۳۴۱ کال کښې یې د بکلوریا د سند له تر لاسه کولو وروسته د ښوونکي سپیڅلې دنده پر غاړه واخیسته.

په ۱۳۴۲ کال کښې د ښوونې او روزنې د لوی مدیریت له خوا د سردار پائنده خان ذاکر شریف د لومړني ښوونځي د سر ښوونکي په حیث وټاکل شو. دغه دنده یې پوره څلور کاله تر سره کړه.

بیا د ښوونې او روزنې د لوی مدیریت له خوا د کندهار ښار د تیمور شاهي لومړني ښوونځي د سر ښوونکي په توګه وټاکل شو، تر یوه کال خدمت کولو وروسته د ښوونې او روزنې د لوی مدیریت په وړاندیز د کندهار ولایت د اساسي دارالمعلمین د اداري مرستیال په توګه وټاکل شو چې سر بېره د دارالمعلمین پر اداري مرستیالتوب یې د عالي دار المعلمین د اداري مرستیال دنده هم سرته رسوله. نوموړي ددغه ماموریت په وخت کښې عالي دارالمعلمین د څوارلسم ټولګي د اجتماعیاتو څانګې د فراغت سند هم تر لاسه کړ.

تر څلور کاله خدمت کولو وروسته یې د ښوونې او روزنې د لوی مدیریت په وړاندیز د غذایي مرستو د مدیر په توګه په کار پیل وکړ. چې تر دوو کالو خدمت کولو وروسته مرکز ته تبدیل شو. بیا له بې سوادۍ سره د مبارزې په ریاست کښې د زراعتي حوزې د مدیر په توګه وټاکل شو چې د لوګر، پروان،سمنګان او څینو نورو ولایاتو د لویانو د کورس درنه وظیفه دده

پر غاړه وه. چې په دغه وظیفه کښې تر یونیم کال خدمت کولو وروسته په ۱۳۵۵ هـ ش کال کښې د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د غور ولایت د ښوونې او روزنې د لوی مدیر په حیث مؤظف شو چې د ۱۳۵۷ هـ ش د ثور تر کودتا پورې په همدغه دنده پاتې شو، وروسته یې د زابل ولایت د ښوونې او روزنې په لوی مدیریت کښې د مامور په صفت په کار شروع وکړه چې دغه دنده یې د زابل او کندهار په ولایت کښې د ښوونې او روزنې په مدیریتونو کښې تر ۱۳٦۲هـ ش کال پورې تر سره کړه څو چې په ۱۳٦۲ هـ ش چې د ۱۹۸۳ کال سره برابر دی له خپلې کورنۍ سره د پاکستان د کراچۍ ښار ته را مهاجر شو او تر دوه نیم کالو تیرولو وروسته امریکې ته ولاړ.

الحاج عبدالودود کرزي د ښوونې او روزنې وزارت په مربوطاتو کښې ۲۲ کاله خپله سپیڅلې دنده په ښه توګه سرته رسولې او د خپل ماموریت په وخت کښې یې د کندهار ولایت د ښوونې او روزنې د مدیریت، د کندهار ولایت او ښوونې او روزنې د وزارت د مقام له خوا د تشکر او تحسین افتخارات تر لاسه کړي دي.

نوموړي په ۱۹۹۵ م کال کښې د حج مبارکه فریضه هم ادا کړیده. ښاغلی الحاج عبدالودود کرزي، د افغاني فرهنګ د لوړتیا او پیاوړتیا له پاره تل هڅې کړي دي او له ګران هېواده یې خپلې هیڅ ډول مرستې نه دي سپمولي افغانستان یې په زړهٔ کښې هم، دی او په خوله کښې هم چې دده دا اثر ددغه ادعا یوه غوره ثبوت دی. زه په داسې حال کښې چې نوموړي ته د دغه درانه اثر مبارکي وایم د نور ښکلي او دراته خدمت کولو هیله ورته لرم.

په پای کښې دده او له ټولو محترمو لیکوالو څخه چې دافغانستان د نجیب ولس سره یې خپلې قلمي همکارۍ نه دي سپمولي د زړهٔ له کومې مننه کوم اود لوی خدایﷻ له دربار څخه ورته زیات بریالیتوبونه غواړم.

په پښتني مینه

عبدالرحیم کرزی

د زراعت لیسانس

د الحاج عبدالودود کرزي زوی

The Digital Library

اروانباد استاد عبدالروف بېنوا په لمريز هجري ١٣٥٦ کال کښې په پښتو ژبه اړولی او خپور کړی دی.

له يوې خوانه په هغه ژباړه کښې يو لوی څېرکی نه و ژباړل شوی او له بله پلوه يې چاپ شوې نسخې د ډېرو کمو خلکو لاس ته رسېدلې وې د همدې اړتيا له مخې ما ددغه کتاب د بيا پښتو کونې او خپرونې چاروته اوږه ورکړه او څو مياشتو په اوږدو کښې مې د کتاب ژباړه پای ته ورسوله. څرنگه چې هر چاپ شوی اثر يو څه کمي او غلطي لري، له همدې امله به گران لوستونکي په دې هکله ما وبخښي او د بيا چاپ له پاره به رانه خپلې گټورې لارښوونې او مشورې نه سپموي.

په پای کښې د کندهار ولايت د ښوونې او روزنې د پخواني لوی مدير فاضل استاد الحاج عبدالعلي خان د هغه مرستو ډېر ممنون يم چې هغوی له ما سره د کتاب د ژباړې پر وخت گاللي دي، د لوی خدای له درباره ورته د اجر غوښتونکی يم.

تاسې درانه لوستونکي د کتاب لوستو ته رابولم.

په توله مينه

الحاج عبدالودود کرزی

د امريکې متحده ايالت

جنوبي کلفورنيا

د ١٣٧٦ / ١ / ١٠ مه

خپلې خبرې

تاريخ د اولسونو د پېژندگلوۍ غوره سند دی، ملتونه په تاريخ پېژندل کېږي او تاريخ دی چې موږ ته د تېر مهال تجربې او پېښې روښانوي او تردې څايه يې رارسوي.

که تاريخ نه وای نو اوس به ډېر حقايق او واقعيتونه تر خاورو لاندې وو او موږ به نه پوهېدلو

چې د هغوی له تېرو تجربو او کارنامو خبر شوي نه وای، بلکې د اوس مهال د ژوندانه په پېښو کښې به مو دا ډول بدلونونه نه وو رامنځته شوي.

افغانستان هم يو له هغو سيمو څخه دی چې تاريخي پېښې او تجربې يې د نړۍ په تاريخ کښې ځلنده باب گڼل کېږي په دغه سيمه کښې له "تر تاريخ وړاندې " دور څخه زيات شمېر اثار او اسناد راپاتې دي، دغه سيمه د نړۍ په تاريخي دوره کښې له غوره ارزښتونو څخه برخمنه گڼل کېږي.

همدا وجه ده چې د دغه سيمې د يو لنډ خو مستند تاريخ ليکلو زياته اړتيا رامنځته شوې ده، د دغه سيمې د تاريخ د روښانولو او ليکلو دنده د هر افغان ستره تاريخي وظيفه گڼل کېږي چې د نه ليکلو پر مهال به يې د خپل افغاني او ملي فرهنگ او کلتور درناوی نه وي کړی.

د نړۍ د دغه سترې تاريخي او ارزښتناکې سيمې يو لنډ او مستند تاريخ ښاغلي او پوه استاد اروانباد پوهاند عبدالحی حبيبي څه د پاسه ديرش کاله د مخه په افغانستان کښې ليکلی دی او هغه مهال د افغانستان تاريخ ټولنې په دوو ټوکو کښې خپور کړی دی؛ دا کتاب له هغه غوره ارزښتونو څخه برخمن کتاب گڼل کېږي چې څه ډول ددغه تاريخي سيمې د تاريخ ليکلو اړتيا ليدل کېږي.

دغه کتاب چې په دري ژبه خپور شوی په بشپړ ډول سره په تاريخي اسنادو او شواهدو بنا دی، هيڅ ډول بې سنده او افواهي خبرې په کښې نه شته او بايد چې د افغانستان تر ټولو غوره کتاب و گڼل شي. دغه کتاب د هغه ارزښت له امله چې لري يې د دويم ځل لپاره په پېښور کښې د افغانستان د مهاجرينو د سازمان له خوا هم خپور شوی دی. څرنگه چې کتاب په تاريخي شواهدو او اسنادو بنا و له همدې امله زياته اړتيا ليدل کېده چې بايد دغه کتاب په نورو افغاني او نړيوالو ژبو هم واړول شي، چې د همدغه ضرورت له امله

The Digital Library

د لوی خدای په نامه

سریزه

زمونږ ګران هېواد افغانستان هغه سیمه ده چې تر تاریخ د مخه له لرغونیو دورو څخه بیا تر اوسه د مدنیتونو چینه، د فرهنګونو د تېریدو لاره او د انساني فکر او تهذیب زانګو وه او د تاریخ په اوږدو کښې له دې فرهنګ زیږوونکي خاورې څخه ښه غښتلي دولتونه را پاڅیدلي دي او هم ددې خاورې خلکو په تاریخي کشمکشونو کښې تل خپله آزادي او ملي ښه ساتلې ده.

له څه مودې راهیسې زمونږ په چاپیریال کښې، چې زمونږ د لوی او ترقي غوښتونکي پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په حکیمانه لارښوونو له نویو پرمختیاوو او رڼاګانو نه برخمن دی، کلکه اړه لیدله کیده چې د افغانستان د تاریخ لنډیز په یوه دوو ټوکو کښې له لرغوني زمانې څخه بیا تر اوسني عصره په داسې توګه ولیکل شي، چې هم بشپړ وي او هم لنډ او هم په تاریخي ښېښو سربیره لازم تاریخي تصویرونه، نقشې، جدولونه او رسمونه ولري چې زمونږ د ښوونځیو زده کوونکي او عام خلك په آسانۍ سره وکړای شي چې په هغه کښې د خپل هېواد تېرې تاریخي پېښې ولولي.

تېر کال چې زه د افغانستان د تاریخ ټولنې په ریاست وګمارل شوم د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر ښاغلي محمد عثمان صدقي زمونږ د چاپیریال دغه ښکاره ضرورت څرګند کړ او ما هم په بیړه په دغه کار لاس پورې کړ او د افغانستان لنډ تاریخ مې ولیکئ.

د دغه کتاب په لیکلو کښې مې په لویدیزو او ختیزو ژبو څو سوه ټوکه لیکل شوي کتابونه وکتل او د ټولو مطالبو حواله مې د کتاب په پای کښې ورکړه، خو د چاپ په وخت یو مشکل را پېښ شو چې ناچاره شوم هغه لمن لیکونه مې ایسته کړل او د څو بابونو په پای کښې مې د لازمو مراجعو نومونه ولیکل او هم د دغه ټوك په پای کښې به د ټولو مراجعو نومونه راوړل شي.

په دغه یادونه کښې زما مطلب دا دی چې ددې کتاب ټول مطالب مستند دي او موثق منابع لري، پر دې کتاب مې له خارجي او داخلي موثقو کتابونو څخه بو شمیر تصویرونه او رسمونه او توضیحي جدولونه هم زیات کړل. هیله من یم ګرانو هېوادوالو او هغو کسانو ته ګټور شي چې غواړي د افغانستان تاریخ په لنډ ډول ولولي.

لومړی ټوك تر اسلام وړاندې د لرغوني زمانې د چنګیز (۶۰۰ هـ) تر وتلو پورې او دویم ټوك د نورو اوو سوو کالو د خپلواکۍ د تر لاسه کولو پورې را اخلي(۱).

ددغه کتاب د مطالبو په برابرولو کښې زیار ایستل شوی دی چې پوره وي، خو لنډ او ګټور چې په راتلونکي وخت کښې د مفصل تاریخ لیکلو لار برابره شي او نمونه یې د "افغانستان بعد از اسلام" په لومړي ټوك کښې چې تېر کال خپور شوی دی لیدل کېږي په هغه کښې مې د افغانستان د اسلامي دورې د لومړي دوو سوو کالو مفصل تاریخ په زر صفحو کښې لیکلی دی. هیله من یم چې د ظاهرشاهي روښانه عصر د پوه پالنې په رڼا کښې ژر تر ژره دا هیلې تر سره شي.

پوهاند عبدالحی حبیبي
کابل جمال مېنه
د سنبلې لومړی ۱۳۴۶

۱- اوس دواړه ټوکه په یو ټوك کښې تاسو ته وړاندې کېږي.
(ژباړونکی)

The Digital Library

لومړۍ برخه

د افغانستان تر تاریخ د مخه دورې ته یوه کتنه

د مورخانو په اصطلاح هغه دوره چې انسان د لیك په موندلو نه و بریالی شوی، تر تاریخ دمخه دوره PRE HISTORIC بلل کېږي او تر هغې وروسته چې لیکدود را پیدا شوی تاریخي عصر دی، خو شرط دا دی چې د لرغونیو قومونو پاتې لیکل شوي اثار لوستل شوي وي. څرنګه چې تر اوسه ځینې لیکونه شته چې لوستل شوي نه دي نو له دې امله هغه په قبل التاریخ دورې پورې اړه لري او که کوم وخت ولوستل شول نو تاریخي مرحلې ته به ننوځي.

د شرقي هېوادونو تاریخي دوره یې عموماً تر میلاد دمخه د (۲۵۰۰) کال په شاوخوا کښې ګڼلې دي. دا ځکه چې د مصر او بین النهرین لوستل شوې لیکنې هم دومره عمر لري، خو په سند او هړپه کښې د موهن جودیرو موندل شوې لیکنې لاتر اوسه نه دي لوستل شوي او په تاریخي مرحله کښې شاملې نه دي.

په افغانستان کښې د "تر تاریخ دمخه اثار و" پلټنې له ۱۹۳۶ م کال څخه د اروپایي علمي هیئتونو له خوا پیل شوي او په نتیجه کښې یې تر

تاریخ دمخه د ډبرو د دورې اثار تر لاسه شوي چې د ډبرې د کارونې په دریمې دورې یعنې توږل شوې ډبرې او د خاورینو لوښو او فلزو د استعمال په دورې پورې اړه لري چې هغې ته د کلکولي تیك دوره وایي.

له دې علمی پلټنو څخه دا نتیجه تر لاسه کېږي چې دافغانستان او د افغانستان د ګاونډیو هېوادو په خاوره کښې د (۶۰۰۰) کلونو په شاوخوا کښې انسانانو مدنیت درلود، ځکه چې هم هغه مهال مرو ته نژدې د "انو" په سیمه کښې د مس کارونې آثار موندل شوي دي او تر تاریخي دورو دمخه آثار یې د افغانستان په ګاونډ کښې په دغو ځایو کښې موندلي دي:

۱ - د پنجاب په هړپه کښې:

یعنې د افغانستان د غرو په لمر ختیزو ډاګو کښې چې هلته د ودانۍ اوښار آثار لیدل کېږي.

۲ - موهن جودیرو:

د افغانستان ختیزې جنوبي خواته په سند کښې د ښار کوڅې او د بازار نخښې او حتی د اوبو پاخه لښتیان او په هره کوڅه کښې د فضله موادو له پاره د پخو خښتو کوچني خاکدانونه هم لیدل کېږي.

په دغه لرغوني ښار کښې د مورد رب النوع مجسمې، پاخه خاورین لوښي، د سرو او سپینو زرو ډول ډول ګېنې او د هغو عصرونو د فلزاتو صنعتي نمونې او فلزي بتان تر لاسه شوي دي چې د هغه لرغوني ښار په اړوند موزیم کښې خوندي پراته دي. او په هغو ښکلیو اثارو کښې له عاجو څخه د پیل کوچنۍ مجسمې او د غټو او غښتلیو غویو انځورونه شته چې پر ځینو انځورونو لیکنې هم لیدل کېږي. خو لا تر اوسه یې څوك په لوستلو بریالي شوي نه دي.

The Digital Library

د سند د وادۍ تر تاریخ دمخه مدنیت چې د افغانستان په ختیزه خوا کښې د هړپه او موهن جودیرو تر منځ یوزر میله (د بابل د تمدن د ساحې څلور برابره او د مصر د تمدن د پراختیا دوه برابره) په یو شکل او ډول خپور شوی و، د ودانیو د جوړونې شکل او د خاورنیو لوښیو او د کار د سامان او وسایلو په جوړښت کښې بیخي سره ورته دي او پوهانو ترې دا نتیجه اخیستې ده چې:

دا مدنیت د افغانستان د خاورې په ختیزه خوا کښې د سند وادۍ له سره بیا تر پایه خپور شوی، شمالي او جنوبي پایتختونه یې "هړپه" او "موهن جودیرو" دوه ښارونونه وو او تر بابل پورې یې د لویدیزو خاورو له تمدن سره اړیکې درلودې او حتی تر میلاد (۲۰۰۰) شاو خوا د مخه په بابل کښې د هندي تاجرانو یوه محله موجوده وه. له هغو آثارو څخه چې د بین النهرین په کیندلو کښې موندل شوي دي، څرګندېږي چې د سند وادۍ خلکو اعشاري، ارقام وزنونه او پیمانې پیژندلې. د هغه ښار له آثارو څخه چې په هړپه کښې ښکاره شوي دي څرګندېږي چې معتبرو خلکو په دوو پوړیزو ودانیو کښې ژوند کاوه اود استوګنې زیاتو ځایونو د اوبو څاه ګانې، حمامونه او تر ځمکې لاندې ګودامونه درلودل، حال دا چې عامه طبقه کارګران او کسبګران په کوچنیو دوو کوټو لرونکیو کورونو کښې استوګنه کوله، هر کور د یوه کوچني غولي په واسطه له بله کوره بېلېده او د دغو تر تاریخ دمخه خلکو ښارونوته نژدې ځینې کلاوې وې چې غالباً د غلې ګودامونه وو.

هغه کنډوالې چې د هړپه د تمدن له وروستیو مرحلو څخه نمایندګي کوي د هغه ځای د اوسېدونکیو بې وزلي او انحطاط رابښیي چې زیاتر و کورونو د سمڅو بڼه پیدا کړې وه او د ښارو جوړښت چې پخوا یې

نظم او ترتیب درلود بیخي ګډوډ شوی دی. پوهانو له دې څخه دا ډول نتیجه ترلاسه کړې ده:

۱- د دې ودانیو پر خلکو د غربي اریایانو یرغلونه پیل شوي او د دوی مدنیت یې را تیټ کړی و.

که څه هم د هړپه د لیکنو الفبا لوستل شوې نه ده، خو دا ثابته ده چې دا لیکدود تر آریایي مهاجرت دمخه دورې پورې اړه لري.

هغه ارابې چې اسانو کشولې په هغو خلکو پورې یې اړه درلوده چې په هندو اروپایي ژبو یې خبرې کولې خو د موهن جودیرو او هړپه د خلکو ګاډۍ غښتلیو او قوي غویو کشولې چې پلن او اوږده ښکرونه یې لرل او د دغو ښکلیو او غټو غوایانو انځورونه پر موندل شویو مهرو، آثارو انځور شوي دي.

(لومړی او دویمه نومره عکس وګورئ)

۲ - دغه مدنیت ته ورته دا لړۍ د افغانستان په جنوب کښې د بلوچستان په نال او جاله وان لور لایي او همدا راز د سیستان په نادعلي او د ایران په ځینو جنوبي برخو کښې لیدل کېږي چې ځینې کړۍ یې تر بین النهرین پورې هم رسېدلي او پر هغو خلکو اړه لري چې د اریایانو تر هجرت دمخه، په هغو سیمو کښې میشت وو، څرنګه چې د دوی په لرغونیو آثارو کښې د مورد رب النوع په څېر مجسمې موندل کېږي، نو ځکه کېدای شي چې دین، عقاید او فرهنګ یې هم سره ورته وي.

هغه آثار چې د بلوچستان د کوټې د شمال لویدیځ په څو میلۍ کښې یې د ګل محمد په کلا کښې موندل شوي دي پر دې دلالت کوي چې د هغې سیمې پخواني اوسېدونکي لا تر هغه وخته د خاورینو لوښیو په جوړولو نه پوهېدل او د ډبرو له چړو او د هډوکیو له ستنو او تېرو څوکو

لرونکیو تیرو په څېر الاتو څخه یې کار اخیست او د ودانیو او کورونو جوړول هم دود نه و، خلك څاروي روزونکي کوچیان وو چې په را وروسته وختونو کښې یې خاورین لوښي او ودانۍ جوړې کړې دي، چې لرغون پوهان یې د "روب د ناوې لوښي" بولي او پر هغو، باندې ځینې توري او هندسي انځورونه او د هوسۍ او بوك لرونکي غوایي تصویرونه انځور شوي، په کورو کښې یې د وزو ډېر هډوکي لیدل کېږي، چې د دوی پر ډېرو غوښو خوړلو دلالت کوي. د غلې د میده کولو له پاره یې ډېرین اونګونه درلودل، په داسې حال کښې چې د هغه مهال په موندل شویو آثارو کښې د اوسپنې اوزارونه لیدل کېږي، پر ځینو خاورینو لوښیو (T.A.W.V) ته ورته شکلونه شته چې د هغو په څېر بل ځای نه دي لیدل شوي. ځکه نو لرغونپوهان د هغو پر پېژندنه پته خوله دي، د دغه لرغوني مدنیت عمر د شپږو زرو کالو په شاوخوا کښې اټکل شوی دی.

همدارنګه د هړپه د سیمې دا تر تاریخ وړاندې مدنیت د هندوستان د کچهه تر جزیره نما پورې غځېدلی دی او پر ۱۹۵۴- ۱۹۴۰م د هغه ځای له زیاتو غونډیو څخه داسې اثار تر لاسه شوي دي چې د هړپه د مدنیت آثارو ته بیخي ورته دي، د کشفیاتو دا ساحه د راجکوټ ښار جنوبي خوا ته پرته ده.

خو د افغانستان په خاوره کښې تر اوسه "تر تاریخ وړاندې" څو مهم او غوره ځایونه شته:

۱- پر ۱۹۳٦م کال سراورل ستین او موسیوګیر شمن او هاکن د سیستان د نادعلي او زرنج د سروتار او کنګ په کلا کښې کیندنې وکړې، چې په هغه کښې ډبرین لوښي او ډول ډول وسلې او غشي او رنګه ښایسته شوي کوډرې او د سپینو زرو غوږوالۍ او له هډوکیو څخه جوړ شوي شیان

The Digital Library

کشف شوي چې پوهانو هغه په مرو کښې د "انو" او په لویدیځ کښې د کاشان او په جنوب ختیځ کښې د سند موندل شویو آثاروته ورته ګڼلي دي، له هغو څخه دا نتیجه اخلي چې د انساني مدنیت د دې دورې لویه صحنه د سند له وادۍ څخه نیولې بیا د نیل تر سیمې پورې د افغانستان په ګډون پراخوالی درلود.

موسیو ګیرشمن د "سرخ داغ" غونډۍ چې د ېرش متره لوړ ده (۱۲) متره ژوره وکیندله او تر میلاد یوزر کاله د مخه د مدنیت آثار یې وموندل دی وایي:

که یوویشت متره نوره هم وکیندل شي کېدای شي چې تر میلاد څلور زره کاله دمخه خواوشا آثار وموندل شي. چې د سند د بین النهرین او مصر پخوانیو مدنیتونو ته نژدې دي، په دې خاوره کښې داسې پخوانۍ غونډۍ ډېرې دي.

۲ - تر تاریخ د مخه آثار چې تر دا مهاله په افغانستان کښې لټول شوي دي د کندهار لویدیزې خوا ته د پنجوایي او ارغنداو په وادۍ کښې د بدوان د غره له سمڅو او د یمراسۍ له غونډۍ څخه هم، تر لاسه شوي دي چې د سند، پنجاب او د بلوڅو د خاورې تر تاریخ دمخه مدنیتونو پورې اړه لري او د مورد رب النوع مجسمې موندل شوي دي.

په ۱۳۴۴ ش کال د کندهار شمال لویدیزې خوا ته ٦٦ کیلومتره نیرې د مونډیګك په غونډۍ کښې علمي پلټنې وشوې، چې دارغنداو په ودانۍ کښې تر تاریخ دمخه د پینځو زرو کالو پخوا د مدنیت د آثارو نمایندګي کوي پوهان وایي چې د کندهار لویدیزې خوا ته د کشکنخود له وده چې اوس وچ شوی دی اوبه کېدلې او سر سبزې وې. دا غونډۍ چې درې زره کاله پخوا د وروستي ځل له پاره د استوګنې ځای و، اوس د جوي پېښنو

The Digital Library

له امله یو مخروط شکل لري، د هغې لارې پر سر پرته وه چې د رخد (ارغنداو)، پښین او سند د وادۍ خواته د هرات، فراه او هلمند د شاخوا خلکو د تېرېدو لاره وه او همداراز دا لار د ترنك اوغزني او د هندوکوش جنوبي سیموته رسېدله، مطلب دا چې د هلمند ؤادي یې د ارغنداو او ترنك له وادیو سره نښلولې.

د مونډیگك غونډۍ تر میلاد وړاندې د څلورزرم کال له پای څخه د لومړي زرم ق،م کال تر پیله پورې د ودانۍ پېنځلس مرحلې تېرې کړي دي په آخره او پورتنۍ مرحله کښې یې د غلې ګودامونه وو چې پخسه یې دیوالونه یې درلودل، د غلې د ګودامونو ځایونه د یوه اوږده غولي په ډول وو چې د هرپه د موندل شویو آثارو ګودامونو ته بیخي ورته وو، خو د هرپه تر ګودامونو کوچني وو، په کښته پوړ کښې یې د څارویو د ساتنې له پاره خونې وې. څرنګه چې د ګودامونو ودانۍ د نوموړې غونډۍ له دریو مختلفو طبقو څخه راوتلي دي، ځکه نو وایي چې داَ ګودامونه د هغه مهال د انسانانو د استعمال له پاره په مختلفو زمانو کښې جوړشوي وو.

په لوړ پوړ کښې د ګودامونو د ساتندوی له پاره یوه کوچنۍ کوټه لیدل کېږي، چې په هغې کښې یو څه خاورین لوښي، ډبرین او د مفرغ برې (پیکانونه) او مچلوغزې او د هغوی د ختو ګولۍ موندل شوي دي او دا ورڅخه څرګندېږی چې د ګودامونو ساتونکیو دا وسایل د ګودامونو د ساتنې له پاره کارول. چې د دغو دفاعي څیزونو عمر له اوس څخه تر دریو زرو کالو (شاوخوا) اټکل شوی دی.

د غلې د ګودامونو تر ودانیو پخوا له مکعبو ډبرو څخه چت لرونکې خونې جوړې شوې وې چې د ودانیو په شمالي برخه کښې د خښتو ودانۍ هم شته. د ودانیو مخ ته یو ارت غولی دی چې خواوشاېي یو څه

کوچنۍ خونې شته او د لویې مانۍ نخښې هم ښکاري چې له اومو خښتو څخه په نیم مخرطي ډول ودانه شوې ده او د خښتو لویې ستنې لرې چې په سپین رنګ انځور شوي او اوس هم د دې ستنو بهرنۍ منظره له برمه ډکه په نظر راځي. په دې ستره ودانۍ کښې یو د مفرغ چاقو او د هډوکي لاستی او د ښکلیو کودړو ټوټې او د ادېتا (ادې ـ مور) د خیر او برکت د رب النوع یوه ماته مجسمه چې د بلوچستان او سند موندل شویو مجسمو ته بیخي ورته دي له ډول ډول وسلو سره تر لاسه شوي دي.

په نورو غونډیو کښې د هغو خلکو د استوګنې د ځایونو نخښې شته چې پورتنۍ غونډۍ یې عبادت ځای و، په دې ودانیو کښې د نغري نخښې د هغه له اسبابو سره او یو څو اونګو نه او د هغوی دستې لاس ته راغلې دي، چې په غالب ګومان د دوا پلورلو دوکان ګڼل کېدای شي. په نورو خونو کښې د پخو خښتو تنور او نیم کاره توبري (پیکانونه) لیدل کېږي. د زیاتو خونو بامونه شیوه ګي لري او په د باندنیو دیوالو کښې مستعمل توبري پیکانونه او مسي سرنېزې ایښودل شوې دي. په هغه هدیره کښې چې په دې ودانیو پورې اړه لري اووه کالبوتونه (اسکلیټونه) پیدا شوي دي. د مونډیګك د غونډۍ له کښته څخه لوړې خواته مختلفې طبقې داسې دي:

له ځمکې څخه پورته خوا ته تر نهم پوړ پورې د نیم کوچیتوب ژوندانه نخښې لیدل کېږي، چې د هغو له مخې ویل کېدای شي چې د هغه ځای لومړني اوسېدونکي تر څه وخته نیم کوچي مالداران وو او د کورونو ودانۍ یې هم پخسه یي وې، تر هغو وروسته تر دریو پوړیو پورې ودانۍ له اومو خښتو څخه بشپړې شوې وې، چې خاورین لوښي یې په کښته طبقو کښې ساده او ابتدایي دي تر هغې وروسته د لوښیو کودړې ښکلې کېږي. تر هغې چې د ختو انځور شوي لوښي رامنځته کېږي، پر هغو کټوریو (جامونو)

The Digital Library

چې پر پایو ولاړ دي د ځارویو، مرغانو، ګلانو او د جګو ښکرو لرونکي پسونه، تنځري (زریني زرکې) پیل مرغ او د (عشق پیچان) د پاڼو شکلونه لیدل کېږي. د ختېو دا انځور شوي لوښي له اتم پوړ څخه وروسته زیات دي چې د "کوټې" خواوشا موندل شویو لوښو ته ورته دي مفرغي فلزات او مس له شپږم پوړ څخه پیل کېږي او هغه وخت چې د پينځم پوړ سکاره یې د کاربن "۱۴" له لارې و ازمویل نو د دې پوړ نېټه یې ۲۶۲۵ ق.م په شاوخوا کښې وټاکله. د موسیوکزال د تاریخ وړاندې دورو د متخصص په وینا دا غونډۍ تر پينځو زرو کالو ډېر عمر لري نو ځکه د سند تر موهن جودیرو پخوانۍ او لرغوني ده. (وګورئ ۴.۳ نومره عکسونه).

۳. د افغانستان په شمالي برخو کښې هم د تر تاریخ دمخه مدنیت آثار کشف شوي دي په دې مانا چې په شمال لویدیځ ګوټ کښې د مرو په انو کښې تر تاریخ وړاندې مدنیت نخښې تر لاسه شوي دي، همدا ډول د افغانستان په شمال ختیځ لور کښې د تاریخي آثارو بقایا شته چې د ۱۹۶۲م کال پر اکتوبر د ایټالوي لرغونپوهانو له خوا وموندل شول.

د هزار سم دښته د هندوکوش په شمالي لمنو کښې د "۳۳۰۰" فوټو په لوړوالي او د "۱۶" کیلو مترو په اوږدوالي د سمنګان شمال لویدیځ لور ته پرته ده چې په لرغوني زمانه کښې هم د هند، کابل، بغلان، کندوز، بدخشان او چین لاره له همدې وادۍ څخه تېرېدله او همدلته د غره په ډېرو کښې هغه طبیعي سمڅې شته چې پخواني انسانان پکښې اوسېدل او هلته د ډېرین اورټك سامان او ډېرې توږل شوې ډېرې کشف شوې دي. چې ځینې ودانۍ یې هم په هماغې زمانې پورې اړه لري، چې انسان تر سمڅو او ګارو بهر استوګنه کوله او بې ډوله ابتدایي دیوالونه یې "۱/۲۰" مترو لوړ جوړ کړي دي چې د هغو په منځ کښې له "۲۰" څخه تر "۳۷" مترو پورې د

ودانۍ بلاکونه لیدل کېږي، دغو ټولو ودانیو ۳۳۵ هکتاره ځمکه نیولې ده، د هزار سم له سینده د اوبو د کانال د غاړې له (۱۲۵) متره دیوال سره د اوبو رسولو نخښې هم څرګندې دي.

د دغه ځای د ګارو په سمڅو کښې مثلث ډوله خونې لیدل کېږي چې لویې تاخچې لري او له ډېرو څخه دننه درې کنجه چوکۍ توږل شوې دي، د دیوالونو په جوړولو کښې یې د ډېرو له تختو څخه کار اخیستی دی چې د نغریو نخښې هم په کښې څرګندې دي.

د هزارسم په سمڅو کښې کیندل شوي شکلونه او رسمونه لیدل کېږي چې د ایټالوي لرغونپوه هیئت د راپور لیکونکي په وینا داسې شکلونه د لویدیزې اروپا په تر تاریخ وړاندې آثارو کښې هم لیدل شوي، خو د هزارسم د آثارو انځورونه څلور ډوله دي، لومړی انساني شکلونه، دویم رسم شوي لاسونه، دریم د ځارویو شکلونه څلورم د راز راز شکلونو ګډون، چې مانا یې هم نه دي څرګندې. "وګورئ ۵ ـ ۶ مه نومره عکسونه".

د تر تاریخ وړاندې زمانو پوهان د هزارسم د سمڅو دا شکلونه هغو شکلونو ته ورته او نژدې ګڼي چې په هسپانیا، ایټالیا، سویس او ایرلنډ کښې یې موندلي دي او داسې نتیجه اخلي چې تر تاریخ وړاندې. دا ډول شکلونه رسمول دود وو، د بېلګې په ډول:

د هزارسم د سمڅو له شکلونو څخه د پوځکۍ یو شکل دی چې نیمه دایره یې تشکیل کړې او هغه دایره بیا یو عمودي خط پرې کړې ده او له هغې څخه د انسان بدن مراد دی، چې بازوګان او شمزۍ یې ښوولي شوي دي او هغو شکلونو ته ورته دي چې تر تاریخ وړاندې د هسپانیا، ایټالیا او ایرلنډ په آثارو کښې هم لیدل شوي دي. (وګورئ ۷ مه نومره عکس).

د هزارسم په آثارو کښې دا ډول مشابه شکلونه ډېر دي چې د اروپا

The Digital Library

له - تر تاریخ وړاندې لرغونیو آثارو څخه په پاتې شکلونو کښې ښوول کېدای شي.

تر تاریخ وړاندې په کلکولي تیك او توړلیو ډبرو د استعمال په دوره کښې د بدخشان لاجورد هم د یادولو وړ دي، څکه چې د کاشان د سیالك په غونډۍ، د سومر او بین النهرین په څمکو د مصر د فرعون توتن خامن په هدیره او هم په عیلام کښې د لاجورد د ډبرې راز راز نمونې موندل شوې دي او دا څرګندوي چې د بدخشان د لاجوردو ډبرو شپږ زره کاله پخوا شهرت درلود او استعمال یې تر مصر پورې هم رسېدلی، د دغه هېواد خلکو له نورو ختیزو او لویدیزو هېوادو سره لرغونې مدني اړیکې درلودل. (وګورئ اتمه نومره جدول).

تر اسلام دمخه تاریخي افغانستان

هغه مهال چې د تاریخي افغانستان په باب غږېږو موږ هغه ټولې سیمې په نظر کښې نیسو چې له افغانستان سره یې په تاریخي پېښو او د سیاسي، مدني او فرهنګي حوادثو په جریان کښې ګډون درلود او د ګډو تاریخي عواملو تر اغیز لاندې یې اوضاع یو بل ته سره ورته وه.

په دې جغرافیایي سیمه کښې د ایران د فلات ختیزه برخه د سند له سینده بیا د خراسان تر پایه (د امغان) پورې ختیځ او لویدیځ شامله ده او په شمال کښې هم د آمو شمالي برخې تر سمرقند او پامیره د غرو لمنې په کښې راځي او په جنوب کښې پر بحیره عرب تمامېږي دا سیمې عموماً ګډ تاریخ لري.

آریایان:

د "۲۵۰۰ ق.م" په شاوخوا کښې د آریایي سپین پوټکیو لوی ټولی په آریانا ویجه نومي هېواد او د امو په شمالي غاړو کښې د کوچیتوب او مالدارۍ ژوند تېراوه او چې شمېر یې ډېر شو نو د امو جنوبي سیمو او د باختر ورشو ته راوختل او د هندوکوش په شمالي او جنوبي لمنو کښې میشت شول. دغو خلکو د نفوسو او قبیلو د زیاتوالي له امله ختیزې خوا ته هجرت وکړ او د سند له سینده د هند شمالي ارتو سیمو ته تېر شول او په

The Digital Library

هغه ځمکه کښې يې يو مدنيت جوړ کړ چې د "ويدا" په پخوانيو ځلورو کتابو کښې يې انعکاس ليدل کېږي له همدې امله يې "ويدي مدنيت" بولو چې د (۱۴۰۰ق.م) په شاوخوا کښې موجود و او په همدغو کتابو کښې د افغاني لويو قبيلو يوه برخه نومونه لکه پکت (پښتون) الينا (د لغمان او نورستان شمالي خلك)(۱) او نور راغلي دي او موږ له دغو کتابو څخه د لرغوني افغانستان د خلکو ژوند، ژبه، مدني او فرهنګي وضع معلومولای شو.

څلور ويده دادي: ريګ ويد، سام ويد، اتهرواويد، يجورويد، چې تر ټولو پخوانی ويد "ريګ ويد" دی او په هغه کښې د افغاني قبيلو، پاچاهانو، نوميالیو خلکو، غرونو او جغرافيايي ځايونو ډېر نومونه، راغلي دي.

ارينه ويجه:

ارينه ويجه چې په پښتو کښې تر اوسه" اويجه" د ټاټوبي او د استوګنې د سيمې په مانا کارول کېږي، د تاريخ پوهانو په وينا د پامير سيمې او يا د خوارزم شاوخوا او د خزر د "دريا چې" څنډو ته ويل کېده، چې له هغې جغرافيايي سيمې سره نښتې ده چې موږ اوس ځيړنه په کښې کوو.

څرنګه چې د آرين خلکو (آرين د نجيب، کښتګر او کرونکي په مانا) د ژوندانه د دې دورې آثار لا تر اوسه نه دي تر لاسه شوي او تر تاريخ وړاندې زماني برخه ده، څکه نو د دوی د ژبې، د ژوندانه د ډول او د دين و هنر په اړه معلومات نه شته، ډاکټر ګوستاولوبون هغه آريايي لرغونې ژبه چې په ارينه ويجه کښې ويل کېدله د "آريك" په نامه ياده کړې ده.

۱. دا نوم د اليشنك او الينګار د درو په نومونو کښې ښکاره دی.

ويدي مدنيت:

د آرين خلکو تاريخي دوره له ويدي سرودوسره پيل کېږي او له همدې تاريخي سرچينې څخه موږ د آرين د خلکو افکار، عقايد د ژوندانه ډول او له افغانستان خاورې څخه د دوی مهاجرت څرګندوو. د ژبپوهنې له پرتلې څخه دا ښکاري چې د افغانستان د ژبو او د ويدي او سنسکريت ژبو تر منځ ډېر ژبنی يووالی شته.

ويدي سرودونه په مختلفو زمانو کښې ترتيب شوي دي او په شفاهي توګه له يوې خولې بلې ته او له يوه نسله بل ته را نقل شوي دی او لکه چې اوسني ويد پېژندونکي پوهان وايي: د لوړو يادو شويو کتابو پر سرودو سر بېره يوه برخه نور لرغوني سرودونه ورك شوي دي چې د ويد په خپل تعبير "پخوانيو زيشيانو" يعنې پخوا نيو پوهانو به ويل او يادا چې ځينې لرغوني سرودونه چې نوې بڼه ورکړل شوې ده هم موجود وو چې غالباً يې د افغانستان په ورشو او د آرين خلکو په هغه ژبه پورې اړه درلوده چې دوی لا د هند شمال د اوو سيندونو شاوخوا ته مهاجرت نه و کړی.

څرنګه چې ويدي کتابونه، ويدي ژبه او مضامين اوستايي سرودو ته چې د سند په لوديزه ارته ورشو کښې پيدا شوي، بېخي ورته دي او بشپړ نژدېوالی ورسره لري، څکه نو ويل کېدای شي چې د ويدی د لرغونيو ورکو شويو سرودو زانګو همدا د افغانستان او باختر ورشو ده چې اوسنيو موجودو سرودونو يوه برخه به د هغو ورکو شويو سرودونو نوی ډول وي.

د لرغوني افغانستان له خاورې سره د ويدی مدنيت ډېره ټينګه اړيکه له دې څخه ښکاري چې د ويدي او سنسکريت پخوانی ډېرې کلمې په پښتو او دري ژبو کښې ريښې لري او ښايي چې دا ژبنې ميراثونه له لرغونيو اريايي نيکونو څخه دغو اريايي ژبو ته پاتې شوي وي.

The Digital Library

د ببلګې په ډول د "اریا" کلمه دوې علمي ماناوې لري:

د دې کلمې مانا ځینو په "اصیل" او "نجیب" کړې او ځینو بیا په "زارع" او کروندګر". څرنګه چې په پښتو کښې د "آرد" کلمه د "اصل" په مانا راغلې ده او هم کله کله د "کرنې" او "بزګرۍ" مانا لري نو ځکه ویل کېدای شي چې د نسبتي نون په زیاتېدو "آرین" (لکه پلن = پیاده، تورن = شمشیرې او نور) د کروندګر په مانا وي او څرنګه چې کرنه د خلکو په منځ کښې یو شریف کار او کسب و، نو ښایي چې تر هغه وروسته د "نجیب" او "شریف" مفهوم مجازاً ورکړل شوی وي.

ارین خلك چې هند ته ولاړل هغې ورشوته یې "اریه ورته" یا "آریه ورشه" وویل او دا کلمه تر اوسه په پښتو کښې د "ورشو" په ډول د ټاټوبي او د استوګنې د ځمکې او مرتع په مانا شته.

په پښتو کښې تر اوسه "سند" ته سیند وایي او دا کلمه په ویدي ژبه کښې "سندهو" ده.

د ریګوید په سرودو کښې د افغاني سیمې د ډېرو سیندونو یادونه شوې ده لکه سندهو (سند) کوبها (کابل)، ګوماتې (ګومل)، کرومو (کورم)، سویتی (سوات) ورکه (کونړ) رودونه او ګنډهارد (کابل مجرا) او هرد ویتي = سرد سوتي (ارغنداو یا اراکوزی، چې اوس یې د پخواني نامه ریښه په دهراوت کښې ساتل شوې ده او بهالانه (د بولان دره).

په اتهرواوید کښې د بلخ نوم د "بلهیکه، په شکل یاد شوی دی، چې وروسته د مهابهارته په کتاب او د سنسکریټ په ادبیاتو کښې "بهلیکه" شو او ریښه یې له بهلي - بخدي څخه راوتلې ده.

همدارنګه په اتهرواوید کښې د ګنداریس (د ګندهارا اوسېدونکی) تر څنګه د منجوان غره ذکر شوی دی، چې همدا اوسنی منجان غر دی چې

د نورستان او بدخشان تر مینځ پروت دی.

په ویدي سرودو کښې د لسو اریایي قبیلو جګړه یاده شوې ده، چې د ویدا د کتاب تر لیکلو (۱۴۰۰ ق.م) دمخه دراوی (پنجاب پر غاړه شوې ده او په دې قبیلو کښې د افغانستان د خواوشا خلکو هم ډېر نومونه شته لکه الینا (د الیشنګ او الینګار خلك) او بهلانه (د بولان د درې خلك) او شیوا (د سند د غاړې خلك) او پورو (د ګندهارا د شاوخوا خلك) او پکتهه (پښتون).

له دې جملې څخه د "ریګ وید" په دویم ټوك کښې د پکته د قبیلو او د هغوی د نومیالیو کسانو او پاچاهانو څو وارد یادونه شوې دد، چې یو له هغو څنې پکتهه نامتو پاچا (توروینه) (توروهونی = شمشېر باز) نومېده او د ارغنداو د هراوت (هرد ویتې) په وادۍ کښې د پنی، ډسه، پراوته او بریسه یه یادښت راغلی دی، چې اوس په افغاني قبیلو کښې بړیڅ او پنی د کندهار په جنوب او د سیبو ي په وادۍ کښې شته او همداراز پخوانیو نومو ته د ډاسو (سلیمانخېل) او پروټ (الکوزی) د قبیلو بنسټ لا پاتې دی.

هغه اریایي نژاده خلك چې له اریانه ویجه څخه د هندوکوش شمالي او جنوبي سیموته راغلل، کوچیان وو او د چوپانۍ ژوند یې درلود. پر (۱۹۳۹م) سمرقند ته نژدې په "تل برزو" کښې پر خاورین لوښي یو تصویر موندلی شوی دی، چې هغه د ګیومرث (ګومرد - یا ګویت شاه) د یو پخواني اریایي پاچا تصویر بولي، چې نیم یې سړی او نیم یې نر غویی دی او ګویشت د اوېستا په یود برخه کښې هم شپون پاچا بللی دی له هغه څخه څرګندېږي چې دغو خلکو د کوچیتوب په وخت کښې هم پاچاهان لرل، کولا (کهوله) او کورنۍ د دوی د ژوند اساس و، چې له هغوی څخه بیا ډلې پیدا کېدلې او د "پتي" په نامه یې مشر لارده، بیا چې څو کوله (کهوله) سره

om: The Digital Library

يوځای کېدل "ګرامه" يا "ويسه" څنې جوړېده شاهي ټاټوبي ته يې "پور" وايه او دا درې سره کلمې تر اوسه د سړيو او ځايو په نومونو کښې شته لکه: باګرام، ميرويس، شېرپور.

لومړنيو آريايانو مخکښې تر هغې چې هند ته هجرت وکړي کاست (ټولنيزه ډلبندي) يې نه پېژندله، خو هغه وخت چې په هند کښې د هغه هېواد له پخواينو تور پوټکيو سره مخ شول، نو پر څلورو طبقو، برهمن (روحاني) کشتريه (جګړن) ويسيه (ښاريان او کسبه) او سودرا (ناملموس) وويشل شول چې ذې اجتماعي طبقه بندۍ د دوی په وروستنيو تاريخي او ټولنيزو اوضاعو کښې څرګنده اغېزه درلوده.

په ويدي کتابونو او داريايي نژاد په نورو آثارو کښې داسې ليدل کېږي چې:

پاچاهي د مهاجرت له لومړنيو وختو څخه د دوی تر منځ موجوده وه او د ډول ډول ارباب انواعو پرستش يې کاوه او د "سبها" او "سمتي" په نومونو يې جرګې او د (سامانه) په نامه يې مېلې لرلې، پېغلو له زلميانو او ښځو له نارينه و سره مينه کوله او د وادهٔ دودونه يې هم درلودل. د کورنيو افرادو د ډېرښت له پاره يې تل دعاوې کولې، د ښځو په ډلو کښې شاعرانې هم وې، چې څينې سرودونه يې د ريګ ويد په لومړي کتاب کښې ساتل شوي دي. دغو خلکو ورزشي لوبې، د اس سپرليو اتڼ، نڅا او موزيك هم درلود او پر کرنه او مالدارۍ بوخت وو او د وړيو او څارويو له پوټکيو يې کالي جوړول، د پسونو او وزو رمې او دغو يو ګلې يې درلودې او د کورنيو شتمني يې د څارويو رمې او په تېره بيا د پيورو غواو درلودل وو. کله به چې د افغانستان غرو ته د "سوما" د بوټي د رانيولو (اخيستلو) له پاره راتلل خپل غوايي به يې د خريدارۍ د واحد په توګه راوستل چې هغه ته به يې

پاسو (PASU) ويل چې د پيسې (پولی واحد) کلمه له هغه څخه راوتلې ده.

له صنايعو څخه يې د لرګيو تراشنه، فلز کاري، د ټوکرانو او پوزيو (بوريا) اوبدل، د خاورينو لوښيو جوړونه، فلزي تزئينات او د اربو جوړول زده وو.

خوراك او څښاك يې د غلو دانې، شيدې او نور لبنيات، د ښکار غوښې او د سوما او سوريا شيره وه.

د طبعي عناصرو عبادت يې کاوه لکه ارونا (د اسمان رب النوع) اندرا (د جګړې رب النوع) سوريا (لمر) اګنی (اور) سوما (غرني وابښه چې له هغو څخه يې مشروبات تيارول) ماروت (باد) او نور اود هر يو په نامه يې قربانۍ درلودلې، خپلو پوهانو ته يې "ريشي" ويل چې په پښتو کښې اوس ددې کلمې له ريښې څخه د رشه کلمه د خوی، خلق او پوهې په مانا لرو.

اوېستايي مدنيت:

د افغانستان د اريايي خلکو دويم مدنيت په بخدي (بلخ)، د هندوکوش په شمالي او جنوبي سيمو او د هلمند په وادۍ کښې و چې د (١٢٠٠ ق.م) په شاوخوا کښې پيل شوی او له هغې دورې نه يو کتاب د اوېستا په نامه پاتې دی چې پېنځه بابه لري.

څرنګه چې په دې اړه زموږ د معلوماتو سرچينه د اوېستا د کتاب پاتې برخه ده نو ځکه دغه مدنيت او فرهنګ ته "اوېستايي مدنيت" وايو څرنګه چې دا فرهنګ په بخدي او افغانستان کښې زېږېدلی او را منځته شوی دی ځکه نو د دغه هېواد په تاريخ کښې ډېر زيات ارزښت لري. د اوېستا کتاب د افغانستان د لرغونيو خلکو مدني، فکري، او فرهنګي اوضاع په ښه ډول څرګندوي.

د اوېستا له کتابه څرګندېږي چې آريايي خلك د کوچيتوب، مالدارۍ او کډه پر شا ژونده مدنيت ته رسېدلي او په کليو او ښارو کښې مېشت شوي دي او د اقتصادي او ټولنيز ژوند په مراحلو کښې يې يوه نوې دوره پيل کړې ده.

په دې دوره کښې لومړی ځل په بلخ کښې پاچاهي را منځته شوه او د "يمه" (جم) په نامه يو پاچا د بلخ ښار ودان کړ او هم په دغو خلکو کښې يو ټاکلی ايين د مزد يسنه = مزد يسنا (د خدای ستاينه) په نامه منځته راغی چې مدني او روحي قوانين او هدايتونه يې لرل، موسس يې زره توشتره = زردشت و چې د کورنۍ په نامه "سپتمه" يا "سپيتمان" يادېده (چې دا نوم په پښتو کښې دوی کلمې "سپين" او "تمه" يا "تمان" د نژاد په مانا دي).

د زردشت د تبليغ د رامنځته کېدو ځای بخدی (بلخ) او سيستان دی. (وګورئ نهمه نومره عکس).

د زردشت پلار پورو شاسپه (د زاړه آس خاوند) او مور يې "دوغدو" او د پلار له خوا نيکه يې پتير ګتراسپه نومېده د څلورو ورونو نومونه يې داوو:

رتوشتر، رنګوشتر، نوتريکا، نی وتيش.

د ده لومړنۍ ښځه چې نوم يې څرګند نه دی (د ايست واستره) مور وه او درې لوڼې يې لرلې د زردشت دويمه ښځه د دوو زامنو "هوره، چيتره اوراتت نره" مور وه، دريمه ښځه يې چې په لمر ختيزه ورشو او د بخدي په سيمو کښې کړې وه د جاماسپ (د ګشتاسپ وزير) د ورور (فره شه وشتره) لور وه او "هووی" نومېدله، د ده له زامنو څخه "ايسيت واتسره" د روحانيونو مشر و".

او "اوروتت نره" د بزګرانو لارښود او "هوره چيتره" د جنګياليو

...om: The Digital Library

افسر بلل کېده د ده د پيروانو درې ګونې ډلې، د زردشت د دغو دريو زامنو له خوا رامنځته شوې دي، درې لوڼې يې هم درلودې چې فريني، ثريتي، پيورو او چيستي نومېدلې.

د زردشت د ژوندانه زمانه په يقيني توګه معلومه نه ده، خو د زردشتي کتابونو د روايتو له مخې د (٦٦٠ق،م) په شاوخوا کښې زېږېدلی او پر شل کلنی يعنې پر (۶۴۰ق.م) کښې منزوي شوي، پر ديرش کلنی يعنې پر ٦٣٠ ق،م يې د لارښوونې ادعا کړې ده، پر ۴۲ کلنۍ يعنې پر ٦١٨ق،م کښې "ګشتاسپ" پر ده وګروهېد او د ده په عقيده شو او پر (۵۸۳ ق،م) په اووه اويا کلنۍ د تورانی "ارجاسپ" د يرغل پر وخت د بلخ په دوهه (آتشکده) کښې د تورانی "براتر کرش" په لاس ووژل شو، خو څېړونکي پوهان دا کلونه سم نه بولي، او د ده زوکړه يې د ۵۸۸ق،م په شاوخوا کښې ګڼلې ده.

زردشت له هغو لرغونيو کسانو څخه دی چې په لرغوني افغانستان کښې يې پر نوي اقتصادي بنسټ د يو اساسی او ژور رفرم بنسټ ايښی دی او د " ژ، دو مزيل" په وينا:

"ده خپل اقتصادي سيستم په داسې وخت کښې منځته راوړی دی، چې د اريايانو يوه ډله دکوچيتوب له حاله راوتل او کليوالي ژوند يې غوره کاوه."

په دې توګه چې د ځارويو د څړ نامعلوم ځايونه يې د هر ټبر او قوم له پاره د څړ په ټاکلو ځايو اليش کړل او په همدغه دليل يې غوييي او غوا ته چې د خوراك او کرهنې يوازنۍ وسيله وه په درنه سترګه کتل او حيواني سرې په کليوالی تشکيلاتو او کرهڼه کښې خاص اهميت مونډلی و.

زردشت د يوه خدای (اهوره مزده - يوبادار) په يووالي او بې ساري

عظمت قایل شو او له پخوانیو خدایانو څخه یې چې آریایانو ورته عقیده درلوده مخ وګرځاوه، دی وایي چې:

"تر یوه خدای وروسته د نړۍ له پیله څخه دوه روحه شته، چې یو پر ښه لار او بل پر بده لار ځي او ټول ژوند یوه باطني جګړه ده چې د شر د قوتو پر ضد ادامه لري او په دې دایمي جګړه کښې رڼا او تیاره عقل او اهریمن یو له بل سره مقابل دي".

زردشت په خپل ایین کښې د څارویو قرباني او د سوما نشه راوستونکي شراب چې لرغونیو اریایانو درلودل، له منځه وړي دي.

دی وایي: "د (سوما) کثیف نشه کوونکي شراب څنګه له نېکۍ سره مرسته کولای شي. د بزګر سړي غوبې تر دې چې قرباني شي، ښه او ګټوره دا ده، چې د خپل خاوند په لاس کښې وي"

د زردشت په ایین کښې د آخرت پر ورځ، د اعمالو پر محاسبې، د رښتیا پر برې، د دواغو پر ماته او د جنت، دوزخ، چنوات (صراط) د پله او د ملائکو پر وجود عقیده شته او آذر (اور) یې هم مقدس ګڼلی دی، چې د ټولو موجوداتو په کمون او د طبیعت په موالیدو کښې په ودیعت ایښود شوی او د ژویو (جانورانو) د ژوندانه جوهر او د باطني غریزې تودښت نغري دي، نو ځکه د زردشت پیروانو د آذر د نمانځنې له پاره دوهې (آتشکدې) درلودې.

د زردشت په ایین کښې د نیکۍ قوتونه دا میشه سپینه (همیشه سپین او مقدس) او ایزدان (دستاینی وړ) په نامه شته، چې له هغې جملې څخه شپږ عامل قوتونه (موکلې ملکې دي، چې هر یو قوت د خپل صلاحیت په دایره کښې د نړۍ د چارو د اداري لپاره له بل قوت سره همکاري کوي، هر یو قوت د اهوره مزده (هرمزد) د یوه صفت مظهر او تلپاتې بلل شوی دی.

The Digital Library

۱- وهومنه = بهمن (ښه انګیرنه - نېکه مننه) یا د ګلو او رمو او نورو ژویو (ژوندیو موجوداتو) ساتندویه پرېښته.

۲- اشه و هیشه = اردي بهشت (ښه نظم) د اور پرېښته.

۳- خشتره وییریه = شهریور (تسلط د فلزاتو او ښکلیو ډبرو ساتندویه پرېښته).

۴- سپینته ارمیتي = سپیدار مذ (د روح سپېڅلتوب او تواضع)د ځمکې ساتندویه پرېښته.

۵- هیوروتات = خر داد (روغتیا) د غښتلتوب، کورو او اوبو، موکله پرېښته.

٦- امیریتات= امر داد (ابدي ژوند او بقا) د کرهڼو واښو او د خړ خایو پرېښته.

د مزده یسنا د پیداینښت په سر کښې د دې شپږو ملایکو پر سر یوه ملکه د سپینته مینیو (سپین عقل) په نامه ولاړه وه، چې تر هغې وروسته یې پر ځای "اهوره مزده" او کله هم "سره اوشه" (سروش = د خیر هاتف) درېدله.

د خیر، نیکۍ او رڼا د قوتو په مقابل کښې د شر، بدۍ او تیارې قوتونه هم موجود وو، چې د ټولو مفاسدو او شرارتو مشر "انګره مینیو" (اهریمن) و، او په اوېستا کښې یې د شر او تیارې دا ټول قوتونه د "دیوه" په نامه یاد کړي او د خیر د ملائکو په مقابل کښې یې د شر او بدۍ شپږ موکلان د کماریکان په نامه داسې تصور کړي دي.

۱- اکه منه: د هومنه په مقابل کښې د ناپاکۍ انګیرنې (یا مننې) په مانا د شرارت او نفاق او بدۍ ښکار ندوی.

۲- ایندره: د اردی بهشت په مقابل کښې د بدعت دوره او د خلکو ګمراه کوونکی روح.

۳- سیوروه: د شهریور په مقابل کښې د بې نظمۍ ښکارندوی او د ګړ بړ دیو.

۴- نا او نك هیي تیا: د سپیند ارمذ په مقابل کښې د تور او نافرمانۍ ښکارندوی.

۵- تیوروی: د خرداد په مقابل کښې د ورانۍ فساد، لوږې او تندې دیو.

٦- زیی ریش: دامر داد په مقابل کښې چې د تیو دوی شریك دي.

کله هم ایشمه د (خشم) دیو د سروش په مقابل کښې د هغو دیبانو اووم عدد بشپړوي، چې د ناشکرۍ او عصیان ښکارندوی دی.

زردشت خپل ایین پر دریو اخلاقي او حیاتي بنسټو بنا کړی دی او هغه دادي:

هو مته (ښه منل) هو خته (ښه ویل) هو ورشته (ښه کول) او په دې ډول د زردشت پیروانو ښه منل، ښه ویل او ښه کول د خپل عمل اساس ګرځاوه، او خپله انګیر نه، خپله ژبه او خپل عمل یې په یو شان له مانا وي او مادي ککړتیا څخه خوندي ساتل، د بدني او روحي پاکوالي، د رښتیا، سموالي، مهربانۍ، سخاوت او ټولو ښو اخلاقو مراعات یې کاوه، درواغ او تور منع و او د مزدیسنا هر پیر و په دې مامور ګڼل کېده، چې اور و اوبه او ځمکه د ناپاکیو له ککړتیا څخه و ساتي، ځکه نو دوی ځمکه د مړو د جسدو له ککړتیا څخه ساتله او خپل مړي یې نه ښخول بلکې په ازاده هوا کښې یې په لوړو ځایو باندې ایښودل چې د هوا مرغان یې و خوري او له منځه ولاړ شي.

د زردشت ایین چې د پیدا کېدو او روزني ځای یې د دنیا ډېر لرغونی پایتخت بخدي = بلخ و، د اوېستا د کتاب په وسیله تبلیغ شو، چې

om: The Digital Library

تفسیر یې په پهلوی (زند) ژبه راغلی دی او هغه ژبه چې اوېستا پرې لیکل شوې، له ویدي ژبې سره ډېر نژدیوالی لري، د اوېستا کتاب د اسکندر تر یرغل دمخه (۸۱۵) فصله او (۲۱) نسکه یاکتابه لرل خو سکندر د غوایي (۱۲۰۰) پوستونه چې پر هغو اوېستا کتاب لیکلی و، وسېزل او تر سکندر وروسته چې یې بیا هغه کتاب راټول کړ (۳۴۸) فصله لاس ته ورغلل، چې پر همهغو (۲۱) نسکو وویشل شو او دویسټ نومې انګریزي عالم په حساب دې ټولو (۲۱) نسکو (۳,۴۵۷,۰۰۰) کلمې درلودلې، چې اوس له هغو څخه یوازې (۸۳,۰۰۰ کلمې) شته، له هغې شرح څخه چې انګریزي ختیځپوه براون کړې ده، داسې څرګندېږي چې د اوېستا باختري اصل له منځه تللی او هغه څه چې اوس پاته دي، یوازې څلورمه برخه یې ده په دې تفصیل:

۱ - یسنا (پرسته او جشن): چې دیني سرودونه دي او (۷۲) فصله لري.

۲ - ویسپرید (سروران): د دعا او اورادو مجموعه ده، چې له (۲۳) څخه تر (۲۷) پورې فصلونه لري.

۳ - وندیداد (د شیطانانو دفع کوونکی): د اوداسه، استغفار، توبې او نور دیني احکام لري او (۲۲) فرګرد (بابونه) دي.

۴ - یشت (نمونځ اوستاینه): د خدای او ملایکو ستاینه ده او (۲۱) بابه لري.

۵ - خورده اوېستا (کوچنۍ اوېستا): چې د (۳۵۰ م) په شاوخوا کښې آذربد مهر اسپند تالیف کړې ده او دعاوې، نمنځونه او مناجاتونه په کښې دي.

د اوېستایي مدنیت په دوره کښې چې له (۱۲۰۰ ق م) څخه پیل شوې ده، لومړی وار په بخدي کښې شاهي نظام منځته راغلی او اوېستا وایي

om: The Digital Library

چې "يمه " دا هوره مزده په امر يوه "واره" ودانه کړه، چې اوږده او سور يې د يوه اسپريس (اس ځغلولو د ميدان) په اندازه و او په هغه کښې يې راز راز ځناوران لکه پسونه، غوايان، سپي، مرغان او نورو ساتل او هم يې د يو هاتره (ميل) په اوږدوالي د اوبو ځای وکينئ او په هغه وارد کښې په مخصوص ترتيب بازارونه، کوڅې او کورونه جوړ کړل، خو په هغه ښار کښې يې ناروغانو ، درواغ جنو، بدخويو، پيسانو او ليونيانو ته ځاي ورنه کړ".

په دې ترتيب د بخدي په " واره " کښې د آريايي مدنيت لومړی ښار ودان او لومړی مرکز تاسيس شو. او همدا د "واره" اوبستايي کلمه ده ، چې په سنسکريت کښې "وهاره" شوی ده، او په دري کښې "بهار" ځنې جوړ شوی دی، چې پر هغه ځای تر اسلامي لومړۍ پيړۍ پورې " د بلخ نوبهار " ودان و.

د اوبستايي مدنيت په زمانه کښې چې آريايي خلکو د هندوکوش په شمالي لمنو کښې کليوالي ژوند ته لاس ورته کړ، کلي او ښارونه يې ودان کړل او د کوچيتوب له دورې څخه په کورو کښې د اوسېدو حال ته راواوښتل. دا هغه ګام و، چې د مدني مراحلو د لوړتيا او اقتصادي تحول په لار کښې واخيستل شو، همدامهال و، چې شاهي نظام هم منځته راغی او د بخدي پاچهانو چې د اوبستا په پشتو کښې د "پره ذاته" په نامه ياد شوي دي يعنې پيشداديانو په خپل سلطنتي نظام کښې نظم، داد او نياو (عدل) منځته راوستل، د اوبستا په تعبير د بخدي دغو پاچهانو د رب النوعی مقام هم درلود او څنګه چې په ويدي سرودو کښې هم د دغو پاچهانو يادونه شوې ده، څکه نو د دې شاهي کورنيو زمانه تر تاريخ دمخه عصرته چې آرين خلکو د هندوکوش له شمالي سيمو هجرت نه وکړ - رسيدای شي.

خو په اوبستا کښې يو لوی پهلوان (د ګيومرث له اولاد څخه) چې

هيوشينګه نوميد ، په "پره ذاته = پيشداد" ملقب و ، يعني لومړی قانون ګذار او دا د دري ادبياتو همهغه هوشنګ دی، چې د البرز په غره کښې يې د ناهيد (اناهيتا) د رب النوع له پاره قرباني کولې او له ديبانو سره جنګېده، او پر اوو هېوادو يې پاچهي کوله.

د د ينکرد په دريم کتاب کښې داسې راغلي دي چې: "د کرهنې او د هکانيه = دهقانی دود او د مالکيت اصل همدغو پيشداد يانو منځته راوړي دی او بيا وروسته هوشنګ د يهوپتيه (دالبيروني په وينا د هوفذيه) يعني د حکومت او پاچهی او د خلکو د ساتنې اصل ايجاد کړی دی" له دغه روايت څخه پوهېدای شو، چې د اوبستايي دورې مدنيت د ويدي د اوايلو او کوچيتوب سره توپير درلود - په دې مانا چې دا وخت د ښکلي بخدي خلکو په کرهنه او آبادی، د کليو او ښارو په ودانی لاس پورې کړی و، د کوچيتوب او بدويت د ژوند له اقتصادي مرحلې څخه، د هکانيه او د مځکې مالکيت ته او حتی تر هغه يوې لوړې مرتبې "د هيوپتيه" (د حکومت او سلطنت ايجاد) ته رسېدلي و او هوشنګ پر يوې خورا ارتې ورشو او ځمکې حکم کاوه او د ديبانو او کوډګرو او بد ذاتو سره چې د مدنيت ورانوونکي او د کليوالو کروندګرو دښمنان وو جنګېده.

تر هوشنګ وروسته بل پيشدادي پاچا "تهمورث" دی چې په اوبستا کښې د "تخمه او روپه "په نامه ياد شوی او په ازينه ونت (وسله وال) ملقب و، دی يې د اوو هيوادو پاچا د "ويونګهان" زوي د "اينګهت" لمسی او د هوشنګ کړوسی ګڼلي دی، چې ديرش کاله يې د خپل وزير "شيدسپ" په کومك په نياو (عدل) او انصاف حکومت وکړ ده ته "ديوبند" هم وايي، دا څکه چې ديبان او هريمن يې بند کړي وو او هم يې ځينې داسې مدني کارونه وکړل، چې په نوې اقتصادي مرحله کښې ورته اړتياوه، لکه د وړيو وريښل،

The Digital Library

د کالیو سکښت او ګنډل، د څارویو اهلي کول او له اس، غاتري، اوښ، غوایي او خره څخه ګټه اخیستل، لیك او لوست منځته راوړل.

د کریستن سین په وینا: "تر تهمورث وروسته یې ورور جمشید پاچاشو او لومړي ځل یې د نوروز جشن جوړکړ، ادوي د اوېستا په تعبیر "د ښو ګلوخاوند" و، چې د القب په اوېستا کښې هوشوه (په پهلوی کښې هورمنګ) راغلی دي.

ده دري خویندې د "یمګ " او "اری‌نوك" او "سنګهوك " په نومو درلودلي (په شهنامه کښې : ارنواز - او شهرناز).

د اوېستا یې مدنیت دوري او د آریایي نژادو شاهي کورنیو او نومیالیو کسانو او پهلوانانو په اړه تر اسلام دمخه او وروسته د پخوانیو کتابونو روایتو د زمانو په تېرېدو یوه داستاني بڼه پیدا کړې ده او په دغو کتابو کښې دا اساطیر په مختلفو ډولو راوړل شوي دي، خو موږ دلته زیار باسو، چې ترخپله وسه د نوموړیو داستانو تاریخي اړخونه ولټوو.

په ویدا کښې د پیشدادي ستر پاچانوم (یمه) Yama په اوېستا کښې "ییمه "Yima پهلوی کښې "یم " Yam او په دری کښې "جم " دی، چې صفت یې په اوېستا کښې خشیته Xshaeta په پهلوي کښې شیت Shet او په دری کښې "شید" راغلی او "جمشید " یې بولی، یعنی ځلیدونکی جم. د جم پلار په اوېستا کښې ویوهونت Vivahvant دی، چې وروسته بیا ویونګهونت = ویونګهان په ویونجهان معرب شو، زوی یې یمه = جم دا هوره مزده له خوا د خلکو ساتندوی او پاچاو ټاکل شو چې د خلکو د ودانۍ او هوسایۍ له پاره زیار وباسي، ده ته یوه لکړه، یو غمی، یوه توره، یوکټوری (جام) او د یوې زرین تېش (غاښور) ورکړ شو، چې د ده د شاهۍ لومړی نښان وی او له تیش څخه د ځمکې په کرلو او کرهڼه کښې کاروانخلي، د خلکو او څارویو د نسل

په ډېر ولو کښې زیار وباسي، د بخدي "واره" ودانه کړي او هغه ځای چې په اوېستا کښې د لوړ و بیرغو لرونکی (ښکلی بخدي) بلل شوی د خپل ځان او نورو ښاري خلکو ټاټوبی وټاکي.

د بخدي پاچا " یمه" لومړی پاچا دی چې د مدنیت او ښاریتوب بنسټ یې ایښی او ټولنیز ژوند یې ترتیب کړی دی.

کرنه، څاروي روزنه، کار، د اوسپنې ویلول، د کالیو اوبدل، د وسلو او جواهر کارونه، د لښکري طبقې ټاکل، ختګري او د فلزاتو او درملو کارول یې دود کړل او په خپل لومړي شاهي پایتخت ښکلي بخدي کښې یې مدنیت جوړ او خپور کړ. د فرانسوي څېړونکي بنونسیت په وینا: دی هغه آریایي شخصیت دی چې د اسلام تر منلو دمخه د نورستان د خلکو په منځ کښې د "ایمیرا" Imra په نامه تر ټولو ارباب انواعو لوړ او ستر رب النوع ګڼل کېده او د هغې سیمې په مرکزي معبد کښې چې هلته یې د قربانیو دودونه پر ځای کول د ده مجسمې درولې وې.

په ۹ یسنا کښې له دریمې ترپینځمې فقرې پورې وایي! "د جم د پاچاهۍ پر مهال تودوالی، سوړوالی، زوړوالی، مرینه او رخه (رشك) په دنیا کښې نه وو" او د ۱۹ یشت په ۳۱ - ۳۸ فقرو کښې داسې راغلي دي چې: "د جم په پاچاهۍ کښې د نرۍ ژوندون په خوښۍ او خوشالۍ تېرېده د رنځ او ناورین نخښې نه وې" په اوېستا او د عرب او عجم په نورو تاریخي کتابو کښې، د جم او پیشدادي پاچاهانو کیسه د ډېر لرغونتابه له امله افسانوي بڼه غوره کړې ده او څرنګه چې یې د جم پاچاهي د هر راز هوسایۍ او ارامۍ، نیاو "داد" او ښېګڼې سر چینه بللې ده ځکه یې نو هغه څوك چې د خیر، خوښۍ او ښېګڼې ددې سر چینې دورانولو وسیله شوی اژی دهاکه (اژدها - ښامار) بللی دی او دا سړی" بیوراسپ" د "اروند اسپ" زوی (ګیو

The Digital Library

مرث دگر شاه = غرشاه) له اولادې څخه و، چې مور يې او ذاك (ودك) د جم خور وه او بيو راسپ دلسوز رواسونو د خاوند په مانا دی او څنگه يې چې گړندی اسان درلودل، نو ځکه يې ورته" تازی" ويلی دي، چې په همدې سبب ځينو مؤرخينو دی تازی او له عربي نژاده گڼلی دی.

وايي چې دی د (بورې) پر ځمکه راپورته شوی دی او په دغه نامه تر اوسه يو ځای د افغانستان جنوب ختيځ ته په ړوب کښې شته.

څرنگه چې عربو دا نوم معرب کړی او ضحاك يې ورته ويلی دی، ځکه يې نو نوموړی عربي نژاد بللی دی او هم څرنگه چې سامي نژادو له آريايانو سره سيالي درلوده، ځکه نو هر عنصر چې د نوي تشكيل شوي مدنيت او د بخدي پاچاهۍ ته خطر پيښناوۀ هغه له پردي نژاده بالله او لکه آرايي نژاده تورانيان، ضحاك بيوراسپ يې عربي نژاده گڼلی دی.

د طبري او البيروني په څېر ځينې دقيق مؤرخان وايي: عربانو ضحاك عربي نژاده او عجميانو عجمي انگيرلی دی.

څرنگه چې د افغاني تاريخي ښار و، ځايونو او سړيو په نومونو کښې (لکه د غوري شاهانو د کورنۍ ستر نيکه ضحاك او په باميان کښې د ضحاك ښار) دد غه نامه ريښه شته او مورخان هم د ده نسبت لړۍ اريايي نژاده گيومرث ته رسوي اودی د جم خوريی بولي، نو دا خبره چې عربي نژاده و، له منلو څخه ليرې ښکاري.

په هر حال د اوېستا د اشارو له مخې بيور اسپ اژي دهاکه د ښکلي بخدي پر مدنيت يرغل وکړ او څرنگه چې ايزدي فر (د سلطنت پر تم يا ځلا) د برياليتوب د مارغه په څېر له جم څخه جلا شوی و، اژي دهاکه پرده بری ومومند او د ده هېواد يې ونيو او دی يې په اره دوې ټوټې کړ.

دې تازي (تازنده) ضحاك د رام ميشت د ۱۹ فقرې له مخې د کوی

رينتا په نامه يوه ټينگه مانۍ او شاهي تخت او زر ينه چترۍ درلوده او د اسلامي دورې په دري ادبياتو کښې ده ته "ضحاك ماران مار دوش = اژدها) ويلی شوي دي.

د اوېستا له مخې تر جم وروسته ايزدي فر (د سلطنت ځلا) پر "تراتينه" (په پهلوي کښې فريتون فريدون) د پورتورا "پورگاو" پر زوی چې د جم له اولادې څخه و وځليده چې پلار يې د اثويه (اثفيان ابتين) په نامه هم ياد شوی دی، د دې کورنۍ خلك کروندگر وو چې د زياترو له نومونو سره د گاو کلمه (په اوېستا کښې گتيو) راغلې ده.

فريدون د اوبو د رب النوع اناهيتا له پاره سل اسان، زر غويي او لس زره پسونه قرباني کړل. ځو چې پر شريراژي دهاكه بريالي شو او هغه يې وواژه او د جمشيد دوې خويندې "اري نوك" او شنگهوك چې ضحاك بندياني کړې وې لاس ته راوستلې.

د اژي دهاكه په مقابل کښې د خلكو د خوځښت داستان چې د فردوسي په شاهنامه کښې د هغو خدای نامو له روايتو څخه را اخيسته شوي چې تر اسلامي دورې د مخه وې، داسې دي چې: يوه پښ (آهنگر) چې کاوك "كاوه" نوميده، د خپلې اهنگرۍ څرمن د نېزې پر څوكه د بيرغ په څير وتړله او خلك يې په ځان راټول کړل او د اژي دهاكه په مقابل کښې وپاڅېدل او د هغه د تېريو پر ضد پورته شول او دا هم هغه د كاويان بيرغ دی چې تر ډېر وخت وروسته پورې د اريايي خلكو د برې سمبول و.

فريدون په دې هڅه او خوزښت کښې د پاڅېدلو خلكو مشر و او ده پر ضحاك باندې د خپل برى په ياد د نو روز د جشن په څېر "د مهرگان د جشن" بنسټ کښېښود ديبان يې پر سرو ټكول او جهان يې ونيو.

د آريايي اولسو په داستانو کښې يو بل ته ورته روايات شته چې

وايي:

فریدون د ایرینه ـ توئیرینه او سیئریم مینه هېوادونه پر خپلو درو زامنو ارج (ایرج) او توچ (تور) او سرم (سلم) ووېشل، خو سلم او تور د ایرج سره رخه (رشك) درلوده او دی یې په ناخوانه ډول ووژه تر هغې چې د منوش چیتره (منوچهر) په نامه د ایرج زوی پیدا نشو او د ایرج کسات یې وکښ.

د دې استان په څېر د درو زامنو کیسې نورې هم شته لکه د زردشت د درو زامنو او د تارژي تائوس سکایي د درو زامنو او د درو پښتني ورونو (غرغښت ـ بیټنی ـ سړبن) کیسې چې د کلژ دوفرانس د استاد ژرژردومزیل په وینا پخوانی اریایي ټولنه له دریو ډلو:

روحانیونوو، جګړنو او ثروت موندونکو څخه جوړېده او د پخواني هند اساسي کاستونه هم بر همنان ـ جګړن نجیبان او څاروي پالونکی کروندګر و، د زردشت له دریو زامنو څخه هم مشر زوی روحاني، دویم زوی جګړن "او دریم چوپان و او د اګرده کیسې پر پخواني اریایي قومونو کښې سره ورته دی.

په هر حال منوچهر د ایرج کسات واخیست، سرم او تور یې ووژل او د آریایي نژادو صحرا نشینو توراني یر غلګرو خلکو مخه یې ونیوله، د ده په وخت کښې لوی پهلوانان لکه قارن کاوه زوی او نریمان اوزال ورستم رامتخته شول چې د آرینه ځمکه یې د دښمنانو له شره ساتله.

تر ده وروسته د اوېستا په وینا نو تره (نوذر) د ده زوی پاچا شو چې توراني افراسیاب تر دریو جګړو وروسته هغه ونیو او وېې واژه خو له هغه څخه د نئوتریان = نوذریان په نامه لوی کهول پاتې شو، چې داستانونه یې په اوېستا کښې راغلي دي.

د نوذر تر وژنې وروسته "اوزوه" د توماسپه زوی (زو = زاب = د

The Digital Library

توهماسپ زوی = تهماسپ) د فریدون له اولادې څخه تر پېنځو کالو پورې حکومت وکړ چې هوښیار او عادل سړی و، د دې نامه ریښه په "زابل" او زوب کښې شته، ده د پهلوانانو په مرسته له تورانیانو سره جنګونه وکړل څو په پای کښې یې د آمو سیند تر خپل منځ ویش (برید) وټاکئ.

د زاب تر مړینې وروسته د هغه زوی کرشاپه Kereshaspa (یعنې د ډنګراس څښتن) پر تخت کښیناست، چې لسم پیشدادي پاچا و، نهه کاله یې حکومت وکړ د ده تر مړینې وروسته افراسیاب د توراني شنګ په فرمان د هغه پر هېواد یرغل وکړ او د کرشاسپه د داستان له ختمه سره د پیشدادیانو داستاني تاریخ هم پای ته ورسېد، خو دلته باید دا وویل شي چې دا کرشاسپه د زاب زوی له اوېستایي نامتو پهلوان، کرشاسپه نریمنان څخه جلا وي، ځکه چې کرشاسپه نریمان د ثریته (ثریت = اثرط) زوی د سیستاني سام له کهول څخه و چې د فریدون د پاچاهۍ په پای او د منوچهر د کار په پیل کښې زړور او بوډا و هم اصلاً یو له پهلوانانو څخه دی، نه له پیشدادي شاهانو څخه.

د کاوي = کیان کهول:

"کوي" یا کاوي په ویدي ژبه او اوېستا کښې د (پوه، پاچا، امیر) په مانا دی، چې د اوېستا له مخې "کوي" د پهلوي (کي) د بلخ او د اوسني افغانستان شاوخوا د پخوانیو پاچاهانو له لقب سره یو ځای و، خو د دې هېواد لویدیزې خواته نه استعمالېده.

د کوي = کي کلمه د بلخ د هغو پاچهانو د نومو په سر کښې ګورو چې د پیشدادیانو تر کهال وروسته پاچهۍ ته رسېدلي دي او د دې ځمکې شاهي پرتم (شاهي فر) د کوئنم خورنو Kavaenem-xvreno په نامه په دوی اړه

The Digital Library

لرلي ده.

په دري ژبه کښې يې "کی" په "کيان" جمع کړی دی او دا کهول يې په شاهنامه او نورو کتابونو کښې "کيان - کيانيان او کياني" ياد کړی دی.

د اوېستا له مخې د دې کورنۍ لومړی پاچا کواته Kavata نومېده، او ده ته يې کوی، کواته (کی قباد) وايه، چې د سيستاني پهلوان رستم د پلار په غوښتنه د البرز په غره کښې (د بلخ سهيل ته) پر تخت کښيناست او دې د خلکو د هوسايۍ، ارامۍ او نيکمرغۍ سبب شو، عادل پاچا و، پېنځلس کاله يې پاچاهي وکړه، فردوسي دی د فريدون له توکم څخه ګڼلی دی. تر کيقباد وروسته په اوېستا کښې د کی اپيوه - کی - ارشن - کی بيرشن - کی پشين نومونه هم راغلي دي، چې د ده اولاد دی، خو د هغه په باره کښې راغلي افسانې کمزورې دي او پخوانيو کتابو کې هم زيات شهرت نه لري.

تر کيقباد وروسته يې زوی "کوی اوسن Kavi - Usan " (کيکاوس) د بخدي پر تخت کښيناست، چې د اوسن مانا هيله يا خوښي ده. ده له غير وادريايي پرديو عناصرو سره چې د حماسي رواياتو له مخې د اوسني ايران په شمال کښې د مازندران په ځنګلو کښې اوسېدل جنګونه وکړل او پر هغوی يې برى تر لاسه کړ. په اوېستا کښې هغه خلکو ته (ديبان) ويل شوي دي.

اوېستا وايي چې غښتلي او زورور کوي اوسن (کيکاوس) د ارزيفيه Erezifya د غره پر سر (اناهيتا، د اوبو رب النوع) لپاره سل اسان او زر غوايي او لس زره پسونه ددې لپاره خيرات کړل چې د پاچاهانو ستر پاچا شي.

څرنګه چې نومورې غر د پوهانو د څېړنې له مخې د خراسان شمال ختيځ خواته په بلخ کښې و او کيکاوس پر هغه اووه هسکې مانۍ جوړې

کړې وې، څکه نو د ده داستان هم سر تر پايه (د افغانستان په تاريخ او خاورې پورې اړه لري).

دی له لويو پاچاهانو څخه شو چې (د هغه مهال د کشف شوې نړۍ) پر اوو هيوادو يې حکومت کاوه او د اوشنر oshnar په نامه يې يو پوه وزير درلودئ چې په اوېستا کښې يې د پورو جيره Pura-Jira په صفت ياد کړی دی يعنې ډېر پوه او هوښيار (په پښتو کښې: پوره = څير = کامل دقيق).

په اوېستا کښې کيکاوس ته ځينې غلطۍ او خطاوې هم منسوبې دي، لکه د همدې پوه وزير وژل او د ځمکې د ساتندوی غوايي له منځه وړل او اسمان ته د ختلو هڅه. له همدې امله کياني پرتم (کياني فر) له ده څخه وګرځيدئ او توراني افراسياب وربانديې غالب شو او دده هيواد يې ويجاړ کړ، څو چې روت ستخمك Rot - Staxmak "رستم" سيستاني پهلوان لښکر جوړ کړ او افر اسياب يې وشاړه.

د بلخ له کياني پاچاهانو څخه يو بل "کوی سياورشن "Syavarshan" (سياه نر) و، چې تر کيکاوس وروسته پاچا شو او د بلخ واکمن پاچا و، چې د آمو تر ها خوا (توران) کښې له آريايي برغلګرو قبيلو سره په يوه جګړه کښې وژل شوی دی او دی د کيکاوس زوی ګڼل شوی، چې په پهلوي او دري ادبياتو کښې د سياوخش = سياوش په نامه شهرت لري.

سياوش ايرينه ويجه ته نژدې، يوه لويه کلا د کنګ دژ (KANGHA د = اوېستا) په نامه ودانه کړه چې د جمکر د واره په څير دويم آريايي مرکز و او ده په توران کښې د توراني پاچا افراسياب لور چې فرنګيس نوميدله ماندينه کړه او له هغې څخه هئو سره وه "Hausravah = کيخسرو" وزيږېد. چې تر پلار وروسته يې د پاچاهۍ تخت ونيو او د پلار د خون اخيستو په غرض له تورانيانو سره د خپل ننګيالي سپه سالار هئومه Haoma په ملګرتيا يې

The Digital Library

افراسیاب او د هغه ورور کیریسه وزده (چې په شاهنامه کښې: کرسیوز راغلی) په ځنځیرو کښې وپیچل او ویې وژل.

اوبستا وایي: کله چې کیاني پرتم (کیاني فر) په خسرو پورې اړه پیدا کړه نو دهغه په مرسته یې لوی کارونه وکړل، زور او قوت، مینه او ښکلا، برم او پرتم دده په برخه وو او د کیاني شاهنشاهۍ هیوادونه یې بیرته سره ونښلول، چې له همدې امله په اوستا کښې د خشتري هن کریمو Xshathrai - Hankeremo یعني د هېوادونو نښلونکی او یو ځای کوونکی، د شاهنشاهۍ د رامنځته کوونکي په صفت یاد شوی دی.

تر کیخسرو وروسته په بخدي کښې یوه ډله پاچاهان رامنځته شوي دي، چې د نومونو په پای کښې یې د "اسپه" کلمه راځي او دا بیخي باختري نسبت دی، ځکه چې د بلخ ورشو د آس پخوانی روزنځای و او ددې مځکې آریایي نژادو سپرو، په جنګونو، یرغلونو او د دښمنانو په مخنیوي کښې تل له دې اهلي ځاروي څخه کار اخیست، ددې سیمې د خلکو تر منځ له پخوا زمانو بیا تر اوسه، د اسانو د ګلو روزنه او د سپرلۍ ورزش دود لري تر دې چې ځینو پوهو مؤرخانو لکه دینکر، په خپل پخواني تاریخ کښې، د بلخ د پاچاهانو یو کهول د "اسپه پاچاهانو" په نامه یاد کړی دی، خو په حقیقت کښې دا پاچاهان د هم هغو کیانیانو پایښوړ دی.

له همدې ډلې پاچاهانو نه هغه څوك چې تر کیخسرو وروسته د بلخ د پاچاهۍ پر تخت کښیناستلی، په اوستا کښې ائوروت اسپه Aurvat Aspa (= کی لهراسپ) یاد شوی دی چې د ګړندي اس په مانا دی او نسب یې کیقباد اومنو چهرته رسیږي، د فردوسي په وینا د مهر د میاشتې د مهر پر ورځ (د میزان په ۱٦ مه) یې د پاچاهۍ خول پر سر کښیښنوو او په بلخ کښې یې د "آذر برزین" په نامه یوه دوهه (آتشکده) جوړه کړه، د ساساني وختو

په نورو روایتو کښې وایي چې: ده د خپل یو سپه سالار بوخت نرسیه (معرب یې: بخت النصر) په ملتیا پر اورشلیم یرغل وکړ او هغه یې وران کئ، او جهودان یې تیت کړل، د ژوند په پای کښې یې پاچاهي خپل زوی ویشتاسپه Vishtaspa (= ګشتاسپ، د توریدلي آس په مانا) ته پرېښووه او پخپله د بلخ په نوبهار ننوت، ویښتان یې پرېښوول، د خدای په ستاینه بوخت شو او د زردشت دین یې ومانه، چې په پای کښې د توراني ارجاسپ په یوه حمله کښې ووژل شو.

ویشتاسپه (ګشتاسپ) لوړ همته پاچا، د ګړندیو آسانو خاوند د زردشت موید او پیرو او مزدا پرست او کیاني فر لرونکی، ریښتیا کوونکی او پاك تومنه سړی و، پر خپلو توراني دښمنانو یې بری وموند او هم یې وزیر جاماسپه داوستا له مخې شریف بډای، هیوادوال او پوه بریالی او د زردشت د لور میړه و، چې د زردشتي آئین تر منلو وروسته یې د هغه په خپرولو زیار ایستلی و او دده زوی سپینتوداته Spento - Data اسفندیار چې تخمه Taxma "= تهم = زړور" یې صفت و او د ویشتاسپه ورور چې زئیري وئیري Vairi -Zairi "زریر" نومېده هم هغه کسان دي چې د زردشتي قانون په خپرولو کښې یې زیار ایستلی دی، د اوستا په هغه نسخه کښې چې په اتمه میلادي پېړۍ کښې په پهلوی ژبه کښل شوې او په سمر قند کښې ترلاسه شوې ده، داسې وایي چې:

زردشت د ګشتاسپ په امر د خپل کتاب دوولس زره نسخې د سروزرو په څېر کو ولیکلې او د "ورهران" په اتشکده کښې یې کښېښودلی، چې دا معبد، اسفندیار د بلخ بامیك په نوازك کښې ودان کړی و، همدارنګه په آذر فربغ (د موبدانو اتشکده) او آذر برزین مهر (د کرونده ګرو اتشکده) هم ګشتاسپه ته منسوبې دي، چې دا دوهمه اتشکده یې د ده په وخت کښې

The Digital Library

له خوارزم څخه د کابلستان دروشن Roshn غره ته راوړه او د عربو تر فتوحاتو (۱۷۱ هـ) پورې لا هم پاتې وه.

د زرير زوی بستوئيری Bastawairi د بست ښار ودان کئ او هلته يې ډېر ژر خيراتونه وکړل او هم يې د سلطنت مخالفان چې هلته وو له منځه يوړل.

تر اسفنديار وروسته له دې کورنۍ څخه د ځينو نورو پاچاهانو نومونه اخستی شوي دي لکه "و هومن سپينداتان" (بهمن اسفندياری) او لور يې "همای" او "د اراب" د هما زوی. دا پاچاهان له سيستان او هلمند په وادۍ کښې داستانونه لري، ځينو مؤرخانو دا پاچاهان له هخامنشي پاچاهانو سره ګډ کړي دي.

اوستايي پهلوانان:

د اوستايي فرهنګ په دوره کښې سر بېره پر دغو شاهي کورنيو چې مخکښې يادې شوې د ځينو لويو پهلوانانو کورنۍ هم په دې تاريخي زمانه کښې راغلی دي چې ددوی په نامه اريايي حماسي روايتونو کښې ځانګړې کتابونه وو، دا کورنۍ زياتره په اوسني افغانستان او د خراسان په سيمې پورې اړه لري. خو د زمانو او نسلونو په تېرېدو د دوی تاريخي پېښو داستاني بڼه موندلې او په دې پهلوانانو پورې يې ځانګړې کارونه تړلي دي. چې ددې افسانوي روايتونو له منځه يوه برخه تاريخي واقعيتونه لکه د پاچاهانو د کورنيو تاريخي پېښې لاس ته راتلای شي.

ډېر نامتو او لوی پهلوانان د سيستان له خاورې څخه پورته شوي دي، چې د اوستا له روايتونو او د نورو پهلوي کتابونو له مخې د دوی نژاد

د بخدي هم هغه "يمه جم - جمشېد" پاچاته رسېده او ده د زابلستان د پاچا کورنګ لور ماندينه کړه چې له همدې نژاد نه سام نريمان پيدا شو، چې زوی يې د ويښتو د سپينوالي په سبب د "زال زر" په نامه ياد شو او د پلار له پلوه د سيستان پاچاهي ورکړای شوه، دی د کابل د مهراب شاه پر لور "رودابه" چې د ضحاك له نسله وه مين شو او هغه يې خپله ښځه کړه. چې له هغې ځنې رستم وزېږېد، چې د خپل وخت ترټولو پهلوانانو غښتلی، زورور و؛ كك، کوهزاد (غرزی - غلجي)، يې چې له زال څخه يې خراج اخيست وواژه، خو په پای کښې د بهمن په وختو کښې د خپل ورور شغاد په دوره او چل څاه ته ولوېد او د خپل آس رخش سره په هم هغه څاه کښې مړ شو.

زال سر بېره پر رستم او شغاد يو بل زوی د " زوارۀ" په نامه هم درلود چې لوی پهلوان و، د هغه دوه زامن فرهاد او تخار(تخوار) مشهور دی. له رستم څخه فرامرز ته، سهراب، جهانګير او ګشسپ بانو او زر بانو پيدا شول او له سهراب څخه چې د پلار له لاسه وژل شوی و د "برزو" په نامه يوزوی پاتې شو، تر برزو ورسته شهريار وزېږېد، چې ددې پهلوانانو په نامه بېل بېل کتابونه شته، لکه فرامرز نامه، برزونامه، شهريارنامه، بانوګشسپ نامه، جهانګيرنامه او سام نامه. همدا راز د فردوسي په شاهنامه کښې هم د دوی داستانونه راغلي دي.

د رستم زال او تخوار داستان په افغانستان کښې تر اسلام وړاندې له پخوا زمانونه شهرت لارۀ او تر اوسه يو څو ځايونه، د تخت رستم په نامه (په سمنګان کښې) د رستم غونډۍ د زال کلا، (تخارستان) د كك کهزاد کلا د رستم آخور (په فراه کښې) شته چې ځينې دانومونه له اسلامي فتوحاتو وروسته د عربو په تاريخونو کښې هم راغلي دي او حتی د نورو ملتونو په تاريخونو کښې لکه د موسی خورنی ارمنی په تاريخ کښې له (۵ - ۸ مې

The Digital Library

پېړۍ پورې) هم درستم نوم راوړل شوی دی.

د دې دورې بله کورنۍ چې په زړورتيا او پهلوانۍ کښې يې شهرت درلود "کاوه" کورنۍ ده چې دمخه يې يادونه راغلې ده او د ضحاك د ظلمونو او ستمونو په مقابل کښې يې د خلکو يو ډليز غورځنګ رامنځته کړی و، له هغه نه يو زوی د "قارن کاوګان" په نامه ياتې شو چې د فريدون او ايرج او منو چهر په وختونو کښې يې له افر اسياب سره د کيقباد په جنګونو کښې ډېره مېړانه او زړورتيا ښودلې وه.

دا کورنۍ د اشکانيانو او ساسانيانو تر دورې پورې د کارن په نامه پاتې و او حتی تر دريمې هجرې پېړۍ پورې يې خپل برم او قوت ساتلی و.

د پهلوانانو بله کورنۍ د نو ذريانو کورنۍ ده چې نوذريان د منو چهر د زوی "نوتر" له اولادې څخه وو.دې کورنۍ ته په اوستا کښې نئو تئير يانه Naotairyana ويل شوې ده او توسه (طوس) د نوتر زوی چې نوم يې خراسان د طوس د ښار په نامه کښې پاتې دی د کياني وخت له لويو پهلوانانو څخه و چې د وايسه که Vasesaka پرزامنو يې برى وموند، د نوتر بل زوی "ويسه "چې په اوستا کښې دويسته يؤرو Vistauru (او په پهلوی کښې ويستخم = په درې کښې ګستهم) ياد شوی دی چې مزديسنا د آئين ډېر دښمنان يې وژلي دي او زر اسپ هم د طوس د زوی له دې کور څخه ګڼل شوی دی.

همدا ډول د کاوس زو ی فريبرز (په پهلوی کښې برزی فره) او د لهراسپ زوی زرير او د زرير زوی بستور (په اوستا کښې بسته وئيره) او د ګشتاسپ زوی اسفنديار او د وزير جاماسپ زوی ګرامي (په پهلوی کښې ګراميك کرت) ددې پېر هغه شهزاد ګان او نجيب زاد ګان دی چې په داستانو کښې د پهلوانانو په څېر ياد شوي دي او د روايتي کيسو له اړخه

ددوی تاريخي وجود پېژندل کېدای شي، هريو د بخدي او خراسان په لرغونيو تاريخي داستانو کښې نوم او نښان لري.

افغانستان او اوېستايي سيمې:

د اوېستا په دريم کتاب ونديداد کښې د هغه مهال د معلومې ځمکې شپاړس سيمې يادې شوي دې ځينې يې په اوسني افغانستان يا پخواني خراسان کښې دي، همدارنګه د اويستا په ريشتو کښې د هغو غرونو او سيندونو نومونه راغلي چې ټول په دې هېواد کښې دي. د بېلګې په ډول:

١- ايرينه ويجو (هغه سيمه چې په پامير يا امو ته نږدې په خوارزم کښې ده).

٢ - سغده (د آمو په شمال کښې سغد).

٣ - مورو (د مرغاب مجرامرو)

۴ - بخدي (بلخ)

۵ - نيسايا (په شمالي خراسان کښې نسا)

٦ - هرای وه (هرات)

٧ - وايکرته (کابل)

٨ - اوروه (روه د پختيا ولايت او سليمان غر)

٩ - هری ويتي (ارغنداو او ده هراوت)

١٠ - ای تومنه (هلمند)

١١ - رد ګه (د بدخشان راغ = د پښتو: رغه)

١٢ - هپته هندو (سند).

m: The Digital Library

چې دا ټولې سيمې په افغانستان او يا د افغانستان په ګاونډ کښې پرتې دي. همدارنګه په اوستا کښې سيامګه (سياه کوه = تور غر) يو پاړی سينه (د ګوربت تر الوتنې هسك غر ـ هندوکش) سپيته ګونه ګيری (سپين غر) او نور غرونه او سېندونه ياد شوي دي چې له دې هېواد سره د او ستا کتاب د ترتيبوونکيو آشنايي رابښيي.

ايزدان او ارباب انواع:

سره له دې چې زردشت يو نوی سم شوی قانون رامنځته کړ او لکه چې د مخه وويل شول د شريرو قوتونو د مقابلې لپاره يې د خير او ښيګڼې شپږ ملکې وټاکلې، خو بيا هم د هغو ارباب انواعو اغيزه چې د ويدي د وخت لرغونيو اريايانو لرله بيخي له منځه نه وه تللې، يوازې د ويدي د لوی رب النوع "وارونه" پر ځای "اهوره مزده" ودرېد چې مانايې پوه بادار (سرور) واو دا نوم زردشت "د يو خدای" لپاره وټاکه او هغه آريايي خدايان (د ېوان) چې تر هغه وخته يې لا په هندوستان کښې د خدايۍ مقام درلود د زردشت په آئين و قانون کښې متروك او پريښوول شول. ځکه نو د "ديو" کلمه چې تر زردشت د مخه د خدای په مانا وه د "بلا، غول او ګمراه کوونکي" مانا پيدا کړه او له هغه وخته خدای پرست ته "مزديسنا" او مشرك او د باطل دين پيرو ته "ديويسنا" وويل شو، خو سره له هغه هم د "ديو" کلمې په ټولو اريايي اولسونو کښې (له زردشتيانو پرته) خپله اصلي مانا ساتلې ده او د هندوانو په نزد تر اوسه هم "ديوه" د خدای په مانا دی.

"زيوس" د يوناني لوی پروردګار نوم و، چې لاتيني "ډيوس" او فرانسوي "ډيو" او د پښتو "ډيوه" (د ځراغ او رڼا په مانا) له دې ريښې څخه

دي.

د ويدي دورې په آريايانو کښې "اګني" د اور رب النوع او خدايي ځری (قاصد) و، چې په اوېستا کښې "اوترو" او "اترش" او په پهلوي "اتور = اتر" او په دري کښې "اذر = آتش" اوپه پښتو کښې اور دی او په زردشتي ايين کښې يو عنصري ايزد او د هوره مزده زوی ګڼل کيږي. چې لمبه يې د خدايي رڼا ښکارندويه (نماينده) ګڼلې کيده او د پرستنې په ځايو کښې يې د محراب پر ځای ځلانده اورغالي (اتش دانونه) جوړ کړي وو.

اوېستايي بله رب النوع اوبه دي چې په ويدي دوره کښې هم "اپام نپات" (د اوبو زوی) ياد شوی دی او څرنګه چې د بخدي اريايي نژادو د خپل هېواد په زړه کښې له لوی سيند څخه ډېرې ګټې اخيستې وې نو ځکه د اوبو له پاره يې د "اناهيتا" په نامه رب النوع پيژندله او په خپله دغه سيند ته يې اردوی ـ سوره Ardvi - Sura ويل، چې د اوېستا ابان يشت د همدغه رب النوع ستاينه ده او څېړونکي دا رب النوع د مور ـ اديتا په رب النوع پورې تړي، چې د هغې مجسمې مو تر تاريخ دمخه آثارو کښې وليدلې، په راورستيو زمانو کښې د دغه نامه وروستۍ برخه اناهيته = ناهيد په مجرد ډول پاتې شوی چې د اوېستا په آبان يشت کښې د يوې ښکلې نجلۍ په بڼه راغلې ده، چې طلايي خول او زرين کميس لري او په باختر نومي کتاب کښې د راولنسن په وينا د باختر په ښار کښې د اناهيتا مشهور عبادت ځای و چې د اوېستا په پينځم يشت کښې دابنکلې ښځينه رب النوع د نارينه و د نطفې او د ښځو د رحمو د تصفيه کوونکې او د زيږېدنې د روزونکې او ميندو ته د ښو شيدو د بخښونکې په صفت ستايل شوې ده. (وګورئ لسمه نومره عکس).

د اوېستا يو بل عنصري ايزد "واته" په غښتلي او ګړندي متخلص

The Digital Library

و او دا کلمه په دري او پښتو کښې "باد" او په ویدي دوره کښې "وایو" Vayu
وه چې د دښمن له سپاهیانو سره د جګړې په اړو دوړ کښې او یا پر تهذیب
او دین باندې د پردیو خوني ستمګرانو او یرغلګرو د تیري په وخت کښې او
یا د یوه سړي د نیولو پر مهال چې په دروغو او خیانت د دښمن په لاس نیول
شوی، له دغه عنصري رب النوع څخه مرسته غوښتله کیده، دی غښتلی،
جګړن، ټینګ پر ځای ولاړ، د ارت ټټر خاوند او د سم او رسا نظر څښتن و.
دا رب النوع د کنشیکا تر عصره (د ۱۲۵ م پر شاه و خوا) ددغه کوشاني
پاچا پر سیکو د څغاستې په حال کښې د یوه ږیرور سړي په بڼه کیندل کیده،
چې هغه یې په کوشاني دري ژبه "واد" بللی دی.

الماني څېړونکي "ګیګر" یوه ډله اوېستایي ارباب انواع د ستور ود
یزتو په نامه یاد کړي دي، چې له هغو څخه یو "میتره" Mithra د نور او رڼا
ښکارندوی و چې د "وارونه" رب النوع د سترګې حیثیت یې درلود او په
اتفاق یې د نړۍ نظام او د رښتینولۍ قانون ساته، د دومزیل په وینا: "این
میثره مهر- میر (په پخوانۍ دري او پښتو کښې) د تړون (عهد) خدای او دځې
دارتو ورشو ګانو څښتن او درښتینولۍ ساتندوی بلل شوی دی. چې پر
شریرانو او تړون ماتوونکیو بېرحمه او پرستایونکیو مهربان دی. د څارویو
او د کرنې دمحصول او د باران اوبرکت زیاتوالی له ده دی."

مهر چې رڼا راپیدا کوي، د اهریمنانو سخت رقیب، د آسمان ډیوه
او د اهوره مزده سترګه ده، چې داوېستاله مخې: "اهوره مزده د هره برزتي
(البرزیاپامیر) غره پرڅوکه هغه ته ټاټوبی جوړ کړي، چې هره ورځ پرځلانده
او روښانه بګۍ چې څلور سپین جنتي اسان یې کشوي له ختیزه راخیژي او
دمهر رب النوع دا اوېستایي تصویر له سپینو اسانو او بګۍ سره کټ مټ
د بامیان د پینځه دیرش متري بت د طاق پرچت انځور شوی او تر اوسه شته،

د دغو لرغونیو آریایي عقیدو اغیزې په راوروسته زمانو کښې د لویدیزې
اسیا تر پایه خپرې شوې او دلمر (مهر) ناهید او نورو پرستنه د اوېستایي
ثقافت له مرکز د (بخدي) له سیمو څخه هر لورته خپره شوې ده.

پر مهر (هور) سر بیره سپوږمۍ (ماوګه) هم د شپې ډیوه او واښوته
وده ورکوونکې ګڼله کیده، چې هغې ته یې د څارویو د روزنې له امله ګئو
چیتره Gao Chitra ویل.

په دغو عنصري یزتو او ستوریو کښې د تیشتریه (تېر=) ستوری
د باران شیندونکی او داسماني چینو پرانستونکی، چې د چینو، ویالو او
سیندو او به یې زیاتولې، وو.

په اوېستایي قانون کښې بې له شپږو، روحاني امشاسپندانو چې
دمخه مو یاد کړل، د نورو مو کلو پرېښتو نومونه هم یاد شوي دي چې څو
یې دا دي:

ارشتات= رشن (د عدل او نیاو پرېښته) ورتره غنه (بهرام = د بري
پرېښته) سره اوشه (Sraosha) سروش = د اطاعت اوقانون پرېښته) اشهی
وګهوي (د اخلاقي نظم اوپرهېزګارۍ ساتندویه)

ژبې، ادبیات او له افغاني ژبو سره د هغو اړیکي:

په تېرو دوروکښې مو د افغانستان د لرغوني مدنیت پردریو دورو،
(تر تاریخ دمخه ،ویدي دوره، او اوېستایي دوره) باندې ډیره لنډه توضیح
ولیکله او ومو ویل، چې دتاریخي دورې له سره یوازې، دوه لیکل شوي
آثار:" ویدا، اوېستا" پاتې دي.

د مقایسوي ژبپوهنې له مخې د دې دواړو ژبو اثرونه په افغاني ژبو

ار. د افغانستان په ځايونو او نومونو کښې څرګند دي او زياتره لرغوني کلمې اوس هم په هم هغه خپلو تاريخي ماناو کارېږي اوژوندي دي. په تېره بيا پښتو ژبې او د افغانستان د شمال ختيځ د غرو ځينو لهجو داسې تاريخي مواد زياتره ساتلي دي، د بېلګې په ډول يوازې د څو کلمو شرح راوړو:

ارين: د "ار" له ريښې څخه چې د اصيل او نجيب ياکروندګر په ماناو په پښتو ادب کښې "اره" د اصل اوبنسټ يا کرنې په مانا راغلې چې په پای کښې د نسبتي (ن) په نښلولو "ارين" ترې جوړ شوی او د اصيل يا شريف کروندګر مانا يې پيدا کړې ده.

ايرينه ويجه: د هندوکوش د شمال سيمو ته تر هجرت دمخه د ارين لرغونی ټاټوبی چې مانايې دشريفانو ټاټوبی او ځمکه ويل کېده او دا ويجه کلمه د کندهار په پښتو کښې تر اوسه د ځمکې او ټاټوبي په مانا کارېږي.

آريه وَرشه: هند ته مهاجرو اريايانو خپلې پخوانۍ ځمکې ته اريه ورشه (ورته) ويلې او په کندهار کښې تر اوسه د څړ ارتې ځمکې ته "ورشو" وايي، چې د لرغونيو اريايانو د څاروي پالنې او کوچيتوب له ژوند سره بيخي زيات پيوستون لري.

واته: په اوېستا کښې د باد رب النوع و، چې شرحه يې مخکښې ولوستل شوه دا تورې په يغنوبی لهجه "وات" او په پښتو او دري "باد = واد" دی حال دا چې د ايران په نائينی او سيوندې لهجه کښې خپل ويدي شکل ته نيژدې (وا= باد) او په سنمانی کښې "ويه" او په زازا کښې: "وايه" دی.

ريشي: ويدي کلمه د ستايونکي، ژبور او وياند په مانا ده، په پښتو کښې د "وراشه" خبره" او "رشه" اخلاق ريښه لري.

سيندهو: ويدي کلمه ده،چې په پښتو کښې تراوسه دسيند کلمه شته.

سومه هومه: مشهور واښه چې په پښتو د "اومه" په بڼه شته.

چهند اواشلوك : دنظم په مانا چې د پښتو په پخواني ادب کښې کټ مت په خپله ويدي مانا راغلی دی.

برهمن: په پښتو برمن (د برم = جلال ، ځښتن).

کشتري: په پښتو (کښ + توری) د شمشير باز په مانا چې د پير روښان په خير البيان کښې (تور+ کښ) راغلی دی.

ويسيه: په پښتو "ويسا" د اعتماد او باور په مانا راغلی دی.

شو دره: په پښتو "سوډر د بی تهذيب او وحشي ناپوه په مانا" دی. او داسې نورې ډېرې ويدې کلمې په پښتو ژبه کښې ژوندی دي او کارېږي، همدا ډول تاسې دا داوېستايي دورې په مباحثو کښې ولوستل چې دا ژبه له پښتو سره ټينګه او غښتلې اړيکه لري.

نو ځکه موږ پښتو ژبه د سنسکريت او اوېستاخور بولو، چې په غړو قواعدو او تورو کښې له دواړو ژبو سره ګډه ده، مګر لرغوني دري ژبه ښايي چې په خپله دافغانستان په خاوره کښې له او ستاڅخه راپيدا شوي وي چې موږ به دا موضوع په راتلونکيو بحثونو کښې مفصله وڅېړو.

په ويدي سرودونو کښې چې د هغه عصر يوازينی لرغونی ادبي اثر دی د هغه عصر د پوهو ريشيانو او ژبورو خبرې او سرودونه رانقل شوي، چې په هغو کښې يوه ډله آريايي ژبورې شاعرانې ښځې هم شته. د بېلګې په ډول د ريګويدا دلومړي کتاب په ۱۱۷ سرود او د شپږم کتاب ۳۹-۴۰ سرود کښې د شهزادګۍ ګهوچه Ghocha سرودونه را نقل شوي دي او هم د لوپا

The Digital Library

مودره، Lopamudra، ماماته Mamata، اپاله، انداني، ساسي او ویشو وره سرودونه په ریګویدا کښې لیدل کېږي چې دهغه وخت شاعرانې وې او موږ دلته د هغه وخت د تخیل، بیان او خبرو د طرز د څرګندولو له پاره د ریګوید د لومړي کتاب ۱۱۷ سرود د ګریفت ترجمه راوړو (۱) چې شهزادګۍ ګهوچې ویلې ده:

یه د سهار ستوریو! ستاسي بګۍ چې تر خیال ګړندۍ ده او زړورتیز اسان یې کشوي د خلکو لورته رازغلي چې د پاکانو تاتوبی ولتموي.

چېرې ځئ؟ ای زړه ورو پهلوانانو، دلته زموږ تاتوبي ته راشئ، تاسې ای د عجیبو کارنامو څښتنانو وندنه مو راویوست چې د بري او برم څښتن لکه خالص زر چې ښخ وي، لکه هغه څوك چې د تباهۍ او فنا په غیږ کښې پروت وی، لکه هغه لمر چې په تورتم کښې پټ وي.

یه د سهار ستوریو! تاسې د خپلو زیاتو قوتونو په مرسته هغه لرغونی مېږه شیه وانه مو د زلمیتوب غیرېږي ته وسپارهٔ! تاسې یه ناستیانو! خپلې بګۍ وګمارئ چې دلمر لور له ټول هغه برم سره چې لرېيي پورته کړئ، تاسې یه هغو کسانو چې تل زلمیان یاست، له خپل لرغوني دود سره سم مو "تورګا" رایاد کړ او په خپلو غنم رنګو اسانو چې په ګړندیو وزر والوزي (بهوجیو) مو د سیند د څپو له منځه راوویوست.

یه د عجبو کارنامو خاوندانو! ځمکه مو یوې کړه او وریشې مو وکرلې، انسان ته مو دغذا شیره ورکړه او دښمنان مو په خپله برغو (کرنا) له منځه یووړه اولیري مو وغورځول او اریه ته موزیا ته رڼا او ځلا ورکړه،

۱- دا سرود ګران پوه ښاغلي عبدالرحمن پژواك پر ۱۳۲۲ هـ ل کال په انګریزي ژباړلی او د اریانا مجلې په "٦ مه ګڼه" کښې خپور شوی دی.

چې د اسمان پرښنډو خپره شوه.

یه ستوریو! زه له تاسې نه مرسته غواړم، یه د سهار ستوریو، زما نیازونو ته د مهربانۍ په سترګو وګورئ، یه ناستیه یانو! ماته له اولاده سره زیاته بډاینه او ثروت راکړئ.

ستاسې د زړورتیا ستري کارنامې چې په لرغونیو وختونو کښې مو تر سره کړې دي خلکو ته ښکاره دي هیله کوم، یه د سیك او قوت خاوندانو! زما دعاوې به هغه وخت تاسې ته وویلی شي چې زړور او قوی زامن مې خو او شاته ولاړوي.

زه سو ماته خطاب کوم، چې تر ټولو ماته نژدې دی، دهغه ځای زموږ په اروا کښې دی له هغه څنې غواړم چې زما ټول ګناهونه وبخښي."

* * *

د اور درب النوع اګني په ستاینه کښې یو سرود چې مدو چندس دوشوه متره زوی د ګایتري په بحر کښې په (۹) بیتونو کښې ویلی دی، شته چې څو بیته یې دا دي:

زه اګني چې روحاني ښکارندوی دی ستایم، دی د نمانځنې په وخت کښې روڼ دی، اود نمانځنې په بدل کښې بډایي بخښي.

اګني د لرغونیو او اوسنیو پوهانو دستاینې وړ دی ځکه چې ده دېوان ځای ته راوستل.

یه اګني! یوازې هغه ستاینه چې په هغو کښې مانع پیښ نه شي او ته یې له هرې خوا خوندي وساتې، داسې ستاینه نو خدای مني.

یه اګني په اسانه رسیږه لکه پلار زوی ته او زموږ د ښېګڼې له پاره له موږ سره اوسه!

* * *

The Digital Library

اوس د ویدې د دغه سرود ترڅنګ د اوېستا څو سروده چې د زردشت له خبرو ځنې دي راوړو، په (۳۰) یسنا کښې وایي:

"سترو خبرو ته غوږ ونیسئ! په روښه اندیښنه ورته وګورئ د "درواغ اوربښتیا" د دوو ائینو تر منځ توپیر وکړئ! تر هغه دمخه چې د اخرت ورځ راشي، هر څوک دې په خپله خپل دین غوره کړي، ودې شي چې په پای کښې به مراد ته ورسیږو، هغه دوی همزولي توکې چې په پیل کښې دخیال په عالم کښې ځرګندی شوې یوه یې په اندیښنه ویلو او کولو کښې د نیکۍ توکه وه او بله یې د بدۍ. اوپه دې دوو کښې باید پوه سړی نیکي غوره کړي نه بدي، هغه وخت چې همدا دوه توکه سره یوځای شي نو ژوند او مړینه ترې پیدا شوه همدا لامل دی چې په پای کښې د درواغجنو ډیر بدځای (دوزخ) او د ربښتینو ډیر ښه ځای جنت په برخه کیږي."

په ۵۳ یسنا کښې وایي:

"یه مېړه کونکیو نجونو! او یه زومانو! دادی د ربښیم او خبروم مو، نصیحت مې په زړه ومنئ!

د سپېڅلتوب او پاکۍ په ژوندانه پسې د غیرت ملاوتړئ او ورپسې زیار وباسئ تاسي هر یو باید په ښه کار کښې یو تر بل دمخه شئ او په همدې ډول خپل ژوند خوښ تېر کړئ.

د پردیو هخامنشیانو واکمني

هغه څه چې مو تر اوسه ولیکل زموږ د هېواد د تاریخ تولې هغه پېښې دي چې د وخت په تېرېدو له کیسو سره یو ځای شویدي، خو د دې سیمې د کلتور یوه برخه ده او په هغو زمانو پورې اړه لري چې تر ځمکې لاندې لټونې لا د هغو په ترلاسه کولو نه دي بریالۍ شوې. خو په دیني کتابو کښې لکه ویدا، اوېستا او نورو خدای نامو او په ملي روایتونو کښې پرله پسې رانقل شویدي.

د آریایي نژادو ملتو تر منځ چې له باختره یې ختیځ او لویدیځ خواو ته هجرت کړی دی او د آریانا (لرغوني افغانستان) له خاورې بهر یې مدنیتونه او حکومتونه جوړ کړي. د دوی له یوې برخې سره د تاریخ او سیاست له مخې اړه لري، په دې مانا چې د دوې سیاسي او فرهنګي نفوذ دومره غوړیدلی و چې اثر یې دافغانستان تر خاورې پورې رارسیدلی و.

د بېلګې په ډول د ایلام آریایي نژاده خلك چې مدنیت یې تر تاریخ وړاندې په لویدیزې اسیا پورې اړه لري اوپه پای کښې له سامي نژاد سره ګډ شوي دي، زمونږ په لرغوني فرهنګ کښې مخامخ اغیزه نه لري. اوهم میتاني تېرونو چې د مدنیت آثار یې د کوچنۍ اسیا په بوغاز کوي د هیتي (پتریوم) په پای تخت کښې پیدا شوي او د (۱۴۰۰ ق.م) په لویدیزو اریایانو پورې اړه لري، دوی د افغانستان پر اوسېدونکیو اریایانو مستقیماً اغېزه نه

The Digital Library

درلوده، خو په اوومه قبل المیلاد پیړۍ کښې د " ماد" قوم چې اریایي نژاده اوارياي ژبې تېرو اوپه اسوري ډېر ليکونو کښې د دوی هېواد د "امادای" په نامه یاد شوی د اوسني ایران د سیمې په شمال کښې پیدا شو، چې د دوی شاهي مرکز هګمتان "د هیرودت: اګماتان = همدان" و، د هیرودوت په وینا له (۷۰۱ ق. م) کال څخه تر (۵۵۰ ق.م) پورې څلورو مادي پاچاهانو حکومت کړی دی:

۱. دیوکس Deiocas = دهیاکو = دهکان د فرورتس زوی (۷۰۸ ۶۵۵ق.م) د (۵۰) کالو په شاوخوا کښې.

۲. فره اورتس د دیوکس زوی (۶۵۵-۶۳۳ ق.م) ۲۲ کاله (د داریوش ډېرلیك: فرورتیش).

۳. هووخ شتر (= کواکزار = سیاکزار یوناني (۶۳۳=۵۸۵ ق. م) ۴۸ کاله.

۴. استیاګس Asteyages (اژدهاك) د هووخشتر زوی (۵۸۵-۵۵۰ ق.م) چې تر ۳۵ کاله پاچاهۍ وروسته دده په وخت کښې د "ماد" دولت پای ته ورسېد او ځای یې هخامنشیانو ونیو.

د افغانستان په تاریخ کښې د مادي شاهانو دوره او د دوی مدنیت، ځکه د اهمیت وړ دی چې د هیرودت په وینا فرور تیش د ماددویم پاچا، د ارین استوګنو ټولې ختیزې ځمکې د باختر او جیحون تر غاړو پورې نیولې وې، له همدې امله د دوې د تمدن آثارو، تشکیلاتو، معمارۍ، ژبې، حجارۍ، مجسمه جوړولو، مهر او رڼاپرستۍ، څرنګه چې یې د هخامنشي ددورې په تمدن باندې اغیزه کړې وه، د اریانا په دې ختیزه برخه کښې به یې هم اثر پرایښی وي. حتی دارمستتر د فرانس ستر پوهاند پښتو ژبه هم مادي ژبې ته نژدې ګڼي او هیرودت وایي چې دماد خلکو سپي ته "سپاکو"

ویل چې دا کلمه په اوسنۍ پښتو "سپي" ده چې له تانیث تصغیر سره ورته " سپیکو" ویل کېدای شي، همدارنګه یوه ډله څېړونکي پوهان وایي چې زردشت له ماد څخه باختر ته تللی و، څرنګه چې د مغ ډلې (روحاني مادیانو) د لمر پرستۍ مذهب په کوډو او جادوګرۍ لړلی و، زردشت وغوښتل چې اصلاحات راولي نو باختر ته لاړ او دلته یې بریالیتوب په برخه شو.

ښايي وويل شي چې هخامنشي پاچایانو له ماد څخه ډېر څه زده کړل او د هخامنشی دورې زیات ترتیبات مادي دورې ته ورته او د هغې دورې بشپړېده و، چې دماد دولت له منځه ولاړ په سیاست او ژوند کښې کوم بنسټیز بدلون رامنځته نه شو.

حتی په څینو مواردو کښې په صراحت ویل کېدای شي چې د هخامنشي پارسیانو اقتباس د ماد له خلکو و. د مثال په توګه هیرودوت او ستراېو لیکلي دي، چې پارسه خلکو د کالیو ډول د "ماد" له خلکو څخه زده کړی دی.

کراستي خولۍ، لستوني لرونکي چوخه، تیز ارغواني، تك تور، سره کالي او تنګ لستوني، ترزنګنو پورې د څرمنې کوټ (تنزیب)، د څرمنې لوړ پروتوګ، تنۍ لرونکی کوښې چې جګې څوکې یې درلودې، د کراستي ګردۍ خولۍ، ترزنګانه پورې خت، ملاوستونی (کمربند) خنجر له تیکي سره، د لینډۍ پوښ، خول، ړیره او راز راز وسلې هغه شیان دي چې د (ماد) له خلکو څخه اقتباس شوي دي.

په هر حال د "ماد" دولت د "هو و خشتر" په وخت کښې خپل اوج ته رسېدلی و او له عربي دولتوسره یې اړیکې درلودل د لیدي پاچا "الیات" لور د "ماد" ملکه وه او همدارنګه د اژدهاك خور د بابل ملګه ګڼله کېده.

د "ماد" په عصر کښې د اریایي خلکو یوټبر چې "پارسوا" نومید

m: The Digital Library

له شمال څخه جنوب ته ولاړ او پر هغه ځمکه ميشت شو، چې وروسته د همدغه ټبر د نامه له امله "پارس" وبلل شو، له آسوري کتيبو څخه ښکاري چې له (۷۰۰ تر ٦۰۰ ق،م) پورې د پارسوا اميران د اسور تابع وو او د مادي پاچهانو له کهاله څخه فرورتيش (٦۵۵ - ٦۳۳ ق،م) پارس د ماد تابع کړ.

د پارسي شپږو قبيلو په منځ کښې چې په ښار کښې اوسېدل، يوه هم "پارساګاد" وه چې مشرېې هخامنش (۷۰۰ - ٦۷۵ ق،م) نوميد او د ده له نسله د هخامنشيانو په نامه دغه پاچهان وزېږېدل:

(شجره په مخامخ پاڼه کښې وګورئ)

مورخان د دې تابلو پرجوړښت اختلاف لري ځينو يې يو څو نومونه نه دي راوړي، خو هغه څه چې د "ايران باستان "ترتيب کړي، تر نورو معقول ښکاري، چې دلته يې له ځينو زياتو تشريحاتو سره راوړل شوه.

هخامنشي پاچهانو له (۷۰۰ ق،م) څخه د ايالتي اميرانو په توګه د مادي پاچهانو تر اداري لاندې په ايلام کښې حکومت کاوه، او د "ماد" وروستنی پاچا ستياګس چې يو ناپوه سړی و، خپله لور "ماندانه Mandane" يې دويم هخامنشي کمبو جيه ته ورکړې وه، چې د هغې له نسه لوی کوروش (سيروس) وزيږېد او هغه د ستياګس پرضد پاڅېد او له منځه يې ورك کړ پر (۵۵۹ ق،م) کال يې د يوې لويې شاهنشاهۍ بنسټ کښېښوو چې د ايران د فلات ټولې ځمکې په کښې راتلې.

که څه هم کوروش د هخامنشي کورنۍ اووم پاچا ګڼل کېږي، خو د دغه، کهاله لومړنی لوی بريمن (فاتح) دی او وروسته تر هغه چې لويديځ خواته يې د مديترانی تر غاړو پورې هېوادونه ونيول، د پارس ختيځ خوا ته يې مخه وکړه، ورنه کانه (ګرګان)، پرثوه (پارت)، اريا(هريو- هرات) چې پايتخت يې ارته کنه (Artacana) و، زرنکه (=درنګه درنګيانه = اوسنی



(د ۵۳ مخ مربوط)

: The Digital Library

سیستان) د اتیماندروس (= هیتومنت = هلمند) د سیند پرغاړه، هاور وتیش (- هرووتی = اراکوزی = ارغنداو)، د کوفن (کوبهه = کابل) د سیند ناوه، داوپیري سینه (= پارو پامیزاد = هندوکوش) غرونه، دوګز که (غزنه)، د ګندهاره ولایتونه (له ننګرهاره د سند ترغاړې پورې)، باخترش (بکتریه = بلخ) د سکاهومه ورګا (پامیر) تر غرو پورې او همدارنګه یې د آمو هاخوا ته سوګودو (سغد) تر (اور کسارتس) (سیر دریا)، د خیوه او هوارزمه (خوارزم) او مرګیانا (مرو) ډاګونه او دښتو نه له هخامنشي هېواد سره وتړل.

د ګندهارا په ناوه کښې د خیبر درې ختیزې خواته د سیروس له آثارو څخه د یوې آتشکدې پاتې برخه ده، چې د پېښور د ګزیتیر (د ۱۹۳۱ چاپ) له مخې د آتشکدې دا پاتې برخه په سوابۍ کښې د مردان د ضلع "شهباز ګړۍ" شمال ختیځ ته ۱۲ میله لیرې په "اسوټه " کلي کښې د یوو لسو فټو په لوړوالی په یوه دایره کښې چې شپیته فټه پیړوالی (قطر) لري پرته ده، او بنسټ یې پرشنو ډبرینو پایو اېښوول شوی دی، چې د هرو دوو پایو ترمنځ یو تش ځای شته، پوهان وایي چې د اور پرستو دغه معبد دیرش دروازې درلودې او په یوه میاشت کښې هره ورځ له یوې دروازې څخه ورننوتل چې ټولې دیرش دروازې کېدې هره دروازه د دوو ډبرینو پایو ترمنځ وه.

سیروس (کوروش) پر (۵۲۹ ق،م) کال په یوه جګړه کښې وژل شوی او یا په طبیعي مړینه مړ دی او دریم کمبوجیه چې د ده پرځای کښیناست د ده فتوحات یې پسي تعقیب کړل، چې د مړینې پروخت یې هېواد له خورالویو او ارتو هېوادو څخه و تر هغه وروسته لومړی داریوش د دغه کهاله نهم پاچا پر (۵۲۲ ق،م) پر تخت کښیناست، چې په یوه کال کښې یې د کمبوجیه پرټول هېواد برې وموند او له یونان څخه ترهند پورې یې پردې لویه

ځمکه حکومت کاوه، او د مدنیت په خپرولو، لوړو ماڼیو ودانولو، د هېواد والۍ (مملکت دارۍ) د اصولو په وضع کولو، د لارو په جوړولو او د لښکر په سمبالولو کښې یې زیار ویوست او پر ۴۸٦ ق - م کال مړ شو. د هخامنشي سلطنت د مدنیت او فرهنګ اثار په افغانستان کښې هم خپاره شول. په پارس، شوش، مصراو د الوند په غره او نورو ځایو کښې د داریوش ځینې لیکنې او کتیبې پاتې دي، چې په میخي لیکدود په پخواني فرس، ایلامي، آسوري، مصري، بابلي او شوشي ژبو لیکل شویدي. "د پخوانی فرس میخي خط {۴۲} نخښې-درلودې."

د دغو لرغونیو اثارو ډیرې مهمې لیکنې هغه دې چې د پارس په نقش رستم او بیستون کښې له داریوش څخه پاتې دي، په هغو کښې داریوش د هغو هېوادو نومونه لیکلی دی چې دده تر واکمنۍ لاندې وو، هغه څه چې زموږ د هېواد په تاریخ پوری اړه لري دادي:

۱- پرتوه Parthava (خراسان او ګرګان)

۲- باختریش Baxtrish (بلخ) چې شمال ته یې آمو او لویدیځ ته یې مرګویه (مرو) او ختیځ ته یې د سیتي له قومو څخه یو قوم د ماساژت په نامه و او پایتخت یې زری اسپه ښایي چې اوسنی بلخ و.

۳- سوغوده Sughuda (سغد) د اوسني سمرقند سیمې.

۴- کرمانیه Karmania (کرمان= د پارسه او ګدرزي او پرثوه تر منځ).

۵- ګدزری Gedrosie (د افغانستان جنوبي سیمي تر سمندره پورې).

٦- زرنګه Zaranka (زرنج = سیستان).

۷- هره یوه Haraiva هرات.

۸- او ارزامیه Uvarazmiy (خوارزم).

۹- ګداره Gadara (د کابل رود او پېښور).

۱۰- هیندوش Hindush (سند).

m: The Digital Library

۱۱- ته ته ګوش Thattagush (د هرو دوت سته ګید = شیتك د کوهاټ، بنو او ختیځو سیمې).

۱۲- سکه هومه ورکه Saka-Homa-Varka (د هومه راکښته کوونکي ساکه یان- غالباً د پامیر په شاوخوا کښې).

۱۳- سکه تیګر خئوده (د تیره خول خاوندان ساکه یان).

۱۴- سکه تیه تر دریا (د سیندها خوا ته ساکه یان).

۱۵- مکه (مکران).

۱٦- هراووتیش Harauvatish (اراکوزی = ارغنداب).

د داریوش ارت هېواد ټول "۳۱" ساتراپي (ولایتونه) لرل، چې په هغو کښې د ټول اوسني افغانستان پورتني ولایتونه او ځيرمه ځمکې شاملې دي او د ګندهارا ولایت ته په بابلي او ایلامي لیکنو (کتیبو) کښې (پاره او پره ازانه) یعني تر غرو ها خوا ایالت ویلی شوی دی، خو د هغو وختو د وضعیت جزیات تر اوسه په تفصیل سره څرګند نه دی یوازې همدومره ویل کېدای شي، چې له ۵۵۰ق.م یعني د داریوش له راتلو څخه بیا تر (۳۳۱ق.م) پورې چې هخامنشي شاهنشهي د سکندر په لاس له منځه تله، د افغانستان خاوره د هخامنشي لویې شاهنشهۍ برخه وه او حتی د سند د هاخوا پنجاب یوه برخه هم ورپورې نښتې وه، نو ځکه د هخامنشي او هندي مدنیت په یو ځای کېدو سره د هخامنشیانو له رسمي آرامی لیك څخه خروشتي لیکدود د ناوې د خلکو په ژبه کښې د فاتح او مفتوح کلتور له ګډون څخه منځته راغی او د هند د موریه کهاله پاچهانو (۳۲۳ - ۱۹۰ق.م) د هخامنشي صنعت او معمارۍ د سبك پیروي کړې وه.

هیرودت (۴۲۵ ق.م شاوخوا مړ) د افغانستان په ختیزه ځمکه د اریونس د پاچاهۍ د دورې په اړه ښه اطلاعات راکړي دي، چې له هغې جملې څخه په ۴۴۴ کتاب کښې لیکي:

"د اریوش، دریاب ته د سند رود د ګډیدو ځای کشفولو له پاره یو یوناني امیر البحر چې سکیلاکس Skylox نومېد او د {کاریاندار} د ملك و، له څو باوري کسانو سره په بېړۍ کښې کیناوه، او د هغه کار له پاره یې واستاوه د اړله د کسپاتو رس له ځمکې (ښاره) او د پکتویك Paktuike له ځمکې وخوځېده او دریاب ته ورسېده".

همدارنګه دغه لرغوني مؤلف په ۳ - ۱۰۲ کتاب کښې د کسپاتورس ښار د پکتویك په هېواد کښې بللی او وایي چې دا خلك د ژوند دود او دستور له پلوه باکتریانو ته ورته او ډېر جګړن دي.

ډېرو څېړنکیو پوهانو د هیرو دوت "کسپارتورس" او پکتویك له اوسني پېښور او پښتون سره تطبیق کړی دی، دا ځکه چې تر هیرودوت د مخه هم مشهور جغرافیا پیژندونکي هیکاتایوس Hecataus د (۵۰۰ ق،م) په شاوخوا کښې کسپاتورس په ګندهاره کښې بللی و، چې همدا پېښور او ګندهارا دی.

هیرودوت د اووم کتاب په ٦٦ - ٦٧ - ۸۵ - کښې د "خشیارشا" د جګړنو فهرست راوړي او په هغه کښې یې ګنداریوی Gandarioi او دادیکاي Dadikai چې د باکتر وسلې یې درلودې، دپکتویس (د پوستین اغستونکیو لیندۍ، ویشتونکیو او خنجر لرونکیو) په نامه یاد کړي دي، او هم یې د ساګارتیوي Sagartioi د کوچي قبیلو یادونه کړې ده، چې ژبه یې پارسي او کالي یې نیم پارسي او نیم پکتوان Paktuan وو او اته زره سپاره یې لښکر ته ورکول مؤرخانو ګنداریوي د ګندهارا خلك او د ادیکا تاجیك او پکتویس او پکتوان پښتون بللي دي، زه د هیرودوت ساګار تیوي همغه د داریوش د بهستون ساګارتي بولم، چې (د غور له جنوبي) ساخر - ساغر- سره تطبیقیږي، او ځینو بیا په سپك احتمال هغه شرخبون "= خرښبون = د مطلع السعدین خرشوانی = د قندهار د پښتنو یوه قبیله" بللې ده.

n: The Digital Library

د داریوش د بهستون له لیکنې (کتیبې) څخه د ده په عصر کښې د دغه هېواد د اوضاعو په اړه ډېر ښه معلومات لاس ته راځي، او له دې څخه چې د بهستون په کتیبه کښې د ولایتو شمیر ۲۳ او په نورو کتیبو کښې ۳۱ دی معلومیږي، چې کله کله به د هخامنشي ترلاس لاندې ځینو هېوادو بلوا کوله او له نورو تر لاس لاندې هېوادو سره به نه ګډېدل، لکه چې د ساګارتیوي د ولایت نوم یوازې د پارس د بهستون په کتیبه کښې راغلی او په نورو کتیبو کښې نه شته.

د بهستون د کتیبې په (۲ ستون - ۲ بند) کښې وایي:

"هغه وخت چې داریوش په بابل کښې و. پارت (خراسان)مرو، تته ګوش او سکائیه بلوا کړې وه، د پارت بلوا د داریوش پلار ویشتاسپ غلې کړه، دی له فروتیش سره په "ویش پااوزات" نومي ځای کښې وجنګید او هغه یې مات کړ. په ساګارتي کښې (که یې ځای د خراسان خواته وټاکل شي) هم د چیتره تخم .Chitrataxm په مشرۍ بلوا شوې وه، چې داریوش د تخمسپاده Texmaspada په مشرۍ یو لښکر وروا ستاوه او چیتره تخم یې ونیو، چې داریوش ته یې راووست، د هغه غوږ او پزه یې پریکړه، سترګې یې ور وویستلې او غرغره یې کړ (۲ ستون ۱۴ بند) د خراسان په مرو کښې هم فراده Frada نومي سړي بلوا وکړه، چې داریوش د باختر والي "د ادرشیش" د هغه دفع ته وګماره، دادرشیش مرویان رعیت او ټول باختر غلی شو (۳ ستون ۳ بند).

هغه وخت چې په پارس کښې " وهی یزدات " یاغی شوی و نو ده یو لښکر د رخج هره خواتیش ته = د ارغنداو ناوې ته واستاوه او د رخج والي ویوانه Vivana یې وشاره، خو دا والي په کندهار کښې د داریوش له لښکر سره یو ځای او د "وهی یز دات" د لښکر مقابلې ته ووت او په هغه جګړه کښې چې دانامکه د میاشتې پر۱۳ ورځ د کاپیش (کاپیشکانه) په کوټ

(کلا) کښې وشوه، د یاغیانو لښکر مات او ترهغه وروسته یې د (کندهار) د ګندوم Gandum په سیمه کښې د ویخن د میاشتې پر "۷مه" ورځ بیا همدغه یاغي شوي لښکر ته ماتې ورکړه، د یاغیانو مشر له لږ شمېر سپرو سره و تښتېد، دی د (کندهار) د ارشاده په کلا کښې د ویوانه په لاس کښېوت او ووژل شو او په دې ډول درخج ایالت د داریوش د هېواد برخه شوه.(۳ ستون ۱۳ بند).

دا پېښې د ۵۲۲ ق،م د سپتامبر له ۲۹مې څخه د ۵۲۰ ق،م د مارچ تر لسمې پورې منځته راغلې دي.

د هند د نیولو لپاره د داریوش د جنګي سفر بیان داسې لیکل شوی دی:

دی د سند له سینده پورې ووت؛ سند او پنجاب یې ونیول او یوناني سکیلاکس یې د عمان سیند ته واستاوه، چې هر کال به ډېر سره زر له هنده پارس ته رسیدل په دې توګه د هند او غربي هېوادو ترمنځ تجارتي روابط ټینګ شول، او له همدې شلم ایالت څخه هر کال ۳۶۰ تالانه سره زر (تخمیناً ۲۵ ملیونه افغانۍ) د باج په توګه هخامنشي دربارته رسیدل.

د پارس د تخت جمشید د داریوش په هدیره کښې د هخامنشي دولت د تابع شویو خلکو تصویرونه کښل شوي دي، چې د نورو دیرشو ملتو په جمله کښې دا نومونه هم شته: پارتي (خراساني) هراتي، باختري، سغدي، خوارزمي، زرنګي (سیستاني) رخجي (قندهاري) ته ته ګوشي (پختیا د سند ترغاړې پورې) ګنداري، هندي، او ساګارتي. داخبره هم ځنې ښکاري چې د اوسني افغانستان خلکو د پېنځمې ق،م پیړۍ په شاوخوا کښې د خپلو ځایو او ولایتو په نومو شهرت درلود. (وګورئ ۱۲ مه نومره عکس).

داریوش په خپل پایتخت شوش کښې یوه ماڼۍ جوړه کړې وه، چې کتیبه یې په درو ژبو "پارسي، ایلامي او بابلي" کشف شوې او په هغې کښې

هم د افغانستان د ولایاتو د خلکو یادونه شوې ده.

دی وایي: ددې ماڼۍ چندڼ لرګی له ګنداره طلایي له باختره، د لاجورد ډبرې یې له سغده، فیروزه یې له خوارزمه او پیلغاښ (عاج) یې له هند او رخجه او د څیړۍ (بلوط) لرګي یې له ګنداره څخه راوړل شوي دي، چې دا ټول ځایونه په افغانستان او د هغه په شاوخواکښې دي.

داریوش خپل ارت هېواد چې په هغه کښې له راز راز نژادو څخه ۴۸ ډوله خلك د راز راز ژبو، ادیانو او اخلاقو سره اوسېدل په دېرشو سترابۍ (ولایتو) ویشلی و، چې هلته محلي حکمرانانو هم د خپلو عقایدو له آزادۍ سره ژوند کاوه او هر ولایت د خشترپاون (د ولایت د ساتندوی) په نامه یو اعلی حاکم درلوده، چې له هخامنشي درباره مقررېده او ولایت یې د یوه دبیر او یو لښکري مشر په مرسته اداره کاوه.

سردبیر به تل مستقیماً مرکز ته اطلاع ورکوله، د امنیت مسوول ارګ پت و. څرې تونونه (چاپارخاني) لارې او میلمستونونه (مهمانخاني) یې درلودل. په هر ولایت کښې خشترپاون مالیې ټولولې، پلي او سپاره لښکر یې درلودل، اوولس زره تنه دولتي غښتلي لښکر د "جاویدان" په نامه و. هیرودوت د هر ولایت د مالیې اندازه هم لیکلې ده، چې له هغې جملې څخه د افغاني او ګاونډیو ولایتو مالیه داسې وه:

۱ - د هخامنشي اووم ایالت: چې ستاګیدی، ګندهاره، دادیك، اپریدي پکښې وو ۱۷۰ تالان (د لسوملیونو افغانیو په شاوخواکښې)

۲ - دوولسم ایالت باختر او نور اړوند ځایونه ۳۰۰ تالان (۱۸ ملیونو افغانیو شاوخوا پورې).

۳ - څوار لسم ایالت چې ساګارتي زرنګي (سیستاني) پکښې اوسېدل د عمان د جزایرو د غاړو تر خلکو پورې ٦۰۰ تالان (د دېرشو ملیونو افغانیو په شاوخوا کښې)

اوس د افغاني سیستان ویش ته نژدې یو لرغونی ښار کشف شوی دی، چې د هخامنشي دورې په مدنیت پورې اړه لري او له ده څخه هم څرګندېږي، چې سیستان په هخامنشي هېواد کښې داخل و. (وګورئ ۱۳ مه نومره عکس).

۴ - پارت - خوارزم - سغد - هرات ۳۰۰ تالان (د ۱۸ ملیونو افغانیو په شاوخوا کښې)

۵ - هند او سند - ۴٦۸۰ تالان (د یوسل او شپېتو ملیونو افغانیو په شاوخوا کښې) دا د ختیزو ولایتو د مالیو اندازه وه، خو د داریوش د وخت د دولت ټوله مالیه یې "٥٦۰، ۱۴" تالان - نوي ملیونه طلایي فرنکه = ۴۵۰ ملیونه افغانۍ) بللې ده.

د اولف کرو په وینا: د هخامنشي کهاله کوروش، لومړی داریوش، خشیارشا، او دویم داریوش په ګندهارا کښې مستقیماً حکم چلولی دی، چې د ختیزو ایالتو پایتخت کسپاتورس (پېښور) او پیوکیلاوتس (چارسده) و، او لکه سرد او یدهوګرث چې د سکندر په کتاب کښې وایي: "د ګوګمل په جګړه کښې چې د دریم داریوش او سکندر تر منځ پېښه شوه، د یوناني مؤرخ اریان له فهرست سره سم پښتانه او د هندوکوش د غرو خلك د داریوش په لښکرو کښې شامل وو "چې له دې څخه هم له دغه هېواد سره د هخامنشیانو اړیکې څرګندېږي.

: The Digital Library

The Digital Library

د سکندر یرغلونه

د هغو لویو تاریخي جریانو په سلسله کښې چې ترویدي او اوېستایي فرهنګ او د هخامنشي مدنیت تر اغېزو وروسته یې د افغاني فرهنګ په جوړولو او زموږ په هنر او پخواني فکري جوړښت کښې ډېر زیات او څرګند اثر کړی، یو هم د افغانستان پر خاوره د سکندر مقدوني لښکرکشۍ دي، چې د دغه هېواد د فرهنګ، ژوندانه، فکر او مدنیت لرغوني جریان ته یې څرګنده اوښتنه او نوې بڼه ورکړې ده او د افغانستان په تاریخ کښې دا پېښه خاص اهمیت او ډېرې ژورې اغېزې لري، ځکه چې زموږ پر سیاست، د ژوندانه پرېڼه، فکر، ادب، هنر او زمونږ د فرهنګ پر ټولو خواوو یې دومره ژور او تغییر ورکوونکی اغېز کړی، چې پخوانۍ لاره یې بیخي پرې اېښې ده.

سکندر د یونان په شمال کښې د مقدوني پاچا دویم فلیپ زوی و، چې پر ۳۵٦ ق،م کال د پلا په ښار کښې زیږېدلی دی، پلار یې فلیپ د دریم امین تاس زوی او مور یې المپیاس د مولوس د پاچا، "نی اوپ تولم" لور وه، د یوناني اساطیرو له مخې سکندر د پلار له خوا هرکولس او د مور له خوا "اشیل" د یونان افسانوي پهلوانانو ته رسېږي. همدا چې پلار یې پر (۳۳٦ق م) په یوه مېله (جشن) کښې د یوه یوناني له خوا ووژل شو، نو پر هم هغه کال پر شل کلن عمر د یونان پر شاهي تخت کښیناست.

دا مهال د هخامنشي کهاله تخت دریم داریوش "کدمان" ته رسېدلی و، چې د هېواد چارې د ده د یوه ګوتو هوني وزیر "باګواس" په لاس کښې وې په خپله کدمان لټ، بېکاره او ناراسته سړی و ځکه نو سکندرته - چې د جهان نیولو اراده یې درلورده - د هخامنشي د ارت هېواد نیول اسانه کار ښکارېده، او له ۸۰ زرزیز لښکر او جنګي بېړیو سره د دار دانل تر آبنا راپورېووت او پر "اسیا" یې یرغل وکړ.

دریم داریوش هم ۸۰ زره عسکر لرل، چې یو څه یې یوناني اجیر سپایان وو او د دوی قوماندان هم یوناني (میمنین) نومی و، خو د ګرانیك، ایسوس او ګوګمل په دریو جګړو کښې یې کلکه ماتې وخوړه، سکندر هخامنشي ښکلي پایتخت "تخت جمشید" ته اور واچاوه، داریوش پارت (خراسان) ته وتښتېد او د (۳۳۰ ق م) کال په جولای کښې د پنځوسو کالو په عمر دامغان ته نژدې د باختر دوالي "بسوس" او درخج او درنګیانا (کندهار او سیستان) د حکمران (برسینتس) له خوا ووژل شو.

سکندر د داریوش د نیولو له پاره پر خراسان یرغل وکړ همدا چې هغه یې وژلی وموند د هغه وژونکي یې غرغره کړل او د ختیزو سیمو نیولو ته یې مخه وکړه.

دا وخت بسوس باختر ته ورسید، هلته یې د پاچهۍ اعلان وکړ او د سکندر د مقابلې له پاره یې په هڅو لاس پورې کړ بر سنتس هم ځان سیستان ته ورساوه او ساتي بارزانس له اریا (هراته) په دغه دفاعي تړون کښې ګډون وکړ، خو چې سکندر سوزیان (طوس) ته ورسېد، د هرات حکمران هغه ته ښه راغلاست وویل، بیانو د بسوس د ترټلو او نیولو له پاره باختر ته وخوځېد، چې د ده په غیاب کښې د هرات خلك د همغه بارزنس په مشرۍ پاڅېدل او د یوناني لښکرو مشر اناکسیب یې په هرات کښې

: The Digital Library

وواژه، سکندر چې د هراتیانو له دغه ملي پاڅون نه خبر شو، ژرارتاوکوانا ښار ته ستون شو او د ساتي بارزانس او هغه د فدا کار لښکر مقاومت یې "چې په یوه ځنګله کښې یې مورچه نیولې وه "ځنګله ته د اور اچولو له امله مات کړ ده د یوناني لښکرو د ساتلو او استوګنې له پاره د اریا سکندریه ښار ودان کړ چې همدا اوسني هرات دی او د هغه حکمرانۍ یې ارزاسس (ارشك) ته وسپارله.

هرات چې د سکندر لاس ته ورغی، نو د فراه له لارې یې پرزرنګ (سیستان) یرغل وکړ او د ۳۳۰ ق،م کال د اکتوبر پر میاشت یې په سیستان کښې د خپل لښکر ستر قوماندان فیلوتاس د پارمن یو زوی او هم د خپل ګارډ سردار دیمتریوس یې چې ځنې ویریده ووژل او له هغه ځایه ختیځ خواته، دایتي ماندر (هلمند) د غاړې د اورګیتی "ګرمسیر" د نیولو له پاره چې تیرې داس یې حکمران و، هغه هېواد یې له ګډ روزیه (بلوچستان) سره ونیو او د هغه ځای پایتخت یې چې اریاسپ نومېده ونیو.

سکندر د هلمند له ناوي څخه د اراکوزی (ارغنداو) ناوي ته ولاړ او د ۳۲۹ق،م پر دوبي یې اوسني کندهار ته نژدې د اراکوزي سکندریه ښارودان کړ او دغه عسکري کوټ یې د یوناني سپایانو قرارګاه کړ او هم یې د هغه ځای له خلکو عسکر واخیستل او (ممنن) یې د هغه ولایت والي وټاکه.

دا وخت که څه هم سکندر دری لوی ولایتونه لکه آریا (هرات)، د رنګیانه (سیستان) او اراکوزی (کندهار) نیولي وو، خو د هراتیانو ملي مشر ساتي بارزانس د باختر له پاچا "بسوس" څخه دوه زره عسکر کومك واخیستل او په اریا (هرات) کښې یې د خپلواکۍ بیرغ پورته کړ؛ سکندر خپله یوه لویه پوځي قوه دار ته بازیوس، ایری ژیوس او کارانوس په مشرۍ

د هرات د ملیون د مقابلې له پاره واستوله او د پارت والي چې فراتافرون نومېد، له دغو مشرانو سره یو ځای شو او د هرات ملي قواوې یې له هرې خوا محاصره کړې، چې په یوه سخته جګړه کښې ساتي بارزانس د ایری ژیوس له لاسه ووژل شو او د هرات مقاومت هم پای ته ورسېد.

تر هغه وروسته سکندر د کابل او د پاروپامیزاد د غرو د نیولو خوا ته مخه کړه او د ۳۲۹ق.م د نوامبر پر میاشت د ژمي په سر کښې کابل ته راغی، بیا د کابل د شمال خوا "کاپیسا" ته وخوځېد او چاریکار ته نژدې یې په هوپیان کښې د قفقاز سکندریه ښار ودان کړ.

د ۳۲۹ق،م د پسرلي په پای کښې سکندر له خپل لښکر سره د قفقاز له سکندریې څخه وخوځېد او د اندراب له لارې د هندوکوش تر غرو (د یوناني قفقاز تر غرو) تېر شو او د باختر د حکمران بسوس پر لښکر یې چې اته زره باختری وسله وال وو یرغل وکړ، خو بسوس په لښکر کښې د مقاومت متره و نه لیده، د باختر سیمې یې ورانې او خوراکي شیان یې له منځه یوړل، د آمو له سینده د سغد خوا ته تېر شو او باختر د سکندر لاس ته ورغی چې ارته بازیوس یې د هغه حکمران وټاکه، ازچیلاس یې له ساتندویو عسکرو سره هلته پرېښوو او په خپله کیلیف ته نژدې د آمو تر سینده پوربووت، د قرشي یا اوسني شهر سبز په شاوخوا کښې بسوس لاس ته ورغی، ماراکنده (سمرقند) یې ونیو او هلته یې د تانائیس سکندریه ښار ودان کړ چې اوسنی خجند دی.

په سغد یانه کښې هم د سکندر پر لښکرو سختې حملې وشوې، نو څکه سکندر مقدوني پر کولائوس له دریو زروسپایانو سره هلته پرېښوو، باختر ته راوګرځېد، او چې دلته را ورسېد د هرات والي ستازانور یې دربار ته راغی او د هرات پخواني والي ارزامس او د پارت والي برانس یې چې د

: The Digital Library

بسوس له خوا مقرر شوي وو، د اوسپنې په ځنځيرو کښې تړلي راوستل، بسوس يې په غونډه کښې محاکمه کړ او ويې واژه (۳۲۸ق.م).

دا مهال نولس زره هوسا او نوي عکسر له يونانه د سکندر له لښکر سره يو ځای شول او ده دمرګيان (مرغاب) په ناوه کښې يې د هغه ځای وطني حکمران اريميازيس په دار وځړاوه. د مرو په سيمو کښې يې د سرخس او مروچاق کلاوې ودانې کړې او بلخ ته راوګرځېد، د لارې پر سر يې په ميمنه، اندخوی، شبرغان، او سرپل کښې ځلور پوځي کوټونه (حصارونه) جوړ کړل، بيا تر امو پورې ووت او په مراکنده (سمرقند) کښې له خپلو لښکرو سره يو ځای شو.

د سپيامنش د باختر يو جنګيالي او زړور مېړه چې په هغو سيمو کښې يې له سکندر سره جګړې کړې وې او د څه وخت له پاره له ميدانه وتلی و، بيا په باختر کښې ډګرته راووت او د يونان په عسکرې مرکز زرياسپه کښې يې د سکندر د لښکر مشر پيتون Petton ونيو، خو د سکندر له خوا کراتيروس له سپيتامنش سره ونښت او هغه يې له هغه ځايه ويوست، خو لږ وخت وروسته چې سکندر له سغديانه څخه را وګرځېد، همدغه سپيتامنش له دريو زرو سغدي او باختري سپرو سره د ده مخ ته ودرېد، سکندر د دغه توريالي له مېړانې څخه په عذاب شو او د باختر والي ارته بازيوس يې چې د سپيتامنش په ملګرۍ تورن و ګوښه کړ او د هغه پر ځای يې مقدوني امينتاس Amyntas وټاکه چې د عسکری جنرال کوانس په ملاتړ باختر وساتي خو بيا هم د باختر سپيتامنش ورباندې يرغل وکړ، چې د خپلو ملګريو د خيانت له کبله ووژل شو (۳۲۷ق.م) په دې ترتيب د وطنپالو باختريانو مقاومت پای ته ورسېد او زيات ملي مشران د سکندر له لاسه نيست او نابود شول. يو له هغو مشرانو څخه هوخيارتس Oxyates نومېد، چې

له خپلې کورنۍ سره غره ته ختلی و خو مقدوني لښکرو ورباندې يرغل وکړ او دی يې د خپلې خورا پيمخې لور روښانې Roxana سره چې يونانيانو په خپل ګړدود رکسانه بللې ده، سکندر ته راووست او ده دا ښکلې باختري پېغله د ۳۲۷ ق.م په پسرلي کښې ماندينه کړه، خو د يوناني لښکرو مشران له باختري پېغلې سره د يونان پاچا په واده خوښ نه وو. يو له هغو ناخوښيو څخه ستر پوځي مشر "کليتوس" و، چې د ۳۲۷ ق،م پر پسرلي د مستۍ په يوه مجلس کښې چې په باختر کښې جوړ شوی و، د سکندر له لاسه ووژل شو.

همدا چې د باختر او سغديانه په سيمو کښې د سکندر دوې کلني جګړې پای ته ورسېدې، نو هند ته د تګ فکر ورپيدا شو، ديرش زره باختري زلميان يې په خپل لښکر کښې راغونډ او د ۳۲۷ ق،م په پسرلي کښې له خپلو (۱۲۰) زرو پليو او "۱۵" زرو سپرو سره چې (۷۰) زره يې اسيايي خلك وو، د هندوکوش له لارې د هند خواته مخه وکړه او امينتاس يې له لسو زرو پليو او دريو زرو او پېنځه سوو سپرو سره په باختر کښې پرېښوو.

سکندر د پارو پاميزاد د خاواك درې له لارې کاپيسا ته واوښت، نيکاتور يې د هغه ځای حکمران وټاکه او د کابل د ناوې حکمراني يې تيرياسپ Tyriaspes ته وسپارله، دی د درونټې له لارې د کونړ ناوې ته ورغی او له هغه ځايه اسمار، باجوړ او جندول ته لاړ، خو د لارې په هره برخه کښې خلکو جګړې ورسره وکړې.

په هغه جګړه کښې چې د کونړ له اسپيزو (غالباً اوسنيو يوسفزيو) سره يې وکړه ځلويښت زره بنديان او دوه سوه او دېرش زره غوايي يې په چور او چپاو ونيول او هغو لښکرو چې د هفستيون او پر ديکاس په مشرۍ د

The Digital Library

کابل سیند له لارې د ټکسیلا د پاچا "امپهي" په لارښوونه د پېښور او چارسدې او ویهند د سیمو د نیولو له پاره استول شوې وې، هغه سیمې یې ترسنده ونیولې.

سکندر د کونړ په سیمو کښې تر باجوړ پورې د پښتنو له خورا کلك مقاومت سره مخامخ شو، د هغو سیمو په جګړو کښې دوه ځله ټپي شو او ده هم تر بري وروسته ښارونه وران او بندیان یې تر تېغ تېر کړل. خو څرنګه چې دا سپيزي امیر د سواست (سوات) د ناوې په یوه ښار کښې مقاومت کاوه. نو تر سرکاڼیو، چمر کنډ او ناوګۍ تیر شو او د ګوري (پنجګوره) له لارې چکدرې او د سوات ناوې ته ورسید، خو ښاره یې ونیول او ډېرې قبیلې یې ایل کړې، د یوناني مورخ آریان په وینا (د ١٧٥م شاوخوا) په وینا، دلته د اساکي نوس Assakenos په نامه خلك اوسېدل او مرکزي ښار یې مساګه Massaga نومید، چې اوس یې د کتګله د درې او وچ خوړ تر منځ کنډوالې لیدل کېږې، همدا چې دلته ٧٥ زریز نوی ملي لښکر د مدافعینو ملاتړ ته راورسېد، خورا سخته جګړه ونښته او سکندر دوی د مراګه په ښار کښې ځلور ورځې کلابند او ټول یې له منځه یو ورل، تر هغه وروسته یې داور، او بازیرا (اوسنی بریکوټ) ښارونه هم ونیول د مهابڼ، (او رنوس) دغره لمنو ته وخوت چې د اټك د شمال په دېرش میلۍ کښې پرتې دي، اوسي کوستوس یې د هغې سیمې والي وټاکه او مقدوني نیکاتور د انډوس د لویدیزې ناوې حکمران شو.

د (٣٢٦ ق،م) پر فروری، سکندر پر هغه پله تېر شو، چې کېدای شي د اټك په شاوخوا کښې یې پر سند تړلی و او د ټکسیلا تر ښاره چې د دغه هېواد لوی دارالعلم و او دراولپنډۍ د شمال لویدیځ په لس میلۍ کښې د مرګله د کوتل په لمنه کښې پروت و، پر مخ ولاړ، د ټکسیلا پاچا امپهي

Omphis یې چې له سکندر سره یې روغه وکړه بېرته په هغه ښار کښې د خپل ستراپ (والي) په توګه وټاکه، له هغه ځخه یې پېنځه زره جګړن واخیستل او د ٣٢٦ ق،م د مۍ تر میاشتې د جیلم غاړې ته ورسید، د همدغه کال پر جولای د هند د پاچا پوروس (فور) سره ونښت، خو هغه غاړه کېښوده، ده هم بېرته پر خپل ځای پرېښوو او په خپلهٔ دبیاس تر غاړې پر مخ ولاړ خو لښکرو یې بلوا وکړه، د هند په توده خاوره کښې یې له نور پر مختګ ځخه غاړه وپېچله او سکندر یې بېرته را ګرځېدو ته اړ ویست، ده هم خپلې لښکرې پر دریو برخو ووېشلې: لومړۍ برخه یې د کراتیروس له لښکر ناروغانو سره د بولان، کندهار او سیستان له لارې واستوله. دویمه برخه چې ١٢ زره سپایان او دوه زره ماڼو ګان وو د نیارکس په مشرۍ له سلو کښتیو سره د دریاب له لارې واستول شوه، او دریمه برخه چې په خپله سکندر ورسره و، د سند پر لویدیزه غاړه ملتان ته ورسېده خو دهغه ځای خلکو خورا سخته دفاع وکړه، ان تر دې چې په یوه جګړه کښې سکندر ټپي شو، له همدې امله یې ټول ووژل همدا راز د سند دناوې په پای کښې د اتیازرو په شاوخوا کښې خلك ووژل شول، د ٣٢٥ ق،م جولای میاشت وه چې سکندر له خپلو ملګریو سره د اوسنۍ کراچۍ شاوخوا (د اسلامي دورې دیبل) ته ورسېد، د یوې سمندریزې سکندریې بنسټ یې هلته کېښوو او له هغه ځایه د ګدروز یا (بلوچستان د افغانستان د جنوب) له لارې پارس ته ولاړ او چې بابل ته ورسېد ٣٢٣ ق،م د جون پر ١٣ مه شپه پر ٣٢ کلنۍ د ملاریا په ناروغۍ مړ شو، د اریانه پر خاوره دده یرغلونه او د دغه ځای د خلکو د مقاومت وخت له ٣٣٠ تر ٣٢٦ ق،م پورې ټول ځلور کاله و "وګورۍ ١٤ مه نومره عکس".

د اریانا په ختیزه برخه کښې (د انډوس لویدیځ ته) تر نیکاتور

The Digital Library

وروسته یو سړی د فیلیپس په نامه والي شو، همدا چې هغه پر ۳۲۴ ق،م کال د یوناني عسکرو له لاسه ووژل شو، تر هغه وروسته وایودموس د ټکسیلا د خلکو په ملاتړ د اندوس له لوېدیځ څخه د خپل ترون رسۍ وشلوله او چې سکندر مړ شو، د هند پاچا پوروس (فور) د اندوس برنۍ ناوه ونیوله خو پر ۳۱۷ق.م د ایو داموس له خوا ووژل شو او په خپله ایو د اموس هم هند پرېښوو او د ده له تګ سره په ختیز هند کښې یونان واکمني پای ته ورسېده.

په آریانا کښې، موریا لنډ مهالې واکمني او بودایي لویه اغېزه

د سکندر له مړینې سره سمه د ده پراخه امپراتوري هم ړنګه شوه، د ده لویو افسرانو د شام په طرابلس کښې یوه غونډه وکړه او په هغې کښې یې د سکندر هېواد په خپلو منځو کښې سره ووېشه. د اریانه جنوبي ولایتونه یعنې ارا کوزي (د ارغنداو ناوه) او ګدروزي (مکران) سیبیر تیاس Sibyrtias ته وسپارل شول، په اریا (د هریرود په ناوه) او په درنګیانه (د هلمند په ناوه) کښې قبرسی ستساندار Stasandar واکمن شو، بکتریانه (باختر) او سغدیانه (سغد) ستاسانور Stasanorته ورکړ شول او هو خیارتس Oxyartes د سکندر د ماندینې روښانې پلار د آریانه د مرکزي سیمې (پارو پامیزاد او د کابل ولایت) حکمران شو.

خو د آریانه ختیز ولایتونه چې بریدونه یې تر ټکسیلا پورې رسېدل د هندي شهزادګانو او یوناني جنرالانو تر منځ د کشمکش په حال کښې پاتې شول او همدا چې دغه هېواد ته د یوناني لښکرو راتګ او په باختر کښې د هغو د پاتیو کسانو پاچهۍ دوام وکړ، دلته یوناني فرهنګ، هنر، فکر او عقایدو اغېزه پرېښې وه، دا اغېزه چې د دغه هېواد د خلکو له فرهنګي بقایاو سره ګډه شوې وه، د ختیځ له خوا له یوې بلې ډېرې مهمې پېښې سره مخامخ شوه او هغه په هند کښې د موریا د لوی سلطنت جوړېدل و.

m: The Digital Library

که څه هم د آریانا په ختیز و برخو کښې د موریا واکمنۍ له سیاسي پلوه ډېر دوام نه درلود او دلته د یونانو باختري خپلواك سلطنت منځته راغی، خو په دې لنډه موده کښې د موریا پاچهانو او د بودا د دین مبلغانو د ادیانت د آریانه په ختیځ کښې خپور کړ، چې دلته بیا په یوه فرهنګي آیډ و ګلاس او د ثقافت او عقیدې د یو ځای کېدو په ځای کښې، درې مهم عنصره سره ګډ شول او د دغه هېواد د فرهنګ په تاریخ کښې یې یو مهم باب چې د "ګریکو بودیك" په نامه یادېږي پرانیست. دا دیانت او هنر په افغانستان کښې زرکاله نور د اسلام تر راتګ پورې پاتې شو، چې مهم عناصر یې دا وو:

۱ - باختري یا د دغه هېواد خپل کورني فرهنګي، هنري او عقیدوي عناصر.

۲ - یوناني صنعت، عقیده او فکر چې د ۳۳۰ ق، م په شاوخوا کښې له سکندر سره پیل شوی وو.

۳ - بودایي هنر، فرهنګ او دین له خپلو هندي آثارو سره چې د موریا له واکمنۍ سره یو ځای راغلل.

په هند کښې د موریا د سلطنت مؤسس چندراګو پتا (یوناني: سندروکتس) دی، چې د ننداکه شاهي کهاله یوې شهزادګۍ ته چې میوره (طاوس) نومیدله منسوب و، او دی د کشتر یانوله طبقې او د راجپوت (شهزادګانو) له ټبر څخه و، چې پر ۳۲۴ ق،م پاچا او تر ۲۴ کاله پاچهۍ وروسته پر ۳۰۰ ق، م مړ شو او زوی یې بیندو ساره Bindusara چې د "دور دهرا" ملکې له نسه و، د ده پر ځای کښیناست د موریانو پایتخت د هند د پتالی پترا (پټنه) ښار و.

چندراګو پتا د "نندا" سپه سالارو، ده د ټکسیلا د بهرهمنانو یو

مشر چانه کیه Chanakya (په سیاست، ټولنیزو علومو او اقتصاد کښې د ارتهه شاستره کتاب لیکوال) چې وروسته د ده وزیر شو، له ځانه سره یې ملګری کړ او دمګده پاچا او پاچهي یې له منځه یو وړه او د ګنګا او سند تر منځ یې د یوه لوی سلطنت بنسټ کېښوو چې اداري او مدني منظم تشکیلات یې لرل څکه نو دی یوازې یو، بریالی سپاهي نه، بلکې یو هوښیار او ځیرك سیاست مدار هم بلل کېږي.

چندراګوپتا د خپل هېواد لویدیز بریدونه د سند تر غاړو وغځول.

د سکندر ځای ناستو یونانیانو غوښتل چې سکندر نیولې ځمکې بېرته لاس ته راولي، نو هغه وخت چې سیلیو کوس ملقب په نیکاتور (بریالی)، د بابل واکمن شو، پارس او پارت یې ونیول او پر (۳۱۱ق،م) یې آریا بکتریا هم فتح کړه او پر ۳۰۵ ق،م د کابل له لارې ختیځ خواته ولاړ او د سند تر رود پورېووت نو د هغه سیند پر ختیزو غاړو د چندراګو پتا له لښکرو سره مخامخ شو، خو چې نیکاتور خپل بډه (حریف) ډېر غښتلی ولید نو روغه یې ورسره وکړه، خپله لور یې ورکړه او د ۵۰۰ پیلانو په بدل کښې یې ګندهاره، اراکوزیه‌ـګدروز یه - اوپارو پامیزاد، چندراګو پتا ته پرېښوول، او په باختر کښې یې هم د یودوتس حکمران وټاکه.

د چندراګوپتا او سیلیوکوس تر روغې وروسته د هند او باختر اړیکې پراخ شول او د هند تجارتي مالونه تر پخوا ډېر د کابل او بلخ له لارې د خزر بحیرې بندرو ته یووړل شول. سیلیو کوس خپل یو پوه جنرال میګاستینیس Megastenes د موریا دربارته د سفیر په توګه واستاوه او هغه یو کتاب د هند د حالاتو او د موریا د پاچهۍ په اړه لیکلی و، چې اوس نه شته، خو سترابو او د یونان نورو مورخانو په خپلو کتابو کښې د هغه کتاب ځینې مطالب راوړي او ساتلي دي. د دغه سفیر په وینا چندرا ګوپتا شپږ سوه

om: The Digital Library

زره پلي، دېرش زره سپاره او نهه زره پيلان لرل. د ده په شاهي کمپ کښې څلور سوه زره تنه وو، په دې توګه د اريانه د خاورې نيمې برخې د هندوکوش تر جنوبي لمنو پورې په ده پورې اړه درلوده او دا لومړی ځل دی چې د هندي اريايانو فرهنګي او سياسي اغېزه له ختيځ څخه د اندوس لويديزې خاورې ته د هندوکوش تر غره پورې رسېدلې ده.

چند راګوپتا چې پر ۳۰۰ ق،م کال مړ شو، د ده زوی بيندوساره، د اميتره ګهاته Amitraghata (دښمن وژونکي) په لقب د پلار پر تخت کښيناست، ده له يوناني اميرانو سره دوستانه سياست غوره کړ او د ګندهاره، پارو پاميزاد او اراکوزي له لارو يې د سيليو کيدانو له هېواد سره تجارتي اړيکې ټينګک کړل او کله چې سيليو کوس نيکاتور پر (۲۸۰ق،م) د ۷۸ کلنۍ پر عمر مړ شو، دده زوی انتيا کوس سوتر Antiachos-Soter د ده پر ځای کښيناست نو ده د ۳۰۱ ق،م پر شاوخوا (دي ماکوس) پټنې ته د بيند وساره دربار ته د سفير په توګه واستاوه.

د موريا پاچهۍ او يونانيانو تر منځ فرهنګي اړيکې له همدغه وخته پراخ شوي وو او دا هڅه د هند او يونان د ګډ مدنيت د تاسيس پيل وګرځېده، سر بېره پردې له هند سره د سمندر له لارې هم تګ، راتګ کېده لکه چې پتروکليس Patrokles د سيليو کوس افسر او د هغه زوی د هند سمندر له لارې سفر وکړ او ښه جغرافيايي معلومات يې راغونډ کړل چې وروسته پليني او استرابو ګټه ترې اخيستي وه.

د موريا پاچهانو له يوناني سيليو کيدانو سره دومره خپلوي درلوده چې د هند د پخواني سياسي تاريخ مولف ليکي: "بيند وساره انتيا کوس ته وليکل چې ماته يو حکيم، خواږه شراب او وچ اينځر رانيسه او راوېې لېږه، انتياکوس په ځواب کښې ورته وليکل: زه به اينځر او شراب درولېږم، خو د

يونان په قانون کښې د پوهانو پلورل ممنوع دي.(!)"

د اموريايي پاچا د يونان علومو او ادب ته ډېر سرابښ و او د ده پر وخت هنديانو د يوناني هومر اشعار په خپله ژبه ژباړلي او ويل به يې.

وراهه ميهرا Varahamihara په خپل کتاب بريهت سمهيته Samhita - Brihat کښې د يوناني آسمان پېژندنې معلوماتو ته په درنه سترګه ګوري او څنګه چې دا اوضاع د ګريکو- بوديك مدنيت پر پيل رڼا اچوي، موږ يې دلته په لنډه توګه راوړو، چې د افغانستان ګريکو - بوديك مدنيت ښه وپېژندل شي.

د هند دا يوناني دوسته پاچا "بيند وساره" پر ۲۷۳ ق،م تر ۲۷ کاله پاچهۍ وروسته مړ شو او زوی يې چې اشوکا نومېد، د خپل وزير رادها کوپتاپه مرسته پر خپلو وروڼو بريالی شو او د موريا پاچاهۍ پر تخت کښېناست، دی بې شکه د هند ستر پاچا و، چې پر ټوله سرتره وچه او د افغانستان د خاورې پر يوه برخه يې د ارغنداو تر غاړو پورې سلطنت کړی دی.

اشوکا په پيل کښې يو جګړن او ويني بهوونکی سړی و: د بنګال خليج پر غاړه د کالنګه په جګړه کښې يې يو لك تنه ووژل او ۱۵۰ زره يې بنديان ونيول، خو هغو زړه لړزوونکيو فجايعو چې ده په دې خونړۍ جګړه کښې د سر په سترګو وليدې چې تر سلو زرو پورې انسانان له لوږې مړه شول، د ده پر روحيه او شخصيت باندې يې سخته اغېزه وکړه او دی يې د بودا دين د روغې او سلامتۍ د فلسفې پر خوا واړاوه. پر ۲٦۰ ق،م کال يې د بودا دين رسماً ومانه او د هغه تبليغ او خپرولو ته يې ملا وتړله، تر هغه تاريخ وروسته د ده د پاچهۍ دوره دروغې، امن، د ديني ودانيو، د خيريه چارو د پراخوالي، د بودايي بودتونو(معابدو)، لارو او مسافر خانو ودانولو

n: The Digital Library

او د مذهبي دساتیرو د خپرولو دوره وه او دی چې دخپل ارت هېواد هر ځای ته ورسېد، هلته یې پر ډېرو په مختلفو ژبو د بشر پالنې او حتی د ځناورانو او ژویو دنه آزار ولو نصیحتونه وکیندل، چې تر اوسني وخته هم پاتې دي. دا ډبرین فرمانونه د هغې دورې پر اوضاعو ښه ډېره رڼا اچوي.

په ګندهارا او د افغانستان په ختیزه برخه کښې چې جنوباً تر کندهاره رسېږي، د بودایي ستوپو زیات آثار شته، چې دهاغو تاریخي ودانیو یوه برخه تر اوسه پېژندلې شوې ده او د ټولو شمېرل مشکل دي.

وایي چې اشوکا د خپل هېواد په شمال کښې ځلور لوېې ستوپې ودانې کړې چې یوه یې د پېښور د بالا حصار پر غونډۍ پرته او تر (۹ هـ کال) د هیون تسنګ تر عصره پورې هم په همهغه خپل برم پاتې وه. د هیون تسنګ په وینا دا ودانۍ یې له ښکلیو ډبرو او انځور شویو لرګیو څخه ودانه کړې وه، چې د فاهیان په وینا په سپینو او سروزرو ښکلې شوې وه موسیو فوشه وایي چې دا هغه ستوپه ده چې "د سترګې سوغات" نومیدله او بودایانو عقیده درلوده چې دلته بودا خپله سترګه قرباني کړې وه.

همداراز د اوسنۍ چارسدې ختیزې خواته د "کنیز که" پر غونډۍ داشوکاودانه کړې ستوپه وه چې د هیون تسنګ تروخته هم په همدغه نامه مشهوره وه او دی وایي چې د استوپه په پرله پسې عصرو کښې د ځلورو بوداګانو د قوانینو د تبلیغ ځای و.

د بودا دین او په افغانستان کښې د هغه خپریدل:

سره له دې چې د افغانستان خلکو ته د ویدي او برهمني پخوانیو او زړو عقیدو بایخوړ چې د هېواد په ختیزو سیمو کښې یې رواج درلود ورپاتې و، د هېواد په شمال اولویدیز و سیمو کښې د زردشت آیین او

اوېستایی مزد یسنا هم رواج درلود، خو هغه وخت چې پر ۲٦۰ ق،م اشو کادبودا د دین تبلیغ او خپرولو ته ملا وتړله دغو عقیدو او ائین آن زر کاله وروسته هم د هېواد په ختیزو او شمالي سیمو کښې پوره دود وموند او هېواد د دغه دیانت دودې زانګو شوه چې د فکر، هنر او فرهنګ له پلوه یې ددې خاورې د خلکو په ژوندانه کښې ژورې اغېزې وکړې.

« بوده»د دغه دین موسس دساکیا تبر د کشتر یه او جګړنې طبقې یو شهزاده و، چې د ساکیا مونی (دسا کیاد د تبر یوه) په نامه معروف شو او پر ۵٦۳ ق،م کال د نیپال د کپې لاواستو په ښار کښې زیږېدلی و او پر ۲۹ کلنۍ یې خپله کورنۍ او د شهزادتوب ژوند پرېښو و.

تر ۵ - ٦ کالو ګوښه کښېنستلو (انزوا) وروسته یوه شپه چې ډېره روښه وه (بدهـ) یعنې روڼ او ویښ وبلل شو د خپل دین په تبلیغ کښې یې زیار ویوست؛ د هند پاچهان یې خپل دین ته راوبلل او وروسته تر هغه چې د هند زیات خلك یې بودایي کړي وو پر ۴۸۳ ق،م د اتیا کالو په عمر په کوچې نګره کښې مړ شو. (وګورئ ۱۵ مه نومره عکس).

څنګه چې د بودا دین یوه تیاره فلسفه نه درلودله، نو د ده د مړینې پر کال په باجا ګره کښې د بودا د پیروانو یوه مذهبي غونډه وشوه، د ده دریوتنو نامتو ملګریو انانده،یو پالی، او کاسیاپه دده خبرې او وینا وې راټولې کړې او له هغو څخه یې د تری پیټکه Tripitaka (درې ټوکرۍ ګلان) په نامه د بودایي قوانینو مجوعه جوړه کړه.

بودایي دیانت داشوکا د سلطې د نفوذ له امله د هندوکوش له جنوبه تر کندهاره خپور شو او د بودایي دین دریمه لویه جرګه د اشوکا په قیادت او د لوی عالم" موګالی پوتاتیسا" په مشر تابه جوړه شوه، چې په هغې کښې د مذهبي احکامو پر ترتیب او تدوین سر بیره داسې پریکړه وشوه چې یوه

The Digital Library

بودايي دله مبلغان لرې هېوادوته ولېږل شي د دغو هېوادو اولېږل شويو مبلغانو نو مونه، اشوکا د خپل جلوس پر ۱۴ کال(۲۵۶ ق،م) په ۱۳ لمبر ډبرين فرمان کښې کيندلي دي، له هغه څخه څرګندېږي، چې څو تنه بودايي مبلغان چې مجهان تيکه، مدهيان تيکه، دهه مراکهيه ته، او مهار کهيته نومېدل، ګندهاره او د آريانه ختيزو سيمو ته را استول شوي دي، دا مبلغان چې د دوتا Douta په نامه بلل کيده، د (۲۵۸ ق،م) په شاوخوا کښې د بودايي دين په تبليغ بوخت وو او په همدغو وختو کښې انتيا کوس د سيليو کوس زوی د باختر پاچا و، چې د ده نوم يې د اشوکا په ډبرينو فرمانو کښې "انتيا که" ليکلی دی.

د موريا وروستی حکمران چې په دغه وخت کښې يې پر کابل حکومت کاوه، سوفاګازنس دی، چې د باختر د پاچا ايوتيديموس د واکمنۍ تر پيلهٔ يې هم په ګندهاره او د کابل په لويديزه سيمه کښې نفوذ درلود، ايوتيديموس چې په باختر کښې خپلواك پاچا شو ده د هندوکوش جنوبي خوا ته لښکرويوست او په کابل کښې يې د موريا نفوذ ته خاتمه ورکړه او تر هغه وروسته د هندوکوش جنوب سيمې هم د باختري يونانيانو د خپلواك سلطنت برخې شوې.

د افغانستان په خاوره کښې د موريا سياسي نفوذ ډېر لنډو، اشوکاپر (۲۳۲ ق،م) کال تر څلوېښتو کالو پاچهی. وروسته په تکسيلا کښې مړ شو د ده په کهاله کښې يو مقتدر پاچا نه و، چې د ده پر ځای کښيني او د ده ارت سلطنت وساتي، نو ځکه د افغانستان په خاوره کښې د دوی د نفوذ ځنځير هم وشلېد، خو هغه دين چې اشوکاله ځان سره رواړی و، د هغه له فکري، هنري او فرهنګي آثارو سره تر زرو کالو پورې پاتې شو.

و مووېل چې بودا ځان په فلسفي مسايلو کښې نه و پېچلی، خو

پيروانو يې د ده ويناوته د الهياتو بڼه ورکړه چې د زماني په تېرېدو سره دا دوه لوی مذهبونه څنې جوړ شول:

لومړی، مهايانه: يعنې لوی مذهب(يون = يانه = په پښتو کښې د تګ رفتار او مذهب مانا لري) چې د هند په شمال، تبت او چين کښې تر ژاپون = جاپانه خپور شو او د ځای د پراخوالي او د قومو د ډېروالي په سبب ډېر تاويل پکښې پيښ شو، د دغه مذهب پيروانو تبليغ مهم باله او ويل به يې: هر فرد د کل جزو دی چې هغه انسان نومېږي او بيا دغه انسان د هغه لوی کل جزو دی چې د دهرمه (کېش) او عمل تر قانون لاندې راغلی دی، نو څوك چې غواړي د شر له لومې وژغورل شي، له نورو دې نه بېلېږي زيار ايستل بايد مجموعي وي نه انفرادي او دا ډول زيار انسان بودی ستوه Bodhisattva ته رسوي او د دې کلمې مانا د ژوندانه هغه دانشمندانه حالت دی، چې د نورو په خدمت کښې تېر شي. نو انسان دوه مقصده لري، يو د پوهې زده کړه او بل بې له خپل ځانه پر بل مهرباني او د بل خدمت.

دويم، هينه يانه Hina-Yana: (کوچنی مذهب) نومېږي، چې تابعان يې په جنوبي هند کښې دي. دوی پر فردي زيار تکيه کوي او کتابونه يې زياتره په پالي ژبه دي، حال دا چې د لوی مذهب کتابونه په سنسکريت ژبه ليکل شوي او لکه چې چيني زايرانو د مسيحي عصر تر پيل وروسته په افغانستان کښې ليدلي دي، د دغه ځای په بودايي معبدو او ښارو کښې د بودايي دواړو مذهبو تابعان وو.

بودا خپل دين پراوو اصولو: سپېڅلې عقيده، سپېڅلې اراده، سپېڅلې وينا، سپېڅلي رفتار، سپېڅلې روزي، سپېڅلي زيار او سپېڅلې پاملرنه بنا کړی و او ويل يې:

هر چا چې پردغو اوو اصلو عمل وکړ له قيودو پاکېږي او خپل فکر

The Digital Library

په یوه مخصوص تکي کښې چې د خواهشو له ځنځیره بشپړه آزادي ده متمرکز وي، هغه وخت نو تر څلورو نورو مقامو تیرېږي:

۱ - درشتیا پیژندنې په لار کښې څېړنه.

۲ - د حقایقو په پوهېدلو کښې تفکر.

۳ - ژور تفکر او سکون.

۴ - بشپړ سکون او توازن چې "نروانه" (فنا) نومیږي.

د فرانس نأمتو محقق فوشه د بودا دین د خپریدو د سببونو په اړه وایي: د آریانا د ختیزو سیمو خلکو چې تل د بېرحمو یر غلګروتر پښو لاندې ژوبلیدل (د هخامنشي اسکندر او چندراګوپتا د یرغلو تر لیدو وروسته) دا دین چې له وینو تویولو بیزار و او د خود ګذرۍ او ښه نیت توصیه یې کوله له خپلې سلیقې سره سم وموند او کروند ګرویا کسبګرو خلکو هغه په آسانۍ ومانه.

د بودا د دیانت پراختیا د اشوکا په توجه دې درجې ته رسېدلې وه چې دغه پاچا (۸۴۰۰۰) مذهبي ودانۍ یعنې ستوپې (توپ افغاني مقامي کلمه) جوړې کړې وې، چې د دغو ستوپو شکل په کابل او کاپیسا کښې توپیر پیدا کړی او لوړې شوې دي، یعنې د ستوپې تنګاچه (سکو) څلور کنجه شکل موندلی او لوي والی یې زیات شوی؛ د کنبد او تنګاچې تر منځ یوه استوانه یې برخه اضافه شوې ده او د ګنبدې لوړه څوکه د شیروانۍ په شکل لیدل کېږي. خو د اشوکا د عصر ستوپو چې هندي خصوصیات یې درلودل، د آریانه خاورو ته لږ سرایت کړی دی.

د اشوکا د وختو پاتې لیکنې چې د بودایي نصیحتو له مجموعې څخه دي د ټکسیلا تر ډبرلیکونو وروسته پر دوو ډبرو لیکلې پاتې دي، چې یوه له مانسهرې څخه لس میله لرې دایبټ اباد شمال ته د پکهلی د ناوې په

مدخل کښې او بله یې د سوابۍ پر لویه لار د هوتي مردان ختیز خواته اته میله لرې په شهبازګړهۍ کښې پرته ده، چې دواړې لیکنې په پراګریت ژبه او خروشتهی لیکدود دی، حال داچې د اشوکانورې ټولې لیکنې په هند کښې په براهمو لیکدود دي چې د لرغوني هند د نورو سیمه ییزو لیکدودو پیل دی. د اشوکا د همدغو اخلاقي فرمانو یوه بله لیکنه د لغمان او ننګرهار ترمنځ د درونټې په تنګي کښې وه چې پر درې کونجه غونډې ډبره په ارامي ژبه لیکل شوې او اوس په کابل موزیم کښې ده خو ډېر تاوان ورپېښ شوی چې څولیکې یې-چې د څارویو د نه وژلو په اړه دي-اوس هم ښکاري.

د همدغه پاچا یوه بله مهمه لیکنه پر ۱۳۳۷ ل کال له خاورې څخه راووتله، دا لیکنه د کندهار په زاړه ښار کښې چهل زینې ته نژدې د غره پر یوه کاڼي په یوناني او آرامي دوو ژبو او دوو لیکدودونو موندل شوې ده، چې پورتنۍ برخه یې په یوناني ژبه ۱۳ نیمې کرښې او کښته برخه یې په آرامي ژبه ۷ نیمې کرښې دي، چې د ټولې کتیبې اوږدوالی ۵۵ سانتي او سور یې له ۴۵ څخه تر ۵۰ سانتیو پورې دی پر هغې هم د ځینو نورو کتیبو په څیر د اشو کانوم پیوداسس لیکلی شوی دی (وګورئ ۱٦ مه نومره عکس).

د دغه ډبرلیك له کتنې څخه پوهېږو، چې د اشو کا د بودایي کېدلو پر لسم کال یعنې پر ۲۵۰ ق،م لیکل شوی دی او په دغه وخت کښې د موریا نفوذ او بودایي دیانت تر کندهاره خپور او د ده زیاتره اخلاقي ښنسټونه تطبیق شوي وو - حال دا چې په نورو ډبرلیکونو کښې د همدغو بنسټونو د عملي کولو توصیه کوي. د کندهار ډبرلیك د یوناني لیکنې ژباړه دا ده:

"پیوداسس پاچا د لسوکالو زیار ایستلو په پای کښې انسان ته اخلاقي اصول ورزده کړل او له هغه وخته یې د ټولې ځمکې خلك لاښه دیندار

The Digital Library

او لاښه نېکمرغه کړل، پاچا د څارویو له وژلو څخه ځان وژغوره، نورو ښکاریانو او کب نیوونکیو خلکو له ښکار او کب نیولو څخه لاس واخیست او د مور او پلار په نمانځنه یې لاس پورې کړ، نو تر دې وروسته به په دغه ډول ډېر ښه ژوند ولري.

له دې ډبرلیك څخه څرګندېږي چې تر میلاد دمخه د دریمې پېړۍ په منځ کښې په افغانستان کښې یوناني او آرامي دواړه ژبې او لیکدودونه وو، د یوناني ثقافت اغیزه دومره غښتلې وه، چې په کتیبو کښې یې لومړی ځای یوناني ژبې او لیکدود ته ورکړی و، دا هغه عصر ته نژدې و چې په باختر کښې یونان باختري خپلواك دولت جوړېده، حال داچې د بودا د دین اغېزه اویوناني فرهنګ د اراکوزی تر سکندر یې (زاړه کندهار) پورې رسېدلې وه خو کټ مټ په همدغو وختو کښې د هخامنشیانو له بقایاو څخه آرامي لیکدود هم په دغه سیمه کښې و.

یونان، باختري خپلواك سلطنت

هغه وخت چې سکندر باختر ونیو نو "پارسي ارته باز یوس" یې پر خپل ژوندانه د دغه ځای حکمران وټاکه، دی تر لنډې مودې وروسته مړ شو او د ده ځای امین تاس "د نیکو لاوس" زوی ونیو. د آریان په وینا د سکندر تر مړینې وروسته قبرسي "ستاسا نور" د باختر او سغد حکمران و او چې "سیلیو کوس" په هند کښې له "چند راګوپته" سره روغه وکړه (۳۰۲ ق،م) د باختر حکمران هم ده ته غاړه کښېښووه، هغه وخت چې "سیلیو کوس" بابل ته ستون شو، باختر تر پنځوسو کالو پورې د ده د کهاله تر لاس لاندې پاتې شو چې په باختر او بخارا کښې یې ډېرې سیکې موندل شوي دي، ده د باختر ځایي خلك په خپل لښکر کښې اخیستي وو.

د سیلیدوکی کورنۍ د دریم پاچا په وخت کښې چې دویم "انتیو کوس" نومېد، د شاو خوا حکمرانانو په مصر کښې د هغه له جګړه ییزې بوختتیا نه په ګټې اخیستلو سره، د ده له اطاعته سر وغړاوه او له هغې جملې څخه د باختر خلکو له هغو یونانیانو سره لاس یو کړ چې په دغه هېواد کښې له باختري ادابو او فرهنګ سره اشناشوي وو، نو د خپلواکۍ اعلان یې وکړ. دا وخت په باختر کښې دیودو توس = تهیودوتوس Diodotos حکمران و، ده د ۲۵٦ ق،م په شاوخوا کښې د آزادۍ غوښتونکیو باختریانو په ملاتړ په باختر کښې د خپلواکې پاچهۍ اعلان وکړ چې حدود یې تر سند، مرو او

The Digital Library

هندوکوش غره تر لمنو پورې رسېدل او دا چې ده باختريان د نورو له تسلط ځخه ژغورلي او کورنی آزاد حکومت يې جوړ کړی و، نو ځکه "منجي" لقب ورکړ شو.

د ديو دوتوس يوه سکه شته چې پر يوې خوا يې د دويم انتيوکوس څېره او پر بل مخ يې د ده د کهاله ساتندوی رب النوع "زيوس" له دوو، وازرو سره ليدل کېږي. له دې ځخه ځرګندېږي چې ده د باختر د خپلواکۍ تر اعلان د مخه د "انتيو کوس سيليوکي" په نامه د سپينو زرو سکه ځېره کړې او بيا يې تر خپلواکۍ وروسته د باختر په دارالضرب کښې خپله سکه د پاچا په توګه پر سرو زرو وهلې ده. دا د سرو زرو سکه چې په پاريس کښې ده پر يوه مخ يې د ديو دوتوس څېره او پربل مخ يې د جوپيتر (داسمان، تالندې او برېښنا دورمی رب النوع) لوڅ لغړ شکل دی، چې په پښو کښې يې يوه ګربته (عقاب) هم کښل شوې او د سکې پر څنډه "بازيليوزد يو دوتوس" ليکلی شوی دی يعنې ديو دوتوس پاچا (وګورئ ۱۷ مه نومره عکس). د لومړي "د يودوتوس" له کهاله يوازې د ده يوه زوی چې "دويم ديو دو توس" نومېد د پلار تر مړينې وروسته (له ۲۵۰ تر ۲۳۰ ق،م شاوخوا) په باختر کښې حکومت کړی دی، چې ده د شاهي سيليو کيانو د اقتدار پر خلاف د پارت له دولت سره ښه اړيکي او هم آهنګي درلوده او ځکه چې د پارت د دولت موسس "ارساس" هم د باختر له خلکو څخه و، نو "دويم ديودو توس" له ده سره د دوستۍ تړون او ښه روابط لرل او د ده د پاچهۍ په وخت کښې د هريرود او د هرات ښار هم د باختر په قلمرو کښې شامل شو او سغديانی ته هم له باختره حکمران استول کېده.

د لومړي ديو دو توس د کهاله پاچهي ډېره پاتې نه شوه او د دويم ديوتوس يو امير چې ايو تيديموس Euthydemus نومېد او د سغدياني حکمران

ياغي شو، د باختر پاچايي وواژه او دی په خپله د باختر خپلواك پاچا شو (د ۲۲۰ ق،م شاوخوا) (وګورئ ۱۷ مه نومره عکس).

د باختر ايوتيد يموس په وخت کښې د شام يوناني پاچا "دريم انتيو کوس" د لوېديځ له خوا د پارت پر دولت يرغل او پارتي پاچا "تيری داد" يې مغلوب کړ او د ۲۰۸ ق،م په شاوخوا کښې يې د باختر خواته مخه وکړه، له دې خوا ايوتيديموس له لسو زرو باختري سپرو سره د اريوس (هريورود) پر غاړه له انتيو کوس سره ونښت، خو چې مقاومت يې ونه کړای شو نو بيرته باختر ته راغی، او د باختر په پايتخت "زرياسپ" کښې تر دوو کالو پورې کلابند پاتې شو (د دغه ښار موقع د مرو او اندخوی تر منځ ګڼل شوې ده) په دې موده کښې "دريم انتيو کوس" درنګيانه او اراکوزيه هم ونيول، خو چې زرياسپ يې ونه نيولای شو، او دواړی خواوې ستړې شوې وې، نو هغه وخت چې د باختر شهزاده "ديمتر يوس" دروغې د خبرو له پاره ده ته راغی، ده خپل لور ورکړه، او تر روغې وروسته د کابل او اراکوزيه لوېديځ خوا، د خپل سلطنت د قلمرو لوري ته وخوځېد(۲۰۵ ق،م).

ايو تيد يموس تر هغه وروسته د هېواد د اداري په يووالي کښې زيار ويوست، او د کابل د ناوې حکمران "سوفا ګازتوس" يې د ځان تابع کړ او شمال ته تر پامير ها خوا تر چيني ترکستان او ختن پورې پر مخ ولاړ او لوېديځ ته يې مرورود، هرات او طوس ونيول، او خپل زوی "انتي ماکوس" يې د هغو سيمو حکمران وټاکه، د جنوب له خوا تر اراکوزيه او درنګيانه پورې يعنې د آريانه ټوله خاوره د ده د پاچهۍ د قلمرو برخه شوه، بل زوی يې "ديمتريوس" ددغه ولايت حکمران و، چې دغه ټول ارت هېواد د يوناني جغرافيونو په اصطلاح زر ښاره درلودل دا مهال د باختري يونانيانو د دولت فرهنګي او تجارتي روابط له هند او غربي چين سره ټينګ وو، "وايو

The Digital Library

تیدیموس" لومړی پاچا دی چې د ده په عصر کښې باختري هنر مندانو او صنعت کارانو ددغه ځای هنر او صنعت هند ته سوغات یووړ، درا ولنسن په وینا: له یوې خروشتهې کتیبې څخه ځرګندېږي چې یوناني باختري هنر مندان په دغه عصر کښې هند ته تللي او د هند په هنري آثارو کښې یې خپله هنري اغېزه پرېښې ده. د باختري "ایوتیدیموس" د پاچهۍ دوره له ۲۲۰ څخه تر ۱۹۰ ق،م پورې ګڼل شوې ده. چې د ده تر مړینې وروسته یې زوی "دیمیتریوس Demetrius" پاچا شو (وګورئ ۱۸ مه نومره عکس) او دی د هند په خاوره کښې د ټکسیلا تر نیولو وروسته د ګجرات تر کڅو او کاتیا وار او د موریا تر پایتخت پتنه پورې پر مخ ولاړ چې دا پر مختګ د ده د دوو لویو جنرالانو "اپلودوتوس" او "منامندر" د زیار نتیجه وه، "مناندر" د کابل په شمال او پیان کښې زیږېدلی و او اولادو یې د ۱۰۰ ق،م تر شاوخوا پورې په هند کښې پاچهي کوله.

"دیمتر یوس" د ۱۷۵ ق،م په شاوخوا کښې له هند څخه باختر ته راوګرځېد، خپل دریم زوی "پانتالئون Pantaleon" یې دارا کوزي او سیستان حکمران وټاکه او بل دویم زوی یې د باختر حکمران و.

هغه وخت چې د اراکوزی حکمران پانتالیون مړ شو، ځای یې دده ځلورم ورور "اګاتو کلیس Agathoicles" ونیو (وګورئ ۱۹ مه نومره عکس).

دیمتریوس او د ده پر ځای ناستو حکمرانانو په خپل قلمرو کښې ډېرې سکې وهلي دي او همدغه پاچا داراکوزی "دیمترماس" (کلات) او ایو تیدمیا (سیالکوټ) او د سند دیمتریاس (پټیاله) او ته او فیلیا (د سند په دلتا کښې) ښارونه ودان کړل، چې دویم ښار د ده د پلار په نامه او څلورم ښار یې د مور په نامه نو مول شوی دی.

دیمتریوس د خپل ژوندانه په پای کښې له خپلو لښکرو سره په هند

کښې بوخت پاتې شو، نو ځکه پر ۱۸۱ ق،م کال د باختر له یونانیانو څخه یو سړي چې ایو کراتیدیس Eukratides نومېد په باختر کښې پورته شو، د پاچهۍ اعلان یې وکړ او سکه یې ووهله، چې په هغې کښې یې ځان باز یلو زمیګا لیوس (لوی پاچا=هندی مهاراجه) وباله (وګورئ ۲۰ مه نومره عکس) او چې دیمتریوس د خپل تاج او تخت د بیرته موندلو له پاره زیار ویوست، ځای یې ونه نیو او مړ شو. ایوکراتیدیس په باختر کښې دیو نانی پاچهانو د درېیمې سلسلې بنسټ کښېښوو تر ۱۸٦ ق،م پورې د آریانه د ختیزې سیمې له حکمران "مناندر" سره وجنګید، چې د آریانه ټوله خاوره یې ونیوله، خو له لوېدیزې خوا د پارت پاچا د ده د هېواد لوېدیز ایالتونه ونیول او هغه اختلاف چې د "دیمتر یوس" او "ایو کراتیدیس" د کورنیو تر منځ پیدا شوی و، د باختر سلطنت یې کمزوری کړ او د ۱۳۵ ق،م په شاخوا کښې د هغه سلطنت مرکز د هندو کوش له شماله کاپیسا ته یووړل شو. هیلیوکلیس Heliokles د ایو کراتیدیس زوی چې د ۱۴۷ ق،م په شاوخوا کښې پاچا شوی و، د باختر وروستنی یوناني پاچا ګڼل کېږي، چې د هندوکوش د شمال سیمو تر پرېښولو ورسته یې خپله پاچهي د ګند هارا د ولایت تر پایه (تر ټکسیلا او جیلم پورې) غځولې وه. (وګورئ ۲۱ مه نومره عکس).

تر"هیلیو کلیس" ورسته یې نورو لسوتنو ځای ناستو حکمرانانو پر کابل، ګندهارا او پنجاب حکمراني کړې ده، چې د ۳۰ ق،م په شاوخوا کښې د کابل له وروستنیو یوناني پاچهانو څخه "انتیال کیداس" "امین تاس" - "هرما یوس" - زیات شهرت لری (وګورئ ۲۲ مه- ۲۳ مه - ۲۴ مه نومره عکسونه). د باختر یوناني پاچهانو د سقوط علت د ساکا او سیتي قبیلو منځته راتګ دی، چې دا پاچهي یې د ق.م د لومړی پېړۍ پر لومړی نیمایي پای ته ورسوله، او په دې ترتیب د دوی واکمني تر دوه نیمو سوو کالو

The Digital Library

وروسته ختمه شوه. په دې موده کښې د"ديو دوتوس" له وخته د ۱۰۰ ق،م تر شاوخوا پورې د دوی ۳٦ پاچهانو او يوې ملکې په افغانستان او هند کښې واکمني کړې ده، يوناني فرهنګ او هنر يې په آريانه او هند کښې خپور کړی دی، چې په دې موده کښې د ارباب انواعو پرستنه، يوناني صنعت، افکار، فلسفه، ژبه ليکدود او نور فرهنګي مظاهر د آريانه په ټوله خاوره کښې له محلي او بودايي فرهنګي عناصر وسره ګډ شول، او د يونانو باختري او ګريکو بوديك خاص فرهنګ منځته راغی، چې د اسلام تر راتلو پورې يې اغېزه درلوده.

د دانيل شلوم برژه (په افغانستان کښې د لرغون پيژندنې فرانسوي مشر) په وينا: د هيلنسم نفوذ په افغانستان کښې تر اوومې پيړۍ پورې دوام درلود چې نښې يې په دوه ډوله ليدل کېدای شي: لومړی د هنر له لارې او دويم د ليکدود له لارې. د اسلام تر راتلو دمخه په اوومه پيړۍ کښې د دغه هېواد هنر لادګريکو بود يك د مشهور هنر يوه وروستنۍ څانګه وه، خو د ليکدود په اړه ښايي وويل شي، هغه وخت چې د چين نامتو زاير "هيون تسنګ" پر ٦۳۰ م کال يعنې په عربو کښې د اسلام د لمر راختو پروخت له باختره تيرېده، دلته د الفبا ۲۵ توري وو چې ۲۴ توري يې بې شکه يوناني وو او يو د (ښ) غږ يې چې په پخوانۍ دري کښې و، خو په يوناني کښې نه و، پر زيات کړی و او هغه د PX توري يعنې د ش + خ مجموعه توری = ښ دی.

هغه دوه يوناني ډبرليکونه چې پر ۱۹۵۸ او ۱۹٦۳ کلو په کندهار کښې موندل شوي داشوکا هغه اخلاقي موعظې دي چې په ټول هند کښې په هندې ژبو کيندل شوې دي، خو د دغو ډبرليکونو اهميت په دې کښې دی، چې د ارغنداو په ناوه کښې آرامي ژبه او ليکدود د اشو کاتر وختو (۲۵۰

ق،م شاوخوا) پورې ثابتوي او لکه چې يونان پيژندونکي پوهان وايي د دغو دوو ډبرليکونو يوناني متنونه د يوناني فيلسوفانو او خطيبانو لکه اپلاتون او ارستو د ژبې سارې ګڼل کېږي او وينو چې د ق،م پر دريمې پېړۍ په کندهار کښې د فکر او ليکنې ژبه همهغه ده چې په آتن ياد ميليت په ښارو کښې رواج وه او حتی د کتيبو د کيندنو ډول هم د يوناني کلتور يوه لې ښيي او څرګندېږي چې دا ځای د يوه يوناني مورخ په وينا د مسيحي عصر په پيل کې ديونانيانو ټاټوبی و، (د کندهار ډبرليك (۱٦) لمبر عکس دې وکتل شي). سربېره پردې تر ۱۹٦۱م کال وروسته فرانسوي لرغون پيژندونکيو د يوه يوناني ښار (آی خانم = سپوږمۍ مخې مېرمن) په کنډوالو کښې د همدغه يونان باختري مدنيت ډېر ښه آثار موندلي دي. دا ښار د افغانستان او شوروي اتحاد پروېش د افغانستان د خاورې په هغه برخه کې پروت دی چې هلته آمو او کوکچه سيندونه سره ګډېږي او ډېرې کنډوالې لري چې دا کنډوالې د دواړو سيندو پر غاړه پر دوو ټاکليو برخو وېشل شوې دي: يوې خوا ته يې يوه لوړه غونډۍ ده چې د جنوب له پلوه د کوکچې پر سيند حاکمه ده او ددې شل مترۍ غونډۍ بلې خواته آمو سيند بهېږي او هم ددې غونډۍ پر سر لوی استحکامات شته چې د دغه ښار بالاحصار دی او يو حصار يې د برج او خندك سره د ليندۍ په شکل درلود او د ښار په منځ کښې يې له شمالي دروازې څخه جنوبي دروازې، خواته ۱٦۰۰ متره واټ ايستل شوی و، چې کوڅې يې هم ليدل کېږي (وګورئ ۲۵مه نومره عکس ـ د ښار نقشه).

په دغه لرغوني ښار کښې يې د مدنيت نخښې موندلې دي، چې هغه بايد "دګريکو باختر" خاص مدنيت په نامه ياد کړی شي، چې د منځنۍ آسيا د صحرا نشينو د يرغل له امله له منځه تللی دی. خو کنډوالې يې د

The Digital Library

لوړې معماري طرز رابښيي، چې په پخو خښتو او ډبرينو ستنو د مرکزي لويې مانۍ ودانۍ جوړې شوي دي، دامانۍ يو اوږد غولي لري او هم په مانۍ کښې د شنې، ژيړې، سرې او تورې رنګ اميزې نخښې شته. هغه خښتې چې په دې مانۍ کښې کارول شويدي هره ضلع يې ۴۵ سانتي او پنډوالي يې له ۱۲ څخه تر ۱۵ سانتيو پورې دی، د دغه ښار اوبه د وياله لارې د کوڅو لوړو برخو او حتی بالاحصار ته رسېدلې، چې د کوکچې سيند له ۲۰ کيلو متره واټن څخه را بهيدلې. ښار درې برخې درلودې، چې يوه برخه بالاحصار، بله برخه تر حصار را کښته او دريمه برخه ارګ دی. په جنوب لوېديزو برخو کښې د خلکو د اوسېدو ځای، د ورزش ودانۍ او بازارو نه وو، له دې ورزشګاه څخه د هرمس(دپهلوانۍ رب النوع) مجسمه لاس ته راغلې ده، چې د کشف شوي ډبرليك له مخې هغه يوه يوناني "ترياباه کوس" د استراستون نومي هرمس او هرکول وقف کړې وه.

بله ليکنه چې د دغه ښار د خلکو د فکر او فلسفې ښکارندويه ده، هغه د يوه يوناني "کي نه آس" د قبر د اوږ ده سندوخ کتيبه ده چې "کلا ارك" "د اپي فراد يوس" زوی په آی خانم کښې پر هغه سندوخ کينلې او پر هغه قبر يې اينښې ده چې مطلب يې دا دی:

"په کوچينوالې کښې ښه روزنه واخله! په زلميتوب کښې خپلې غوښتنې (خواهشات) اداره کړه! په پاخه سن کښې سم کاري اوسه! پر زوړ والي ښه ناصح شه! او د ژوندانه په وروستيو ورځو کښې پوه شه چې څنګه بې افسوسه مړ شې!"

دا قيمت بها وجيزه د هغه وخت د خلکو د فکر او اخلاقو د بهير ښه ښکارندويي کوي.

ساکان، پارتيان او پهلوايان

د هخامنشي پاچهانو په ډبرليکونو کښې وليدل شو، چې د ساکه قبيلې د آمو ها غاړې ته د پامير په شاوخوا کښې د هومه راوړونکيو يا د ګرنديو ساکانو په نومو د هغو پاچهانو تر اداري لاندې اوسېدلې او د پارت (خراسان) له لارې د زرنګه - د رنګيانه ځمکې ته راتېرې شوې خپل نوم يې سکستان - سيستان ته ورکړی و او هم يې د هندوکوش په شمالي سيمو او باختر کښې ژوند کاوه، چې بيا له دې ځايه لوېديځ او ختيځ خواو ته خپرې شوې او د دوی پېښې د آريانه د تاريخ برخه ګڼل کېږي.

موسيوهاکن په خپل کتاب کښې چې "په افغانستان کښې د فرانسې د لس کلنو کيندنو نتيجه" نومېږي وايي: "صحرانشين ساکان تر عمومي مهاجرت د مخه په باختر کښې يونانيانو ته راتلل او د سرتېرو په ډول نوکران کېدل د دوی ځينې مشران لوړو ملکي او عسکري رتبو ته رسېدلي وو چې د هغوی له جملې څخه هرا يوس (Heraius) د يونانو باختري د وروستيو پاچهانو په تقليد سکه وهلې، او داسکه يې "هاکن" په تاشقرغان کښې موندلې وه. دا قبيلې له باختر څخه د هريرود ناوې او له هغه ځايه د هلمند او ارغنداو ناوو ته راښوه شولې او د پاچهي په جوړولو يې لاس پورې کړ چې د دوی د هېواد وبش ختيځ پلو ته د بولان شاوخوا ته د سند تر ناوې پورې هم رسېدلی و او هغه يې "کی - پن - Ki - Pin" بللی دی او د ساکه له

n: The Digital Library

دې قبیلو څخه چې د ارغنداو او کښته سند په ناوو کښې اوسېدل یوه سرې چې مایوس - (Mayos) نومید د ۷۲ ق،م په شاوخوا کښې د "بازیلیو زباز یلیون میګا لیوس مایوس" په عنوان یعنې "لوی شهنشاه مایوس" سکه وهلې ده او د خپل هېواد وېش یې تر ټکسیلا پورې رسولی دی، چې یوه ډېرلیك یې په ټکسیلا کښې پر مسي غاب کشف شوی چې نېټه یې (۷۸ ق،م) ده، له دې څخه معلومېږي چې د ختیز پنجاب د یوناني پاچهانو نفوذ د مایوس په لاس له منځه تللی دی او اووه زره سکې یې په یوناني او خروشتي لیکنو موندل شوي دي.

تر مایوس نومي وروسته د ده له پاټي کسانو څخه دوه نور هم د سکو له مخې پېژندل شوي چې یو یې ازیس AZES (د۵۰ ق، م په شاوخوا کښې) او بل ازیلیسیس - AZILISES دی. دوی په یوه عصر کښې اوسېدل او د دواړو پر سکو باندې په یوناني خط "لوی شاهنشاه" لیکل شوي دي. داسې سکې هم لیدل شوي دي چې د دواړو پاچهانو نومونه یو په یوناني خط او بل په خروشتي لیکل شوي دي (وګورئ ۲۶ مه نومره عکس).

هغه وخت چې دغې ګرځندویې کوچې قبیلې د آمو د بهیدو جنوب ته د باختر په سیمو کښې له پکهت - پښت او پښتنو سره ګډې شوې د ساکه نوم یې په دغو پښتنو کښې پرېښوو، چې په زابل او کابل کښې د پښتنو د سهاك قبیله او په هلمند کښې ساکزي (سکزی) تر اوسه د دغه نامه ریښه لري، د دوی نورې قبیلې په خراسان کښې د هریرود له ناوې څخه د خزر بحیرې تر کڅو پورې د پارت په نامه میشته شوې او څمکه یې هم د دوی په نامه یاده شوه، څنګه چې له خپل اصلي ټاټوبي باختر څخه د هریرود ناوې ته تر دامغان (د خراسان یوه برخه) پورې تللې وې نو د ژوستن په وینا د پارت په نامه مشهورې شوې چې پارت په سکایي ژبه تبعید شوي ته وایي او دوی

هم له باختره هجرت کړی و.

"سر او لف کرو" انګریز افغان پېژندونکی د ګندهاره د ساکانو حکمرانانو په نومو کښې له پښتو سره ډېر شباهتونه موندلي او لیکي چې د ساکي حکمرانانو دا نومونه پښتو ته نژدې دي: سپاله که دمه Dama-Spalag (سپاله = سپاه) + (ګه - د تجلیلی تصغیر نخښه) + (دمه = جلال - برم) چې ټوله جمله د "مجلل سپاهي" په مانا ده.

بل نوم سپاله هوره Spala-Hura دی: (سپاله = سپا+ هوره = اور یا هور) د اور سپاهي یا لمر سپاهي او بادرنا سپاهي په مانا ده.

همدارنګه د چستنه Chastana نوم همدا د پښتو "څښتن" د مالك او خاوند په مانا دی.

او که مورږ پارت - پارتهوه د ژوستن په وینا "تبعید شوی" او "مهجور" وبولو، نو په پښتو کښې یې اوسنی شکل "پردی Pradia" یعنی بیګانه او مهاجر دی. یا به د پښتو (پرته) PRATA وی (د دریم حرف په زور کښې) چې دغه هم دلیری مانا لري لکه چې وایي: له مخه مې پرته شه یعني لېرې شه. یا پلانی پرتې وایې یعني له عقله لېرې خبرې کوي.

داسې ښکاري چې سیستان ته د ساکه قبیلو لومړني مهاجرتونه تردې وختو ډېر پخوا پېښ شوي دي: د موسیو فوشه په وینا لوی کوروش (۴۵۰ ق،م) د سیستان د نیولو په وخت کښې دا "ساکان" د دوی د ښو خدمتو په سبب "ښه کړونی - نیکو کردار" (په یونانی کښې ایو یرګت (Evergetes) بلل همدا خلك د(۳۳۰ ق،م) په شاوخواکښې پر همدې څمکه اوسېدل، چې سکندر هم دوی نازولي وو او ښه نرمه رویه یې ورسره درلوده (وګورئ تمدن ایراني کتاب).

د (۲۵۰ ق،م) په شاوخوا کښې بلخی ارساس - ارشك - اشك د "فري

The Digital Library

یاپټ" زوی له خپل ورور "تیرداد" سره لوېدیځ خواته لاړ، د پارت یوناني حکمران فریکلیس یې وواژه او داشکاني سلطنت بنسټ یې کېښېښوو، په یوناني او خروشتی دواړو ژبو یې سکه ووهله، او خپل ځان یې بازیلیوزبازیلیون (شهنشاه) وباله، چې منځته راتګ یې د ۲۴۹ ق،م په شاوخوا کېږي او پایتخت یې اوسني دامغان ته څېرمه و، داشکاني پاچهانو سلسله ده ته منسوب ده، د سترا بو په وینا دی تر دوو داخلي جنګو وروسته د خپل نیزه وال له لاسه ټپي شو او د هغه ټپ له امله پر ۲۴۷ ق،م کال مړ شو. پر ۲۴۸ ق،م کال دده زوی تیرداد د دویم اشك په نامه پر تخت کښیناست ښه غښتلی مدبر پاچا و، تر بابل پورې یې فتح وکړه او ختیځ خوا د باختر شاوخواته ورسېد، خو له باختر یوناني پاچا دویم "د یودوتوس" سره یې د سیلیوکي دولت په مقابل کښې روغه وکړه او د یووالی لاس یې ورکړ، دی چې زوړ شو مړ شو، او پاچهي یې له ۲۴۸ څخه تر ۲۱۴ ق،م پورې وه.

نور اشکاني نامتو پاچهان دادي:

۳ - ارتبان: اردوان (۲۱۴ تر ۱۹۶ق،م) د تیر داد زوی چې د ده په وختو کښې "دریم انتیو کوس" پر پارت حمله وکړه او باختر ته راتیر شو.

۴ - فري یاپټ د اردوان زوی (له ۱۹۶ تر ۱۸۱ ق.م).

۵ - لومړی فرهاد د فري یاپټ زوی (له ۱۸۱ تر ۱۷۴ ق،م) د باختري د یمتریوس معاصر.

٦ - مهر داد د لومړي فرهاد ورور(۱۷۴ - ۱۳٦ق،م) لوی او هوښیار پاچا و، چې د باختري یونانیانو غربي ولایتونه او مرو یې ونیول، اراکوزی، کابل او سند یې لاس ته راوستل او د پارت د هېواد وېش یې د سند تر سینده ورساوه. خو سره له دې هم د ده حکومت مشروطه و، د شورا دوه

مجلسونه یې لرل چې د دوی په غوښتنه یې کار کاوه.

۷ - دویم فرهاد د مهر داد زوی(۳۱٦ - ۱۲۷ ق،م) ده ساکه قبیلې خپلې مرستې ته وبللې چې له انتیو کوس یوناني دولت سره په جنګ کښې له ده سره مرسته وکړي خو ساکا نو په چور او چپا ولاس پورې کړ، او فرهاد له دوی سره وجنګید، څو چې فرهاد ووژل شو، او پارتیانو ماته وکړه.

۸ - ارتبان (دویم اردوان)(۱۲۷ - ۱۲۴ ق،م) دی د دویم فرهاد تره او د فري یاپټ زوی‌و، چې د دویم فرهاد تر مړینې وروسته د پارت پر تخت کښېناست دی د تخار له خلکو سره چې د باختر یوه برخه وه ونښت، په یوه جنګ کښې د لاس پرموټ ټپي او له همدې امله مړ شو، پارتیان پرشاشول، همدا وخت و چې ساکانو درنګیانه (سیستان) ونیو، او هغه یې په خپل نامه سګستان (ـ معرب یې سجستان) وباله او ان د کابل تر نیولو ورسته د هند خواته هم تیر شو او هلته یې د هندوساکه یا هندو سیتهین دولت جوړ کړ. همدارنګه ګرځنده صحرایي سپین پوټکیو آریایي قبیلو (هون) د شمال له خوا یرغل وکړ او د ۱۲۷ ق،م په شاوخوا کښې یې باختر او تخار ونیو او د هغه ځای یونانیان یې جنوب ختیز خوا د کابل او سند لوري ته وشړل، او دا ټولی صحرایي قبیلې (ساکه، تخار، هون) شمالي آریایي خلك وو، چې د ژیړ پوستو له توکم (نژاد) څخه نه وې، بلکه د دوی ژبه ـ څیرې ـ بڼې بیخې اریایي دي د تورن فان کشف شوي آثار دا مطلب ښه څرګندوي.

۹ - دویم مهر داد دارتبان زوی(۱۲۴ ـ ۷٦ ق،م) لوی پاچا و، چې په خپل ۴۸ کلني سلطنت کښې پر ساکانو او سرکښو قبیلو بریالی شو او د باختر او سیستان یوه برخه یې ونیوله او د خپل سلطنت وېش یې همالیا غروته ورساوه.

خو لوی مهرداد د پارت د دولت پایتخت له خراسانه د دجلې غاړې

The Digital Library

ته يووړ او دار منستان اوروم له دولتو سره په جنګو بوخت پاتې شو، نو څكه تر هغه وروسته دپارت د دولت پيښې په آريانه پورې اړه نه لري، او زموږ د تايخ برخه نه ده. داشكانيانو له سلسلې څخه تر پينځمې ميلادي پيړۍ پورې په ايران، ارمنستان او د لوېديزې اسيا په مختلفو برخو كښې ډېر پاچهان پاچهۍ ته رسېدلي دي، خو زموږ له هېواد او زموږ له خلكو سره يې اړه نه لرله خو څلورم اشك (څلورم فرهاد) پر ٣٣ ق،م كال ظلم او تيرى وكړ او خلكو پر هغه بلوا وكړه، دى ختيځ خوا ته وتښتېد او هغو ساكانو ته ورغى چې په باختر، سيسات رخج او نور وځايو كښې اوسېدل او له دې ځايه بېرته خپل هېواد ته لاړ.

د ساكانو او پارتيانو له ګډو ځانګو څخه چې په جنوبي افغانستان او غربي هند كښې يې پاچهي كړې ده، يوه، ځانګه هم د پرتهوا - پهلوا ده چې د دې ځانګې د سياسي تشكيلاتو او ادارې لومړى ځاى سګستان او اراكوزي (د هلمند او ارغنداو ناوه) ده، ددې ځانګې د خلكو واكمني د ميلاد په لومړۍ پيړۍ كښې تر ټكسيلا پورې رسېده او هغه وخت چې اپولو نيوس APOLLONIOS پر ٤٣ ـ ٤۴ م كال د ټكسيلا د ليدو له پاره راغى، هلته له دې خلكو څخه يوه يوويشت كلن پاچا د فراوتيس Phraotes (فرهاد) په نامه پاچهي كوله.

د سيستان او اراكوزي د پهلوا د خپلو اكو پاچهانو د لړۍ مؤسس ونونيس Vonones نوميده، په سكو كښې د لوى شهنشاه په عنوان ياد شوى او د ١٢٠ ق،م په شاوخوا كښې يې پاچهي جوړه كړې ده، سكې يې په يوناني او خروشتهي ليك دي او پر ځينو سكو يې د خپلوانو او تابعانو نومونه هم ليكل شوي لكه "سپه له هوره" ورور يې Spalahora او سپه له ګادمه Spalagama وراره يې، سپه لى ريزا Spalirisa بل ورور يې نو څكه ويل

كېداى شي چې د سا كه پهلوا د كورنيو افرادو په دې خاوره كښې يو بل ته نژدې په يوه عصر كښې په ګډه حكمراني كوله، د دونونيس دا خپلوان د هېواد په مختلفو ځايو كښې د ده نايب السلطنه ګان وو (د ١١٠ ق،م په شاوخوا كښې) (وګورئ ٢٧ مه نومره عكس) د دې سلسلې بل لوى پاچا ګندو فاريس Gandophares يا اندوفيريس دى (١٩ ـ ۴٨م) چې په سكو كښې شهنشاه - ژغورونكى نه ماتيدونكى او ديندار معرفي شوى دى او هم د پېښور شمال ختيز ته د تخت بايي په ډبرليكونو كښې (١٠٣م) ګودو هره Guduvhara هم دا پاچا ګڼلى شوى چې له سيستانه يې تر سند و پنجاب پورې واك درلود، ځينو مورخانو د اوسني كندهار نوم پخواني ګندوفارو ده ته منسوب بللى دى چې په دى نامه كښې د "فر" تاريخي كلمه د برم او جلال په مانا شته او مانا يې "برم ګټونكى" دى، كه موږ دا نوم په پښتو واړوونو" ګونده فر" د اساسي جلال او برم مانا وركوري او موږ وينو چې د آريانه د كوشاني پاچهانو پر سكو يې هم د "فر" تورى ليكلى دى.

د لرغوني هند د سياسي تاريخ ليكونكى د تخت بايي د ډبرليك له مخې د ګندو فاريس د پاچهۍ وخت ۴٧ م كال ټاكلى او وايي چې دا كال له مسيحي رواياتو سره هم سم دى په دغه اساس نو دغه پاچامزدي (زردشتي) دين لاره، خو د حضرت مسيح شاګرد او په هند كښې د هغه د دين "مبلغ سنت توماس" د ده دربارته واستول شو او پاچا د مسيح دين ومانه چې په مسيحي روايتو كښې د ګندو فوروس په نامه ياد شوى دى، له همدې سببه ده په ځينو سكو كښې له خپل نامه سره ددېوه ورته Deva-Varta صفت يعني دين دارهم ليكلى دى.

. د لرغوني هند په سياسي تاريخ كښې ليكى چې: له ګندو فاريس سره هم دده ځينې خپلوانو په حكمرانى كښې ګډون لاره، چې يو له هغو څخه

e Digital Library

د ده ورا ره ابداګاسیس Abdagases د افغانستان په جنوب کښې، اوله جنرالانو څخه یې اسپاورمن Hspavarman اوسسه (چچ) او له حکمرانانو څخه یې سپیدنه Spedana اوسته وستره Satavastra په ټکسیلا کښې وو.

د ګندو فاریس تر مړینې وروسته د ده ارت هېواد د ده د ځای ناستو تر منځ پر کوچنیو برخو وویشل شو(د ۵۰م شاوخوا) چې د هغو له جملې څخه سنه باریس Sanabares په سیستان کښې، پاکوریس Pakores او سسه په ګندهاره او لودیز پنجاب کښې حکمرانان وو، د دوی سکې په یوناني او خروشتي لیکدودونو له ټکسیلا څخه لاس ته راغلې دي، د پهلوا له همدغو شاهزادګانو څخه اورتاګنس هم دسکو له مخې پېژندل شوی دی، چې دی یې همهغه ګودا ـ ګاد د ګندو فاریس ورور بللی دی، چې د میلاد د لومړۍ پېړۍ په دویم نیمایي کښې یې حکمراني کوله، د چارسدې په خروشتي ډبرلیکونو کښې یې نوم "ګادسا" دی چې ځینو دا نوم د ګندو فاریس د قبیلې نوم هم ګڼلی دی، په دغه صورت کښې نو د مهابن د لمنو د پښتنو د "ګدون" د قبیلې نوم هم راپه یادوي چې د چچ (همهغه سسه) د ځمکې په شمال کښې پرته ده، عربي مؤرخانو دانوم په "صصه" معرب کړی و.

(وګورئ ۲۸ مه نومره عکس).

کوشانیان

هغه قبیلې چې د (۱٦۵ق.م) پر شاوخوا یې له اریایي ساکانو او سیتانو سره د وینې او توکم (نژاد) ګډون لاره، د بڼې، څېرې جګو پوزو او نور څرګندو ژبنیو ځانګړتیاوو له مخې د ختیز شمال له آریایي نژاد څخه ګڼل کېږي او چینیانو دوی یوچی yuach-chi بللي دي چې له خپل پخواني ټاټوبي څخه چې د ختیز چین خوا ته و، راووتلې او د آمو سیند شمالي سیموته راغلې. دوی د هغه ځای ساکان په باختر کښې د آریانه ختیزو سیمو او د هندوکوش جنوب ته وشړل چې تر ۱۲۷ ق،م وروسته تر هنده پورې هم پرشا شول او ځای یې یو چیانو ونیو.

پر ۱۳۸ ق،م چې د چین امپراتور وو-تی Wou-ti (۱۴۰ - ۸۷ق،م) د هیوانګ نو د قبیلو له یرغلو او حملو څخه وربرېد، نو خپل یو سفیر یې د چانګ-کین Tchang-kien په نامه یوچیانو ته واستاوه چې له ده سره مرسته وکړي، خو هغوی مرسته ورنه کړه، د دغه سفیر په وینا د آمو په جنوبي سیمو (باختر او بدخشان) کښې د تاهیا (تخار) خلك اوسېدل او د یوه بل چیني مورخ سیو ـ ماتسین Seu-Matsien (د ۹۰ ق،م شاوخوا) له لیکنې څخه هم څرګندېږي چې یو چیانوتر (۱۲۵ ق،م) پورې لا د آمو په شمالي سیمو کښې ژوند کاوه، او د آمو جنوبي خواته را شیوه شوي نه وو.

یوچي خلك د (۷۰ ق.م) په شاوخوا کښې تر آمو را پوریوتل، او د تخاریانو (تاهیا) په مرسته یې باختر ونیو، تر هغه وروسته د یوچي او تخار تر منځ ګډون راغی، او یو غښتلی او ممتازتکم (عرق) یې منځته راوست چې د کوشي Kushi کوی شانګ. کوشان نامتو قبیله د دغو خلکو له پېنځګونو قبیلو څخه وه. د "کوچي" اوسنۍ کلمه په پښتو او دري دواړو ژبو کښې ددې ریښې نمایندګي کوي. د چین د یوه مورخ د یادونې په اساس د کوشیانو مشر چې کیو - تسیو - کیو - kieu-Tsiu-Kieu نومېد د نورو څلورو قبیلو مشران یې د ځان تابع کړل او په خپله دی" د کوی شانګ پاچا"په نامه وپېژندل شو، له همدې وخته په تاریخ کښې د کوشان کلمې د یوچي ځای ونیو، د دغه تېر لومړی نامتو پاچا د چین د لیکونکیو په وینا همدا کیو - تسیو - کیو(- کوجوله کره کد فیزیس) Kujula-kara-kadphises (د ۴۰م شاوخوا) و، چې پارتیا (خراسان)، کابل او کاپیسا یې ونیول او د غزني په شاوخوا کښې یې د پوتا Pauta خلك هم د ځان تابع کړل چې د فرانسوي"واله د وپوسن" په وینا دا خلك پښتانه وو.

کوشان شاه د خپلې پاچهۍ په اوږده موده کښې وکړای شول چې د یوناني او پارتي پاچهانو پایڅوړ(بقایا) له منځه یوسي؛ د آریانا په ټوله خاوره کښې خپل نفوذ ټینګ کړی او دافغانستان د خورا سترې امپراتورۍ بنسټ کښېښودي. دي د ۷۸ م په شاوخوا کښې پر ۸۰ کلنۍ تر ۳۸ کالو پاچهۍ وروسته مړ شوی دی، تر اوسه پورې یوازې د ده راز، راز مسي سکې پیدا شوي دي، چې یوناني او خروشتي لیکنې لري، دده نوم په یوناني کښې" کوزولا کده فیس" دی چې دده القاب یې "دیندار،د آسمان زوی، شاهنشاه" لیکلی دی. (وګورئ ۲۹ مه نومره عکس).

د ستر کوشانشاه لومړي کد فیزیس تر مړینې وروسته یې زوی دویم

The Digital Library

ویمه - کد فیزیس Wema-Kadphises د ۱۱۰م تر شاوخوا پورې حکمراني وکړه او پر ۸۰ کلنۍ وفات شو. (وګورئ ۳۰ مه نومره عکس). دی لومړی کوشانی شهنشاه دی چې د خپل هېواد وېش یې ختیز خواته د ګنګا تر غاړو پورې رسولی و. خو چې د چین د پاچا دربارته یې خپل استازی (سفیر) واستاوه او د هغه لور یې ځانته وغوښتله او دا غوښتنه یې رد شوه، نو پر ۹۰ م کال یې اویا زره سپاره د خپل نایب (سی Si) په مشرۍ د پامیر له لارې ختیز چین ته د یرغل له پاره ولېږل او د چینی جنرال پان - چاو په لاس یې ماتې وخوړه، د چین امپراتور Ho-Ti هو - تي ته یې کلنګ(باج) ورکړ، خو تر هغه وروسته یې درومن له امپراتورۍ سره خپل اړیکي ټینګ کړل او پر ۹۹م کال یې خپل استازی د روما امپراتور "تراجان" دربارته استولی و، او له هغه هېواد سره یې تجارتی او فرهنګي راوابط درلودل، چې دده، د عصر په سکو کښې درومن د سکو جوړولو د هنر پیښې (تقلید) څرګندې دي او پر هغو باندې دستر کوشانشاه د یوه پوتره Deva-putra (خداوند زاده) القاب لیدل کېږي چې دفغ پور(فغفور) د لقب مانا ده، دده مړینه د ۱۱۰ م کال په شاوخوا کښې ګڼلې شوې ده. تر ده وروسته په تاریخ کښې ۲۰ کاله خلا شته چې په دې موده کښې له لرغونیو آثارو او سکو څخه تر اوسه د یوپاچا وجود نه دی څرګند شوی ځینی د سوتر میګاس (لوي ژغورونکی) سکې په دې خلا کښې ځایوي، خو غالب اټکل دادی چې دا سړی په هند کښې دویمه نایب السلطنه و.

په هر صورت د لویو کوشانیانو شهنشاهي د ۱۲۵ م یا د ۱۴۴م په شاوخوا کښې یو چاته ورسیدله چې کنیشکه Kanishka نومېد، او بنایي چې د کد فیزیس له کورنۍ سره یې د خپلوۍ روابط هم درلودل، خو دی دیوه لوی کهاله موسس دی چې د میلاد د دریمې پېړۍ تر منځ پورې یې زموږ په

The Digital Library

هېواد کښې پاچهي کړې او خپله واکمني يې په هند کښې هم پراخه کړې ده.

د کنيشکه د شهنشاهۍ مرکز په ژمي کښې پوروشاپوره (پېښور) او په دوبي کښې د کاپيسه بګرام و، چې د هېواد ختيز ويش يې د هند تر بنارس رسيده او د لوېديځ خواته په پارت پورې نښتی و، د شمال لورې ته يې کاشغر، يارکنډ او ختن هم ونيول د چين له امپراتوره يې يرغمل واخيستل؛ بودايي دين يې ومانه؛ د اشوکا غوندې يې د هغه دين تبليغ او خپرولو ته ملاوتړله؛ د بودايانو څلورمه لويه ديني جرګه يې چې پينځو سوو پوهانو برخه په کښې اخيستې وه د کشمير په سرينګر کښې د هغو اختلافاتو د ليرې کولو له پاره جوړه کړه چې د هغه دين د روحاني طبقو تر منځ پيدا شوي و، په بودايي دين کښې بدعتونه او پساتونه پېښ شوي وو، او پر خپل اصالت پاتې نه وو، هر پلوته بېلې بېلې ډلې منځ ته راغلې وې نو په دې جرګه کښې چې د کنيشکه د دربار پوهان او د ګندهاره علما هم په کښې و، د اووم بودايي پيشوا د ګندهاره د لوی عالم واسو ميتره Vasumitra په مشر تابه جوړه شوې وه داسې فيصله وشوه چې دهينه يا نه Hina - Yana د کوچنۍ بګۍ - کوچنې مذهب لرغونی مذهب چې د بودا تر مړينې راپه دې خوا يې پينځه پېړۍ رواج موندلی و تعديل او اصلاح شي، او دا مذهب چې د سپيڅلې تقوا او نفس د تهذيب سپار ښتنه يې کوله د مهايانه Maha-yana په لوی مذهب تعديل شو، چې د ناګار جونه Nagarjuna نومې عالم له خوا ترتيب شوی و. په بودايي لوی مذهب کښې چې ورسته يې په ختيزه آريانه کښې هم رواج وموند، د کوچنې مذهب د اخلاقي سپېڅليو د ساتيرو پر ځای داسې ښوول کېده چې يو سړی بايد د بود يستوه Bodhisattva روښانه شوې راتلونکي بودا مقام ته لوړ شي، او هم د بودا د پينې يا نورو نخښو ښوولو پر ځای بايد د ده ټوله او بشپړه مجسمه لکه د آريانه نور ارباب انواع چې

د يونانو باختري په صنعت کښې يې رواج و، ونمانځل شي.

د هند د جنوبي ژبې "پالي" پر ځای دې د سنسکريټ ژبه مذهبي ژبه شي، په همدې سبب پخواني کوچنی مذهب جنوبي مذهب، او مهايانه د شمال مذهب ګڼل کېږي. هغه وخت چې لوی کوشانشاه بودايي دين ومانه، نو پر خپلو سکو يې چې پخوا د آريانه نور ارباب انواع کښل د بودا بشپړ صورت وکيښ، په دې توګه نو د لوی مذهب طرفدارانو وکړای شول چې خپل ځانونه له کوچني مذهب څخه بېل او په ماوراء الطبيعه مسالو کښې خپل عقايد او د بودايت په عالم کښې د ژوندانه دساتير خپاره او د خپلو نويو ګروهو تفسيرونه بشپړ کړي، په هغه زمانه کښې د کنيشکه تر دربار پرته بل داسې دربار چې په متبحرو پوهانو عالمانو ډك واى نه شو ليدل کيداى چې په هغه کښې دلوی مذهب پر موسس "ناګار جونه" سربيره نور پوهان هم وو، لکه: ((اسوه ګهوشا Asvaghosha د حماسياتو او هسکو ډرامو ليکونکی د بودهه چريته مؤلف او ساري پوتره پره کره نه، د طبي علومو سنتر ليکونکی چره که، د دربار ديني مشاور پارسوا، سنګهه رکشه، او سدره سنه (هغه مبلغ چې کنيشکه يې بودايي دين ته واړا وه.))

د کنيشکه په وختو کښې د ده په ټول ارت هېواد کښې خورا ډېر بودايي معبدونه او سنګارامې ودانې شوې چې له هغې جملې څخه دهيون تسنګ په وينا يو د "شا- لو- کيا" معبدو، چې چيني يرغملانو ودان کړی و، په هغه کښې يې د مها کاله د لوی بت په پښو کښې خزانه هم ښخه کړې وه چې که دا سنګهارا مه ورانه شي بيرته يې په هغو پيسو ودانه کړي. اوس د دغه لوی بودايي معبد نښې بګرام ته دوه کيلو متره ورخيرمه د شترك پر غونډۍ (پوزه شترك) کښې ښکاره شوي او هلته انځور شوې ودانۍ او ښکلې مجسمې له ځمکې راوتلې دي.

The Digital Library

د دویم لوی معبد آثار چې کنیشکه خپل ژمني تاتوبي پېښور ته نژدې ودان کړی و، د شهرشاهي جنوب ختیز ته د ۱۵۰ فټه جګ معبد کنډوالې دي، هغه یې په خوارا عظمت د بودا د کچکول Patra-Chity د ساتنې له پاره ودان کړی و، د دغه معبد په ارندو ودانیو کښې د اووسوو په شاوخوا کښې بودايي راهبان اوسېدل. د هیون تسنګ په وینا دا کچکول وروسته کندهار ته وړل شوی و (چې پر ۱۳۰۴ ش کال د کابل موزیم ته راوړل شو) وايي چې د بودا دا کچکول په شپږ مې میلادي پېړۍ کښې هغه وخته چې شاه کیپین (کابل) ګندهاره ونیو کندهار ته یووړل شو.

دغه معبد ته نژدې سل فټه جګه د پیپل ونه ولاړه وه چې د هغه وخت د خلکو په عقیده بودا د هغې تر سیوري لاندې کښېنستلی و، او همدلته یې د بودایي دین روزونکي شهنشا، کنیشکه د زیږیدو پیشګویي کړې وه. همدارنګه کنیشکه، د دې مقدسې ونې جنوب ته یوه لویه ستوپه جوړه کړه چې د فاهیان په وینا د ۴۷۰ فټو په شاوخوا کښې لوړه، او په قیمتي جواهرو ښکلې شوې وه؛ چې اوس یې آثار د پېښور جنوب ته نیم میل لیرې د "شاه چې ډهیرۍ" په شپږ ګزه غولي کښې پیدا شوي دي؛ او ډاکټر سپونر پر ۱۹۰۹ کال د هغې ستوپې له کنډوالې څخه یوه فلزي انځور شوې سندوخچه کشف کړه، چې پر هغې د کنیشکه ولاړ تصویر کښلی شوی و، او په سندوخچه کښې د بودا مقدس آثار وو، چې دلارډ کرزن له خوا د برما بودایانو ته ورکړل شوه د هغې سندوخچې یوه مهمه لیکنه داسې ژباړل شوې ده:

"داګیسله Agisala خدمتګار مهاسینه په سنګهارامه کښې د کنیشکه د ویهاري د کار څارندوی" په هر صورت کنیشکه د افغانستان د کوشانیانو له سترو پاچهانو څخه دی (وګورئ ۳۱ مه نومره عکس). چې د

ده له راتلو سره په دې خاوره کښې د اداري یو مرکزي واك او د مدنیت او فکر پیدا کیده منځته راغله او څنګه چې دده شهنشاهي ۲۲ کاله ګنل شوې ده، نو څکه دده مړینه د ۱۵۱م په شاوخوا کښې اټکلیدای شي چې په دغه وخت کښې به دی د ختن په سیمو او د چین او سغد ترمنځ په غرو کښې مړوي.

د کنیشکه تر مړینې وروسته د ده هېواد د ده د زامنو تر منځ وویشل شو، او واسیشکه ـ Vasishka زوی یې چې د هند په ماتوره کښې نایب السطنه و دده پر ځای کښیناست، که څه هم دده کومه سکه لاس ته نه ده راغلې خو ماتوره ته نژدې په یوه ډبرلیك کښې چې د کنیشکه د سلطنت پر ۲۴ کال لیکلې شوې ده، او هم په دوو نورو لیکنو کښې چې دده د جلوس پر ۲۶ ـ ۲۹ کلو پورې اړه لري، دده د زوی نوم لیکل شوی دی او له دې څخه څرګندیږي چې دی د ۱۴۵ څخه تر ۱۶۰ پورې په هند کښې حکمران و، چې زوی یې هم د کنیشکه په نامه یادیده او ده ته یې دویم کنیشکه وایه، اباسیند ته نژدې د آرا په ډبرلیك کښې د ده نوم په څرګند ډول په خروشتي لیکدود" واجشکه پوتره کنیشکه" یعنې واسیشکه د کنیشکه زوی لیکل شوی دی.

همدارنګه کنیشکه یو بل زوی د هوویشکه Huvishka په نامه درلود چې د کنیشکه د جلوس د ۳۳ کال په شاوخوا کښې دده د شهنشاهۍ د ختیز ولایت حکمران و، خو د جلوس د ۴۰ کال په شاوخوا کښې (=۱۶۹م) د مهاراجه د یوه پوتره (خداوند زاده شهنشاه) په نامه یاد شو او څرګنده ده چې تر دې دمخه یې بشپړه خپلواکي نه درلوده، خو وروسته یې سکه وهلې ده او داسې معلومیږي چې ده په هند کښې او دده وراره دویم کنشکه په آریانه کښې پاچهي کړله، مګر د پاچهۍ په ۵۱ کال (د ۱۸۰ م شاوخوا) د

The Digital Library

هوویشکه نفوذ تر کابل پورې رسېده، هغه ډبرلیك کښې چې د وردګو په خوات کښې لاس ته راغلی دی، دی د مهاراجه (شهنشاه) په عنوان بلل شوی دی او له بګرامه هم د ده ډېرې سکې کشف شوې دي، په دې توګه د ده د هېواد ویش ختیځ خواته تر کشمیره او د هند تر ماتوره پورې رسېده، ده په ماتوره کښې یو شاندار معبد پخپل نامه ودان کړی و، پرسکو یې هم په یوناني لیکدود "شانن شا او ویشکی کوشان" یعنې شاهنشاه هویشکه کوشان لیکلی شوي، په کشمیر کښې یې د "هوشکه پوره" ښار ودان کړی دی، او د ده د مړینې کال یې د ۱۸۲ م شاوخوا کښې لیکلی دی.

د دغه کهاله بل شهزاده واسوشکه Vasushka دی چې په هندي آثارو کښې یې واسودیوه Vasu-Diva بللی دی، ده په هند کښې د ۱۸۲ م په شاوخوا کښې پاچهي کوله، خو آریانه ته یې نفوذ، نه و رارسیدلی، پرسکه یې په یوناني لیکدود د "شاناناشا ـ یاشانن شا ـ شهنشاه" عنوان شته، خو ترده وروسته مود دې کهاله بل پاچا نه دی پېژندلی.

د لویو کوشانیانو دوره د ۱۲۵ م په شاوخوا کښې د کنیشکه له جلوسه پیل او د ۲۵۰ م په شاوخوا کښې پر واسوشکه ختمیږي، چې په اټکلي ډول یوه پېړۍ او د پېړۍ څلورمه شي. په دې دوره کښې زموږ د هېواد ویدی او اوېستایي لرغوني فکري او فرهنګي مبادي د هخامنشي ـ یوناني ـ هندي او بودایي مدنیتو له آثارو سره ګډ شوې، او د شمالي توراني آریایانو د ساکانو وسیتی تهذیبی عناصر هم په کښې داخل شول او یو ډېر غښتلی افغاني فرهنګ یې منځ ته راوړ، چې د دین نمانځنې له مخې یې بشپړه آزادي درلوده، له سپېڅلي او رمز دیسنایی اتشکدو سره بودایي سټو یې ولاړې وې چې کنیشکه او زامن یې د بودایي دین ټینګ روزونکي او نمانځونکي وو، خو بیا هم د کوشانیو په ټول ارت هېواد کښې د نورو

ادیا نو معبدونه او نمانځونکي هم وو. لکه د بغلان د مهادژ په معبد کښې، چې د کشف شوي ډبرلیك له مخې د کنیشکه په وخت کښې جوړ شوی او بیا د ۱٦۰م په شاوخوا کښې یعنې د کنیشکه د جلوس د ۳۱ کال په پسرلي کښې یې ترمیم کړی دی د مقدس اوراو د زردشتي معبد آثار پیدا شوي دي او د هغه معبد ترمیم کوونکی نوکونزیکی نومېد چې د ماریګ Marig له کورنۍ څخه و چې د فرانسوي څېړونکي مریك په وینا دا فامیلی نوم د دوو وروڼو له نامه سره د وردګو د خوات په خروشتي ډبرلیك کښې هم راغلی دي، حال دا چې د بغلان د مهادژ په معبد کښې د اور نمانځنې آثار او د خوات په ډبرلیك کښې د بودایي دین نخښې ښکارندې دي او دا معبد د کنیشکه د جلوس پر ۵۱ کال د (۱۸۰م) شاوخوا ودان شوی دی، د دواړو ترمنځ یوازې شل کاله واټن شته دی.

په هغه عصر کښې د دیني عقایدو د آزادۍ بل مظهر دادی: په ټکسیلا کښې چې د بودایي تهذیب مرکز و، د اتشکدې د ودانۍ دیوالونه شته چې ۱۵۸ فټه اوږدوالی او ۸۵ فټه پلنوالی لري او د ستنو د جوړښت او معمارۍ سلیقه یې یوناني ده، دا ښکارنده ده چې د یونانو باختري د مدنیت تر خپرېدو وروسته جوړه شوې ده، پردې سربېره هلته اتشکده، بودایي معبدونه او برهمني بود تون هم و، چې البته د هر دین پیروانو په آزادۍ سره د خپل دین مناسك پر ځای کول.

د ژبې او لیکدود له مخې هم کوشاني فرهنګ ډېر غني و، چې په سکو او د معبدو په ډبرلیکونو کښې یې یوناني، برهمني او خروشتي لیکدود استعمالاوه او د بغلان د مهادژ په ډبرلیك کښې په پخوانۍ تخاري دري ژبه داسې مطالب لیکل شوي چې پښتو ته ډېر نژدې دي، خو په خروشتي لیکدود کښې یې سنسکریټ او پراکریتو ژبې هم استعمالولې،

om: The Digital Library

همدارنګه د هغه وخت په افغانستان کښې د برهمني لیك نخښې هم لیدل کېږي او هغه لیکدود چې د کوشانیانو په عصر کښې د یوناني الفبا له تغییره منځته راغلي ځینو څېړونکیو پوهانو هغه "یونانو کوشاني" لیك بللی، چې تر میلادي پېړۍ او د هیون تسنګ د راتګ تر مهاله پورې لاو، او له کینې خوا څخه ښی خواته لیکل کېده چې (۲۵) توري یې درلودل (وګورئ ۳۲ مه نومره عکس).

په هغو اسنادو کښې چې د بغلان د سره کوتل د کوشاني او کنیشکه (د ۱۳۰م د شاوخوا) د معبد له کیندنو څخه لاس ته راغلي داسې څرګندېږي چې کوشانیانو د دغه هېواد د افکارو، فرهنګ او صنعت په جوړښت کښې چې هغه ته د ګریکو بودیك تر دورې وروسته د "افغاني فرهنګ" یوه ټاکلی او ځانګړې دوره ویل کیدای شي، څرګندې کارنامې کړې، چې له هغې ډلې څخه د شاه نمانځنې ځانګړی قانون دی چې د بودایي او زردشتي (سپیڅلې اور) د افکارو د پایخوړ له عناصرو سره یې په خپلو معبدو کښې د پاچهانو مجسمې او بتان هم ایښي دي موږ د دغه آیین پایخوړ (بقایا) د اسلامي دورې په سر کښې د غزني او بامیان د دروازې په مزګت کښې ګورو چې د لویك د کهاله وروستنی پاچا د خپل لوی نیکه لویك مجسمه د بت ماتوونکیو مسلمانانو له وېرې د سپینو زرو په تابوت کښې ایښې او په هغه مزګت کښې چې پخوا د شاه پرستۍ خاص معبدو په څمکه کښې ښخه کړې ده. دا مطلب د غزني په تاریخ کښې راوړل شوی و.

فرانسوي موسیسو فوشه وایي چې: "کوشاني صنعت ددې دورې له ابتکارو څخه بلل کیدای شي، ځکه چې د دې دورې د سهوپو نوعیت د آشو-کا د زمانې له ودانیو څخه په ډېره آسانۍ بیلېږي او د آشو کاسهوپې د ایران د فلات لوړو ته نه دي راغلي، خو د کنیشکه او د ده د ځای ناستو کسانو

سهوپو په آسانۍ سره هند ته لار پیدا کړې ده، او ان د نوي پایتخت پوروشا-پوره (پیښور) د ختیځ په شاوخوا کښې د کوشان امپراتور خورا لوی بود تون ودان کړی دی."

د کتور هرمان ګویتز چې د هند په اړه د څېړنو الماني استاد دی د کوشاني دورې د هنر په اړه وایي:

"یوناني هنر د هندي هنر شکل ته تغییر ورکړ او د ګندهارا د آرټ مکتب ښه یې پیدا کړه، خو دغه هنر ته باید لړ د یوناني او بودایي طرز پراخوالی وویل شي، بلکې اصلاً د ایران ختیز خوا (آریانه) د طرز پراخوالی دی چې ورسره سم یې د جنوب ختیز ساکانو د قبیلو او کوشانیانو تر حکمرانۍ لاندې پراختیا موندلې ده، تر ۳ - ۴ پېړۍ پورې لکه د کشمیر د هروان په معبدو کښې چې لیدل کېږي بیخي خالص هنر پاتې شوی د دغو خلکو یرغل د یونان بلخ او هند دولتونه له منځه وړي دي، او داسې هنري منځته راوړې چې د ایران د فلات په ختیز پورې اړه لري او د لوېدیز ایران او هخامنشي له هنر څخه اخیستل شوی نه دی."

په دې ډول نور د افغانستان د کوشاني دورې مدنیت ددې خاورې یو خاص تمدن او په دغه هېواد کښې زیږېدلی فرهنګ دی چې د ودانۍ جوړولو، هیکل تورلو، مجسمه جوړولو، ژبې، سکې وهلو او کالیو اغوستلو د هنرو له مخې بیخي افغاني خصوصیت لري، د مثال په توګه، سره له دې چې د دغو پاچهانو پر سکو په یوناني، خروشتي او هندي ژبو او لیکدودو لیکنې شوي خو بیا هم د درې، تخاري ژبې کلمات چې د همدې اوسنۍ ژبې مور ده هم لیدل کېږي لکه شا (- شاه)، شاناناشا (- شهنشاه) او فر (- برم او عظمت) چې د پخوانۍ دري ژبې کلمات دي، د کوشاني مدنیت ډېر ښه ښکارندوی د بغلان د نوشاد د مهاډژ د مندر (معبد) کنډوالې دي، چې په

the Digital Library

سره کوتل کښې له ځمکې څخه راوتلي او د زردشت د مقدس اور د نمانځنې خورا لوی ځای و، هلته لیکنې، مجسمې، سکې او د پخوانیو ودانیو دوهې (اتشکاه) آثار کشف شوي دي.

په دغه لرغوني معبد کښې پر یوه ډبره د لیکل شوي مضمون درې نسخې لاس ته راغلې، چې اصلي او یقیني نسخه یې د معبد د پورتنیو کنډوالو له خاورو څخه را ویستل شوي، دا یوه هواره شاخه ده چې کینڼ اړخ یې ۱۲۷ سانتي متره، ښی اړخ یې ۱۱۰ - پورتنی اړخ یې ۱۳۲ - او لاندینی اړخ یې ۱۲۵ سانتي متره دی، پر هغې (۲۵) لیکې چې (۹۴۷) شکسته یوناني توري او (۱۶۰) کلمې لري لیکلی شوي دي (وګورئ ۳۳ مه نومره عکس).

د معبد په کښته پوړ کښې یې د یوې لوېې ځا کنده موندل شوې چې دیوالونه یې په منظم ډول په ډبرو راپورته شوی، د دیوال د دغو ډبرو تر منځ د مسطحو ډبرو ټوټې پیداشوي چې پر هرې ټوټې په همهغه شکسته یوناني لیکدود لیکنې وې، همدا چې د ډبرو دا ټوټې ځنګ تر ځنګ سره کښیښنوول شوې نو څرګنده شوه چې د دغو ټوټو لیکنې د ځینو کلمو په لږ املایي اختلاف همهغه د پورتنی شاخې مضمون و، د ډبرو دا ټوټې (۲۱) وې چې په مختلف سور او اوږدوالي د ډبرلیك دویمه نسخه ځنې جوړېږي، او(۲۷) لیکې لري، چې د لیك او املا د ښکلا له مخې دویمه درجه ګڼل کېږي، خو دریمه نسخه د ډبرو پر (۳۲) ټوټو په (۲۷) لیکو کښې لیکلې شوې چې لیکدود یې ډېر بې تناسبه او ناوړه دی، په املا کښې یې هم ځینې کلمات له هغو نورو دوو نسخو سره توپیر لري داچې دا (۵۳) لیك لرونکې د ډبرو ټوټې یې ولې د ځاپه دیوال کښې کارولې دي؟ د دې پوښتنې ځواب تر اوسه څرګند نه دی دا درې واړه نسخې د کابل په موزیم کښې شته، د

ډبرلیك له مضمون څخه څرګندېږي چې د بك لنګ (بغلان) اصلی بنسټ اېښوونکی کنیشکه و (د ۱۳۰ م شاوخوا) دغه نامتو او بریمن بګ شاد (لوی پاچا) د بغلان مالیز (مهاذږ او مندر) (معبد) ودان کړی و، چې هغه یې نوشاده هم باله، خو د کنیشکه تر مړینې وروسته (د ۱۵۱ شاوخوا) د دغه معبد اوبه وچې شوې، نو ځکه د مقدس اور نمانځونکي له دغه ځایه لاړل، او معبد یې پرېښوو، څو چې د کنشکه د عهد د ۳۱ کال د پسرلی د حمل (نیسان) پر میاشت (د ۱۶۰ م شاوخوا) هغه وخت چې شاه بغپور لویك بوسر د شبزو ګرګ اروابناد (مرحوم) زوی د کوشاني شهنشاهۍ تر اثر لاندې په دغه هېواد کښې حکومت کاوه، د هغه وخت یو سړی چې "نوکونزوك" نومېد او د خداوند او ایومن نوبخت (پاچااو د هغه د وزیر) په فرمان یې د ماریګ د کورنی د کنارنګی منصب لاره، د نوموړي نویك بوسر له خوا فریستار آب (د اوبو رسولو مامور) و، بګ لنګ ته راغئ، او د هغه نوشاد او مندر د بیرته ودانولو له پاره یې ځا وکینده او د هغه بنسټ یې په ډبرینو خښتو کښیښوو او په هغه پوړې یې یو ارت غولی هم ونښلاوه؛ چې تر اوبو پیدا کېدو وروسته، د نوشاد معبد بیا استوګن او ودان شو، او اور نمانځونکي هلته راغونډ شول.

د ډبرلیك په پای کښې څو تنو چې د هغه مندر په بېرته ودانولو کښې یې ونډه اخیستې وه لاسلیك کړی دی چې نومونه یې دادي:
بورزو مهر - کوز ګاشکي پور - نوکونزیکي، کنارنګ ماریګ، ایمن نوبخت، مهره من، بورزو مهر، پورا مهره من.

هغه ژبه چې په یوناني لیکدود ددې مهمې تاریخي ډبرې په لیکنه کښې کار ځنې اخیستل شوی دی بې له شکه د همدې اوسنی دري ژبې پخوانی شکل دی چې د ګډو توریو او ګډ ګرامر د استعمال له مخې له پښتو

: The Digital Library

سره خورا زیات نژدیوالی لري، د مثال په توګه: آب - فریستار آب(د اوبو ر سولو مامور)، شا (شاه)، بګ لنګ (بغلان)، بګ شا (لوی شاه)، مالیز (مهادژ) انند (په پښتو د بهره ور په مانا) سا (ثنا)، ناموبرګ (نامور) کرد (د کاف په زیر د کردن - کړنې له مصدر څخه د ودانولو په مانا) فروګرد (پوره کدر - پوره کړ - تمام کرد) تادي (په پښتو د تلوار په مانا) ستا د (د لومړۍ توری په سکون - ایستاد) ایر (د آتشګاه په مانا چې په وزیری پښتو کښې هم تر اوسه "ایر" د "اور" په مانا دی او ایرې خاکستر ته وایي) فري (فرا) خودي (خدای) بګ پوهر (فغفور) الو (په پښتو او دری کښې اروا) ایوګ او دوهیرس (- یودیرش)، نیسان (حمل) ما (ماه - میاشت) مال (په پښتو مهال د وخت په مانا دی) کند (د کندن - کیندل مطلقه ماضي) نوشال (نوشاد) فرومان (د لومړي توري په سکون - فرمان).

د فرانسي هیئت کیندونکي پوهان وایې: دا لوی او له برمه ډک معبد په وروستیو زمانو کښې د خورا مدهش اور لګیدو له امله نړیدلی دی، لکه چې د ودانۍ په مرکزي شبستان، کوشکنو او برنډه کښې د ایرو پنډې طبقې شته او هم د نوشاد په دوارو اصلي او فرعي اتشکدو کښې د اور لګیدلو نخښې لیدلې کېږي، ښایي دا اور د (۲۴۰ م) په شاوخوا کښې د ساساني لومړي شاپور د فتوحاتو په وختو کښې په قصدي او عمدي توګه لګېدلی وي.

د نوموړي ډبرلیك له کتنې او څېړنې څخه دې نتیجې ته رسېږو چې په لومړۍ او دویمه میلادي پیړۍ کښې دري ژبه په همغه لرغوني شکل په تخارستان او کوشاني دربار کښې د لیکنو او دفتر ژبه وه، حال داچې په همدغو وختو کښې په لوېدیز او شمالي ایران کښې په پهلوي ژبه خبرې کېدې او دیني او درباري ژبه وه، پر یوه مهال په دوو ختیزو او لوېدیزو

دربارو کښې د دوو ژبو له دغه نژدیوالي څخه پوهېږو چې دري ژبه له پهلوي ژبې څخه زیږېدلی نه ده او له لوېدیځه ختیځ ته نه ده راغلې، بلکې د افغانستان وطني ژبه او له پښتو سره یې ریښه یوه او نژدې ده.

څنګه چې د یوې ژبې د پیدایښت مرحلې په آني او ارتجالي توګه نه دي نو باید وویل شي چې پخوانۍ دري ژبه د ساکانو او کوشانیانو تر مهاجرت دمخه هم په تخارستان کښې وه، خو د یونانیانو له تسلط سره یوناني ژبه پر دمخه شوه او د سکندر د اخلافو د دربار، دفتر او سکې ژبه وه، هغه وخت شمالي آریایي نژاده قبیلې تر آمو سینده راپورې وتې او په تخارستان او باختر کښې مېشتې شوې او بیا یې توله آریانه تر لاس لاندې کړه، دغه وخت به نودري ژبه د دربار او لیکنې ژبه ګرځېدلې وي، چې همدا ډبرلیك د هغې رسمي ځای ا و شهرت ثابتوي.

The Digital Library

د کوشانیانو پایڅوړ اود هپتالیانو منځته راتلګ

تر کنیشکه پاتې کسانو د ۲۲۵م کال تر شاوخوا پورې حکومت وکړ، بودایي دین هم په دې دوو پېړیو کښې بیخي دود شو او مخ پر خپرېدو و. خو د دغه دین منفي او فنايي روحيي د کوشانیانو له عسکري تابه او هغه قوت سره جوړښت ونه کړ چې د لښکرو پر متو او فتوحاتو یې تکیه درلوده، او همدا روحیه د ساساني قواو په مقابل کښې د کوشانیانو د ماتې سبب شوه، ځکه نو خلك له دغه دین څخه واوښتل او بیرته خپل برهمني دین ته وګرځېدل، ان د "اګني پورانه" په وینا هندو مفکرانو د کوشانیانو له پاره بودایي دین منل د هغو د پاچهۍ د زوال لامل بلللی و.

پر ۲۲٦م کال اردشیر بابکان د ساسان لمسی په پارس کښې یو ډېر غښتلی سلطنت جوړ کړ، د ده تر مړینې وروسته یې زوی شاپور پر (۲۴۰م) کال پر ځای کښیناست، داسې معلومېږی چې د ساساني سلطنت ویش تر پېښوره رسېدلی او دا ښار اردشیر د (۲۳۰م) په شاوخوا کښې نیولی و.

د شاپور په ډبرلیك کښې چې د (۲٦۰-۲۷۳م) تر منځ د پارس په نقش رستم کښې کېنل شوې ده د پشکی باوره (پېښور) ښار د ساساني پاچهۍ ختیز وېش بلل شوی او هم د ابګان ABGAN کلمه یاده شوې چې بې له همدغه اوسني "افغان" څخه به بل څه نه وي. ځنګه چې دواسو د یوه د ۲۲٦م کال ډبرلیك هم لاس ته راغلی او دا د هغه پر برهمنیتابه والي دلالت

کوي. نو څرګنده ده چې د کوشانیانو پایڅوړ (بقایا) بېرته برهمني دین ته اوښتي وو، په همدغو وختو کښې ساساني نفوذ تر پېښوره رسېدلی و، چې د دوی په تعبیر هغه وخت یې د افغانستان هغو سیمو ته چې تر ساساني نفوذ لاندې وې "کوشان شهر" وایه او د (۲٦۵ م) په شاوخوا کښې دغه ساساني حکومت تر هغه وخته دوام درلود چې سپینو هونانو له تخارستانه خپل فتوحات د هندوکوش جنوب ته تر زابل، سند او کشمیره خپاره کړل.

مګر هغو شهزادګانو چې د کوشاني نسل پایڅوړ ته منسوب وو، داو سو دیوه (۱۴۵ ـ ۱۷٦م) تر عصر وروسته د آریانه په لرې غرو او رغو کښې حکمراني کوله، چې ځینو د اسلامي دورې تر دریو سوو کلو پورې هم په دغه هېواد کښې خپل موجودیت ساتلی و، له دوی څخه یوه خپله لور دویم ساساني هرمزدته (۳۰۱ ـ ۳۰۹م) واده کړې وه، له هندي منابعو سره سم، د یوه پوتره، شاهانو خورا ښکلي کوشاني شاهي، سوغاتونه د هند سمودره ګوپتاته استولی وو (د ۳۲۵ م شاوخوا) د کوشاني پایڅوړ له دغو شهزادګانو څخه یو چې کیداره Kidara نومېد د څلورمې میلادي پېړۍ په منځ کښې پر ګندهاره تر کشمیره حکومت کاوه (وګورئ ۳۴ نومره عکس)، چې په همدغه نامه څو نور کسان هم پېژندل شوي دي د چیني سرچینو په اساس د هغوی پایتخت هم پېښور و، دوی په چیني نامه" کی ـ تو ـ لو" بلل کېدل، او د ژوان له قبیلو سره یې جګړه درلوده او له باختره وتلی په کابل او ګندهاره کښې یې یو سلطنت جوړ کړی و د دوی په وختو کښې دښیښې جوړولو صنعت د آریانه سوداګرو په واسطه په چین کښې وده کړې وه.

د کیداره له سکو څخه داسې څرګندېږي چې په لومړ ی سر کښې تر ساساني اغېزې لاندې و خو وروسته خپلواك شوی دی، د دې سلسلې دویم پاچا "پیرو" نومېد چې د "کیداره" زوی و او د ساساني واکمنۍ تر اغېزې لاندې یې سکه وهله، د ده سکې په برهمي او پهلوي دوارو خطوشته،

The Digital Library

له دې څخه معلومېږي چې په همدغو وختو کښې د ساساني مدنیت نفوذ خپور شوی او د ساساني وخت پهلوی لیك دود و.

الماني څېړونکي مار کوارټ درومن د یوه منصبدار په حواله وایي ساساني دویم شاپور د (۳۵۰م) او (۳۵۸م) تر منځ له خیونیانو او کوشانیانو سره چې په کابل، زابل، تخار او باختر کښې اوسېدل، جګړې کړې دي، د دې قبیلو مشرګرومیاتس Grumbates و، چې شاپور پر (۳۵۸م) ورسره روغه وکړه، دې قبیلو درومنیانو په جګړه کښې له شاپور سره مرسته کوله او داسې اټکل کېدای شي چې د ۳۵٦م په شاوخوا کښې کابل د شاپور لاس ته ورغلی و، ځکه چې پر همدغه کال د کابل قاضي القضاة "سلوك" په تخت جمشید کښې یوه ډبرلیك لیکلې او په هغې کښې دعا کوي چې شاپور دی کابل ته روغ رمټ راوګرځي. له دې څخه څرګندېږي چې په دغه کال ساساني شاپور له کیداریانو سره د ګندهاره په ولایت کې جنګ کاوه، ښکاري چې دا سیمه یې تر (۳۵٦م) پخوا نیولې وه، کیداره په ګندهاره کښې سکه وهلې ده، چې د کنیشکه د عهد پر ۲۳۹ کال د ۳٦۷م په شاوخوا کښې وه.

د کیداریانو نفوذ تر تالقانه او د مسرو روډ تر ناوې پورې رسېدلی و، چې په دغه ځای کښې یې د بهرام له زوی دویم یزد ګرد سره (۴۳۹ ـ ۴۵۷م) چې ساسانی پاچا و، جګړه وکړه او پرشا یې وشاړه، پاچا د خپل ژوند تر پایه په همدغه جګړه کښې اخته پاته شو، تر ده وروسته یې زوی پیروز (۴۵۹ ـ ۴۸۴) زیار ویوست چې کیداریان د ځان تابع کړي، خو دوی ورته تېنګ شول، پر دغه مهال پاچهي کنګ خاس kungkhas د کیداره زوی ته رسېدلې وه، چې ساساني پاچا د خپلې خور په ورکړې سره هغه ته د روغې وړاندیز وکړ، خو بریالی نه شو کنګخاس هم ګندهاره ته راوګرځېد. د کیداریانو پایتخت په لومړي سر کښې کاپیسا و، چې بیا وروسته د نورو قبیلو د فشار په اغېزه پېښور ته یووړل شو، د دوی د سپینو زرو او مسو

سکې لاس ته راغلي دي چې د کیداره پر خول نوې میاشت لیدل کېږي، ږیره نه لري، غوږوالۍ یې پر غوږ دي، په برهمي لیکدود وربانديې "کیداره کوشان شاه" لیکلي دي او د سکې پر بل مخ یې یو اورتون له دوو ساتندویو سره چې د هر یوه توره په لاس کښې ده ښکارېږي.

بل کیداري پاچا چې (د۳۷۵م شاوخوا) شاوخوا په پېښور کښې د پاچهۍ، پر تخت کښیناست همهغه "پیرو" دی چې د ده پر سکه نیم تنه تصویر او د پاچهۍ د نخښې فیته له دوو ښکرو سره چې ښۍ او کیڼې خواته کاږه دي لیدل کېږي، کوچنې بریتونه لري او د ږیرې پر وېښتانو یې مرغلرې ځړېږي، غاړه کۍ او غوږوالۍ لري او پر اوږو یې دوپټه هم شته او په برهمي لیکدود وربانديې "پیروشا" لیکل شوي دي.

د سکې پر شا یو اورتون له دوو توره لرونکیو ساتندو یو سره لیدل کېږي. د کیداریانو له ټولو کشف شویو سکو څخه څرګندېږي چې دوی بودایان نه، بلکه اور نمانځوني وو.

د "پیروشاه" له کلماتو څخه ښکاري چې د دوی ژبه همهغه د بغلان له معبد څخه د کشف شوي ډبرلیك پخوانۍ دري ژبه وه.

(وګورئ ۳۵ مه نومره عکس)

تر پیروشاه وروسته بل کیداري پاچا ورهران Varahran (بهرام) هم حکومت کړی چې سکې یې کټ مټ د پیرو شاه سکوته ورته، او قوي احتمال دادی چې د بامیان شیران او غرجستان شاران چې تر اسلامي عصره پورې یې د افغانستان په زړه کښې حکومت کړی د همدغه کیداري کهاله پایځوړ وي ـ ناصر خسرو قبادیاني هم د غزنویانو په عصر کښې ویلي وو.

استاده بد به بامیان شیری بنشسته بعز دربشین شاری

هپتاليان

د پينځمې ميلادي پيړۍ په پيل کښې د کوشانيانو او کيداريانو پايځوړ خپل ځواك د دوو لويو امپراتور يو تر منځ چې ختيځ ته يې د هندي ګوپتايانو امپراتوري او لوېديځ ته يې د پارس د ساسانيانو شهنشاهي وه - بايلود، خو د خپلې ازادۍ او ملي موقعيت ساتنې له پاره يې د دغو دواړو لويو قوتو تر منځ خپل شتوالي ساته.

د ۴۲۵ م كال په شاوخوا كښې د آريايي نژاد سپين رنګې قبيلې چې چينيانو "يې - تې - لې - دو" يونانيانو او روميانو افتهاليت Ephthalites يا خيونيت Chionites، پارسيانو خيون يا هون Hion يا Hun، په پهلوي، عربي او دري ژبو يې هيتال، هيطل، هيفتال يا هياطله او د سنسكريټ په هندي سرچينو كښې يې شوته هونه (سپين هونان) بللي دي، د منځنۍ آسياله ځمكو د هندوكوش شمالي سيمو تخارا او باختر ته د آمو تر سيند راپورې وتې، چې چينيان دوی له هونان هيونګ - نو څخه بيخي جلا بولي او هم بيزانسی مورخ پرو ګوپيوس يې چې د هپتاليانو همهالی دی پر (۵٦۲م مړ)، دوی په دې سبب له ژېړ پوستو وحشيانو څخه بېل بولي، چې د دوی بڼه سپينه او هم تر هغوی مهذب وو، آن د چيني مؤرخانو په وينا د دوی ژبه هم مغولي يا تركي نه وه او ښايي چې د تركي او آريا نه له لهجو څخه يوه ګډه ژبه وي چې د خان - هون نوم يې له همدې ګډون څخه اخيستی دی او

اصلاً همهغه يو - چې ده.

دغو هپتالي خلكو پر ۳٦۰م كال له شماله د جنوب خوا ته تګ پيل كړی او ځنګه چې كوشاني كيداريان د دوی د يرغل په ګوابښ پوه شول، نو له ساسانيانو څخه يې مرسته وغوښته، خو ورته ټينګ نه شول. لكه چې ووېل شول د ګندهاره سيمو ته پر شاشول - خو هپتاليانو چې نوم يې د بدخشان په يفتل او د غزنی د جغتو په هفتاله كښې تر اوسه پاتې دی تر ۴۲۵م كال پورې ټول باختر ونيو او له دغه ځايه يې لوېديځ خوا ساساني دولت ته ګوابښ پيښ كړ، د جنوب ختيځ پلوته يې د كابل، ګندهاره او زابل سيمې ونيولې او د افغانستان غښتلی هپتالي دولت يې جوړ كړ.

هپتاليان هم لكه كوشانيان، كيداريان او ساكيان د دغه هېواد له نورو آريايي نژادو وګړيو او پښتنو سره ګډ شول دوی چې په خپله هم سپين نژادي آريايان، اريايي ژبي او د آريايي فرهنګ خاوندان وو، نو په افغانستان كښې يې يو غښتلي او واكمن نژاد منځته راوست، چې د دوی د پاچهانو جګې پوزې او بڼې كټ مټ د پښتنو قبيلو زلميانو ته ورته وې. د دغه نامه ريښې په تاريخ كښې په لاندې ډولو په بېلابېلو ژبو كښې پاتې دي، چې په دغه ډول اوښتي دي:



The Digital Library

او مور ګورو چې دا نوم د اودال Odal په شکل د ۱۹ مې پېړۍ تر لومړیو پورې د تورپوښو (اوسنی نورستان) په قبایلو کښې تر اوسه شته، دا خلك تر هغه وخته چې په خپل پخواني دین وو او مسلمان شوي نه وو، تر دوی د لاندې ناوونو ټولو خلکو ته اودال ویل. دغه ټکی میسن انګریز چې د امیر دوست محمد خان د پاچاهۍ پر مهال په کابل کې و، د سیاه پوش کافرانو (نورستانیانو) نه اورېدلی و او د خپل سیاحت په یادښتونو کښې یې لیکلی و.

یفتلیان په ټول افغانستان کښې له مروې تر کشمیره خپاره شول او دلته یې ډېر ځواك وموند.

د هپتالي لښکرو لومړۍ جګړه پر ۴۲۷ م د پارس له ساساني پاچا بهرام ګور سره وه. هپتالي خاقان له خپل دوه سوه پنځوس زریز لښکر سره د مرغاب او مرو رود په سیمو کښې له هغه سره وجنګېد چې په دې جګړه کښې مات او ووژل شو. بهرام ګور د هغه مرصع او زرین خول د آذر بایجان اورتون ته ډالۍ کئ او خپل ورور نرسي یې د لوېدیزې آریانه د سیمې نایب السلطنه وټاکه.

پر ۴۳۸ کال د بهرام ګور زوی دویم یزد ګرد پر ساساني تخت کښېناست، دی څو ځل له هغو هپتالیانو سره چې د ګرګان د شمال په چول او په تالقان کښې اوسېدل ونښت، خو په پای کښې یې ماته وکړه او پر ۴۵۷م کال مړشو، ترده وروسته چې لومړی فیروز (۴۵۷ ـ ۴۸۴م) پاچا شو، د هیاطله مشرتوب هغه پاچا ته رسېدلی و چې اخشونوار (خشنواز) یا اخشوان نومېد، دا وروستۍ کلمه په تخاري ډېرلیکونو او سندي متنو کښې د پاچا په مانا ده. هپتالي (یفتلي) او ساساني دولتونه د خراسان په شمال کښې سره ونښتل چې په نتیجه کښې پیروز مات او د تالقان سیمه یې دوی

ته پرېښووه، له اخشوان سره یې تړون وکئ چې د پارس دولت به تر دغه ویش تېری نه کوي، تر دوو کالو پورې به پارس هپتالیانو ته خورا زیات کلنګ(خراج) ورکوي او دپارس دید شاه زوی کواذ (قباد) به هم د یرغمل په توګه ورکړي.

خو پیروز د دغه تړون پر خلاف تر څه مودې وروسته پر هپتالیانو یرغل وکړ "په نوموړې حرکت کښې سپهبد بهرام ورسره موافق نه و، همدا وه چې د پارس سپایان د خراسان د شمال په بیابانو کښې تباه شول، او په خپله پیروز هم ووژل شو (۴۸۴م) لور یې د اخشوان لاس ته ورغله چې هغه یې ماندینه کړه؛ د هپتالیانوا کمني له مرو روده تر هراته خپره شوه او ساساني دولت یې باج ته غاړه کښېښووه.

په دې توګه اخشوان وکړای شول چې د آریا نه خاوري یووالی د هریرود له مجرا څخه د کابل او هلمند تر ناوو پورې ټینګ کړي او داسې یو غښتلی دولت منځته راولي، چې د پارس ساسانیانو یې خراج ته غاړه اینښې وي.

هغه مهال چې د هپتالیانو پاچهي په ټوله آریانه کښې ټینګه شوه، د دوی قبیلې په زابل کښې سره یوځای شوې، نو د زابلي پاچهانو په ډبرلیکونو کښې هپتالیانو، ځانته جابوله Jabula یا جیووله Jauvla یعنې زابلي ویلي دي.

د پیروز تر وژلو وروسته یې ورور ولاش (بلاش) پاچا شو، خو تر څلورو کالو وروسته د ده د وزیر "زرمهر" په زیار د پاچهۍ له تخته راپرېووت او ړوند کړی شو. پر ۴۸۸ م کال کواذ (قباد) د پیروز زوی چې د شهزادګۍ په دوره کښې له هپتالیانو سره یرغمل پاتې و، او له دوی سره یې دوستانه اړیکي لرل د ساسانیانو پر تخت کښېناست او د ایران دولت هپتالي

The Digital Library

دولت ته خراج ورکاوه، لکه چې دولاش، کواذ او لومړي خسرو پر کشف شو طلايي سکو باندې په کوشاني هپتالي ليکدود ليکنې شته، نو د مارکوارټ په وينا (په ايران شهر ٦٢ کښې) دا سکې يوازې هپتاليانو ته د خراج ورکولو له پاره وهل کيدې.

د هپتاليانو اړيکي له کواذ سره دوستانه وو او آن هغه پېغله چې د هپتالي اخشوان له ملا او د پيروز د لور له نسه وه د کواذ مانديه شوه، همدا چې د کواذ پاچهي د دښمنو له خوا وګواښېده، دی يې د مزدکي دين د منلو له کبله بهواکه کړ او پر ځای يې ورور زمياسپ په پاچهۍ ومانه، نو کواذ د افغانستان هپتالي دولت ته پناه راوړه، او پر ۴۹۹ م کال د هپتالي لښکر په مرسته بيرته د پارس پر تخت کښيناست.

لوی هپتالی اخشوان تر ۴٦۰م وروسته د خپلې پاچهۍ په نيمې پېړۍ کښې چې (۴۰) ايالته يې لرل او د پارس له ځمکو څخه نيولې تر ختن، چين او هند پورې خپره وه، لوېديځ خواته يې د ساسانيانو غښتلي پاچهي تر لاس لاندې کړه او ختيځ پلوته يې د هند ګوپتايان پر سر ټکولي وو، ساساني پاچهان بلاش، کواذ او نور يې د ځان تابع کړي او خراج يې ځنې اخيست. تر اخشوان وروسته هپتالی مشهور پاچا توره منه Turamana نومېد (توره من په پښتو د تورې او من د کلمو څخه جوړ شوی چې تورهٔ د شمشير په مانا او من د فاعليت توری دی - تورمن يعنی شمشيري) چې د هند نيولو هڅه يې وکړه؛ د هند ګوپتا دولت يې ورېړداوه او خپل هندی پايتخت يې په سکله Sakala (د پنجاب په اوسني سيالکوټ) کښې وټاکه.

په هند کښې دوو ډبرليکونه د دغه هپتالي (زاولي) توره من نوم ياد کړی، يو يې په سکهر او بل يې په کور کښې، چې "مهاراجه توره منه ساه جاوله" يعنې: "توره من شاه زاولي پاچا" يې بللی دی. له دغه ډبرليك څخه

څرګندېږي چې د (۵۰۰م) پر شاوخوا د توره من د پاچهۍ په لومړيو کلو کښې د ده واکمني پر هند خپره شوې ده.

د توره من مړينه د ۵۲۰ م په شاو خوا کښې اټکل شوې چې تر ده وروسته يې زوی ميهيره کوله Mihirakula د زابلي هپتاليانو د شهنشاهۍ پر تخت کښيناست او د ده د پاچهی په پېنځلسم کال (د ۵۱۷ م په شاوخوا کښې) د ده نوم د هند د ګواليا په ډبرليك کښې ياد شوی دی، ده خپل فتوحات د هند تر منځه رسولي او نوم يې سوچه پښتو دی: مير (لمر) - کول - (کهول) کورنۍ يعنې د لمر له کهاله، چې د بدخشان په يوه ليکلې دري تذکره کښې يې نوم په دري مهر پور ترجمه شوی دی، ده د هند سيمه ييز شهزادګان او د ګوپتا کورنۍ پايخوړ د ځان تابع او باج يې ځنې اخيست او کشمير يې هم ونيو. دی هغه پاچا دی چې د کاسماس Cosmas په کتاب کښې (د ۵۴۷ شاوخوا) د ګولاس Golloss په نامه ياد شو دی چې لښکرو يې له دوو زرو جګړنو پيلانو سره پر هند يرغل کړی او بلخ، باميان او باد غيس يې پوځي مرکزونه وو.

د ميهيره کوله پاچهي د (۵۴۲ م) تر شا وخوا پورې له ويرجنو جګړو او وينو بهېدو سره دوام درلود، د هندي او چيني بودايانو او د بيزانتي راهب په آثارو کښې چې هغه مهال يې شمالی هند ليدلي و، ده، د دهشت او وينو بهولو يادونه شوې، تر دې چې د هند شهزادګانو لکه بهانه ګوپتا د بنګال له سيمه يز امير "د ګو په راجه" او نورو اميرانو سره لاس يو او پر (۵۱۰م) کال يې په يوه سخته جګړه کښې "ميهيره کوله" مات کړ او د کشمير خواته يې وشاړه تر هغه وروسته د ۵۲۸م په شاوخوا کښې د مرکزي هند راجه "واسو د هارمن" د نورو راجګانو په ملاتړ هپتالی لښکر له هنده

وویست "مهیره کوله" د(۵۴۲) کال یاد (۵۵۰) کال پر شاوخوا مړ شو خو نکلونه یې تر ډېرې زمانې پورې په کشمیر کښې پاتې وو.

په پېښور موزیم کښې درې هپتالي ډبرلیکونه شته چې د وزیرستان په توچي کښې میندل شوي، پر دغه ډبرلیکونو په یوناني او منګولي لیک دود لیک شوي، خو تر اوسه نه دي لوستل شوي.

د پېښور موزیم ۴۱ مه نومره ډبرلیك سربېره پر یوناني او منګولي لیك، په کوفي لیك د الله او محمد کلمې هم لري؛ همدارنګه دوه هپتالي ډبرلیکونه د کندهار د شمال د روزګان په شالي دره کښې په لویو لویو ډبرو لیدل کېږي چې په یوه ډبره په یوناني لیك د "بګوس شاه زاول مهرزي" یعنې "زاول مهرزی لوی پاچا" لیکل شوی دی، دا پاچا هم باید همدا میهیره کوله = مهرزی = مهرپور وګڼو، د ډبرلیك الفاظ دري او پښتو ریښې لري.

د میهیره تر مړینې وروسته هپتالي دولت کمزوری شو او د "خسروانو - شېروان" (۵۳۱ - ۵۷۹م) پر مهال ساساني لښکرو له لوېدیځ خوا او ترکي قبیلو له شمال پلوه پر هپتالیانو یرغل وکړ او په هغه جګړه کښې چې دغو ملګریو ځواکو په سغد کښې له هپتالیانو سره وکړه پر ۵۶۸م کال یې دوی له پښو وغورځول. فردوسي هم په شاهنامه کښې د هپتال د ماتې یادونه کړې چې موخه یې همدا هپتالیان دي. دا مهال هپتالي دولت رسماً له منځه لاړ او په افغانستان کښې د کوشاني، هپتالي او ترکي کورنیو سیمه ییز امارتونه تراسلامي دور پورې پاتې شول، چې وروسته په وښوول شي.

د هپتالیانو د ژبې او فرهنګ آثار په افغاني ژبو (پښتو-دري) او نورو کښې پاتې دي چې یوه نښه یې د {"خان"} لقب تر اوسه پورې د هر افغان له نامه سره تړلی ښکاري. په هند کښې هم هر افغان په دغه نامه

The Digital Library

یادېږي او تور خان او مهر ګل هم په پښتو کښې ډېر مروج نومونه دي. همدارنګه د اولس (ملت)، جرګه (د شورا مجلس)، یرغل (ایلغار) لغتونه په پښتو او دري کښې او د سهاك (ساکه)، خلجي (غلجي) او ابدالي (هپتالي)، کشاني (کوشاني) او میروس (مهرویسه = مهرد کوله - د لمر له کهاله) او نور نومونه په افغانستان کښې د ساکیانو، کوشانیانانو او هپتالیانو له مهاله را پاتې دي.

داسې ښکاري چې هپتالیان بودایان نه وو او د خپلو فتوحاتو په وخت کښې یې ډېر بودایي معبدونه وران کړل او د هغه دین پیروان یې ووژل.

هغه وخت چې هیون تسنګ پر ۹هـ کال افغانستان ته راغی، د ګندهاره په ولایت کښې یې ډېر خلك او شهزادګان ولیدل چې د خپلو معبدو په ترمیم اخته وو، چې دا بودایي معبدونه د ده تر راتګ دمخه وران شوي وو، همدا چې پر (۵۲۰م) سانګ - یون چیني ګرځندوی ماوراء النهرته ورسېد، هلته یې ولیدل چې هپتالي پاچا د کراستي تر کېږدۍ لاندې د سرو زرو پر تخت ناست او له خپلو ځلوېښتو هېوادو راوړلی شوي سوغاتونه یې منل، د هندوکوش په جنوب کښې د بودا د دین دښمن او ورانوونکی همدا "مهره کوله" و.

د هپتالیانو پر سکو چې له هډې - کابل غوربند او نورو ځایو څخه موندل شوي د دوی د پاچهانو څېرې له جګوپوزو، غاړګیو او د مرغلرو د غوړوالیو او تاجو سره ښکاري چې د کوچیانو بڼو ته ورته دي او هم یوناني، پهلوي، سنسکریټ لیکنې وربانديې شته، د سکې پر بل مخ د اورتون شکل له دوو غشیو لرونکیو ساتندویانو سره لیدل کېږي، له دې څخه په خپله ځرګندېږي چې دوی اتشکدې او رڼاته درناوی درلود، او څنګه چې ددغه مهال د سوریا (لمر) د معابدو آثار د خیر خانې په کوتل کښې هم موندل

The Digital Library

شوي دي او د زور (سور) او زون لوی معبد د هلمند ها خواته په زمینداو رکښې د اسلامي فتوحاتو تر عصره پورې هم و، نو ویل کېدای شي چې هپتالیانو د اور او لمر رڼا نمانځله او بودایت یې له منځه وړی.

(وګورئ ۱۱ مه نومره عکس)

افغانستان د اسلام د پیدایښت په وخت کښې

د میلادي اوومې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کښې چې د اسلام لمر د بطحا له څنډې څخه راخوت، د افغانستان هېواد د محلي حکمرانانو تر اداري او د ختیز او لوېدیز ادیانو تر اغېزې لاندې و. د هېواد لوېدیزه سیمه سیستان، هرات او د هغه شاوخوا د ساسانیانو د دورې تر سیاسي، ادبي او دیني نفوذ لاندې وه، چې ژبه یې پهلوي او دین یې زردشتي و. خو په منځنۍ غربیزه سیمه، زابلستان او د کابل سیند د ناوې په ګندهارا، دارغنداو او ترنك په ناوو کښې د هندوکوش د غرو تر لمنو، د هغه شمال ته او د سند تر غاړو پورې د کوشانیانو او یفتلیانو د پایڅوړ د داخلي حکمرانانو کورنیو او د دغه هېواد نورو خلکو حکومت کاوه، چې بودایي او برهمني دینونه یې لرل، د دوی ثقافت، دین او ائین ښخي محلي بڼه موندلې وه، داسې ښکاري چې د میلادي پېړیو له پیله په دغه هېواد کښې د عقیدې او نمانځنې خپلواکي وه، هرې خواته د راز راز دیانتو معبدونه ودان وو، او په میلادي لومړنیو پېنځو پېړیو کښې د ګریکو بودیك صنعت، مدنیت، ګډ تمدن او ادیان د خپل تقاطع او نښتون په ځای کښې یعنې د ټکسیلا او د هلمند د ناوې د سیمو تر منځ او شمالاً تر بلخ او تخارستان پورې موجود وو، د

The Digital Library

افغانستان خلکو د دغه ګډ مدنیت په موندلو کښې لاس درلود، تر اوومې پېړۍ او د اسلام د دین تر راتلو پورې په هېواد کښې بودایي - زردشتي - لمر پرستي - شیوایي - مسیحي - نسطوري دیانتو او د ځینو ارباب انو اعواو محلي معبودانو نمانځلو دود لاره.

د هغه مهال لیکدودونه خر و شتهي - پهلوی - سره دا ناګري سنسکریت، یوناني منګولي وو، چې د دغه هر یوه لیکدود نخښې له ځمکې څخه موندل شوې دي.

د همدغه عصر له ژبو څخه دری (تخاري) پښتو، پهلوی او پراکریت ژبې وې چې د هغوی د تاریخي روایاتو او آثارو د کتنې له مخې یې په افغانسان کښې څرك موندلای شو.

چیني او بودایي ګرځندوی هیون تسنګ چې پر ۹هـ کال افغانستان ته راغلی و، د دغه هېواد د ختیز او شمالي سیمو د خلکو ټولنیز سیاسي او فکري اوضاع په تفصیل سره لیکې، او وایي: په دې سیمو کښې د بودایي لوی او کوچني مذهب دواړو پیروان خورا ډېر وو او په زیاتو ښارو کښې د دغو دواړو مذهبو معبدونه ودان وو، هرې سیمې یو حکمران درلود، چې د مرکزیت د نشتوالي له امله او د ملوك الطوایفی د اغېزې له کبله ددې سیمو ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او فکري اوضاع دومره ښه نه وه، اوپه دیني چارو کښې او هام او خرافات ګډ شوي وو.

هیون تسنګ د پېښور، هډې، لغمان، کاپیسا، بامیان، غزني، بلخ او د هندوکوش د نورو شمالي ښارو د بودایي معبدونو په تفصیل سره نوم اخلي او چې پر ۲۴ هـ کال چې له هنده بېرته را ګرځېد د کاپیسا د جنوب په ۲۳ میلۍ کښې یې د ارونا په غره کښې د اسماني روح (سونا) معبد لیدلی او وایي چې دا معبد د زابلستان سونا ګیر ته ورل شوی و او دا همغه د

زمینداور د زرو (زون) غره بودتون (پرستشګاه) وه، چې د البلاذري په وینا پر ۳۰ هـ کال د اسلامي فاتح عبدالرحمن بن سمره له خوا تسخیر او د سرو زرو یاقوت سترګې بت یې مات کړی شو.

د دې دورې بل مشهور بودتون د کابل شاهي بهار بودتون و، چې هیون تسنګ د کابل د شمال د یو څو شاهي معبدو یادونه کړې ده او د کابلستان یو لوی بودتون غالباً د هندوکوش د اوسني شبېر په شاوخوا کښې و (شبېر هم د شابهار لنډیځ دی) چې عرب مورخ یعقوبي هغه د غوربند او د بامیان د سرخ بد (سارخود) په سلسله کښې یاد کړی او وایي چې پر ۱۷۶هـ کال د فضل بن یحیی برمکي له خوا تسخیر او بت یې وسیزل شو.

د دې دورې د معلوماتو مهمه سرچینه د چیني بودایي زایرانو لیکنې دي چې د بودایي بودتونو (معابدو) د زیارت له پاره راتلل، او له هغې جملې څخه پر ۳۹۹ م کال شي فاهیان، پر ۵۱۷ - ۵۱۸م سونګ ین، (له ۶۲۹ څخه تر ۶۴۵ هیون تسنګ پر ٦٦٠م وانك هیون - تسو - سفیر، پر ٦٦۴م هیون تچاو او پر ۷۵۱ م وو کنګ د افغانسان ځمکه لیدلې ده او ښه معلومات یې را ټول کړي او لیکلي دي.

هیون تسنګ چې د هجري لومړنی پېړۍ په لومړۍ نیمایي کښې د افغانستان د ښارو اوضاع په ځیر او بصیرت سره لیکلې، په هر ولایت کښې یې له ملوك طوایف څخه د یوه پاچا اود کشتریانو له طبقې څخه یو لښکر ښوولی دی، تر هغه وروسته د عربو مورخان او جغرافیا لیکونکي هم وایي چې په هره سیمه کښې په بیل نامه حکمرانان وو، چې له هغې جملې څخه: سجستان شاه، مروشاه - قفص شاه، مکران شاه - کابلان شاه - قیقان شاه - داوران شاه - قشمیران شاه نخشبان شاه - کنار نشاپور - مرو ماهویه - د سرخس راذویه - دا بیور دبهمنه - د نسا ابراز - د غرجستان برزاینده - د

The Digital Library

مرورو د کیلان - د زابلستان فیروز - ترمز شاه - شیربامیان - د سغد فیروز د فرغاني اخشید، دیو شار ګوزګان خداه، ختلان شاه یاشیرختلان، بخارا خداه د سمرقند طرخال، د سیستان اور خج او د اور رتبیل - د هرات او پوشنګ او د باغیس برازان - دماوراء النهر کوشانشاه - د غرجستان شار د بادغیس او تخار نیزك - د تخاریبغو - د سور او غور جهان پهلوان - د غز یې او ګردیز لویك دی - چې فردوسي د مهراب کابلي او سام او زال زابلي د کهاله خواږه نکلونه لري.

د غزني لویکان لرغونی کهول و، چې د یوه نیکه نوم یې د بغلان په ډبرینه لیکنه کښې لویك بوسر راغلی دی او د ۱۶۰م په شاوخوا کښې د کوشانیانو فریستار آب (د اوبو رسولو وزیر) و، د دغه کهاله پایڅوړ په ګردیز او د غزني په دربار کښې د یعقوب لیث او سلطان مسعود تر وختو موجود و.(۱)

بل مشهور کهول د زابلي رتبیلانو دی، چې له کابل شاهانو سره یې خپلوي او خپښي درلوده او پر زابل یې له غزني څخه تر سیستانه حکومت کاوه، د بیهقي په وینا شهرستان رتبیل د ارغنداو پر غاړه په کوهك کښې و چې د ډېرلیکونو عربو هندی او چیني مورخانو د یادونې له مخې د دغه کهاله ډېر شاهان پیژندلی شوي دي، دوی افغانستان ته د اسلامي لښکرو د راتګ پر وخت له اعرابو سره جګړې او مقاومتونه وکړل، څو چې د ۲۵۸هـ په شاوخوا کښې د یعقوب لیث صفاري له خوا له منځه ولاړل.

بل غښتلی او نامتو کهول د کابل شاهانو، چې پر لومړۍ اسلامي

(*) د تفصیل لپاره وګورئ "افغانستان بعد از اسلام" ۳۱/۱ او "لویکان غزنه"، کابل، ۱۳۴۸هـ.ل.

پېړۍ او د عربو د فتوحاتو په وخت کښې یې له کابله تر پنجابه حکم کاوه، د البیروني په وینا د برهتګین له اولادې څخه دی چې د دغه کهاله د وروستني پاچا لکتورمان د پاچهی په وخت کښې د هغه وزیر کلرد تاج او تخت یې ونیو. سامند، کملو بهیم، جیپال، انندپال، او ترو جنپال د ده له اولادې څخه برهمني پاچهان دي.

د البیروني پر روایت سربېره د کابلشاهانو ځیني نومونه د دوی له هغه سکو څخه چې لاس ته راغلي څرګندېږي لکه خودویه که - سپاله پتي پدمه - ونکه دیوا.

د تاریخ سیستان مؤلف، د ۳٦ هـ په شاوخوا کښې د کابلشاهانو د دوو نورو پاچهانو نومونه یادوي چې لوی کابلشاه د کوچني کابلشاه تر ماتې وروسته د عبدالرحمن ابن سمره په مقابل کښې مقاومت کاوه او ۲۸ زره وسله وال او پیل لرونکی لښکر یې درلود.

عربي مورخ الیعقوبي یو کابلشاه د "خنجل" په نامه یادوي، چې د ۱٦۴هـ په شاوخوا کښې د المهدی بن منصور عباسي هممهالی و.

دا کابلشاهان د کابل تر پرېښودو وروسته د اسلامي فتوحاتو په اثر د پېښور - ویهند - ټکسیلا او پنجاب خواته پرشا شول، سلطان محمود دوی د سند د سیند له غاړې ویهند څخه ها خوا وشړل او د (۲۹۰ هـ) په شاو خوا کښې د کشمیر پاچا "ګوپاله ورمن" هم د سوات د پېښور د شمال مردان مځکې له دوی څخه ونیولې، د دوی پایڅوړ تر (۴۹۰ هـ) پورې په کشمیر کښې د شاهي پوتره (شهزاده) په نامه اوسېدل(۱).

(۱) راجه ترنګیني ۸ - ۳۳۳۰. او د تفصیل لپاره "افغانستان بعد از اسلام" وګورئ.

The Digital Library

په همدې دوره کښې د افغاني محلي امیرانو یوه کورنۍ د نېکی = ملکانپکي شاهانو په نامه هم د هغو سکو له مخې پېژندلې شوې چې له غزنې څخه لاس ته راغلي او د یفتلي او کوشاني محلي امیرانو پایڅوړ به وي.

د هندوکوش په شمال کښې هم ځینې پاچهان د تګینانو په نامه وو، چې نیزك، شاد او جبغویه له تخارستانه تر بادغیسه حکومت کاوه، عربي مؤرخان پر (۹۱ هـ) کال د عربي فاتح قتیبه پر وړاندې د نیزك کلك مقاومت په تفصیل سره راوړي.

د بامیان شیران هم د دغه عصر واکمنه کورنۍ وه، چې تر ۹هـ وروسته د هیون تسنګ د سفر په وختو کښې او بیا وریسې پر ۱۶۴هـ کال یې هم واکمنې درلوده او د منصور عباسي (۱۳٦ - ۱۵۸هـ) په وخت کښې لومړنی شېر بامیان مسلمان شوی و چې د ده زوی حسن د ۱۷٦هـ په شاوخوا کښې ژوندی و.

په غور کښې هم د سوریانو کهاله چې د هغې سیمې ځایي خلك وو، حکومت کاوه، چې سوری ماهوي د (۳۵هـ) په شاوخوا کښې د خضرت علی معاصر و او د (۳٦هـ) په شاوخوا کښې شنسب د خرنګ زوی، د (۱۳۰هـ) په شاوخوا کښې امیر پولاد، (له ۱۳۹ څخه تر ۱۵۴هـ) پورې جهان پهلوان امیر کروړ د امیر پولاد زوی، او د (۱٦۰هـ) په شاوخوا کښې امیر ناصر د امیر کروړ زوی، د (۱۷۰ هـ) په شاوخوا کښې امیر بنجي د نهاران زوی، د (۲۵۳هـ) په شاوخوا کښې، امیر سوری د محمد زوی د دغه کهاله له قدماوو څخه بلل شوي دي (*) چې د غور پاچهانو کورنۍ هم دغه کهاله ته منسوب ده.

*: د دې کورنۍ تفصیل په "افغانستان بعد از اسلام" کښې تر ۱۰۹/۱ مخ وروسته وګورئ.

په دې توګه د افغانسان خلکو د اسلام د پیدایښت په وخت کښې د دغو پاچهانو تر حکمرانۍ لاندې د ګډو ادیانو - افکارو او فرهنګو تر منځ ګډوډ ژوند کاوه، که څه هم د دوی دیني ژوندون وروست او په چټیاتو ککړ و، خو له خپلې ملي بنې، آزادۍ او فرهنګ سره یې مینه درلوده.

he Digital Library

د افغاني فرهنګ تاريخي بنسټونه
تر اسلام دمخه او وروسته

دا سرليك د تاريخ له مخې خوندور تحليل او په زړه پورې شرح لري.

په دې ماناچې موږ ټول هغه فکري او مدني خو ځښتونه چې د تاريخ په لمنه کښې د افغانستان په خاوره کښې راغلي دي، "افغاني فرهنګ" بولو، دا فرهنګ د افغانستان د تاريخ له لرغونيو وختو يعنې د ۱۴۰۰ ق، م په شاوخوا کښې له "ويدي" دورې څخه پيل شوی او بيا تر هغه وروسته د" اوېستا" په دوره کښې يعنې د ۱۲۰۰ ق،م په شاوخوا کښې ادامه لري، په دې دوره کښې آريايي خلك په بلخ کښې د بدوي او کوچيتوب له ژوندانه ښاري ژوند او مدنيت‌ته رسېږي. زره تشتره (زردښت) په همدغه هېواد کښې د مزديسناد دين او د ژوند د دريو بنسټو: "ښه انګېرل، ښه کول، ښه ويل" په تبليغ خوله پرانېزي او د پيشداديانو او کيان شاهي کورنۍ د انساني مدنيت په زانګو "ښکلي بخدي" کښې د خپل سلطنت او شاهي برم (فر) بنسټ ږدي.

تر دې وروسته زموږ د هېواد په لويديزو سيمو کښې د آريايي خلکو هخامنشيانو، اشکانيانو او ساسانيانو مدنيتونه منځته راغي او خپل ځانګړي او فرهنګي بنسټونه په دې سيمو کښې خپروي څو چې د هخامنشي

دورې په پای کښې يوناني اسکندر له ۳۳۱ څخه تر ۳۲۳ ق،م پورې د ايران له لارې پر افغانستان يرغل کوي او دا فتح د يوناني ژبې، اداري، سياست، هنر، ليکدود او نورو فرهنګي مظاهرو اغېزه افغانستان ته راولي، پر ۲۵۰ق،م کال په باختر کښې د يوناني باختري سلطنت بنسټ ږدي چې د ميلادي عصر تر سره يې دوام وکئ او د افغانستان د يوناني او باختر ځانګړي فرهنګ او مدنيت په جوړښت کښې يې چې لرغونې ويدي او اوېستايي رېښې يې درلودې څرګنده اغېزه وکړه.

د دويمه ميلادي پېړۍ په لومړيو کښې - دافغانستان کوشاني لوی پاچا کنشکا د لويو کوشانيانو د سلسلې بنسټ کېښېښوو او د بودايي دين په منلو، خپرولو او تبليغو لوېې د افغانستان مدنيت او فرهنګ ته يوه ځانګړې ښه او مرتبه ورکړه.

د کنيشکا پايتخت په دوبي کښې د کابل په شمال کښې کاپيسا، او په ژمي کښې پېښور و، ده د مهايانه بودايي لوی مذهب په ټول افغانستان، د آموپه شمالي سيمو او هند کښې رواج کئ او لويه کوشاني شهنشاهي يې جوړه کړه.

د کوشانيانو په دوره کښې چې تر څلورمې ميلادي پېړۍ پورې يې دوام درلود د افغانستان د داخلي مدنيت او فرهنګ ځانګړې ښه له يوې خوا د زردښتي له پخوانيو هېوادنيو عناصرو څخه، او له بلې خوا د هند له بودايي آثارو او يوناني مواريثو څخه جوړه شوې وه.

له هغو اسنادو څخه چې په دغو وروستيو وختو کښې د بغلان د سره کوتل د کوشاني معبد له کيندلو څخه لاس ته راغلي داسې څرګنديږي چې کوشانيانو ددغه هېواد د خاصو افکارو او فرهنګ په پيدايښت کښې چې وروسته ورته د "ګريکوبو ديك" په نامه يوه خاصه افغاني دوره ويل

کېدای شي څرګندې کار نامې سرته رسولې دي.

فرانسوي لرغون پېژاند او څېړونکي "موسيوفوشه" کوشاني صنعت د کوشاني دورې له ابتکاراتو څخه بللی او وايي: د دې دورې د ستوپو ډول د آشوکا د زمانې له ودانيو څخه په ډېرې آسانۍ بېلېدای شي. که وغواړو چې دا نوی سبك د اروپا له مذهبي ودانيو سره بيان کړو بنايي ووايو چې د آشوکا سبك (په فرانسه کښې له ١٠ پېړۍ څخه تر ١٢ پورې) د ستوپو رومي سبك او د کنېشکا سبك د ګوتيك سبك دی چې په فرانسه کښې له ١٢ پېړۍ څخه تر ١٥ ميلادي پېړۍ پورې موجود و.

د آشوکا ستوپې هېڅکله د ايران فلات ته نه دي راغلي، خو د کنېشکا او د هغه د ځای ناستو پاچهانو ستوپې په ډېرې آسانۍ سره هند ته لار موندلې ده. آن د کوشان امپراتور د نوي پايتخت پورو شاپوره (اوسني پېښور) جنوب ختيځ خواته خورا لوی بودتون (معبد) ودان کړی دی.

دغه بودتون څو واره اور اخيستی و او اوس يوه کنډواله ده، خو موږ د چيني مسافرانو د يادښتونو د لوستلو په نتيجه کښې وکړای شول چې اصلي خطونه يې وپېژنو، چې د دې کنډوالې په آثارو کښې د معجزې په توګه د بودايي له سپېڅليو شيانو څخه يو شی چې د کنېشکا تصوير او لاسليك ورباندې شته راپاتې او موندل شوی دی.

آلماني ډاکټر هرمان ګويتز چې د هند په اړه د څېړنو استاد دی د کوشاني دورې د هنر په باب وايي: يوناني هنر د هندي هنرو د ډول په بدلون پيل وکړ او د ګندهارا بڼه يې وموندله، خو ډېر څېړونکي په دې عقيده دي چې نوموړی سبك بايد د يوناني او بودايي طرز پراخوالي ته لږ منسوب وبلل شي، بلکه دا د آريانا "ختيځ افغانستان" د هغه طرز پراختيا ده چې د جنوب ختيځ د سکايانو او کوشان د قبيلو تر واکمنۍ لاندې خپور شوی دی، په دې

ډول په کشمير کې د ګويتا تر دورې (٣ - ۴ ميلادي پېړۍ) پورې لکه چې د هروان د بودايي بودتونو (معبدو) له کنډوالو څخه څرګندېږي يو بيخي سوچه هنر پرځای پاتې شو او د دغو خلکو يرغل د يونان او بلخ او د يونان او هند دولتونه له منځه يوړل او هند ته يې تازه عناصر راوستل چې نور يې نو په لويديځ ايران او د هخامنشي په نفوذ اړه نه درلوده او د ايران د فلات په شمال پورې تړلي وو. (ميراث ايران ١٥٣)

د کوشاني دورې کلتور، تمدن او هنر د خپل بشپړتابه او انحطاط مرتبې تېرې کړې او د اسلامي دورې تر پيل او د عربو د لښکرو تر نفوذ پورې راورسېدل چې بيا يې په اسلامي لومړۍ پېړۍ او د ٦٥٠م په شاوخوا کښې خپل ځای يو بل ګډ مدنيت او فرهنګ ته پرېښوو، چې هغه ته د افغانستان د لومړۍ اسلامي دورې فرهنګ وايو.

اسلامي او عربي عناصر چې په تر اسلام دمخه پخواني مدنيت او فرهنګ کښې ورګډ شول، هغو ته يې بيخي يوه نوې تازه بڼه ورکړه چې وروسته بيا دوی د همدغه خراسان او افغانستان له خاورې د شمال او ختيز خواته تر چين او هند پورې خپاره شول.

په همدې سبب د افغانستان خاوره د جغرافيايي اقليم او وضع له مخې بايد په پخوانيو پېړيو او وختو کښې د ګډو شويو فرهنګو د پيدايښت ځای وبلل شي او له همدې اړخه پروفيسور تاينبي د تاريخ انګريز فيلسوف په خپل نوي کتاب کښې چې "د اکسوس او جمنا تر منځ" نومېږي دې نتيجې ته رسېدلی چې د افغانستان خاوره يو Round - About يعنې د فرهنګو د انشعاب ټکی او د ځلا مرکز او څلور لارې و، چې د څو زرو کالو په تېرېدو يې چې څه په خپله درلوده او څه چې له باندې ورته رارسېدلي و، خپل شاوخوا هند، ايران، ماوراءالنهر او مرکزي آسيا ته خپاره کړي دي.

he Digital Library

د لومړۍ اسلامي پېړۍ پر لومړۍ ځلورمه (د ۲۴هـ) په شاوخوا کښې د عربي بريالیو لښکرو فتوحات د خراسان او مرو تر منځ او له سيستانه د ارغنداو تر ناوې پورې رارسيدلي وو او همدا وخت دی چې افغانستان په تېره بيا په جنوبي جبهه کښې د اسلامي بريالیو عسکرو د عربي نوي دين، افکارو، ثقافت او ژبې د تېرېدو لار وګرځېده او دا ټول فرهنګي مهم توکي په افغانستان کښې دوې پېړۍ له پخوانۍ تهذيبي او ثقافتي بنې سره ګډ شول او بيا په ګډه د "سند" د مهران تر څنډو پورې پر مخ ولاړل، دا مطلب له هغې ليکنې څخه زباتېږي چې په عربي او سنسکرېټ ژبو پر يوه ډبره ليکل شوي او دا ډبره د شمالي وزيرستان په توچي کښې لاس ته راغلې چې د ليکنې نېټه يې (۲۴۳هـ ۸۵۷م) د جمادی الاولی مياشت ده.

توچي ناوه له غزني او ګرديز څخه د هند خواته د فاتحانو او د تجارتي کاروانو د تېرېدو لار وه او ښکاره ده چې اسلامي ژبه او ثقافت د (۲۰۰هـ ۸۱۵م) په شاوخوا کښې هغه ځای ته رسېدلی و.

اسلامي فرهنګ ځانګړي عربي عناصر درلودل چې د خلفاء راشدينو او امويانو په وختو کښې پر همهغو خالصو عربي بنسټونو باندې ولاړو او مهم اجزاء يې داسې سوچه عربي دودونه او د قران او د اسلام د حضرت پيغمبر ښوونې وې چې توحيد ښه اخلاق د افرادو او ټولنې ټولنيز فرايض يې څرګندول.

درېيم هغه نوي عناصر چې مسلمانانو د مصر، روم، پارس او خراسان څخه د لښکر کښيو، سوداګريو، ادبي او فرهنګي اړيکو په ترڅ کښې اخيستي وو او په تېره بيا تر ۱۳۲هـ کال وروسته چې د امويانو د واك کمبله ټوله شوه، خراسانيانو په بغداد کښې د عباس کورنۍ خلافت جوړ کئ چې له دغه انقلابي حرکت سره اسلامي فرهنګ ځانته نوې بڼه ومونده او د

عباسيانو د دورې په مدنيت او فرهنګ کښې ډېر خراساني عناصر ننوتل ډېر ژر يې په ډېر ځواك د خراسان ټولو فرهنګي، فکري او عقلي بنسټونو ته په عربي ثقافت کښې ځای ورکئ.

دا وخت په افغانستان کښې يو ځانګړی اسلامي افغاني فرهنګ رامنځته شو، يعنې تر اسلام دمخه دورو، د فرهنګ پر پخوانيو بنسټونو اوس يوه نوې مبدا زياته شوه او هغه د قرآن او اسلام اغېزه وه چې د افغانستان له هېواده د مدنيتونو د يوې لارې په توګه د هند، ماوراءالنهر او چين خواته هم تېره شوه.

اوس خراساني اسلامي فرهنګ يوه بيله بڼه موندلې وه په دې مانا چې خراسانيانو له خپلو فرهنګي پخوانيو دودونو سره سره د اسلامي مدنيت بنسټونه هم منلي وو، دغو خراسانيانو د خراسان او د عباسي خلافت سياسي، ټولنيز، اداري او علمي مرکزو په تيره بيا بغداد ته مخه وکړه او په ټولو فرهنګي برخو کښې يې ښه څرګند فعاليت وکئ، د بلخ د برمکيانو نامتو کهول چې د خراساني او افغاني فرهنګ په زانګو کښې روزل شوی و، په عباسي هېواد کښې يې د ادارې علم او فرهنګ واکي په لاس کښې ونيول. ددغو خلکو په زيار اسلامي نقلي او عقلي علومو وده وکړه. د خراسان مشهور ښارونه له نيشاپور او مرو څخه نيولې تر هرات زرنج، بلخ، بست، بغشور او نورو پورې د اسلامي علومو افکارو او فرهنګ د روزنې ځايونه وګرځېده، ډېر خراساني موالي عربي کورنيوته ننوتل او خپل افکار او ثقافتي روايتونه يې د عربو دنيا ته ولېږدول او د خراساني او عجمي فرهنګ اغېزه د بغداد د عباسيانو په دربار او د عباسي ارت هېواد په نورو ښارو کښې تردې درجې وه چې ځينو خلفاو خراساني ښځې په نکاح کړې او د بغداد د څو تنو غښتليو خلفاوو، ميندې له همدې خلکو څخه وې.

he Digital Library

اسلامي خراساني فرهنګ چې په همدغه افغاني ښارو او خراسان کښې روزلی شوی و دومره وده وموندله او دومره لوړ شو چې حتی عربي ژبیو شاعرانو هم خراساني مضامین او افکار او کلمات خپل ژبې ته ورننه ایستل. څنګه چې خراسان د منځنۍ آسیا پر څلور لارې پروت و، نو له لودیځه، ختیځ ته او له ختیځه لوېدیځ ته د افکارو د انتقال ځای وګرځېد. مثلاً ابن ندیم د سمنیه (بودائیانو) او د هغو لارښود بوذاسف د حالاتو د بیانولو پر مهال له یوه کتابه نقل کوي چې هغه یوه خراساني سړي لیکلی و او له دې څخه هم څرګندېږي چې خراسانیان د افغانستان او د هغه د ګاونډیو خاورو خلك عربو ته د هندي افکارو د وړولو وسیله وه. څکه نو بنایي په لنډه توګه وویل شي چې زموږ په دغه هېواد کښې تل افغاني فرهنګ موجود و، که څه هم د زماني له تېرېدو سره یې بڼې او صبغې بدلون کړی دی خو ددې ګذرګاه افکارو اندېښنو او مدنیت تل خپل افغاني هویت او تشخص ساتلی دی (۳٦مه نومره: وګورئ د دغه مخ اړونده نقشې).

اخځلیکونه:

افغانستان بعد از اسلام لمړی ټوك، آریانا انتیکوا، تاریخ افغانستان لومړی او دویم ټوك، تاریخ افغانستان (د سرپرسی سایکس)، پټانان (د اولف کیرو)، خروشتي ډبرلیکونه (د ستین کونو)، مادر زبان دري.

د اخځونو د بشپړې پېژندنې لپاره د کتاب په پای کښې اخځ لړ وګورئ.

دویمه برخه

افغانستان ته د اسلام راتلګ او د خلفاوو دوره

د اسلام له پیدا ښت څخه لا د یوې پېړۍ څلورمه برخه نه وه تېره شوې او ستر خلیفه حضرت عمر ﷺ د اسلامي خلافت پر مسند ناست و، چې د عربو زړه ور او جهان نیوونکي لښکر د پارس د ساسانیانو زړه شهنشاهي له پښو وغورځوله او ساساني وروستني پاچا درېیم یزدګرد د جلولا تر جګړې (۱٦هـ کال) او د نهاوند تر جنګ (۲۰ هـ کال) وروسته خراسان ته راغی او د ماوراءالنهر له خاقان څخه یې مرسته وغوښتله؛ خو څه لاس ته ورنه غلل.

د اسلام خلیفه حضرت عمر، احنف د قیس زوی په یزدګرد پسې وګماره او احنف د خراسان ځمکه په روغه ونیوله. دا مهال د افغانستان د لوېدیزو سیمو او د غور ساتندوی په مرو کښې ماهوي سوري و، چې د فردوسي او طبري په وینا د خراسان حکمران ګڼل کېده. د عربو حکمدار احنف چې په یزدګرد پسې و، یزدګرد په مرو کښې ماهوي سوري ته پناه یوړه ماهوي د ماورای آمویه له واکمونو سره دیزدګرد د اړیکو له ټینګیدو څخه ووېرېد او یزدګرد یې د یوه ژرندګړي په لاس وواژه (۳۱هـ = ٦۵۱م) او خپله واکمني یې د فردوسي په وینا تر بلخ، هرات او بخارا پورې پراخه کړه، د ده د لښکر سپه سالار کرسیون بخارا ونیو.

دا سوري کورنۍ د محلي اميرانو خورا نامتو کهول دی. خو احنف، ماهوي سوري هم له خراسان او مرو څخه د جيحون هغې خواته وشاړه او د ژوند تر پايه د مروالرود په څلور فرسنګۍ کښې يې د خلافت له خوا د خراسان پر يوه برخه حکومت کاوه، خو د ماهوي له ماتې سره د سوري اميرانو کهول له منځه لا نه ړو چې وروسته به يې مفصل ذکر راشي.

د جنوب له خوا هم د عربو بريالی لښکر د البلاذري په وينا د خراسان تر دروازو طبسين (د طبس تر کلا او د کرين تر کلا) پورې رسېدلی و، چې د افغانستان د اوسني ګرمسير په لويديځ برید پورې نښتی دی او د هغه لښکر مشر عبدالله د بديل خزاعی زوی و.

د فاروقي عهد په پای کښې (۲۲ - ۲۳ هـ کال) د عربو د لښکر يوې برخې د عبدالله بن عامر په مشرۍ د کرمان ترنيولو وروسته پرسجستان (سيستان) باندې هم يرغل وکړو، او د سيستان ساتندوی د زرنګ (معرب يې زرنج) په ښار کښې چې د سيستان مرکز و ځان کلا بند کړ، خو دا چې د اسلام لښکر د کندهار او هند (سند) تر شاوخوا پورې پرمخ ولاړ نو څکه د زرنګ ساتندوی روغه وکړه او زرنګ د مسلمانانو لاس ته ورغی، او هغه لښکر چې له سيستانه ختيځ خواته پرمخ تللی و، د ارغنداو په ناوه کښې د رتبيل له لښکر سره (چې د مخه يې يادونه شوې ده) ونښت، او هغه يې وواژه، چې البلاذري يې د هېواد ارتوالی د "هياطله" په نامه تر هراته يادوي (۲۴ هـ - ۶۳۳ م).

د حضرت عثمان ﷺ خلافت

(۲۵ - ۳۵ هـ)

په عثماني وخت کښې تر (۲۵هـ) کال وروسته اسلامي فتوحات د افغانستان په خاوره کښې پر مخ ولاړل او د عربو د لښکر مشر عبدالله بن عامر تر کابله راورسېد، دا ښار يې کلابند او تر سختې جګړې وروسته يې ونيو، خو د کابل خلکو د عربو د لښکر تر راتګ وروسته بيا د خپلواکۍ بيرغ پورته کړ او تر نورو پينځو کالو پورې يې د محلي پاچهانو تر واکمنۍ لاندې خپلواک ژوند کاوه.

د حضرت عثمان له خوا احنف د قيس زوی په مرو کښې تر هراته، خبيب د قرة اليربوعي زوی په بلخ او تخارستان کښې او عبدالله د عمير ليثي زوی په سيستان کښې حکمرانان وو، چې په ټول افغانستان کښې د عربو د لښکرو پر خلاف بلوا پيل شوه، خو په کابل کښې د سيستان حکمران، ياغيان له منځه يوړل او کابل يې بيا ونيو، مجاشه د مسعود زوی چې د کرمان حکمدار و د قفص (د کوچ - کفچ او اوسنی کوچی) قبيلو او د افغانستان د جنوب د ګرمسير له بلوڅو سره ونښت او تر خونړيو جګړو وروسته يې هغه ايل کړل (د ۲۹هـ - ۶۴۹م شاوخوا) د شمال له خوا هم احنف د قيس زوی او د هغه ملګريو (تر ۳۲هـ - ۶۵۲م) کال پورې ټول بلخ او

he Digital Library

تخارستان ترسمنګان پورې له یاغیانو پاك کئ او ډېره موده یې په بلخ، مروالرود، ګوزګانان او تالقان (د افغانستان په شمالي ولایاتو) کښې جګړې وکړې او پر همدغه کال یې د مروالرود له محلي شهزاده بازان سره چې د ډېرش زریز لښکر په ملاتړ جنګېده، په قصر احنف کښې جګړه وکړه هغه یې له منځه یووړ، خالد د عبد الله زوی هم هرات، بادغیس، غور او خراسان ونیول او د سرخس سیمه ییز ساتندوی راذویه پناه وغوښته او د هرات او بادغیس او فوشنج له اسلامي حکمدار سره یې تر جزیې او یو ملیون درهمو منلو وروسته روغه وکړه. پر (۳۲هـ) کال هراتي قارن له څلوېښتو زروتنو سره د عربو پر خلاف پورته شو، خو دا سړی هم د نیشاپور د عربي حکمران عبدالله د خازم د زوی له خوا تر سختو جګړو وروسته وځپل شو.

د (۳۰هـ، ٦۵۰م) کال په شاوخوا کښې د خلیفه له خوا ربیعه د زیاد زوی سیستان ته راغی او د پهره (فهرج) زالق (جالق) تر نیولو وروسته تر هیلمند پورېوت او د زرنج درې میلۍ ته یې په (زوشت) کښې سخته جګړه وکړه او د سیستان ساتندوی یادهقان اپرویز (یاایران د رستم زوی) د روغې له لارې ور وړاندې شو، زرنج یې مسلمانانو ته وسپاره، خو ربیع پر مخ ولاړاو تر سنارود او قرینن پورې یې چې د رستم دآس اخور و، ونیول او همداسې تر خواش (خاشرود) او بست پورې ورسېد، مګر سیستانیان تر هغه وخته تابع وو، چې ربیعه هلته و او چې دوه کاله وروسته له هغه ځایه ووت، د سیستان خلك بیا وښورېدل او د ربیع نایب یې چې په زرنج کښې و له هغه ځایه وشاړه، ځکه نو د خلافت له خوا دا وار د پیغمبرﷺ له نامتو اصحابو څخه یو تن چې عبدالرحمنؓ د سمره زوی نومېد حسن بصري او ډېرو فقهاو سره زرنج ته واستول شو، ده پر (۳۳ هـ ٦۵۳م) کال هغه ښار بند کئ او د

سره زرنج ته واستول شو، ده پر (۳۳ هـ ٦۵۳م) کال هغه ښار بند کئ او د
هغه ځای ساتندوی اپرویز (ایران) اطاعت ته غاړه کښېښوه، دوه ملیونه درهمه او دوه زره نابالغه مریان یې ومنل، عبدالرحمن د اسلامي فقهاوو په مرسته د اسلام په خپرولو پیل وکړ، خو پر دغه وخت د حضرت عثمان د شهادت خبر سیستان ته ورسېد، نو عبدالرحمن له خپلې خوا امیر د احمر زوی په زرنج کښې پرېښوو او په خپله د بصري خواته ولاړ، دا مهال د سیستان خلکو بیا د عبدالرحمن له غیابه ګټه واخیسته او پر امیر یې بلوا وکړه، دی یې له هغه ځایه وشاړه او په دې توګه سیستانیانو بیا وکړای شو چې د عربي حاکمانو د اطاعت له کړۍ څخه خپلې غاړې وباسي.

❁❁❁❁❁

The Digital Library

ماهوي کوفې ته ولاړ او د اطاعت غاړه يې کښېښوده، حضرت علي ده ته فرمان ورکړ چې: د خراسان بزګران او سالاران دې ده ته جزيه ورکړي. خو خراسانيانو بلوا وکړه، څو چې جعده د هبيره مخزومي زوی (چې مور يې هانی د ابو طالب لور وه) د دوی د ځپلو له پاره راغی، مګر دغه سړي هم خراسان ونه نيولی شو.

د علي‌ؓ خلافت

(۳۵-۴۰ هـ)

حضرت عليؓ په خپل خلافت کښې عبدالرحمن د جروالطايي زوی د سيستان حاکم وټاکه او پر (۳٦هـ - ٦۵٦م) کال يې سيستان ته راواستاوه، دا سړی په يوه جګړه کښې چې د حسکه د عتاب زوی سره يې وکړه ووژل شو، عبدالله د عباس زوی چې د بصري والي و، څلور زريز لښکر د ربعي بن کاس په مشر تابه د ابن عتاب د سرکوبۍ له پاره راولېږه.

ربعي ابن عتاب يې وواژه او سيستان يې ونيو، د ثاغر بن دعور او حارث بن مره په مشرتابه تر قيقان (د بلوڅو اوسنی کلات) پورې پرمخ ولاړ.

شلو زرو قيقانانو سخته جګړه وکړه او تر خونړيو جګړو او کلابنديو وروسته په داسې حال کښې چې په زرو تنه يې د مسلمانانو په لاس کښې بنديان وو، نور تيت او پرک شول (۳۸هـ - ٦۵۸م کال).

پر ۳٦م کال د عربو يو لښکر د عبدالرحمن بن سمره په مشرتابه د سيستان او ارغنداو د ناوې له لارې پرمخ ولاړ او کابل يې ونيو، په دې جګړه کښې په خپله کابلشاه ګډون درلود، خو په پای کښې يې د عربو لښکر ته ځان وسپاره.

همدا راز د حضرت عليؓ د خلافت په وخت کښې د مرو ساتندوی

اموي دوره

(۴۱ -۲۳۱ هـ)

پر (۴۰هـ ٦٦٠م) کال چې حضرت معاويه د ابو سفيان زوی د حجاز له بني اميه څخه واك ونيو او پر اسلامي هېواد يې برى وموند نو ده اسلامي لښکر د خراسان شمالي او جنوبي خواو ته پر دوو جبهو وخوځاوه، په شمالي جبهه کښې د هرات خواته قيس بن الهيثم سلمى، بادغيس او فوشنج ونيول بلخ ته ورسېد او د هغه ځای د نوبهار بودتون (معبد) يې وران کړ. د ده ترلاس لاندې حاکم "عطاخشك" د بلخ پر درو سيندو درې پلونه جوړ کړل، چې د عطا په پلو مشهور وو، تر هغه وروسته تر (۴۵هـ - ٦٦۵م) کال پورې د بلخ په شاوخوا کښې عبدالله د خازم زوی په هرات، بادغيس، فوشنج او قادس کښې نافع د خالد زوی او په تالقان، فارياب او مروالرود کښې قيس د الهيشم زوی، په مرو کښې امير د احمرزوی او د خراسان په نورو برخو کښې حکم د عمرالغفاري زوی د اموي دربار له خوا اميران وو، او پر (۵۱هـ - ٦٧١م) کال چې ربيع د زياد حارثي زوی د خراسان والي شو، پنځوس زره عرب يې د آمو پردې غاړه ميشت کړل او تر هغه وروسته سعيد د عثمانﷺ زوی د خراسان والي وټاکل شو، چې د عربو لښکر يې د لومړي ځل له پاره

د آمو پورې غاړې ته وخوځول. تر سعيد وروسته عبدالرحمن د زياد زوی د خراسان حکمران شو، چې د معاويه تر مړينې پورې همدلته و.

د معاويه تر مړينې وروسته د يزيد له خوا اسلم د زياد زوی د خراسان په اميرۍ وټاکل شو، ده د يزيد تر مړينې وروسته مهلب د خراسان امير کړ، خو چې دی له هغه ځايه ووت خلکو پر مهلب بلوا وکړ، ځکه نو سليمان د يزيد زوی پر مرو، تالقان او ګوزګان او عبدالله د خازم زوی د خراسان پر نورو برخو اميري وموندله. پر دغه مهال د عربي مشرانو تر منځ شخړه پېښه شوه او عبدالله خپل زوی موسی پر خپل ځای کښېناوه او په خپله يې په هرات کښې بني ربيعه او بني تميم کلابند کړل، تر يوه کال جګړې وروسته چې اته زره تنه ووژل شول هرات يې په زور ونيو او خپل زوی ته يې وسپاره (تر ٦۴هـ - ٦٨٣م وروسته).

عبدالله د خازم زوی د عبدالملك اموي تر وختو پورې په خراسان کښې پاته شو او پر (٧٢هـ - ٦٩١م) کال وکيع د عميره زوی د خليفه له خوا وټاکل شو، چې عبدالله ووژني، ده هم د عبدالله سر پرې کړ او پر خراسان واکمن شو، خو پر (٧٨ هـ - ٦٩٧م) کال خراسان د عراق د والي حجاج له خوا مهلب ته وسپارل شو، مهلب تر مروالرود راتېر او تر بلخ پر مخ ولاړ، او له هغه ځايه تر آمو پورې ووت، تر دوو کالو پورې په ماوراء النهر کښې په جګړه بوخت و بيا بېرته بلخ ته راوګرځېد.

پر ٨٢هـ کال چې مهلب د مروالرود په زاغول کښې مړ شو حجاج دده زوی يزيد بن مهلب د خراسان په حکمرانۍ وګماره او تر هغه وروسته يې ورور مفضل د ابي صفره زوی د خراسان امير شو، ده پر (٨۵هـ - ٧٠٣م) کال بادغيس ونيو او پر (٦٨هـ - ٧٠۵م) کال د عربو نامتو بريالی قتيبه د مسلم زوی له سيستانه راوګرځېد او حجاج خليفه عبدالملك ته منځګړی شو څو

The Digital Library

چې قتيبه يې د خراسان حکمران وټاکه، قتيبه مرو ته راغی او له هغه ځايه يې بلخ، تالقان او تخارستان فتح کړل، په بلخ کښې يې ډېر مريان ونيول، او تر هغه وروسته يې په ماوراءالنهر کښې په خپلو فتوحاتو لاس پورې کئ، قتيبه خراسان، تخارستان او بلخ د خپلو لويو لښکری سوقياتو مرکز وټاکه او هر وخت چې د ماوراءالنهر له پر له پسې يرغلو څخه را ګرځېد په بلخ، مرو او خراسان کښې يې خپل ځواك نوی کاوه (٨٦ تر ٩٦هـ پورې) قتيبه کلك او کروړ سړی و، چې د خراسان په ولايت کښې يې د تخارستان تر پايه پورې ټول مخالف عناصر د ۵۳ زرو تنو لښکر په واسطه له پښنو وغور ځول او و يې ځپل، د افغانستان د شمالي سيمو له مدافعينو څخه يو هم بادغيسی نيزك دی، چې د تخارستان د يبغو امير له خوا حکمران و (۸۴هـ) دی څه وخت د آمو د دوارو غاړو په فتوحاتو کښې د قتيبه ملګری و، خو چې د بلخ نو بهار ته ورسېد د خپلواکۍ بيرغ يې پورته کړ، د بلخ مروالرود تالقان، پارياب (اوسنی ميمنه) او ګوزګانان (اوسنی سرپل) خلك يې د قتيبه پر خلاف له ځان سره کړل او له کابلشاه څخه يې هم د مرستې ژمنه واخيسته.

قتيبه د راتلونکي کال (۹۱هـ) په پسرلي کې له بلخ څخه پر تخارستان يرغل او په تالقان کښې يې د نيزك له لښکر سره جګړه وکړه، نيزك ماته وکړه، قتيبه دده لښکر پوپنا کئ د نيزك ملګري يې تر څلورو فرسخو پورې په دار وځړول، د نيزك دوه زامن يې ووژل؛ په خپله نيزك په بغلان کښې خپل مرکز ته راستون شو، او قتيبه سمنګان ونيو، نيزك يې تر دوو مياشتو په "دژکزر" کښې کلابند کړ، خو ويې نه نيولای شو، په پای کښې يې سليم نومی د روغې له پاره نيزك ته ولېږه او نيزك يې په بې ځايه وعدو قتيبه ته بوت خو هغه نيزك او د ده دوه ورېرونه شول او عثمان له ۱۲ زرو ملګرو سره ووژل او په دې توګه يې د افغانستان په ټولو شمالي ولاياتو

کښې سرغړونې له منځه يوړې (۹۱هـ - ۷۰۹م) خو قتيبه د اموي سلطنت د مرکز او وليد بن عبدالملك مخالف شو او په خراسان کې يې په بغاوت لاس پورې کړ، اموي دربار تر ډېر زيار وروسته دی د خپل لښکر د يوه مشر و کيع نومي په لاس وواژه (٩٦ هـ - ۷۱۴م) تر قتيبه وروسته تر ډېرې مودې پورې څه مهمه پېښه ونه شوه، خو خلك تل د بني اميه مخالف وو او غوښتل يې چې خلافت بېرته آل رسالت ته په لاس ورشي، څنګه چې بني اميه د بني هاشم او د امامت له کورنيو سره دښمني درلوده نو ځکه حضرت يحيی د زيد زوی (د علیﷺ له اولادې) له کوفې څخه د بلخ په نيت راوخوځېده، د بلخ امير چې د اموي دربار ګمارلی سړی او نوم يې عقيل د مفضل زوی و، دی ونيو او بندي يې کئ، خو په دغه وخت کښې (۱۰۵هـ-۷۲۳ع) اموی هشام مړ شو او وليد د يزيد زوی د خراسان امير نصر سيار ته ليك واستاوه چې يحيی خوشې کړي، خو يحيی تر خوشې کېدو وروسته په ګوزګان کښې له اويا تنو سره د اموي لاسپوڅيو ګوتو ته ورغی او تر يوې سختې جګړې وروسته شهيد شو (د ۱۲۵هـ د برات مياشت) د ده مړی د ابو مسلم تر منځته راتګ پورې پر دار و.

د (۱۰۷هـ - ۷۲۵م) تر شاوخوا پورې پر نورو پېښو سربېره په غور او غرجستان کښې د خراسان د عربي حکمران اسد د عبدالله د زوی پرمختګ او د غرجستان د محلي حکمدار "نمرون" او د غور له خلکو سره د ده جګړه وه، چې په دې جګړه کښې د دې سيمې ښورښت آرام او په نمرون يې اسلام ومانه.

The Digital Library

خو په جنوبي جبهه کښې:

پر (۴۳ هـ ٦٦٣م) کال معاويه بيا عبدالرحمن بن سمره د دويم ځل له پاره د سيستان د حکمدار په توګه راواستاوه، نوموړي تر ۴۴هـ کال پورې ددې سيمې ټولې ناآرامۍ آرامې کړې او تر هغې وروسته د بست او کش (د کندهار کشك نخود) او د داور (د هلمند پر غاړو زميناور) او رخج (اراخوزيا، د ارغنداو د ناوې) خواته پر مخ ولاړ او د زور غره ته (د زميناور او غور تر منځ) او د هغه ځای لوی بودتون ته ورسېد او هغه لوی د سرو زرو بت چې سترګې يې د ياقوت وی د عبدالرحمن په لاس مات کړی شو، تر هغه وروسته عبدالرحمن د زابل او ترنك ناوې ته تر غزني او کابل پورې ولاړ، دا ښار يې تر کلابندۍ وروسته د منجنيق د ډبرو په ويشتو ونيو او تر څه مودې هلته پاته شو. په دغو جګړو کښې پر ۴۴ هـ کال يو فاضل صحابي ابو رفاعه عبدالله عدوي تميم د اسيد زوی (او په بل روايت ابوقتاده العدوی) په کابل کښې شهيد شو، چې قبر يې په کابل کښې مشهور دی. پر همدغه کال ابن سمره يو لښکر د فارس الفرسان مهلب د ابي صفره د زوی په مشرتابه ختيزو ولاياتو ته ولېږه، مهلب له کابله تر پېښوره پر مخ ولاړ، او کابلشاه يې چې په لار کښې يې د او وژنده پيلانو په قوت (چې له هر پيل سره څلور زره سپاره وو) په خپله دفاع کوله مات کړ، اوبنه او لاهور يې د سند د سيند ښی غاړې ته د مردان په ناوه کښې ونيول، بيا نو عبدالرحمن، مهلب د سپه سالارۍ په منصب سرلوړی کړ او ده د سند ها غاړې ته ګام واخيست او تر ملتان تېر شو، قندابيل (ګندها بهيل د بلوچستان د کلات په شاوخوا کښې د قصدار په پينځه فرسخۍ کښې پروت دی) او قيقان (کلات) يې ونيول چې دا د خيبر ها خواته د کابل له لارې د عربو لومړۍ لښکر کشي وه.

په (۴٦هـ) کال ربيع الحارثی د سيستان والي شو او پر (۴۷هـ) کښې يې پر بست او رخج (رخذ) يرغل وکئ، د رتبيل (د زابلستان د پاچا) سره ونښت او هغه يې مات کئ. ربيع په زابلستان او د ارغنداو په ناوه او سيستان کښې د خراج او محاسبې ديوان پرانيست، او دا هېواد يې د حسن بصری په مرسته تر اسلامي اداري او قوانينو لاندې راووست، تر هغه وروسته پر (۵۱هـ - ٦۷۱م) عبدالله د ابي بکره زوی سيستان ته راغئ، د هغه ځای د ګبرګانو (زردشتيانو) سره ونښت او بيا تر بست رخج او کابل پورې پرمخ ولاړ، له رتبيل سره يې جګړه وکړه خو په دوو مليونو درهمو يې ورسره روغه وکړه په دې توګه رتبيل غاړه کښېښووه او دی بېرته سيستان ته ولاړ.

پر (۵۹هـ-٦۷۹م) کال د معاويه له خوا عباد د زياد زوی د سيستان حکمران وټاکل شو، دی هم له هيلمنده تېر، تر کندهار او کابله ورسېد، همه عباد د معاويه د وختو تر پايه د سيستان حکمدار و، هغه وخت چې يزيد د شاهۍ پرتخت کښېناست، عباد له (۲۰) مليونو درهمو او نورو مالو سره چې د کابل له غنايمو څخه يې د سيستان په خزانه کې راټول کړي و، بصری ته ولاړ، او د (٦۲ هـ - ٦۸۱م) کال په لومړيو مياشتو کښې يې يزيد د زياد زوی د سيستان په اميرۍ او ابو عبيده د زياد زوی يې په سپاه سالارۍ وګمارل شول او سيستان ته راغلل، دا مهال بيا د افغانستان خلکو د کابل د پاچا په مشرۍ پر عربي ګمارل شويو بلوا وکړه، او د خپلواکۍ د ګټلو له پاره پاڅېدل، يزيد او ابوعبيده پر کابل يرغل وکئ، خو له ډېر سخت مقاومت سره مخامخ او په خپله يزيد له ډېرو مسلمانانو سره ووژل شو، سپه سالار ابوعبيده په کابل کښې بندي شو، نو ځکه د اموي له درباره طلحة الطلحات او ورور يې عمر د سيستان د تنظيم له پاره راغلل، او د عربو هر يو سردار د افغانستان د يوې يوې غربي ناحيې واګې په لاس کښې

The Digital Library

واخیستلې او هغه وخت چې مروان الحکم په شام کښې د اموي پاچهی پرتخت کښېناست عبدالعزیز د عبدالله عامر زوی یې چې له پلار او نیکه څخه یې د سیستان په چارو کښې تجربه درلوده د سیستان حکمران کئ، تر (۶۴هـ) وروسته په سیستان کښې د طلحه لښکر را غونډ کړ او څنګه چې د افغانستان خلکو د عربي حکمرانانو اطاعت نه مانه، نو د بست او کابل خواته یې مخه کړه او د زابل له پاچا رتبل سره بیا ونښت، هغه یې مات کړ. د کابل او زابل تر نیولو وروسته له ډېرو ولجو او ګڼ شمېر مریانو سره سیستان ته راوګرځېد، دی تر (۷۲هـ ۶۹۲م) کال د اموي عبدالملك تر وختو پورې په سیستان کښې امیر پاته شو، عبدالملك په همدغه کال حجاج د سیستان امیر وټاکه او حجاج له خپلې خوا امیه د عبدالله زوی سیستان ته واستاوه، ده پر (۷۴هـ) کال پر بست یرغل وکئ او د زابل له پاچا رتبیل سره یې جګړه وکړه، دی یې په یو خروار زرو او دوه ملیونو درهمو مجبور کئ، هم یې له هغه څخه د خان له پاره درې سوه زره درهمه واخیستل، پر (۷۵هـ ۶۹۴م) کال عبدالملك اموی، عبدالله د سیستان له امیری څخه لرې کئ، او د ده پر ځای یې موسی د طلحه زوی واستاوه خو په سیستان کښې د کړکېچ له امله بیا همهغه عبدالله د ابي بکره زوی (عبیده بن بکره) چې د سیستان په چارو ښه خبر و، د نیمروز چارو ته وګمارل شو. ده پر (۷۸هـ) کال یو لوی لښکر د حریش بن بسطام په مشرۍ سیستان ته راوست، زرنج ښار یې ونیو، او د بکوا دښتې له لارې یې پر بست زابل یرغل وکئ، خو رتبیل د ا لښکر له منځه یوور چې د جیش الفنا په نامه یاد شو، عبدالله یې د (۷۰۰) زرو درهمو په ورکولو اړوېست او روغه یې ورسره وکړه (۷۹هـ). څنګه چې عبدالله د دې ماتې له ویرې په بست کښې مړ شو، نو د ده زوی بوبردعه له رتبیل سره ونښت، له هغه څخه یې (۷۰۰) زره درهمه واخیستل سیستان ته ولاړ

او له هغې خوا حجاج لس زره مجهز سپاره (جیش الطواویس) د عبدالرحمن بن اشعث په مشرۍ پر (۸۰ هـ-۷۰۰ م) کال سیستان ته راولېږل.

عبدالرحمن چې سیستان ته راغی، د خوارجو ستر سالار همیان د عدي زوی له غښتلي لښکر سره په سیستان کښې له ده سره جګړه وکړه، خو همیان مات شو، عبدالرحمن د خوارجو ډېر مشران ووژل بیا یې پر بست یرغل وکړ او تر هغه وروسته یې د زابل له رتبیل سره سخت جنګ وکئ او له زیاتو ولجو سره سیستان ته ولاړ، همدا چې عبدالرحمن ته په سیستان، زابل، کابل او سند کښې لوی ځواك په لاس ورغی نو یاغي شو، له حجاج سره د جنګ له پاره عراق ته ولاړ (۸۲ هـ)، خو ماته یې وکړه او بیرته د سیستان زرنج ته راغئ، په دغه وخت کښې حجاج د شمالي خراسان امیر مهلب ته لیك واستاوه، او هغه مفضل یې له لوی لښکر سره د عبدالرحمن د ځپلو له پاره وګماره، عبدالرحمن له سیستان څخه د بست خوا ته پرشا شو، د مفضل لښکر ورپسې ولاړ، د بست او رخد تر منځ یې سخته جګړه وکړه، دلته عبدالرحمن مات شو او د زابلستان رتبېل ته یې پناه یوړه، خو حجاج، عماره بن تمیم رتبیل ته استازی واستاوه، ټول مالي تکلیفونه یې هغه ته وبخښل، د تل له پاره یې د دوستۍ ژمنه ورسره وکړه. رتبیل عبدالرحمن او د هغه ملګری ابوالعنبر ونیول او غوښتل یې چې د حجاج استازي ته یې وسپاري، خو هغو دواړو ځانونه له بامه واچول او مړه شول. دا پېښې د کندهار د ارغنداو د ناوې په رخج (رخد) کښې تر (۸۴ -۸۵ هـ) کال پورې منځته راغلې دي.

تر دې وروسته پر (۸۶هـ - ۷۰۵م) کال مسمع د مالك زوی سیستان ته ولېږل شو، له ابوخلده خارجي سره یې جګړې وکړې او هغه یې ونیو، خو څنګه چې مسمع پر همدغه کال مړ شو، د ده پر ځای قتیبه د مسلم زوی

The Digital Library

راغی ده چې شمالي خراسان ته مخه وکړه، اشعث د بشر زوی یې په سیستان کښې پرېښوو، پر (۸۸هـ - ۷۰٦م) کال یې په بست کښې له رتبیل سره جګړه وکړه او تر ده وروسته عمرو د مسلم زوی (دقتیبه ورور) همدغه کار تکرار کړ او په اتو سوو زرو درهمو یې روغه وکړه، څو کاله وروسته پر (۹۴هـ) کال قتیبه د مسلم زوی له خراسانه سیستان ته لاړ، رتبیل له ده څخه ویرېده او پر کال یې یو ملیون درهمه خراج ومانه.

تر دې وروسته تر (۱۰۸ هـ - ۷۲٦ ع) کال پورې یو شمیر کسان د سیستان په امیرۍ وټاکل شول، خو تر سیستان پرمخ نه ولاړ، د هشام اموي په وخت کښې اصفح د عبدالله زوی د محمد بن جحش په سپه سالارۍ دلته راغئ، دی پر (۱۰۹ هـ) کال له سیستانه ووت او له زابلي رتبیل سره یې سختې جګړې وکړې، چې په هغو کښې په خپله اصفح او نور ډېر مسلمانان ووژل شول، تر هغه وروسته په سیستان کښې د عربي قبیلو تر منځ بیلتون راغی چې تر (۱۳۰ هـ -۷۴۷ ع) پورې یې دوام وکئ، د اموي دولت له پلازمینې هم ډېر سرې د دغه ځای د امیرانو په توګه راغلل چې دا دوره په سیستان کښې د اموي دولت تر سقوطه په کورنیو جګړو کښې تېره شوه، خو اسلامي لښکرو د دریاب له لارې د سند پر څمکه یرغل وکئ او په اموي عصر کښې یې تر (۹٦ هـ - ۷۱۴ ع) کال پورې د هغه ځای لوی ښارونه لکه ارمابیل، دیبل، نیرون، سیوستان، اشیهار، برهمن آباد، ارور(روهری) بابیه، ملتان او نور د لوی فاتح محمد بن قاسم په مشرۍ ونیول او تر هغو وروسته هم د سند څمکه د ملتان تر پایه او د پېښور تر شاوخوا پورې د اسلامي سالارانو تر امیرۍ لاندې پاتې شوه، په دې توګه مسلمانانو د افغانستان د جبهې شاته هم خپل فتوحات پرمخ بوتلل، خو لکه چې ولیدل شول د افغانستان خلکو له مرو او سیستان څخه نیولې تر کابل او پېښور پورې څه

د پاسه یو سل کاله د عربو د بریالیو لښکرو په مقابل کښې مقاومت وکئ، دا غرونه تل د خونړیو جګړو ډګر و او هغه وخت چې رتابله او کابلشاهانو په زابل او کابل کښې د عربي بریالیو په لاس ماته کوله، د جبهې شاته یعنې ګردیز، پېښور او ویهند ته یې پناه وړه، د خپل ځواك تر پیاوړولو وروسته یې بیرته پر کابل او زابل یرغل کاوه، او د عربو ساخلوګان یې پوپنا کول، په دې توګه یوه پیړۍ په دغو جګړو کې تېره شوه او د افغانستان خلکو په دې مقاومتو کښې په ډېره میړانه خپلواکي ساتله، دوی د اسلام دین هم ورو ورو ومانه، په دې وختو کښې د ګندهارا ولایت له کابله تر پېښوره او ویهند، کندر، سند او ټکسیلا پورې د ګریکو بودیك د مدنیت او صنعت مرکز و، او په دغه هېواد کښې بودایي او بر همني لوی بود تونونه (معابد) موجود و.

اخځ: د البلاذری فتوح البلدان، طبری، چچ نامه، تاریخ سیستان. الاصابه، افغانستان بیك نظر، جغرافیای تاریخی ایران، دائره المعارف اسلامي، فتوحات عرب در آسیای میانه، خلافت د میور په قلم، معجم الانساب زمباور، تاریخ یعقوبی، د ابن اثیرالکامل، د یعقوبي البلدان، د ګردیزی زین الاخبار، مجمل فصیحی، سي.یو.کي د هیون تسنګ، راجه ترنکیني د کلهنه، د ایلیت د هند تاریخ، د افغانستان تاریخ ۱ - ۲، کتاب الهند، مروج الذهب، مادر زبان دری، طبقات ناصری، د ندوی د سند تاریخ.

he Digital Library

د عباسیانو واکمني

(۱۳۲ - ۲۰۵هـ)

په افغانستان کښې د راشده خلافت او اموي امارت یوسل و دېرش کلنه اسلامي دوره په کړکېچ او جګړو تېره شوه، د دغه هېواد خلکو لومړی د عربي دولت سیاسي او لښکري واك نه مانه، دویم دا چې د بني هاشم او بني امیه تر منځ په اختلاف کښې د آل هاشم پرخواوو، وروسته ترهغو چې اسلام یې ومانه او له وسلې یې لاس واخیست، تل یې داهڅه وه چې خلافت دې بېرته بني هاشم ته ورکړل شي او د دغه انقلاب په ترڅ کښې یې زیاریوست چې خپله واکمني او خپلواکي بیا ټینګه کړي.

د همدغه مقصد له پاره د خراسان یو نومیالی عبدالرحمن مشهور په ابومسلم مروزی (چې پر ۱۰۰هـ زیږېدلی) د بنداد هرمو د زوی له مروڅخه درې فرسخه لیرې دماخان له خلکو څخه ددې بلنې مخکښ (پیشوا) شو. اوپه (۱۲۴هـ - ۷۴۱ ع) کال پر ۲۳ کلنۍ کښې کوفې ته لاړ او په مکه کښې یې له امام ابراهیم عباسي سره وکتل، خلك یې د عباس کورنۍ د بلنې تایدولو ته راوبلل، چې له هغه سفره بېرته هېواد ته راغی پر (۱۲۹هـ - ۷۴۹ ع) کال یې د افغانستان په شمالي سیمو کښې له مرو څخه نیولې ترتخارستان پورې خلك له ځان سره کړل، او د عباس کورنۍ خلافت یې اعلان کړ، تور بیرغ یې

چې د دې بلنې نخښه وه، ورپاوه او په خپله لښکري چوڼۍ کښې یې لوی اور بل کړ، ځان یې د (شهنشاه) په لقب ونوماوه. د خراسان د اموي حکمران نصر د سیار د زوی او ابومسلم ترمنځ سخته دښمني پیښه شوه، او مروان اموي پر (۱۳۱هـ - ۷۴۸م) کال د امام ابراهیم سر د آهکو په بنۍ کښې وپیچه او ویې واژه ورور یې عبدالله سفاح کوفې ته و تښتید، خو ابومسلم ترخراسان پرمخ ولاړ او له خراساني لښکرو سره پر کوفه ورننوت، پر (۱۳۲هـ) کال یې د کوفې په لوی جومات کښې د عباسي عبدالله سفاح په نامه خطبه وویله، او د امویانو د دولت نسکورېدل یې اعلان کړل، ددغه مهم کار او د عباس کورنۍ د خلافت ترینسټ اینښوولو وروسته بېرته مروته راغی. ده تر (۱۳۵هـ ۷۵۲ع) کال پورې خراسان منظم کئ، او ماوراء النهر یې هم ونیو، پر (۱۳۶هـ) کال په ډېر شاهانه برم و پرتم مکې ته لاړ، خو دسفاح ورور خلیفه منصور دوانیقی د ابومسلم له ستر شخصیت څخه ووېرېد، دی یې پر (۱۳۷هـ - ۷۵۵م) کال پر۳۷ کلنۍ وواژه او خراسان یې د عباسیانو په امپراتورۍ کښې دننه وساته. خو پر همدغه کال د ابو مسلم له سکروټو ډك نغري څخه بیا لمبې پورته شوې، او د هرات لوېدیځ خواته د اهروا نه له کلي څخه زردشتی فیروز سنباد له سلو زرو تنو لښکر سره د ابومسلم د غچ او د خپلې خپلواکۍ د اخیستلو له پاره د عباسیانو پرضد پورته شو، د تاري د غرب او تبرستان خواته پر مخ ولاړ، عباسي خلیفه منصور، جهور د مرارعجلی زوی د ده جنګ ته له لوی لښکري ځواك سره راواستاوه، چې سنباد په دې جګړه کښې له خپلو شپېتوزرو پیروانو سره ووژل شو. د خراسانیانو بله هڅه پر (۱۴۱ هـ) کال د برازبنده په مشرۍ تر سپین بیرغ لاندې وه چې خلیفه منصور خپل زوی المهدي د هغه مخنیوي ته وګماره، د براز بنده قواوې یې له منځه یووړې او په خپله یې هغه د جګړې په ډګر کښې

The Digital Library

وواژه. دا ماته د ۱۴۲هـ کال د بیع الاول پر ٦ مه د دوشنبې پر ورځ وه.

پر (۱۴۴هـ - ۷٦۱م) کال د بست او کندهار خلك هم د منصور پر خلاف وښورېدل او د سیستان د حکمران زهیر د محمد ازدی د زوی سره یې سخته جګړه وکړه او بیاپر (۱۵۰ هـ - ۷٦۷ ع) کال استادسیس هروي له بادغیسه د حریش سیستاني په ملاتړ پاڅېد، خلیفه ۲۴ زره تنه لښکر له خازم بن خزیمه سره د دوی مقابلې ته راواستول، عمرو، او ابی عون د قتیبه زامنو هم د خلیفه په امرله تخارستانه پردوی یرغل وکړ او د (۷۰ زرو) په شاوخوا کښې د سیس پیروان یې ووژل او په خپله دی یې بندي کړ چې په بغداد کښې ووژل شو،د ده لور "مرجیله" هارون وکړه چې د مامون مورود، پر (۱۵۱هـ) کال د زرنج ښار هم بلواوکړه او دسیستان خلك د خپلو محلي مشرانو محمد د شداد د زوی او آذروبه د مرزبان زردشتي د زوی په مشرتابه د خلیفه منصور پرضد وجنګیدل، او د سیستان والي یزید د منصور خلیفه زوی یې مغلوب کړ، ترهغه وروسته پر (۱٦۱هـ - ۷۷۷م) کال یو بل سړی د هاشم بن حکیم په نامه په مقنع مشهور د مرو له دیه کازه راپورته شو، او په هرات بادغیس او مرو کښې یې د سپین کالیو (سپید جامه ها) په نامه یوه ډله له ځان سره کړه ترآمو هاخواته پورې وتل، همهلته له خپلو (۳۰ زرو) تنو سره د عباسیانو د لښکرو له خوا له منځه یو وړل شول (۱٦۳هـ) او هم د (۱٦۰هـ - ۷۷٦ م) په شاوخوا کښې په خراسان کښې یوسف البرم پورته شو، چې په میمنه، مرغاب او پوشنج کښې یې د بلوا بیرغ ورپاوه، خوپه یوه جګړه کښې د خراسان د حکمدار یزید بن مزید له خوا بندي او په بغداد کښې ووژل شو.

د سیستان په جبهه کښې د سفاح په وختو کښې یوه بستي سړي چې بوعاصم نومید د سیستان امیرشو، داوخت د عباسي دربار له خوا

سلیمان کندي له خراسانه راغی او بوعاصم یې له منځه یوړ او په بست کښې یې هم له رتبیل سره جګړه وکړه او هغه یې مات کړ (۱۳۸هـ - ۷۷۵م) خو بیا د سیستان خلك د حضین بن رقاد په مشری، پر (۱۴۱ هـ - ۷۵۸م) کال بلوا وکړه، چې لومړی د عباس منصورله خواهنادي السري او تر هغه وروسته پر (۱۴٦هـ - ۷٦۳م) د المهدي ماما یزید د منصور زوی د سیستان د حکمران په حیث راغئ ، خو څه موده وروسته بیرته ولاړ، او د ده پرځای پر (۱۵۱ هـ - ۷٦۸م) کال معن د زایده زوی سیستان ته راغئ او تررخج (د ارغنداو تر ناوې) پرمخ ولاړ او په هغه جګړه کښې چې له رتبیل سره یې وکړه، د هغه زوم یې چې (ماوند- یاماوید) نومېد له دیرشوزرو تنو لښکر سره بندي ونیو او بغداد ته یې واستاوه، خو پر (۱۵۲هـ) کال د سیستان خلکو د معن نس څیرې کړ په دې وخت کښې په سیستان کښې د خوارجو ښورښت ډېر ګړندی و، پر (۱۵۹هـ - ۷۷۵م) کال حمزه د مالك زوی د مهدی خلیفه له خوا سیستان ته راغئ ،او سیستاني خارجی نوح یې وځاپه د سیستان له نورو مهمو پیښو څخه د تمیم د سعید د زوی واکمني وه چې د مهدي له درباره پر (۱٦۹هـ - ۷۸۵م) کال سیستان ته راغئ ، د بست او رخج خواته یې لښکر ویوست، له رتبیل سره یې جګړه وکړه او دهغه ورور یې بندي او عراق ته یې واستاوه.

خو د هارون الرشید په وختو کښې له (۱۷۱هـ - ۷۸۷ع) کال څخه جعفر د محمد طوسي زوی او ترهغه وروسته عباس د جعفر زوی پر (۱۷۳هـ) کال د خراسان حکمرانان و، او بیا پر (۱۷۴هـ) کال خالدالغطریف، پر (۱۷٦هـ) کال حمزه د مالك زوی د خراسان په امیری وټاکل شول ، پر (۱۷۷هـ) کال فضل د یحیی برمکي بلخي زوی د بغداد د دربار له خوا د خراسان حکمران شو او په دغه ځای کښې یې یو غښتلی لښکر د خراسان د

e Digital Library

لښکر په نامه جوړ کئ، چې شمېر يې نيم مليون تنو ته رسېده، چې ډېر نفوذ يې وموند او پر (۱۷۹هـ - ۷۹۵م) کال له خراسانه بغداد ته وګرځېد، دی د خراسان د خلکو په مرسته د عباسي دربار يو سپين روبی نوميالی شو او همدا د بلخي برمکيانو نامتو کورنۍ د يحيی بن خالد برمکي له اولادې ځخه وه، چې د هارون الرشيد په وختو کښې يې دوه زامن فضل او جعفر په عباسي دربار کښې وزيران شول، خو په پای کښې د خلافت دربار د دوی له ډېر نفوذ ځخه ووېرېد خراسانيانو چې تل د خپلواکۍ د اخيستلو له پاره هڅې کولې، ځکه نو هارون الرشيد دا ستره کورنۍ چې د عباسي دولت ټول واك يې په لاس کښې اخيستی و، د قتل عام په واسطه پوپناه کړه (۱۸۷هـ -۸۰۳م).

د فضل برمکي ترامارت وروسته علي د عيسی زوی د ماهان لمسی پر (۱۸۰هـ) کال او بيا هرثمه د اعين زوی پر (۱۹۱هـ) کال او عباس د جعفر زوی پر (۱۹۳هـ) کال د خراسان اميران وو، خو په سيستان کښې د هارون د جلوس پر کال بلوا وشوه، چې کثير د سالم زوی د هغه ځای عربي حکمران بغداد ته وتښتيد، تر هغه وروسته عثمان د عماره زوی سيستان د ځان تابع کئ او له رتبيل سره يې په رخج کښې جګړه وکړه، او د بشر له فرقد د زوی او سيستاني حصين سره چې له خپلو سپرو سره په بست او سيستان کښې ياغي شوی و، سختې جګړې وکړې او تر هغه وروسته پر (۱۷٦هـ - ۷۹۲م) کال داؤد د بشر سيستاني زوی د سيستان امير شو او د خلافت دربار اړ شو چې د سيستان د ښورښتو د ځپلو له پاره په خپله له سيستاني ورتيا ځخه کار واخلي، داؤد لومړی حصين له منځه يوړ او سيستان يې آرام کئ، خو د دې له پاره چې داؤد په نيمروز کښې پښې ټينګې نه کړي، ژر يې لرې کئ، او د ده پر ځای پر (۱۷۸ هـ) کال يزيد د جرير زوی د سيستان په حکمرانۍ

وګمارل شو، دغه سړي پر زابل او کابل يرغل وکئ، او تر هغو وروسته پر (۱۸۲هـ) کال د سيستان حکمران عيسی نومی تر کابله پر مخ ولاړ.

د دغه مهال له خورا مهمو پېښو ځخه يوه هم داده چې پر (۱۸۲هـ) کال په سيستان کښې يو نامتو پهلوان چې امير حمزه د عبدالله سيستاني زوی {د زوطهماسپ له کوله و} ميدان ته راووت، دغه نابغ او اتل شخصيت د خراسان د پخوانيو ازادۍ غوښتونکيو او خپلواکپالو نوميااليو په پيروۍ په سيمه کښې دازادۍ ولوله توده کړه او عيسی د علي زوی د هارون الرشيد حکمران يې وشاړه، پر زرنج يې بری وموند او په عيسی پسې تر هرات او پوشنج پورې پرمخ ولاړ، خو عيسی بېرته دی د سيستان خواته پرشا وتمباوه حمزه په نيمروز کښې نوی ځواك راغونډ او بيايې پر نشاپور يرغل وکئ، کلکې جګړې يې وکړې او پر (۱۸۸هـ) کال بيرته سيستان ته وګرځېد. له دې کبله چې د دغه نيمروزي پهلوان ميدان ته راتګ د عباسيانو د واکمنۍ بنسټ رېږدولی و او خراسانيانو او نيمروزيانو بيا د خپلواکۍ غوښتلو آسمان لړزوونکې نارې پورته کړې وې، ځکه نو پر (۱۹۳هـ - ۸۰۸م) کال خليفه هارون الرشيد په خپله خراسان ته راغی او حمزه له ديرش زريز تکړه لښکر سره د نشاپور خواته وخوځيد خو ځنګه چې د (۱۹۳ هـ) کال د دويمې خور پر مياشت خليفه د خراسان په طوس کښې مړ شو، حمزه د عباسيانو له پاتيو ويرجنو سره جګړه ونه کړه، بيرته سيستان ته ولاړ، د بلوچستان او سند خواته يې بريد پيل کړ، په ډېرو فتوحاتو بريالی شو، او پر (۱۹۹هـ - ۸۱۴م) کال له دغه سفر نه بيرته راغی او پر (۲۱۳هـ) کال ووژل شو. خو د ده د ميړانې او پهلوانۍ نکلونه تر ډېرو پېړيو پورې د خلکو پر ژبو وو، او د ملي پهلوان په توګه ګڼل کيده، دده په پيروۍ حرب د عميده زوی له بسته پاځېد دی د سيستان د خاش له خلکو ځخه و او تر (۱۹۹هـ) پورې

he Digital Library

يې له عباسي حكمرانانو سره جګړې وكړې، د آزادۍ غوښتلو نغرى يې تود وساته، تر هغه وروسته هم عباسي حاكمان سيستان ته راتلل، خو ريښتينې واك د طاهر د كورنۍ په لاس كښې و.

د افغانستان له هغو واكمنو كورنيو څخه چې د عباس كورنۍ د خلافت په جوړښت كښې يې له ابومسلم خراساني سره ملګري وكړه.يوه د غور د سوريانو كورنۍ وه، چې د ماهوي د همهغه كهاله پايخوړ و چې د مخه يې يادونه وشوه، له دې كهاله څخه د امويانو د دورې په پاى كښې شنسب د خرنګ زوى د غور په غرو كښې امارت لاره، او زوى يې امير پولاد د (۱۳۰ هـ -۷۴۷م) په شاوخوا كښې د خراسان په هڅو كښې د ابو مسلم ملاتړى و، چې تفصيل به يې د غوريانو د حالاتو په شرح كښې راوړل شي.

اخځ: طبري - البلاذري - تاريخ سيستان - طبقات ناصري - پټه خزانه - يعقوبي - تاريخ برامكه - البرامكه - انسيكلوپيډي اسلامي - ابن اثير - مروج الذهب معجم الانساب - زين الاخبار ګرديزي - افغانستان بعد از اسلام لومړى ټوك - الكامل ابن اثير - مجمل فصيحي - ابن خلدون.

په اموي او عباسي دوره كښې
د افغانستان
ټولنيز او مدني احوال

لكه په تېرو څپركيو كښې چې مو وويل د راشده خليفه ګانو او امويانو په وختو كښې څو څو واره د خراسان خلك له هرات، مرو او سيستان څخه تر زابل، كابل او تخارستان پورې د عربو د سياسي واك د خپريدو پر خلاف وښوريدل، برهمني كابلشاهانو او رتبيلانو ان تر هجرت وروسته د (۱۸۰) كالو په شاوخواكښې هم په كابل او زابل كښې مقاومت كاوه، او د بودايي او برهمني مدنيت اغيزه په كابل، زابل، تخارستان او بلخ كښې پاتې وه، د افغانستان په لوېديزو سيمو لكه: سيستان، هرات، ګوزګانان او مرو كښې هم د زردشتي ثقافت نخښې ليدل كېدې.

خو د خلكو مقاومت كه بودايي وو او كه زردشتي ډېر كلك او سخت و او د دغه هېواد خلكو نه غوښتل چې د نورو د اطاعت رسۍ په غاړه كښې پرېږدي، د امويانو په وخت كښې د خراسان مشرانو دغه مقاومت ته اسلامي بڼه وركړه په دې مانا چې د امويانو د امپراتورۍ پر خلاف يې د هاشم كورنۍ په طرفدارۍ وسلې ته لاس واچاوه، او خراسان د هاشم كورنۍ د پناه غوښتونكيو ټاټوبى شو. خو ښايي دا ټكى هېر نه شي چې دغه

he Digital Library

مقاومت که څه هم د هاشمیانو د طرفدارۍ بڼه پیدا کړې وه، خو له اره د دغو خلکو د خپلواکۍ غوښتلو پر پټ حس ولاړو. او دلیل یې دا دی چې همدغو خلکو د امویانو د امپراتورۍ بنسټ له بیخه ویوست، د عباسیانو د امپراتورۍ بنسټ هم د خراسانیانو په لاس کېښنول شو، ابومسلم خراساني، ابراهیم امام او سفاح یې د بغداد منبر او تخت ته ورسول، خو لکه ومو چې لیدل په خراسان کښې پرله پسې شورښتونه او اضطرابونه غلي نه شول، او خراسانیان لکه چې له امویانو سره جنګېدلي وو له عباس کورنۍ سره یې هم جګړه وکړه، د خپلواکۍ د ګټلو له پاره په دغه هېواد کښې ملي پهلوانان پیدا شوي وو او که له امویانو سره د خراسانیانو جګړې یوازې د هاشم کورنۍ په طرفدارۍ پورې تړلې وای، نو په بغداد کښې د هاشم کورنۍ او عباسیانو تر ټینګښت وروسته باید په دغه هېواد کښې جګړه دریدلې وای.

خو خراسانیانو او د افغانستان خلکو یو وخت له پخوانیو ادیانو څخه د دفاع په نامه، بل وخت د شعوبیه په نامه، کله د آل هاشم د دوستۍ په نامه او بیا د خوارجو او نورو په نامه یوازې یو مقصد پر مخ بیوه، چې هغه د پردی واکمنۍ له منځه وړل او د خپلواکۍ ګټل وو، چې وروسته یې د آل طاهر او آل سامان او نورو محلي واکمنانو په واسطه هغه ستر مقصد لاس ته راوست. •

د افغانستان د خلکو له پاره دا دوه سوه کلنه جګړه ګټوره وه، په دې مانا چې د اسلام دین یې د هغه له نوي ترقي خوښوونکي روح سره ومانه، خو د پرله پسې جهاد په نتیجه کښې د محلي حکومتو خاوندان هم شول، خراساني ثقافت یې له اسلامي او عربي روایاتو سره ګډ کړ او په راتلونکي کښې د اسلام د خپرولو او دفاع له پاره غښتلي عناصر شول، حال دا چې پخواني دینونه یې زاړه شوي او له خرافاتو او اوهامو ډک وو چې په

هغه عصر کښې د ګټې اخیستو وړ نه وو.

په لومړیو دوو سوو هجري کلو کښې په افغانستان کښې د اسلام دیانت د زردشتي، بودایي او برهمني ادیانو ځای ونیو، عربي ژبه او لیکدود په ټول افغانستان کښې خپاره شول خو تر دوو نیمو سوو کالو پورې هم د افغانستان په ختیزو سیمو کښې سنسکریټ ژبه او لیکدود له عربي کوفي لیك سره یو ځای موجود وو، لکه چې هغه ډېر پخوانی ډېرلیك چې په توچي (ختیز افغانستان) کښې (٢٤٣هـ - ٨٥٧م - جمادی‌الاولی) پر یوه ډبره لاس ته راغلی په عربي او سنسکریټ دواړو ژبو ده، چې اوس د پېښور په موزیم کښې خوندي ده.

په خراسان، هرات او سیستان کښې هم پهلوي ژبې خپل ځای په همدغه وخت کښې دري ژبې ته پرېښوو، اسلامي علومو تفسیر، حدیث، رجال او سیر هم په افغانستان کښې رواج وموند، او په زرنج، بلخ، هرات، مرو او نورو کښې لوېې اسلامي مدرسې منځ ته راغلې، او هم لوی اسلامي پوهان او نامتو زاهدان لکه امام اعظم ابوحنیفه د ثابت زوی او د زوطي لمسی (د کابل د شمال)، ابن المبارك مروزي محمد د کرام سیستاني زوی (د کرامي مذهب مؤسس)، ابراهیم بن طهمان باشاني (هراتي) محدث، ابو اسحق ابراهیم بن یعقوب جوزجاني محدث، ابراهیم ادهم بلخي صوفي، ابو سلیمان موسي جوزجاني حنفي فقیه، او ابراهیم بن رستم مروي د بوحنیفه له ملګریو څخه، ابو داؤد سجستاني د مشهور سنن خاوند، ابو حاتم سهل بن محمد سیستاني محدث، ابو جعفر بلخي منجم، ابو قتیبه مروزي مؤرخ، بشار بن برد تخارستاني عربي شاعر، علي بن الجهم خراساني عربي شاعر او نور له دې هېواده پاڅېدل او د عباسي خلافت دربار ته عجمي مدنیت، آداب او د اداري اصول هم د خراسان خلکو لکه برمکیانو او نورو یوړل، د

e Digital Library

عربي ژبې کلمات پر دري ژبه ګډ او اوسنۍ پارسي ځنې جوړه شوه، چې پر دې ځمکه يې عربي او خراساني ګډ مدنيت منځته راوست، يو زيات شمېر برياليي عربان د دې ځمکې په لويو ښارو لکه هرات، زرنج، بلخ، مرو او نورو کښې مېشت شول، په دې توګه د افغانستان له آريايي نژاد سره د عربي (سامي) نسل ګډون او په دغه هېواد کښې د عربي آدابو، دود او دستور خپريدل پيل شول، ددغه ځای پر اوسيدونکيو عربانو سربېره خورا ډېر عربي وسله وال عسکر هم په خراسان کښې په جګړه اخته وو، چې د ابن اثير په وينا د امويانو په وختو کښې د قتيبه په مشرۍ نهه زره د بصرې خلك، لس زره د بکر له ټبره، لس زره د تميم له قبيلې څخه، څلور زره له عبد قيسه، لس زره له ازد څخه، او اووه زره د کوفې له خلکو وو، چې ټول (۴۷) زره خالص عربي نژاده لښکر او اوه زره هم موالي د حيان بنطي تر مشرۍ لاندې وو، قتيبه له سيمه يزو خلکو څخه هم لښکر جوړاوه، لکه چې د خراسان له خلکو څخه يې هم له لسو څخه نيولې تر شلو زرو تنو پورې لښکر راغونډ کړی وو، چې له عربي لښکرو سره يې خدمت کاوه، او له دې څخه څرګندېږي چې په خراسان کښې د عربي دولت وسله وال عسکر تر سلو زرو زيات نه وو، همدغه شمېر لښکر اسلامي فتوحات په ماوراءالنهر کښې د چين تر حدودو پورې رسولي وو.

په اموي او عباسي عصر کښې اسلامي فتوحات د سند او لوېديز هند ګڼ شمېر ښارو ته رسېدلي وو، ځکه نو د هند زياتره پيداوار لکه دارو، عقاقير او بدلي شيان او هندي مصنوعات د ملتان د ببل منصوره ، ويهند، ارور (رهري)، قندابيل (ګنداوي)، قزدار (اوسنی خضدار)، د توران او د سند د ناوې د نورو ودانو ښارو له تجارتي مرکزو څخه له کشميره نيولې د سند د مهران د سيند تر مجرى پورې د زابل سيستان او هرات له لارې ايران،

عراق او عربي متمدنو ښارو ته لکه بغداد، دمشق او نورو ته د تجارت له پاره وړل کېدل. د اصطخري او ابن حوقل په وينا د قزدار، مکران او توران (اوسنی بلوچستان) د فانيذ (سپينې شکرې) تجارت په ټول خراسان او عراق کښې کېده او لکه البشاري مقدسي چې وايي په توران کښې د دانه دارې سپينې شکرې د اوچت ډول لويې کارخانې وې همدا راز د پنجاب تجارتي کاروانونه د اوسني پښتونستان له لارې کابل، غزنه، خراسان بخارا او ماوراءالنهر ته هم تلل او له هغې خوا يې چيني مالونه هند ته وړل، د خراسان او مرو وريښمين ټوکران د سوداګرۍ غوره مالونه وو، چې کاروانونه به يې چين ته هم تلل او د صمد په وينا دغه تجارت په عباسي عصر کښې بشپړه پراختيا موندلې وه چې هندي لوبني، د خراسان وسپنه، د هند او سند عود، قرنفل، نارګيل، د سپنسيو کالي او پيلان د افغانستان له لارې د عربي هېواد لوېديزو سيمو ته وړل کېدل، څنګه چې په خراسان کښې د اسلامي حکومت د ټينګښت له امله امنيت ټينګ و، نو ځکه د سامانيانو په ښارو کښې د چين تجارت هم زيات شو او هم له بلې خوا څرنګه چې د سلطان محمود فتوحاتو د هند ارت هېواد له عربي هېوادو سره ونښلاوه نو د منځنۍ آسيا د هېوادو او ټول خراسان تجارتي بنې هم څرګند پرمختګ وکئ.

ابو زيد سيرافي وايي چې: له هندستانه پرله پسې کاروانونه خراسان ته او له هغه ځايه هند ته ځي او راځي، د دغو لويو کاروانو لار پر زابلستان ده چې له همدغه ځايه قزدار، کيزکان (قلات) او مکران ته تلل او د شال (کويټ) او بولان د درې او سيبۍ (سيوی) له لارې يې له سند سره تجارت کاوه، د ابن اثير په وينا د هرات اوبدليو شيانو ډېر شهرت درلود، چې له همدې کبله يې په عربي ژبه د هراتي کاليو سوداګر ته "هراء" ويل او هغه

he Digital Library

وخت چې مقریزي د مصر د مشهورو منسوجاتو د ډولو نومونه اخلي یوه ټوټه د خراساني ټوټې په نامه هم د هغو ښکلیو زربفتو او مخملو او نورو ټوټو په کتار کښې یادوي.له دې څخه څرګندېږي چې په مصرکښې عربي صنعتګرانو هم په همغه خراساني نامه او جنسیت د خراساني ټوکرو تقلید کاوه.

د جوزجاني په وینا: بلهاري هم د هند له تجارتي مرکزو څخه و، چې هلته د هند او خراسان سوداګر استوګن وو او د مشکو سوداګري یې مشهوره وه، همدا راز جلوت، بلوت، لمغان، دینور، ویهند د هند او خراسان تجارتي مرکزونه وو، چې د لومړي یاد شوي ښار تجارتي مالونه ګني (نیشکر)، غوایي اوپسونه، اود وروستي مشك، مرغلرې اوګران بیه کالي وو.

خو د حدودالعالم د مؤلف جوزجاني په وینا خراسان یو ودان او له نعمتو ډك ملك و، چې د سرو، سپینو زرو او غمیو کانونه پکښې وو او د اسونو، کالیو، پیروزو، داروګانو، وریښمنو او مالوچو د پیدا کېدو ځای او تجارتي لوی مرکز یې نشاپور و، د خراسان د ښارو نامتو پیداوار دا وو: له هراته خمتا، شیرخشت او دوښا، له مالن څخه طایفي وڅکې (مویز)، له کروخه کشمش، له مرو څخه ښه مالوچ (پنبه) قزین جامونه او سرکه، له ګوز ګانان څخه ښه آسان، کراستي، د آس تانګونه، زیلو او پلاس، له تالقانه وڅکې او کراسته، له کندرم کراسته، له بلخه ترنج، نارنج، ګني (نیشکر) او نیلوفر، له تخارستانه پسونه، غله او راز راز میوې، له سمنګانه (اوسنی ایبکه) وڅکې او مېوه، له بنجهیره (اوسني پنجشیره) سره او سپین زر، له غوره پرده، زغره، ډال او ښه وسله، له سیستانه فرشونه، زیلو، خرما او انکوزه، له بسته (د هند لوی تجارتي مرکز) وچې میوې، خمتا (کرباس)، سابون، له درغشه (زمیندارو) زعفران، له بدخشانه سپین او سره زر، بیجاده او لاجورد.

الماني فون کریمر وایي چې: د شبرقان (اوسني شبورغان) تورې د عباسیانو په هېواد کښې ډېرې مشهورې وې او د هندي تورو (مهند) تجارت هم له دې لارې کېده، د تالقان کراستي او نور دا واریدو وړین شیانو او قالینو شهرت درلود او د هغه ځای تاوده اوبدلي شیان په تیره بیا چوخه او پټو ډېر کارېدل.

هغه لوی ښارونه چې په خراسان، سیستان او زابل کښې د تجارت مرکزونه وو ددغه هېواد د کرهنې، تجارت او صنعت پر پرمختګ دلالت کوي.

ترکومه ځایه چې د تاریخ له پاڼو څرګندېږي د بغداد اموي او د آل عباس دولت له دې سیمو څخه دا لاندې عایدات د خراج، جزیې، زکاة، د غنایمو د خمس او د دولتي ځمکو د عایداتو او عشر په نامه درلودل.

د جهشیاري او ابن خلدون په وینا:

له خراسانه: (۲۸,۰۰۰,۰۰۰) درهمه، (۲,۰۰۰) د زرو ټوټې، (۴,۰۰۰) غاترې، (۱,۰۰۰) مریان، (۲۰,۰۰۰) کالي، (۳۰,۰۰۰) رطله هرېړه.

له سیستانه: (۴,۰۰۰,۰۰۰) درهمه،(۳۰۰) کالي، (۲۰) زره رطله فانیذ (سپینه شکره).

له توران او مکران څخه: (۴۰۰,۰۰۰) درهمه.

خو د قدامه بن جعفر په وینا د روغې په وخت کښې د عباسي دولت عایدات په دې توګه وو:

له خراسانه: (۳۷,۰۰۰,۰۰۰) درهمه

له سیستانه: (۱,۰۰۰,۰۰۰) درهمه

له توران او مکران: (۱,۰۰۰,۰۰۰) درهمه، خو د سیستان د تاریخ

he Digital Library

مؤلف تر اسلام وروسته د سیستان عمل د پخوانۍ روغې په اساس داسې لیکي:

د سیستان ګورتانو: بست، رخد، کابل، زابل، نوزاد، زمینداور، اسفزار، خجستان، زر زر درهمه (یو ملیون).

د خراسان عمل د اسلام د حد تر پایه د ۲۰۰ هـ په شاوخوا کښې: اته دېرش ملیونه درهمه.

بیا همدا مؤلف د سیستان د خراج په شرح کښې وایي: چې د سیستان ټوله مالیه (۵،۳۹۷،۰۰۰) درهمه دي، چې له هغې جملې څخه (۸۵،۰۰۰) درهمه خالص عایدات او جزیه، او پاته (۵،۳۱۲،۰۰۰) درهمه د خراج ډولونه دي. خوابن خرداذبه د (۲۳۲هـ) په شاوخوا کښې له معتبرو رسمي اسنادو څخه مهم معلومات راټول کړي دي، چې د خلافت اداري او مالیاتي نظام همهغه و چې په خراسان کښې یې تراسلام د مخه رواج درلود. د طلا پیسې دینار وې، چې ۴،۲۵ طلایې درلوده او د سپینو زرو پیسې درهم وې چې ۲،۹۷ سپین زرېې درلودل، په جنسي مالیاتو کښې کیلي رواج و، چې کر(د لومړي توري په پېښ) یې ورته ویل او له ٦ خروارو سره برابر و.

ابن خردا به د خلافت د ختیزو ځمکو حاصلات داسې لیکي:

سیستان : (٦،٧٧٦،٠٠٠) درهمه.

رخج،زابلستان او زمینداور تر تخارستان پورې:(۱۴۷،۰۰۰) درهمه.

سرخس: (۳۰۷،۴۰۰) درهمه.

مروشاهجان: (۱،۱۴۷،۰۰۰) درهمه.

مرورود:(۴۲۰،۴۰۰)درهمه.

بادغیس: (۴۴۰،۰۰۰) درهمه.

هرات او اسفزار او کنج رستاق: (۱،۱۵۹،۰۰۰) درهمه.

پوشنګ: (۵۵۹،۳۵۰) درهمه.

تالقان د مروالرود او بلخ ترمنځ (۳۰۰، ۲۱) درهمه.

غرجستان د هرات او مرو رود او غزنه ترمنځ: (۱۰۰،۰۰۰) درهمه او دوه زره پسونه .

د تخارستان سیمې د بلخ او جیحون ترمنځ :زم (۱۰٦،٦۰۰) درهمه.

فاریاب : (۵۵،۰۰۰) درهمه .

قبروغن (قته غن؟) ۴،۰۰۰ درهمه.

ګوزګانان: (۱۵۴،۰۰۰)درهمه.

بونده: (۲۰۰۰ درهمه)

برمخان او بنجار: (۵۰۰، ۲۰٦) درهمه.

ختلان او بلخ او غرونه یې: (۳۰۰، ۱۹۳) درهمه.

مند جان: (۲۰۰۰) درهمه ..

خلم: (۱۲،۳۰۰)درهمه .

روب او سمنګان: (۱۲،٦۰۰) درهمه .

بامیان: (۵،۰۰۰) درهمه.

کابل: (۲،۰۰۰،۵۰۰) درهمه نغد او دوه زره وینځې د شپږ سوو زرو درهمو په بیه.

ریوشاران: (۱۰،۰۰۰) درهمه.

مکران (۱،۰۰۰،۰۰۰) درهمه.

شغنان: (۴۰،۰۰۰) درهمه.

وخان: (۲۰،۰۰۰) درهمه.

کست (خوست): (۱۰،۰۰۰) درهمه.

اخرون: (۳۲،۰۰۰) درهمه.

The Digital Library

په دغو عایداتو کښې هغه پیسې چې له جزیې څخه لاس ته ورتلې، له هندوانو او نورو آسماني دین پلویو نامسلمانو څخه اخیستل کېدې، د امام ابو یوسف په وینا په خراسان کښې د هر یوه سړي پر سر درې دیناره ټاکل شوي وو، چې بې وزلي او غریبان په کښې شامل نه وو، دا پیسې د اموي عبدالملك په وختو کښې ټاکل شوي وې. خو د خراج په ډول کښې د مقریزي په وینا په اموی عصر کښې د تاکستانی یو جریب پر سر لس درهمه، له نخلستان څخه اته درهمه او د ګنیو له کښت څخه شپږ درهمه، له مېوه لرونکې ځمکې څخه پینځه درهمه ، د غنمو د کښت له ځمکو څخه څلور درهمه او د اوربشو له ځمکې څخه دوه درهمه اخیستل کېدل.

اوس موږ له پورتنیو تاریخي کتنو څخه دې پایلې ته رسېږو چې د خراسان له ځمکو څخه له نیشاپوره نیولې د سند ترسینده او له جیحو نه تربحیره عرب پورې د عربي دولت ټول مالي عواید د قدامه او د سیستان د تاریخ د ناخرګند لیکوال په وینا د ۴۴ ملیونو درهمو په شاوخوا کښې، د ابن خرداد به په ویناد ۴۵ ملیونو درهمو په شاوخواکښې وو او که د مقریزي د وینا په اساس د هرو لسو درهمو وزن له ٦ څخه تر ۷ مثقالو پورې سپین زروګڼو او هر مثقال پینځه افغانۍ بیه ولرې، نو ټول به د ۲۲۵ ملیونو افغانیو په شاوخواکښې و ګڼل شي.

د عربي دولتو د مالي درامد په اړه راز راز معلومات شته ، خو له لګښتونو یې خبر نه یو. یوازې د سیستان د تاریخ ناخرګند لیکوال په سیستان کښې د دولت د مصارفو یو دقیق فهرست لیکلی دی چې له هغه څخه په هغه وخت کښې د حکومت لګښتونو ډولونه او اندازه څرګندېدای شي او موږ هغه راوړو، چې د عربي حکومت د ولایاتو په یوه ولایت کښې د دولتي عوایدو او مصارفو څه نا څه یوه کوچنۍ موازنه د اوسني عصر د

مروجو بودجو پراساس لاس ته راشي:

نوموړي مؤلف د سیستان د خراج عمل د: (۵،۳۹۷،۰۰۰) درهمو په شاوخواکښې لیکلي او لګښتونه یې داسې بیانوي:

خاص د سلطان لپاره (۲،۰۰۰،۰۰۰) درهمه.

د تیموق ؟جوړول: (۲،۰۰۰،۰۰۰) درهمه (ښایي چې د هیلمند د رود بند وي).

د کوره جوړول (۴,۰۰۰) درهمه (موخه یې سېلاب وړې ځمکې دي).

د باړې جوړول (۱۲،۰۰۰) درهمه (د ښار د کلا جوړول مقصد دی).

د نورو کلاو جوړول (۵۰،۰۰۰) درهمه.

د بندیانو له پاره: (۳۰،۰۰۰) درهمه.

په جامع جومات کښې د روژې لګښتونه (۳۰،۰۰۰) درهمه (هرقاري او د مسجد خادم ته د روژې پر میاشت ۲۰ درهمه)

د موذنانو له پاره: (۲۰ ،۰۰۰) درهمه.

په هرکال کښې د سلو مریانو ازادول: (۵۰۰) درهمه.

دروغتون له پاره: (۱۰،۰۰۰) درهمه.

د بندونو تړل: (۲۵،۰۰۰) درهمه.

د شرط (پولیس) له پاره: (۲۵ ،۰۰۰) درهمه.

د خراج د بندار (د مالیې رییس) او دهغه د منشیانو له پاره: (۵۰،۰۰۰) درهمه.

د صاحب مظالم (عدلیه) له پاره: (۲۰،۰۰۰) درهمه.

د ریګو او شګود تړلو له پاره: (۳۰ ،۰۰۰) درهمه.

پرت (د رودو د خاورین بند له پاره):(۵۰ ،۰۰۰) درهمه.

د هیلمند د پلو ، لارو او کښتو د ویالو له پاره: (۳۰ ،۰۰۰

he Digital Library

درهمه.

پر پورتنیو ټاکل شویو لګښتونو سربېره د سیستان د تاریخ لیکوال دا اشاره هم کوي چې نور پاتې عایدات یې د ابناء سبیل او ضعیفانو او غریبانو د کالیو او نفقې او نورو هغو مصارفو له پاره سپمول او ساتل چې د والي په اختیار کښې وو. سربېره پر هغو سکو چې په اموي او عباسي دولتو کښې د خلفاو په نامه په ټولو اسلامي ولایاتو کښې وهل کیدې په خراسان کښې د سند ترسینده د پخوانیو نامسلمانو دولتو ځینې سکې هم دود وې، او کله هم دګندهارا، پنجاب او باختر د ساساني پاچهانو یا بودایي شاهانو پرپخوانیو سکو د خلیفه نوم او کلمه طیبه هم وهل کیدل.

د خلافت والیان چې خراسان ته راتلل دوی حق درلود چې په خپل نامه سکه ووهي. لکه حمید د قحطبه زوی (د ۱۵۱هـ پر شاوخوا) او عبدالملك د یزید زوی. (د ۱۵۹هـ پر شاوخوا)، جعفر د محمد زوی. (د ۱۷۱هـ په شاوخوا کښې) علی د عیسی زوی. (د ۱۸۰هـ پر شاوخوا) او هرثمه داعین زوی. (د ۱۹۱هـ پر شاوخوا) او غسان د عباد زوی (د ۲۰۲هـ پر شاوخوا) د بغداد د عباسیانو د وخت هغه والیان وو چې په نېشاپور کښې یې په خپلو نومو سکې وهلې دي، چې نمونې یې شته، او هم ابو مسلم خراساني د (۱۳۳هـ په شاوخوا کښې) د ابو مسلم عبدالرحمن بن مسلم په نامه په مروکښې سکه وهلې ده چې تراوسه شته .

د اسلامي لښکرو له فتوحاتو سره سم طبعاً د عربي دولت سکې په ټولو مفتوحه هېوادو کښې رواج شوې او لکه مقریزي چې لیکي: په اسلامي عصر کښې حضرت عمرفاروق د لومړي ځل له پاره د (ساساني) کسروي درهمو په وزن او شکل سکې خپرې کړې او پرهغو باندې یې "لااله الاالله وحده و محمدرسول الله" ولیکل، د دغو درهمو وزن هر لس درهمه شپږ

مثقاله سپین زر وو، حضرت عثمان پر هغو باندې الله‌اکبر ولیکه، د امیر معاویه په وخت کښې زیاد د ابوسفیان زوی په بصره او کوفه کښې داسې درهمونه رواج کړل چې هرو لسو درهمو یې اووه مثقاله سپین زر وزن درلود، او پرهغه سکه چې په دمشق کښې د امیر معاویه له خوا وهل شوې، د داسې انسان بڼه لیدل کېږي چې توره یې پر غاړه ده په اموي عصر کښې مصعب د زبیر زوی هم په عراق کښې د اموي درهمو پر بنسټ سکه ووهله او عبدالملك اموي هم په عراق کښې د حجاج په ذریعه مصورو درهمونو دود لاره شپږ دانګ(دوانیق)وو او پرهغو باندې یې "قل هوالله احد" هم لیکلي وو.

تر (۲۰۰هـ) وروسته په خراسان کښې د دغه ځای د داخلي پاچهانو سلسله منځته راغله او د خراسان پاچاهانو لکه طاهریانو، سامانیانو، صفاریانو او غزنویانو چې د عباسي خلیفه ګانو هم مهالي وو، یوه په نشاپور، طوس، هرات، زرنج، بست، غزنه، بخارا، سمرقند، مرو، بلخ، ری او د خپلو هېوادو په نورو ښارو کښې دارالضرب درلود او د سپینو او سروزرو سکې یې په کوفي لیکدود، دود کړې وې چې د پاچاو خلیفه دواړه نومونه ورباندې لیکل کیدل، د سلطان محمود ځینې سکې د سنسکریت په لیکدود هم وهل شوې دي، او ښایي چې داسکې د هند په هغو ښارو کښې وهلې شوې وې چې سلطان محمود فتح کړې وو.

د اصطخري او ابن حوقل په وینا د افغانستان په ختیزو سیمو کښې ترسنده پورې یوه سکه د قنهري قنهریات (ګندهاري) په نامه وه چې د کابل او راولپنډۍ ترمنځ (ګندهارا) ته منسوبه وه او اسماعیلیه او لودیه حکمرانانو په ملتان کښې وهلې وه، دا سکه له عراقي پینځو درهمو سره برابره وه او همداشان د خالصو سرو زرو سکه له هندي دریو درهمو سره انډول وه.

لکه مقدسي چې اشاره کوي، په منصوره، ملتان، ګندهارا او توران

The Digital Library

کښې د "من" تول د مکې له منه سره یو، و. او بلې پیمانې ته یې "کیجی" ویل، چې په کیج او توران کښې یې تول له څلویښتو منو سره برابرو.

خو د اموي هېواد سیاسي ویش داسې و چې: د خراسان او ماوراء النهر ټولو مفتو..ه ځمکو تر کابل، پنجاب او سنده په عراق عجم پورې اړه درلوده دعراق د والي له خوادوه تنه عاملان رااستول کېده چې دیوه مرکز د خراسان له پاره مرو او دبل مرکز د کابل، پنجاب او سند لپاره و، خو دغه ویش په عباسي دوره کښې چې په افغانستان کښې اسلامي فتوحات پراخ شول، تغییر وموند او پر څو نورو مهمو او اساسي ولایتو وویشل شو: لومړی دخراسان ولایت چې له مرو او هرات څخه تربلخ او تخارستان پورې پروت و.

(د خراسان نقشه دې وکتل شي - ۳۹).

دوهم د سجستان ولایت چې ترکابله پورې رسیده.

دریېم توران ولایت چې ترمکران او سند پورې رسېده او په دغو ولایتو کښې مالي نظام او د مالیو د اخیستلو دفترونه د هغه له وخت ځانګړیو اداري اصطلاحاتو سره موجودو، خوارزمي په دې اړه یوه ګټوره شرح لیکلې ده، او د ځمکو خراج یې هم پردرې ډوله:

لومړی محاسبه (نغدي یاجنسي)

دویم مقاسمه (پر پیداوار مالیه)

دریېم مقاطعه (هغه مالیه چې د حکومت او جاګیر دار ترمنځ ټاکله حکومت ته ورکاوه، او په ټولو ولایاتو کښې د خراج (مالیاتو) او برید (پوسته) او جیوش (لښکرو) نفقاتو د یوانونه، رسایل (مکاتبات)، صدقات، مصادرات، اوقاف، رواتب (تنخواه) شرطه (پولیس) قضا (عدلیه) او نور موجود و، د ابن خلدون په وینا لیکونکي (کاتب) مهمه عهده درلوده چې د عربي حکمدارانو ځانګړی باوری سړی او صاحب السرو، خو تنه یې په یوه

وخت کښې دغه کارته ګمارل، رسمي فرمانونه اواسناد ټول د کاتبانوله خوا لیکل کېدل او استول کېدل او هغه کار چې نن یې وزیر او سکرټر کوي هغه وخت کاتبانو ته سپارل کېده، ترکاتب وروسته حاجب د وزیر د دربار وظیفه درلوده، چې زیاتې چارې د حاجب په واسطه اجراکېدې او عساکر چې د دیوانالجند یادیوان الجیش له خوا اداره کېدل عموماً د الفرسان (سپاره) او الرجاله (پلی) پر ټولګیو وېشل شوي او وسله یې توري، زغره، خول، نیزه، غشی، لیندی، منجنیق، د بابه او ضبور (یو ډول ټانک) وو: د عسکرو کالي څټ، لنډ پرتوګ او څپلې (لکه د غرو د پښتنو کالي) وو، د لښکر کتارونه پر پینځه ډوله وو:

لومړی قلب (منځ) چې په هغه کښې لوی مشر او قاید و.

دویم میمنه (ښی خوا).

دریېم میسره (کینه خوا).

څلورم ډېرلیك یا مقدمه (د مخه خوا) له بریالیو سره.

پینځم ساقه ترلښکر وروسته. اود لښکرو مشران هم غالباً عربان وو.

خود قضا نظام په اموی عصر کښې داسې و چې:

د صحابه وو او تابعینو، عالمان او صالحان د خلیفه له حضوره او یاد ولایت د حکمرانانو له خوا په مهمو ښارو او مرکزوکښې د قاضیانو په توګه ټاکل کېدل او دغو قاضیانو د قران، سنت، اجماع او قیاس یعنی له څلور ګونو ادله وو سره سم د خلکو تر منځ شخړې حلولې، په خپل اجتهاد کښې آزاد، خو د شریعت د احکامو په پلي کولو کښې د امیرانو د سیاست له اغېزې څخه خپلواك وو او د خلیفه عمر بن عبدالعزیز په وینا یې دا پینځه صفات (پوهه، بې تمه والی، زغم (حلم)، په ائمه پسې اقتدا او د پوهې او رایې له خاوند سره ګډون) درلود، پرمدونو مجلو یې د قضا فیصلې لیکلې،

ځینو قاضیانو د حکومت تنخانه اخیستله، هغه چاچې اخیستله د کال تر زرو دینارو او د میاشتې تر لسو دینارو پورې رسېده، همدا راز د امر معروف او نهی منکر، د تول او وزن، د بازار د معاملو د څارنې او د دیني احکامو د تبلیغ له پاره محتسبان مقرر وو او په تیره بیا عربي پوهان او دامت صالحان د اسلام ددین د تبلیغ له پاره د خراسان مفتوحه هېوادو او په هغو پورې تړلیو سیموته راتلل، لکه چې د (۴۷هـ) په شاوخوا کښې ربیع الحارثی عربي حکمران په سیستان او زابلستان کښې د حسن بصري (د خپل وخت د لوی عالم) په مرسته اسلامی قوانین پلي کړي وو.

اخځونه:

حدودالعالم، د السیایي تاریخ الاسلام - عربي - ۳ټوکه، البشاری اصطخری، د البلاذری‌فتوح، کتاب الوزرا والکتاب، د ابن خلدون مقدمه، د سیرافی سفرنامه، د اموی عصرد تجارت تاریخ، ابن حوقل حضارة الاسلام کتاب الخراج ابن قدامه، کتاب الهندو اسند، د امیر علی مختصر تاریخ عرب، فتوحات عرب در آسیای میانه، الکامل ابن اثیر، تاریخ ادبیات فارسی د صفا، د ابن ندیم الفهرست، د پېښور د موزیم دبرلیکونه، تاریخ سیستان، تاریخ تمدن ایران ساساني د نفیسي، د امام ابویوسف کتاب الخراج، د خلفاؤ په عصر کښې د مشرق تهذیب (اردو)، معجم الانساب زمباور، طبقات ناصری، مفاتیح العلوم، تاریخ التمدن الاسلامی د جرجی زیدان، تهذیب و تمدن اسلامي درې ټوکه اردو، نقودالاسلامیه د مقریزی، شرق د رتحت ادارهٔ خلافت، تاریخ عرب د هتي، د ګوستاو لوبون تاریخ تمدن عرب.

The Digital Library

دریمه برخه

خپلواکه اسلامي دوره

طاهریان

(۲۰۵ - ۲۵۹ هـ)

د دغه کهاله لومړی سړی طاهر د حسین زوی، د مصعب لمسی، د رزیق کړوسی او د ماهان کوسی و چې د پوشنګ (د هرات لوېدیز خوا ته ننی زنده جان) له ځواکمنو کهولو څخه و. مصعب د رزیق زوی د بلاغت او ادب نومیالی پوه و چې د عباسیانو په وخت کښې د پوشنګ حاکم، او تر هغه وروسته يې زوی حسین ته د (۱۸۰ هـ - ۷۹٦ ع) په شاوخوا کښې د پو شنج حکومت لاس ته ورغی، حسین چې پر (۱۵۹هـ) کال په پوشنج کښې زیږېدلی و او د عباس کورنۍ له درباره د شام او بغداد حکمراني هم ورسپارل شوې وه، پر (۱۹۹هـ) کال مړشو. د ده زوی طاهر د خراسان د آزادي پالیو په چاپېریال کښې وده وکړه او په اسلامي خراسان کښې يې د لومړني

The Digital Library

ملي حکومت بنسټ کېښېښوو. د خپلواکۍ د لارې د هغو تېرو فداکارانو ستر آرمان د همدغه ننګیالي په مېړانه لاس ته راغی چې دوه سوه کاله یې د دغه ستر مقصد له پاره زیاریوست، په دې تفصیل:

د هارون الرشید تر مړینې وروسته یې د دوو زامنو "امین او مامون" ترمنځ اختلاف پیداشو، امین چې په بغداد کښې خلیفه شوی و، علي د ماهان زوی یې له (۶۰) زریز لښکر سره د خپل ورور جنګ ته واستاوه (۱۹۸هـ) خو مامون چې په خراسان کښې و، څلور خراساني لښکر یې د همدغه طاهر پوشنجي په مشرۍ ولېږل، او د بغداد د لښکر مشر علي د طاهر په لاس ووژل شو، د امین لښکر ماته وکړه، طاهر پر بغداد یرغل او د امین سر یې پرې کئ، مامون یې د بغداد پرتخت کښیناوه، چې ستر برم یې وموند، د دغو خدمتو په بدل کښې لومړی د شام حکومت او د بغداد کوتوالي وروسپارل شوه او بیا د خراسان حکمراني د ذوالیمینین له لقب سره ورکړل شوه. (۱۹۹ هـ - ۸۱۴ م).

طاهر چې خراسان ته راورسېد لومړی یې د خراسان د مرکزیت په ټینګښت او د ادارې په یووالي زور واچاوه، او په دوو دریو کالو کښې یې کرمان، سیستان، هرات، نشاپور، مرو، جوزجان، بلخ او تخارستان په خپل مرکز پورې وتړل له دغو مهمو فتوحاتو څخه تر (۲۰۵ هـ - ۸۲۰ هـ) پورې فارغ شو، د خپلواکۍ نقشه یې طرح کړه خراسانیانو ته یې پخوانی برم ور په زړه کړ او وروسته تر هغه چې د ولایاتو له مرکز څخه ډاډه شو، او خراسانیان یې د ځان مله کړل د (۲۰۷ هـ - ۸۲۲ ع) کال د څلورمې خور پر ۲۴ مه د جمعې پر ورځ یې د خراسان د خپلواکۍ اعلان وکئ او د جمعې په خطبه کښې یې د مامون نوم یاد نه کئ.

دا تاریخي ورځ د خراسان په تاریخ کښې لومړۍ هغه ده چې د

آزادۍ په لار کښې د دې سیمې د خلکو تر دوو پیړیو زیار وروسته یې هیله پوره شوه او په خراسان کښې د ملي حکومت لومړی بنسټ د طاهر پوشنجي په لاس کېښېښوول شو خو له بده مرغه دا زړور او ازادي پال طاهر پر همدې شپه وفات شو او د ده زوی طلحه چې یو پوه سړی او د پلار له خوا د سیستان امارت ورسپارل شوی و، د پلار پر خپلواك مسند کښیناست، شپږ کاله یې په عدالت حکومت وکئ، خلك یې وروزل، د بغداد د خلافت دربار هم د ده حکومت په رسمیت و پیژاند او د خراسان د خپلواکۍ غوښتونکیو خلکو له هیجان څخه وېږېد.

طلحه پر (۲۱۳ هـ - ۸۲۸م) کال په سیستان کښې له خارجي حمزه سره ونښت خو پر همدغه کال دافاضل، متدین او عادل امیر مړ شو، ورور یې عبدالله د طاهر زوی (پر ۱۸۲هـ زیږېدلی) چې څه موده په شام او مصر کښې حکمران و، تر هغه وروسته یې د بغداد د دربار له خوا په پارس کښې د بابِك خرمي پر خلاف جګړې کولې؛ امیر شو؛ د بغداد دربار دی رسماً د خراسان امیر وپیژاند. د عبدالله رویه د بغداد له دربار سره ډېره صمیمانه وه، او تل د خلافت له دښمنانو سره جنګېده، د عربي دولت دښمنان یې له منځه یوورل. لکه پر (۲۱۹هـ - ۸۳۴م) کال چې یې په تالقان کښې امام زاده محمد د قاسم زوی بندي کئ او خلیفه ته یې واستاوه او پر (۲۲۴هـ - ۸۳۸م) یې مازیار د قارن زوی د طبرستان حکمران د خلافت په ګټه مات کړ، د ده حکمدارانو په سیستان کښې څو واره د هغه ولایت شورښتونه آرام کړل. عبدالله اووه لس کاله پر ټول خراسان او د افغانستان پرلوېدیزو سیمو حکومت وکئ، او پر (۲۳۰هـ - ۸۴۴م) کال مړشو، دی ادیب، عالم او عمران خوښوونکی پاچا و، د ده په وختو کښې پر (۲۲۴هـ - ۸۳۸م) کال په خراسان کښې خورا زړه بوږنوونکې زلزله وشوه، پر (۲۲۰ هـ - ۸۳۵م) کال په

The Digital Library

سیستان کښې سخته وچ کالي راغله او د هیلمند اوبه وچې شوې وې.

تر عبدالله وروسته یې زوی دویم طاهر تر ۱۸ کالو پورې حکومت وکړ. د ده په وخت کښې د سیستان خلك د صالح د نصر زوی او یعقوب لیث په مشرۍ پورته شول او د صفار کورنۍ د امارت بنسټ کښېښنوو شو، په دې مانا چې د طاهر له خوا ابراهیم د حضین زوی د سیستان حکمران و، ابراهیم خپل نااهله زوی احمد نومی د بست والي وټاکه، احمد له عثمان بن نصر او احمد بستي او بشاربستي سره چې د هغه ولایت نامتو کسان وو ونښت، د بست او سیستان خلکو له طاهریانو څخه مخ وګرځاوه،او پر (۲۳۸هـ) کال یې په بست کښې له صالح سره بیعت وکړ، په دغه بحران او فتور کښې یعقوب لیث صفاری قوت وموند او پر (۲۴٦ هـ - ۸٦۰ ع) یې سیستان د طاهر له واکمنۍ څخه ویوست او په خپله طاهر پر (۲۴۸ هـ - ۸٦۲ ع) کال مړشو.

محمد د دویم طاهر زوی او دده ځای ناستی بې کفایته عیاش او تنبل سړی و، یعقوب لیث صفاري له سیستانه پرده برې وموند او هغه یې پر (۲۵۹ هـ - ۸۷۲ ع) کال بندي کړ، له دې کورنۍ څخه ابراهیم د محمد زوی، د طلحه لمسی، د عبدالله کړوسی او د طاهر کوسی تر ۲٦۸ هـ پورې په مرو کښې و، چې پر ۲۷۸ هـ کال خجستاني هغه مات کړ او پر ۲٦۷ هـ کال احمد د محمد زوی په خوارزم کښې او له ۲۵۹ هـ څخه تر ۲۸۲ هـ پورې دریم طاهر د محمد زوی په نشاپور کښې حکمرانان وو، خو د دغه کهاله پینځو پاچهانو پر لوېدیز او شمالي افغانستان واکمني درلوده، د افغانستان په جنوبی او ختیزو ولایاتو کښې رتبیلانو او کابلشاهانو پاچهي کوله.

د طاهریانو کهاله د بغداد خلافت له مرکز سره دوستانه اړیکي ساتل، د دوی درباري او ادبي ژبه عربي وه او په افغانستان کښې یې د زردشتي دین د پایخوړ پر خلاف زیار ویوست لکه پر (۲۱۳هـ - ۸۲۸ ع) کال

چې عبدالله زردشتی کتابونه وسېزل.

دافغانستان د طاهریانو نومونه دادي:

*۱ - طاهر د حسین پوشنجي زوی (۲۰۵ - ۲۰۷ هـ).

*۲ - طلحه د طاهر زوی (۲۰۷ - ۲۱۳ هـ).

*۳ - عبدالله د طاهر زوی (۲۱۳ - ۲۳۰ هـ).

*۴ - دویم طاهر د عبدالله زوی (۲۳۰ - ۲۴۸ هـ).

۵ - محمد د دویم طاهر زوی (۲۴۸ - ۲۵۹ هـ).

٦ - دریم طاهر محمد (۲۹۵ هـ).

یــادښـــت:

الف: د طاهریانو د ټول کهاله شجره د دغه مخ مخامخ ته په ۴۰ مه نومره لیکل شوې ده.

ب: دا (*) نخښه د هغو پاچهانو له نومو سره اېښولې شوې ده چې سکې یې شته.

اخځونه: طبري، زین الاخبار، تاریخ سیستان، روضه الصفا - ابن اثیر طبقات ناصري - تاریخ ایران دورهٔ طاهریان - طبقات سلاطین اسلام، معجم الانساب زمباور - تاریخ ادبیات ایران د دکتور صفا - تاریخ اجتماعی ایران تاریخ ادبیات فارسي د سعید نفیسي.

The Digital Library

صفاریان

(۲۴۷ - ۳۹۳هـ)

د امویانو او عباسیانو په وختو کښې سیستان تل د سیاسي هیجانونو مرکز و، په تیره بیا د خوارجو فرقې په دغه ولایت کښې ځای نیولی و او د عیارانو (د فتوت د خاوندانو) ډلې چې د دننیو سیاسي او ټولنیزو ګوندونو په شان یوه ډله وه، هم په سیستان کښې ځواکمن شول، له دې ډلې څخه یو سیستانی میړه چې د لیث زوی یعقوب و، او د سیستان د قرنین په کلي کښې زیږیدلی سر ته را ووت، او له خپل ورور عمرولیث سره د سیستان د حکمران صالح د نضر د زوی په خدمت کښې داخل شو، له درهم بن نضر سره (د ابن خلکان په وینا درهم د حسین زوی د مطوعه زعیم) چې د صالح له خوا د سیستان حکمدارو، سپهسالارۍ ته ورسېد؛ یعقوب زړور او داعیه غوښتونی سړی و او غوښته یې چې په خراسان او سیستان کښې یو غښتلی حکومت جوړ کړي، ځکه چې په دغه وخت کښې طاهریان کمزوري شوي وو او د بغداد له ځواکمن خلافت سره یې د مقاومت توان نه درلود. هغه و، چې یعقوب د (۲۴۷هـ - ۸۶۱م) کال د محرمې پر ۲۵ د دوشنبې پر ورځ د خپلو وسلوالو عیارانو په مرسته درهم بن نضر او خوارج مات کړل او د سیستان له خلکو یې بیعت واخیست، صالح له زاول شاه رتبیل څخه مرسته و غوښته، خو یعقوب رتبیل وواژه او بست یې ونیو، په

دې جګړه کښې شپږ زره تنه ووژل شول، دېرش زره بندیان، زښت ډېر پیلان او زيات غنیمت د یعقوب لاس ته ورغلل.

صالح د نضر زوی د والشتان (د کندهار د شمال) خوا ته پرشا شو، او زابل ته یې پناه یووړه، خو په پای کښې د یعقوب لاس ته ورغی او په زندان کښې ووژل شو. په دې جګړه کښې د رتبیل ورور او خپلوان د بندیانو په توګه سیستان ته بوتلل شول (۲۵۱ هـ - ۸۶۵ ع) او پر همدغه کال یې عمار خارجی د سیستان په نیشك کښې له منځه یووړ، پر (۲۵۲ هـ) صالح بن حجر د رتبیل د تره زوی د رخج په کوهژ (کوهك) کښې یاغي شو، یعقوب هغه تر (۲۵۳هـ) پورې وواژه او پر همدغه کال یې والشتان، زمینداور او بست هم تصفیه کړل او د تګین آباد (اوسنی کندهار ته نژدې) امیر یې وخاپه، او ترهغه وروسته په هرات کښې د طاهریانو له حکمران سره و نښت او هرات یې هم ونیو، د (۲۵۴ هـ) په شاوخوا کښې یې کرمان هم لاس ته راوست او پر (۲۵۷ هـ) کال یې د رتبیل له زوی سره چې له زندانه تښتېدلی و، په رخج کښې جګړه وکړه، خو د رتبیل زوی کابل ته وتښتېد، چې پر (۲۵۸ هـ) کال یعقوب رخج زابل، (د کندهار) پنجوایي، غزنه او کابل ونیول او د ګردیز پر کلا یې چې د ابومنصورافلح د محمد د زوی او لویکی خاقان د لمسي په لاس کښې وه یرغل وکړ، افلح د کال لس زره درهمه خراج ومانه او یعقوب له هغه ځایه بامیان، تخارستان او بلخ لاس ته راوړل، پر کابلشاه په قهرشو او پیرو زوند (د کندهار په شاوخواکښې) او بست یې ونیول سیستان ته ولاړ، له هغې سکې څخه چې پر (۲۶۰هـ - ۸۷۲م) یې په بنج هیر (د کابل په شمال کښې اوسنی پنجشیر) کښې وهلې وه څرګندېږي چې ټول کابلستان یې نیولی و.

پر (۲۵۹ هـ) کال یعقوب د خارجي عبدالرحمن د ځپلو له پاره د

The Digital Library

هرات کروخ ته ولاړ او هغه ولایت یې ونیو، پر همدغه کال عبدالله د محمد زوی او د صالح سګزی لمسی (اوس هم د سیستان په شاوخوا کښې د پښتنو یوه پښه ساکزی نومېږي) د یعقوب پرخلاف په سیستان کښې پورته شو، خو یعقوب مات کئ نیشاپور ته وتښتېد او آل طاهر ته ورغئ، یعقوب ورپسې شو، آل طاهر او سګزي یې له منځه یوړل (۲۵۹ هـ تر ۲۶۳ هـ پورې) او لکه ابن خلکان چې وایې" د شاوخوا ټول ملکان لکه د ملتان ملك، د رخج ملك، د طبسین ملك، د زابلستان ملك، د سند او منکران ملکان یې د ځان تابع کړل".

تر هغو وروسته یعقوب په پارس کښې جګړې وکړې او د ۲۶۵ هـ ۸۷۸م) کال د شوال پر ۱۴ د دوشنبې پر ورځ تر ۱۷ کالو پاچهۍ وروسته د قولنج په ناروغۍ مړ شو.

په اسلامي دوره کښې یعقوب لومړنی عادل، واکمن او بخښونکی حکمران و، چې د افغانستان ټول هېواد یې د آمو له سینده ترسیستان او مکرانه او له بادغیسه، مرو او هراته تر کابل ګردیز، زابلستانه ونیو، د عسکرو او وسلو په تنظیم او د خزانو پر ډکولو یې زیار ویوست، ځکه نو مسعودي دی د نړۍ له سترو پاچهانو ځخه ګڼلی او یو لوی فصل یې د ده د ښه سیاست او ښه تدبیر په ستاینه کښې لیکلی دی او وایې چې: د ده په لښکرو کښې پېنځه زره بختي اوښان اولس زره صفاري غاترۍ وې د ده تر مړینې وروسته د سیستان په خزانه کښې پنځوس ملیونه درهمه او اتیاملیونه دیناره وو، ده پخپل عجمي نژاد ویاړل او په هغه منظوم لیك کښې چې د بغداد خلیفه المعتمد ته یې ولېږه، د عباسیانو کهاله ته یې اخطار ورکئ چې له دغه هېواده ووځي که نه د توري او قلم په زور به وایستل شي.

لنډه داچې د یعقوب ترمړینې وروسته عمرولیث د ده ورور یې پرځای

کښېناست، د خلافت دربار هم هغه د خراسان، سیستان، فارس، کرمان، هند، سند او ماوراءالنهر په پاچهۍ ومانه، په لومړیو وختو کښې د ده سیاسي اړیکي له عباسیانو سره دوستانه وو، خو ترلږې مودې وروسته المعتمد خلیفه دده عزل اعلان او دده قلع او العن یې د خراسان د یوې ډلې حاجیانو په مخ کښې بیان کئ.

د (۲٦٦هـ - ۸۷۹ ع) کال په شاوخوا کښې د طاهري پاچهانو د امیرانو له پایخوړ ځخه یوه سړي په خراسان کښې پاځون وکئ چې داسې احمد د خجستاني عبدالله زوی و، د هرات او سیستان تربریدونو پورې پرمخ ولاړ، خو عمرولیث هغه مات کئ (۲٦۷ هـ - ۸۸۰م) او تردې وروسته رافع د هرثمه زوی چې د ابن خلکان په وینا د معتمد خلیفه له خوا لمسیده په خراسان کښې د عمرو پر خلاف پورته شو، هرات او فراه یې ونیول، او د عمرو له لیرې والي ځخه یې چې په فارس او عراق کښې جنګېده ګټه واخیسته، خوبیاهم عمرو پرهغه بری و موند، رافع ماوراءالنهر ته ولاړ او له ساماني پاچا نصربن احمد ځخه یې مرسته وغوښتله او د خراسانیانو زیات یاغیان د ده ملګری شول، خو عمرو دی له خراسانه ترخورازم پورې پرشا وشاړه او هلته پر (۲۸۳ هـ - ۸۹٦م) کال د عمرولیث د حکمران محمد بن عمرو خوارزمي په لاس ووژل شو. د خراسان تر تصفیې وروسته محمد بن حمدان د عمرولیث له خوا د زابلستان والي شو، او بردعالی د غزني عامل و، په دغه وخت کښې د ګندهارا دوو تنو پاچهانو ناسد او المان (په تاریخ سیستان کښې همدارنګه راغلي) پر غزني یرغل وکړ، پر داسې مهال چې عمرولیث په بلخ کښې د (۷۰) زرو نیزه والو سپرو په مرسته د ساماني اسماعیل بن احمد له لښکر سره په مقابله بوخت و، تر هغې چې پر (۲۸۷هـ - ۹۰۰م) کال په یوه جګړه کښې لاس ترلی بغداد ته واستول شو، او هلته د (۲۸۹هـ -

The Digital Library

۹۰۱م) په شاوخوا کښې ووژل شو، عمرو هم عادل او عمران خوښې پاچاو، چې زر رباطه (د مېلمنو او بې وسو خلکو لپاره دمه ځایونه)، پينځه سوه لوی جوماتونه او يو زيات شمېر پلونه او لارې يې جوړې کړې، د ابن خلکان په وينا د هېواد د چارو په ښه تدبير او ښه سياست کښې يې ساری نه درلود او لکه ابن اثير چې يې څرګندوي د خپل هېواد او د خپل لښکر او د لښکر د افسرانو په احوال ډېر ښه خبر و، هېڅا نه شوای کولای چې د عمرو له اجازې پرته چاته سزا ورکړي.

تر عمروليث وروسته د صفاريانو دولت کمزوری شو او بلخي سامانيانو په شمالي افغانستان او هرات باندې د سيستان تر بريدونو برې ومومد، د صفاريانو پاتې کسان ترڅه مودې پورې په سيستان کښې حکمرانان وو، لکه په (۲۸۹هـ - ۹۰۱م) کال چې د عمرو لمسيانو طاهر د محمد زوی او د هغه ورور يعقوب د امارت خاوندان وو، دوی يوڅه موده په پارس کښې په جګړه اخته وو او پر (۲۹۱هـ - ۹۰۳م) کال تربست او رخج پورې پرمخ ولاړل تر هغې چې پر (۲۹۶هـ - ۹۰۸م) کال ليث د علی زوی د ليث لمسی له دې کهوله ميدان ته راووت او طاهر او يعقوب يې د عمروليث د مريي سبکري په مرسته ونيول او بغداد ته يې واستول، دی په خپله د (شيرلباده) په نامه پرسيستان امير شو، تربست، کش او فراه پورې د ده په نامه خطبه وويل شوه، ليث خپل ورور معدل زابلستان ته واستاوه او پر (۲۹۷ هـ - ۹۰۹م) کال يې تر بست رخج (رخد) او کابل پورې مال واخيست او پر (۲۹۸هـ) کال يې په بست کښې په خپل نامه سکه هم ووهله.

خو په پای کښې ليث پر (۲۹۸ هـ - ۹۱۰م) کال په يوه جګړه کښې د سبکري په لاس چې د المقتدر خليفه له خوا يې ملاتړ شوی و ورغئ، او په بغداد کښې بندي شو او د سيستان خلکو له دې کورنۍ څخه د علی يا

ابوعلی محمد د محمد د زوی او د لومړی ليث له لمسي سره پر (۲۹۸ هـ) کال بيعت وکئ، او تربست، غزني او کابل پورې يې هم د ده په نامه خطبه وويله، خو محمد د سيستان ساماني حکمران مات کئ، او بست ته ولاړ شو چې د ساماني احمد د اسمعيل د زوی جنګياليو دی پر (۲۹۸ هـ) کال په رخج کښې ونيو، او بست ته يې راوست له نومړی سبکري سره يې بغداد ته واستاوه، د همدغه کال په پای کښې د سيستان خطبه د سامان پر کورنۍ وويل شوه او د صفاريانو هغه پای ته ورسېده. خو پر (۲۹۹ هـ) کال د سيستان خلکو د ساماني حکمران منصور اسحق پر وړاندې بلوا وکړه او ابو حفص عمرو د يعقوب زوی د محمد لمسی او د عمروليث کړوسی د صفاري کورنۍ لس کلن هلك يې ميدان ته راوېوست او د مولی سندلی په مشرۍ يې چې د صفاريانو له مواليو څخه و، ساماني حکمران ونيواو د سيستان د عيارانو په مرسته يې د نومړی ابوحفص په نامه خطبه وويله. خو ساماني دربار حسين د علي مروزي زوی سيستان ته ولېږه او ابومنصور جيهانی د سامانيانو وزير بيا سيستان تر زمينداوز او زابلستان پورې تر واك لاندې راوست (۳۰۳ هـ - ۹۱۵م) په دې توګه د ساماني دربار اميرانو تر رخج ارغنداو او ناوې پورې سيمې و نيولې او د طرابيل (ښايي چې د رتابيل مصحف وی) د پخوانيو زمامدارانو پايځوړ يې په زابلستان کښې له پښتو وغورخاوه، پر (۳۱۰ هـ - ۹۲۲م) کال احمد د قدام زوی او عزيز د عبدالله زوی د سيستان اميران وو، چې پر (۳۱۱ هـ) کال بيا د سيستان خلك و پاريدل او امير ابو جعفر احمد د محمد زوی، د خلف لمسی او د ليث کړوسی يې د صفاريانو له کورنۍ څخه راوېوست او د سيستان د اميرۍ واګې يې ور وسپارلې او په رخه کښې خطبه هم د ده په نامه وويله شوه، د ده له خوا بيا حمك د رخج او محمد د بست حکمرانان و ټاکل شول، او

The Digital Library

هېواد يې تر رخج او د هرات تر شاوخوا پورې ونيو، او تر (۳۵۲ هـ - ۹۶۳م) کال پورې يې خپلواک حکومت کاوه، د ښو اخلاقو خاوند او مدبر سړی و د ده د حکومت ورځې ترخلوېښتو کالو پورې په سيستان کښې ډېرې ښې تيرې شوې خو په پای کښې پر (۳۵۲ هـ) کال په سيستان کښې ووژل شو: تر ده وروسته يې زوی امير خلف بانو پرځای کښيناست، خو د ده او د اميرطاهر بوعلي تر منځ چې د يعقوب ليث د نيکه د ورورله اولادې څخه و، د سيستان پر امارت اختلاف راوټوکېد. چې نوموړی طاهر پر (۳۵۹ هـ - ۹۶۹م) مړشو نو زوی يې امير حسين له امير خلف بانو سره جنګېده او پر (۳۷۳ هـ) کال يې له امير سبکتګين څخه چې غزني يې تربست پورې نيولی و، مرسته و غوښته امير سبکتګين مرسته ورکړه او پر همدغه کال يې په منځ کښې روغه وشوه، حسين چې مړ شو د سيستان امارت اميرخلف ته پاتې شو، ده تر (۳۹۰هـ ۹۹۹م) پورې ښه خپلواک حکومت وکئ، څنګه چې دا مهال سلطان محمود له غزني څخه د سيستان امارت ګواښه، ځکه نو خلف د هغه اطاعت و مانه چې هر کال به د غزني خزانې ته سل زره ديناره ورکوي.

خو سلطان محمود سيستان له خپله هېواده جلا پرې نه ښوو او پر (۳۹۳ هـ ۱۰۰۲م) کال يې پر هغه ځمکه يرغل وکئ او خلف يې د سپهبد په طاق کښې کلابند کئ دی سلطان ته ورغی، خو سلطان د خراسان ګوزګانان ته تبعيد کئ او سيستان د سبکتګين کورنۍ د پاچهۍ برخه شوه، د همدغه خلف بانو له نسله د (۸۸۵هـ - ۱۴۸۰م) تر شاوخوا او حتی د صفويانو تر وختو پورې په سيستان کښې محلي اميران د ملوکو په نامه موجود وو چې په سيستان کښې يې د غزنويانو او نورو تر اطاعت لاندې حکمداري کوله.

په افغانستان کښې صفاري ملوك د اسلامي دورې لومړني علم

دوسته، عمران خوښوونکي او عادل پاچهان وو، چې په هېواد کښې يې سياسي او ديني يووالي راووست، د همدغو صفاريانو په وختو کښې دري ژبه درباري او ادبي ژبه شوه او محمد بن وصيف سکزی لومړې دري قصيده د صفاري پاچا په ستاينه کښې وويله؛ په دې زمانه کښې د افغانستان ختيزې سيمې لکه کابل او ګرديز د کابل شاهانو له لاسه ووتې او له افغانستانه د رتبيلانو او کابلشاهانو کمبله ټوله شوه.

(د صفاريانو او د سيستان د ملوکو بشپړه شجره ددې مخ مخامخ ده- ۴۱ نومره).

*۱ - يعقوب د ليث زوی (۲۴۷ - ۲۶۵ هـ)

*۲ - عمرو د ليث زوی (۲۶۵ - ۲۸۷ هـ) وژل يې په بغداد کښې ۲۸۹ هـ.

*۳ - طاهر د محمد زوی د عمروليث لمسی او ورور يې يعقوب د (۲۸۹ - ۲۹۶هـ).

*۴ - ليث د علي زوی د لومړي ليث لمسی (مشهور په شيرلباده) ۲۹۶ - ۲۹۸هـ).

۵ - ابوعلي معدل د علي زوی د لومړی ليث لمسی (۲۹۹هـ).

۶ - ابوحفص عمرو د يعقوب زوی د محمد لمسی او د عمروليث کړوسی (۳۰۰هـ).

*۷ - امير ابو جعفر احمد د محمد زوی د خلف لمسی د ليث کړوسی (۳۱۱ - ۳۵۲ هـ).

*۸ - ابواحمد خلف بن احمد (د ۳۴۴ هـ شاوخوا - مړ په ۳۹۹ هـ) ابن بانو.

۹ - امير طاهر بوعلي د محمد زوی د طاهر لمسی (د مور له

The Digital Library

خواصفاری) (۳۵۲ - ۳۵۹ هـ).

۱۰ - امیر حسین د طاهر زوی (۳۵۹ - ۳۷۳ هـ).

۱۱ - بهاءالدین طاهر د نصر زوی د احمد لمسی (۴۸۰ هـ).

* ۱۲ - تاج الدین نصر د طاهر زوی د محمد لمسی (د ۴۸۲ هـ په شاو خواکښې مړ پر ۵۵۹ هـ).

۱۳ - شمس الدّین ابوالفتح احمد د نصر زوی (۵۵۹ هـ).

۱۴ - عزالملوك محمد د نصر زوی؟

* ۱۵ - تاج الدین حرب د محمد زوی (۵۶۲ هـ - مړ ۶۱۲ هـ).

۱۶ - شمس الدین یمین الدوله بهرامشاه د عثمان زوی (۶۱۲هـ).

*۱۷ - تاج الدین نصر د بهرامشاه زوی (۶۱۸ هـ).

*۱۸ - رکن الدین ابو منصور د بهرامشاه زوی (۶۱۸ هـ).

۱۹ - شهاب الدین محمود د عثمان زوی (۶۱۹ هـ).

۲۰ - علي د عثمان زوی (۶۲۲ هـ).

۲۱ - شمس الدین علی د مسعود زوی د خلف لمسی د مهربان کړوسی د طاهر کوسی (۶۲۶ هـ).

*۲۲ - نصرالدین د ابوافتح زوی د مسعود لمسی (۶۵۲ هـ).

۲۳ - شاه نصرت د نصرالدین زوی (۷۲۸هـ).

*۲۴ - قطب الدین محمد درکن الدین محمود زوی (۷۳۱ هـ).

۲۵ - تاج الدین د محمدزوی (۷۴۷هـ).

۲۶ - سلطان محمود د شاه علی زوی (۷۵۱ هـ).

*۲۷ - عزالدین د رکن الدین محمود زوی (۷۳۳هـ).

۲۸ - قطب الدین د عزالدین زوی (۷۸۴ هـ).

۲۹ - شاه شاهان تاج الدین د قطب الدین زوی (۷۸۸ هـ).

*۳۰ - قطب الدین د تاج الدین زوی (۸۰۵ هـ).

*۳۱ - شاه شاهان شمس الدین د قطب زوی (۸۲۲ هـ).

۳۲ - نظام الدین یحي د شمسَ الدین زوی (۸۴۲ هـ).

۳۳ - شمس الدین محمد د یحي زوی (۸۸۵ هـ).

۳۴ - سلطان محمود؟

۳۵ - امیر محمد مبارزالدین - (د ۸۴۵ هـ شاوخوا)

۳۶ - قطب الدین علی (۸۲۲ - ۸۴۲ هـ).

۳۷ - شاه حسین د ملك غیاث الدین محمد زوی د احیاء الملوك مؤ لف پر (۱۰۲۷ هـ) کښې.

اخځلیك:

گردیزی، تاریخ سیستان، تاریخ ادبیات د براون - طبقات سلاطین اسلام - ابن اثیر، طبري، طبقات ناصری و ابن خلکان، تاریخ الاسلام السیاسی، مروج الذهب، تاریخ عرب، روضة الصفا، لب التواریخ، گزیده، معجم البلدان، معجم الادبا، تاریخ تمدن اسلام جرجی زیدان، احیاء الملوك د تهران چاپ، تاریخ ادبیات د دکتور صفا - تاریخ ادبیات فارسی د سعید نفیسی.

په سیستان کښې د صفاریانو د ماڼیو د کنډوالو انځور - (۴۲ نومره عکس).

e Digital Library

سامانیان

(۲۷۹- ۳۸۹هـ)

د سامانیانو کورنۍ د (سامان خداه) له اولادې څخه وه، چې یو نجیب سړی و، دی د بلخ په کلیوالي سیمو کښې حکمران او دین یې زردشتي و؛ د ګردیزی په وینا دی د (۱۹۷ هـ - ۸۱۲م) په شاوخوا کښې د مامون الرشید په هڅه مسلمان شو، اسد د سامان زوی د مامون حضور ته لار پیدا کړه، دغه اسد څلور زامن لرل: نوح - احمد - یحیی - الیاس - چې د خراسان د حکمران غسان د عباد د زوی له خوا سمر قند او سغد نوح ته، فرغانه احمد ته، چاچ او اسرو شنه یحیی ته او هرات الیاس ته وسپارل شول. د احمد بن سامان زوی چې امیر نصر نومېد پر (۲٦۱ هـ - ۸۷۴م) کال د معتمد خلیفه له خوا د ماوراءالنهر په امارت وپېژاند شو، ده د بخارا حکومت خپل ورور اسماعیل داحمد زوی ته پرېښوو، خو پر (۲۷۵هـ-۸۸۸م) کال په بخارا کښې د دوو وروڼو تر منځ سخته جګړه پېښه شوه، نصر د اسماعیل لاس ته ورغی او سمر قند ته واستول شو، پر (۲۷۹هـ-۸۹۲م) کال مړ شو، ټول ماوراءالنهر او خراسان د اسمعیل په لاس کښېووت او د معتضد او مکتفی خلیفه ګانو دربار هم دی رسماً په پاچهۍ و پېژاند، هغه د آل سامان د سلسلې بنسټ اېښودونکی دی چې پر (۲۸۷هـ - ۹۰۰م) کال یې څواك و موند او د بغداد د خلافت دربار هم دی د سیستان د آل صفار په

مقابل کښې چې د خپلواکۍ غږ یې تر خولې ویوست پیاوړی کړ، پر همدغه کال یې په بلخ کښې صفاري عمرولیث بندي کړ او شمالي او لویدیز افغانستان یې له تخارستانه ترمرو هراته ونیول او د ایران شمال او ماوراءالنهر هېوادونه یې د ساماني هېواد برخه کړل. د مجمل فصیحي په وینا د هند پرځینو لویدیزو سیمو هم د اسمعیل لاس برشوی و، چې ښایي د فصیحی مقصد ګندهارا وي، محمد د محمد زوی د عبدالله بلعمی لمسی د دري ژبې د تاریخ طبری مترجم د دغه پاچا فاضل وزیر و، اسمعیل پر (۲۵۹هـ - ۹۰۷م) کال وفات شو (د اسمعیل ساماني د قبر عکس - ۴۳ نومره).

د اسماعیل تر مړینې وروسته یې زوی احمد پر ځای کښېناست، دی پر (۲۹۷هـ - ۹۰۹م) کال هرات ته راغی او حسین د علي مروزی زوی یې سیستان ته ولېږه، څو چې صفاري حکمرانانو معدل اوبو علي چې تر بست او رخجه پورې واکمن وو له منځه یو وړل، سیستان یې د ساماني اسحاق زوی منصور ته ورکړ، خو لکه د مخه چې وویل شول د سیستان خلکو د سندلي په مشرۍ هغه ونیو (۳۰۰هـ - ۹۱۲م).

احمد پر (۳۰۱ هـ) کال د خپلو مریانو په لاس ووژل شو، خلکو د هغه اته کلن زوی نصربن احمد پر تخت کښېناوه ، خو د هیواد چارې د هغه پوه وزیر ابو عبدالله محمد د احمد الجیهاني زوی اداره کولې .

پر (۳۰۲ هـ - ۹۱۴م) کال په خراسان کښې منصور د ساماني اسحاق زوی یاغي او له سیستان او هراته حسین علي مروزی هم ورسره یوځای شو.

خو له ساماني درباره سپه سالار احمد د سهل زوی هرات ته راغی، همدا چې منصور په نیشاپور کښې مړشو، حسین پر (۳۰٦ هـ - ۹۱۸م) کال

The Digital Library

تر سختو جګړو وروسته غاړه کښېښووه او و بخښل شو. د نصر په وخت کښې لکه چې د مخه ولیکل شول د سیستان ولایت د ساماني محلي حکمرانانو او امیرانو ترمنځ لاس په لاس ګرځېده. د دغه پېر نورې پېښې د افغانستان په تاریخ پورې اړه نه لري.

نصر پر (۳۳۱ هـ - ۹۴۲م) کال تر دېرشو کالو پاچهۍ وروسته مړشو، او لومړی نوح دده زوی پرساماني تخت کښېناست.

د ده د وخت له مهمو پېښو څخه د افغانستان په شمالي سیمو او خراسان کښې د بوعلي چغاني د محتاج زوی چې د هغو سیمو حکمران و، سرغړاوی و چې د ختلان د امیر په مرسته یې په بلخ، ګوزګانان، سمنګان او تخارستان کښې لښکر راغونډ کړ، خو د امیر نوح لښکر هغه مات کړ، پر (۳۴۱ هـ - ۹۵۲م) کال بیا د ساماني دربار له خوا د خراسان په امارت وپېژاند شو. نوح پر (۳۴۳ هـ - ۹۵۴م) کال مړ شو او زوی یې لومړی عبدالملك پر تخت کښیناست. دده په وخت کښې پر (۳۴۵ هـ - ۹۵٦م) کال ابوالحسن سیمجور د خراسان په سپه سالارۍ وټاکل شو، خو له هغه څخه خلکو شکایت وکړ او پر ځای یې ابومنصور عبدالرزاق خراسان ته راغی (۳۴۹هـ - ۹٦۰م)، تر هغه وروسته هم الپتګین حاجب الحجاب د خراسان په سپه سالارۍ و ګمارل شو، او ابـوعلي محمد بلعمی د هغه ځای حکمران و.

د ابن مسکویه په وینا د ابوعلی محتاج د له منځه وړلو له پاره د مالك زوی بکر وټاکل شو، چې هغه له خراسانه ورك کړي، بکر هم هغه د خراسان تر پایه وځغلاوه، څو چې لومړی عبدالملك پر (۳۵۰ هـ - ۹٦۱م) کال مړ شو او ورور یې منصور د لومړي نوح زوی دده پر ځای کښېناست، دده ابو منصور عبدالرزاق د خراسان په حکمدار او د الپتګین د مخنیوي له پاره وګماره دا سړی پر (۳۵۰هـ - ۹٦۱م کال) له نیشاپوره پر شاشو، بلخ، خلم،

تخارستان او غزني ته راغی او د غزنوي دولت بنسټ یې کښېښوو.

پر (۳۵۳هـ - ۹٦۴م) کال سرهنګ ابو علي محمد د عباس زوی د هرات د تولك په حصار کښې یاغي شو، د ابوالحسن سیمجور له خوا چې د خراسان حکمران و، بوجعفر نومي د هغه د مخنیوي له پاره پازمن شو چې د تولك ترحصارنیولو وروسته یې د غور ځینې کلاوې هم ونیولې. د منصور په عصر کښې د سیستان حکران خلف د احمد زوی د ساماني دولت له خوا تقویه شو، خو تر هغه وروسته نوموړي خلف په سیستان کښې د سامانیانو له اطاعته سر وغړاوه، منصور له هغه سره اووه کاله جګړه وکړه، چې په پای کښې یې روغه سره وکړه (۳۷۳ هـ). خو همدا پېښې د ابن اثیر په وینا د ساماني دولت د کمزورتیا سبب شوې او شاوخوا حکمرانانو ته د مرکز په اړه خامه هیله پیدا شوه.

منصور پر (۳٦٦هـ - ۹۷٦م) کال مړ شو او پر ځای یې دویم نوح د منصور زوی کښېناست، د ده په عصر کښې یې تر مړینې (۳۷۸هـ - ۹۸۸م) د خراسان حکمراني په ابوالحسن سیمجور پورې اړه درلوده. دا وخت الپتګین له دنیا تللی او پر ځای یې زوم سبکتګین د غزني د چارو واګې په لاس کښې نیولې وې او ابو علي سیمجور چې د خپل پلار ابوالحسن تر مړینې وروسته یې خراسان تر لاس لاندې و، له بلخ د حکمران فایق خاصه سره یې لاس یو کړ او په خپل سر شو، نوح د دوی د ځپلو او د خراسان د چارو د سمولو له پاره د خپل دربار یوسړی چې ابوالعباس تاش نومید خراسان ته واستاوه او له سبکتګینه یې مرسته وغوښتله، سبکتګین له خپل زوی محمود سره د دویم نوح ملاتړ ته ورغی، پر (۳۸۴ هـ - ۹۹۴م) کال یې د هرات ښارته نژدې ابوعلي مات کړ او هغه د دیلمیانو دربار ته پناه یووړه، دویم امیر نوح سبکتګین ته د "ناصرالدین" لقب ورکړ او د خراسان حکمدار په توګه یې تر

The Digital Library

تر سختو جګړو وروسته غاړه کښېښووه او و بخښل شو. د نصر په وخت کښې لکه چې د مخه ولیکل شول د سیستان ولایت د ساماني محلی حکمرانانو او امیرانو ترمنځ لاس په لاس ګرځېده. د دغه پېر نورې پېښې د افغانستان په تاریخ پورې اړه نه لري.

نصر پر (۳۳۱ هـ - ۹۴۲م) کال تر دېرشو کالو پاچهۍ وروسته مړشو، او لومړی نوح دده زوی پرساماني تخت کښېناست.

د ده د وخت له مهمو پېښو څخه د افغانستان په شمالي سیمو او خراسان کښې د بوعلي چغاني د محتاج زوی چې د هغو سیمو حکمران و، سرغړاوی و چې د ختلان د امیر په مرسته یې په بلخ، ګوزګانان، سمنګان او تخارستان کښې لښکر راغونډ کړ، خو د امیر نوح لښکر هغه مات کړ، پر (۳۴۱ هـ - ۹۵۲م) کال بیا د ساماني دربار له خوا د خراسان په امارت وپېژاند شو. نوح پر (۳۴۳ هـ - ۹۵۴م) کال مړ شو او زوی یې لومړی عبدالملك پر تخت کښیناست. دده په وخت کښې پر (۳۴۵ هـ - ۹۵٦م) کال ابوالحسن سیمجور د خراسان په سپه سالارۍ وټاکل شو، خو له هغه څخه خلکو شکایت وکړ او پر ځای یې ابومنصور عبدالرزاق خراسان ته راغی (۳۴۹هـ - ۹٦۰م)، تر هغه وروسته هم الپتګین حاجب الحجاب د خراسان په سپه سالارۍ و ګمارل شـو، او ابـوعلي محمد بلعمی د هغه ځای حکمران و.

د ابن مسکویه په وینا د ابوعلی محتاج د له منځه وړلو له پاره د مالك زوی بکر وټاکل شو، چې هغه له خراسانه ورك کړي، بکر هم هغه د خراسان تر پایه وځغلاوه، څو چې لومړی عبدالملك پر (۳۵۰ هـ - ۹٦۱م) کال مړ شو او ورور یې منصور د لومړي نوح زوی دده پر ځای کښیناست، ده ابو منصور عبدالرزاق د خراسان په حکمدار او د الپتګین د مخنیوي له پاره وګماره دا سړی پر (۳۵۰هـ - ۹٦۱م کال) له نیشاپوره پر شاشو، بلخ، خلم،

تخارستان او غزني ته راغی او د غزنوي دولت بنسټ یې کښېښوو.

پر (۳۵۳هـ - ۹٦۴م) کال سرهنګ ابو علي محمد د عباس زوی د هرات د تولك په حصار کښې یاغي شو، د ابوالحسن سیمجور له خوا چې د خراسان حکمران و، بوجعفر نومي د هغه د مخنیوي له پاره پاڅن شو چې د تولك ترحصارنیولو وروسته یې د غور ځینې کلاوې هم ونیولې. د منصور په عصر کښې د سیستان حکران خلف د احمد زوی د ساماني دولت له خوا تقویه شو، خو تر هغه وروسته نوموړي خلف په سیستان کښې د سامانیانو له اطاعته سر وغړاوه، منصور له هغه سره اووه کاله جګړه وکړه، چې په پای کښې یې روغه سره وکړه (۳۷۳ هـ). خو همدا پېښې د ابن اثیر په وینا د ساماني دولت د کمزورتیا سبب شوې او شاوخوا حکمرانانو ته د مرکز په اړه خامه هیله پیدا شوه.

منصور پر (۳٦٦هـ - ۹۷٦م) کال مړ شو او پر ځای یې دویم نوح د منصور زوی کښېناست، د ده په عصر کښې یې تر مړینې (۳۷۸هـ - ۹۸۸م) د خراسان حکمراني په ابوالحسن سیمجور پورې اړه درلوده. دا وخت الپتګین له دنیا تلی او پر ځای یې زوم سبکتګین د غزني د چارو واګې په لاس کښې نیولې وې او ابو علي سیمجور چې د خپل پلار ابوالحسن تر مړینې وروسته یې خراسان تر لاس لاندې و، له بلخ د حکمران فایق خاصه سره یې لاس یو کړ او په خپل سر شو، نوح د دوی د ځپلو او د خراسان د چارو د سمولو له پاره د خپل دربار یوسړی چې ابوالعباس تاش نومید خراسان ته واستاوه او له سبکتګینه یې مرسته وغوښتله، سبکتګین له خپل زوی محمود سره د دویم نوح ملاتړ ته ورغی، پر (۳۸۴ هـ - ۹۹۴م) کال یې د هرات ښارته نژدې ابوعلي مات کړ او هغه د دیلمیانو دربار ته پناه یووړه، دویم امیر نوح سبکتګین ته د "ناصرالدین" لقب ورکړ او د خراسان حکمدار په توګه یې تر

The Digital Library

غزني، کابل او بلخ پورې وپېژاند، د هغه زوی محمود يې د "سيف الدوله" په لقب د نشاپور حکمدار وټاکه. دويم امير نوح او سبکتګين دواړه پر (۳۸۷هـ) کال مړه شول او دويم منصور د دويم نوح سپين زنی زوی پر ساماني تخت کښېنول شو، خو د سامان د کهاله د نظام رسۍ وشلېده، ايلك خان بخارا ونيوه او بکتوزن دويم منصور ړوند کړ (۳۸۹ هـ - ۹۹۸م). ورور يې دويم عبدالملك د دويم نوح زوی پر تخت کښېناوه، خو سلطان محمود د هغه ړانده پاچا د کسات اخيستلو له پاره مرو ته لاړ او په پای کښې يې له بکتوز او فايق سره داسې وکړل چې: هرات او بلخ (يعنې د افغانستان تر کابله) دې د محمود وي او نيشاپور او مرو دې د دوی.

محمود پر (۳۸۹ هـ) کال له دې جګړې راوګرځيد، او پر همدغه کال ايلك خان بخارا ونيوله، دويم ساماني عبدالملك يې په اوزګند کښې بندي کئ او همهلته يې وواژه. ابونصر ابراهيم منتصر د دويم نوح زوی د سامانيانو وروستني شهزاده په ډېره زړورتيا دمحمود له ورور نصر او ايلك سره جګړه کوله، څو په پای کښې د محمود په لمسانه پر (۳۹۵ هـ -۱۰۰۱ ع) کال ووژل شو، چې همدا د سامانيانو د سلسلې پای و.

د دغه مهال له علمي او اداري نوميالیو څخه دوه نامتو وزيران يو محمد د احمد جيهاني زوی (د ورکې جغرافيا ټولوونکی) او بل محمد د محمد بلعمی زوی (په درۍ ژبه د طبری تاريخ مترجم) او د دري له پخوانيو شاعرانو څخه هم ابو شکور بلخي، رودکي، دقيقی بلخي، او ابو محمد هاشم (په بست کښې د پښتو شاعر چې پر ۲۹۷هـ مړ دی) او نور وو.

د سامانيانو پر مهال، اسلام دين د اسلامي مدنيت له عربي ژبې او ادب سره تر کابله رارسيدلی و، خو د هېواد د ختيزو سرحدو لکه: ننګرهار، لغمان، کونړ او د خوست او منګل د غرونو اوسيدونکي پر خپلو پخوانيو

اديانو، ژبو او مدنيت پاتې وو او دري ادبياتو ښه وده کړې وه (۴۴ نومره د سامان د کورنۍ شجره.)

۱ - لومړی نصر د احمد ساماني زوی (۲۶۱ - ۲۷۹ هـ).

*۲ - اسمعيل د احمد زوی (۲۷۹ - ۲۹۵ هـ).

*۳ - احمد د اسمعيل زوی (۲۹۵ - ۳۰۱ هـ)

*۴ - دويم نصر د احمد زوی (۳۰۱ هـ - ۳۳۱)

*۵ - لومړی نوح د نصر زوی (۳۳۱ - ۳۴۳ هـ).

*٦- لومړی عبدالملك د نوح زوی (۳۴۲ - ۳۵۰ هـ).

*۷ - لومړی منصور د نوح زوی (۳۵۰ - ۳٦٦ هـ).

*۸ - دويم نوح د منصور زوی (۳۸۷ - ۳۸۹ هـ).

*۹ - دويم منصور د دوهم نوح زوی (۳۸۷ - ۳۸۹ هـ).

*۱۰ - دويم عبدالملك د دوهم نوح زوی (۳۸۹ هـ).

۱۱ - ابوابراهيم منتصر د دويم نوح زوی (۳۹۰ هـ) د ده تروژلو پورې پر (۳۹۵ هـ).

اخځونه:

ګرديزی - ابن اثير - طبقات ناصری - دايرة المعارف اسلامی - تاريخ سيستان - تجارب الامم - تاريخ الاسلام السياسی - مختصر تاريخ ايران د پاول هورن - روضةالصفا، طبقات سلاطين اسلام، معجم الانساب زمباور - تاريخ بخارا - لب التواريخ - تاريخ يمينی - دبارتولد ترکستان - حبيب السير.

The Digital Library

مناجاتو نه په پښتو ادبیاتو کښې منقول او په لاس کښې شته، تر هغه وروسته د سړبن زوی خرښبون د سلیمان له غره څخه د غلزیو د کلات د غونډان تر غره پورې واك درلود ، پر (۴۱۱ هـ - ١٠٢٠م) کال د سلیمان غره په جنوبي لمنه "مرغه" کښې مړ شو، همدارنګه اسماعیل د بیټني زوی د سلیمان په غره کښې واکمني او روحاني نفوذ درلود، د ده د واکمنۍ لمن د سلیمان غره لوېدیز پلو ته له "وازې خوا" څخه تر غزني پورې رسېده له دغو دوو تنو څخه هم د پښتو پخواني اشعار راپاتې دي (د ۴۰۰هـ - ١٠٠٩م په شاوخوا کښې). د خرښبون درې زامن: کند، زمندو او کاسي د پښتنو د ټبرو نومیالي نیکونه دي، چې د دوی کول لړۍ په افغاني نسب نامو کښې څرګنده شوې ده.

پاتې دې نه وي چې خرښبوني پښتانه د افغانستان په لوېدیزو سیمو کښې خپاره وو، لکه عبدالرزاق سمرقندي چې په غزني او برمل کښې د "افغان خرشواني" په نامه د هغو یادونه کوي، (٨٢٠ هـ) شاوخوا. (مطلع سعدین دویم ټوك لومړی برخه ٣۵٩ مخ لاهور چاپ).

د افغاني انسابو په کتابو کښې دا درې وروڼه غرغښت - بیټني او سړبن د پښتنو ټبرو د لړۍ سرونه ګڼل شوي دي، چې په دې ځای کښې د دوی د نسب د شجرې مهمې څانګې لیکل کېږي. (وګورئ ۴۵ مه نومره د نسب شجره).

ماخذونه: د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء، پښتانه شعراء لومړی ټوك، ایین اکبري، مخزن افغاني، د درویزه تذکرة الابرار، پټه خزانه، د پښتو ادبیاتو تاریخ ٢ ټوك، مطلع سعدین ٢ ټوك، حیات افغاني، شوکت افغاني، صو لت افغاني. خورشید جهان، د سراولف کیرو پټانان، د صوبه سرحد او بلوچستان ګزیتیر، د افغانستان ګزیتیر، تاریخ سلطاني.

پښتانه واکمنان
(د ٣٠٠ هـ شاوخوا)

له هغه ډېر پخواني کهاله چې د کسي (سلیمان) پر غره، د غور په غرو او د هغو سیمو په شاوخوا کښې یې د پښتنو واکمني او لاربښوونه کوله د کیس عبدالرشید پښتون (پټان) درې زامن مشهور دي چې غرغښت، بیټنی او سړبن نومېدل. د دغه پښتانه کهاله په اړه ډېرې سیمه ییزې افسانې شته، خو هغه څه چې د پښتنو پخواني مورخ سلیمان ماکو د (٦١٢ هـ -١٢١۵م) په شاوخوا کښې په خپله تذکره کښې لیکلي او تر هغه وروسته نورو مورخانو لکه ابوالفضل علامی په ایین اکبري کښې (١٠٠٦ هـ -١۵٩٧م)، اخون درویزه (چې پر ١٠۴٨هـ - ١٦٢٨م مړ دی) په تذکرة الابرار او مخزن اسلام کښې، نعمت الله هروي په مخزن افغاني کښې (١٠١٨ هـ - ١٦٠٩م) شیخ امام الدین خلیل (چې پر ١٠٦٠ هـ مړ دی) په تاریخ افغاني کښې تاید کړی دی او تاریخي حقایق دي دا راښیي چې دغو درې واړو ورونو د (٢۵٠ تر ٣٠٠ هـ پورې) په افغانستان کښې د غور له غرو څخه د سلیمان تر غره پورې واکمني او روحاني او قبیلوي نفوذ درلود. د شیخ بیټني ځینې پښتو

he Digital Library

فريغونيان

(۲۵۰ - ۴۱۰ هـ شاوخوا)

دغه کهاله د سامانیانو او غزنویانو په وختو کښې په ګوز ګانان کښې واکمني درلوده او له دوارو سلطنتي کورنيو سره يې دوستانه اړیکي ساتل، علم روزونکي او سوله پال، پوه پاچاهان وو، د دوی د حکومت شمالي ویش امو سیند او جنوبي ویش يې غرستان، غور او تالقان (د کروان رباط ته نژدې) د زمینداور او هیلمند تر شاوخوا پورې رسېده، په غور کښې هم د فریغونیا نو تر لاس لاندې یو حکمران ناست و. دی غورشاه نومېد. په خپله ګوزګان د سرپل شاوخوا ته ویل کېده، دا کهول تر اسلام د مخه د "ګوزګان خداه" د پاچهانو له نسله و، چې د فریغون په رباط یې اړه درلود، دا رباط د مقدسي په وینا اندخو د (اوسنی اندخوی) او کرکی څخه د یوې ورځې لارې واټن و. د افریغ کلمه د دغه هېواد په لرغونیو نومو کښې تر خوازرمه لیدل کېږي خو په خپله د فریغون (د دغه کهاله د لړۍ د مشر په اړه) څه معلومات نه لرو پرته له دې چې دا لعتبی په وینا د دریمې هجري پېړۍ په شاوخوا کښې د افریغون رباط ته نژدې اوسېده، خو د ده زوی احمد بن فریغون د اسلامي دورې په تاریخ کښې د دغه کهاله لومړی سړی دی چې موږ يې پېژنو نرشخي وايي:

پر (۲۸۷هـ - ۹۰۰م) کال چې امیر اسمعیل ساماني له عمرولیث صفاري سره جنګېده، امیر احمد فریغوني د عمرولیث له خوا هم د بلخ حکمران وپېژندل شو. قابوسنامه دی د ډېرو آسونو د ګلو خاوند ګڼي چې د ورځې يې زر ارزق بهانان راوړل او دا خبره مبالغه نه ده، ځکه چې د دې سیمو خلك تر اوسه د اسونو د ګلو په ساتنه او روزنه مشهور دي.

د دغه کهاله یو بل واکمن ابوالحارث محمد د احمد زوی دی چې موږ هغه د دري ژبې د پخوانۍ جغرافیې کتاب (حدودالعالم) له مخې پېژنو، دی پوه پالونکی واکمن و چې دا کتاب پر (۳۷۲ - ۹۷۲م) کال ده ته وړاندې شوی و او د دې کورنۍ د ډېر ځواك په وخت کښې حکمران و، اصطخري د (۳۴۰-۹۵۱) په شاوخوا کښې هغه یاد کړی دی. د بارتولد په وینا (۳۶۵ ۹۷۵ع) کال يې خپله لور ساماني زلمي پاچا نوح د منصور زوی ته ورکړه، د العبتي په وینا تر (۳۸۰ هـ -۹۹۰م) کال وروسته نوح د منصور زوی دی د فایق جګړې ته راوغوښت خو ماته يې وخوړه. ابن اثیر وايي چې پر (۳۸۳هـ) کال نوح له خراسانه ګورګان ته راغی او ابوالحارث ورسره یو ځای شو او پر (۳۸۵ هـ) کال چې سبکتګین له فایق سره جنګېده ابوالحارث د سبکتګین د ملاتړ له پاره هرات ته راغی او د العبتي په وینا، په همدغو وختو کښې خپله بله لور د سبکتګین زوی محمود ته ورکړه او د سبکتګین یوه لور يې خپل زوي ابوالنصر احمد د محمد زوی ته په نکاح کړه، پر (۳۸۶هـ -۹۹۶م) کال چې سبکتګین مړ شو، همدغه ابوالحارث د محمود او د هغه د ورور اسمعیل تر منځ روغه وکړه، له محمود سره غزني ته لاړ او پر (۳۸۹هـ ۸۹۸م) کال محمود د اسمعیل نیول هم ابوالحارث ته وسپارل دا د تاریخ په پاڼو کښې د ابوالحارث وروستنی یادونه ده.

العبتي پر (۳۹۴ هـ - ۱۰۰۳م) کال د فریغون بن محمد په نامه یو

The Digital Library

تن یادوي چې محمود هغه له بلخ څخه په وروستنی ساماني شهزاده منتصر پسې د اندخود او مرورود خواته استولی و، خو د ده پوره احوال لاس ته رانه غی. د دې کورنۍ یو بل سړی ابو نصراحمد د محمد ابوالحارث زوی دی چې دالعبتي او ګردیزي په وینا د ګوزګانان و، پر (۳۹۸ هـ - ۱۰۰۷م) کال په هغه جګړه کښې چې د قراخانیان او د محمود د ورور تر منځ په پل چرخیان کښې وشوه د محمودی لښکر د منځ (قلب) مشرو او پر (۴۱۰هـ ۱۰۱۰م) کال مړ شو. بیهقي د (۴۱۰هـ-۱۰۱۰م) کال په پېښو کښې لیکي چې پر همدغه کال محمود د غور جګړو ته لاړ، خو د ده شهزادګان مسعود او محمد پر څوارلس کلنۍ په زمینداور کښې د امیر فریغون ګوزګانان له زوی حسن نومي سره اوسېدل په همدغه کال امیر ابوالحارث مړ و، ځکه نو د ده زلمی زوی حسن د سبکتګین د لور له نسه د ګوزګانان د تاج وتخت نامزد و، خو دا سمه څرګنده نه ده چې د احسن د همهغه فریغون بن محمد زوی و، که د ابو نصر؟ خو په دې خبر یوو چې سلطان محمود د العبتي او عوفي په وینا د ابو نصر فریغوني لور خپل زوی محمد ته وکړه او د ګوزګانان ولایت یې بیرته ابو نصر ته ورکړ او ابو محمد حسن د مهران زوی یې د هغه ځای د چارو په کفالت له ده سره وګماره ګواکي د ګوزګان سیمه پر (۴۰۸هـ - ۱۰۱۷م) کال بشپړه د غزنویانو تر واکمنۍ لاندې راغلې وه، ناصر خسرو علوي په دغه بیت کښې اشاره ورته کړې ده:

کجاست آنکه فریغونیان زهیبت او
زدست خویش بدادند ګوزګانان را

په دې توګه نو د فریغونیانو کهول دافغانستان د لوېدیزو شمالي سیمو، سیمه ییز پاچاهان وو، چې په عدالت نېکنامۍ او د علومو په پالنه

یې شهرت درلود د فریغون په دربار کښې نامتو پوهان او لیکونکي روزلي شوي دي چې له هغې جملې څخه: بدیع الزمان همداني، ابو الفتح بستي، د مفاتیح العلوم خاوند خوارزمي او د حدودالعالم نامعلوم مولف دی.

د دغه کهاله نومیالي:

۱- امیرفریغون (۲۵۰ هـ).
۲- امیر احمد دفریغون زوی (۲۷۹-۳۳۷ هـ شاوخوا).
۳- ابوحارث محمد داحمد زوی (۳۳۷-۳۸۹هـ).
۴- فریغون د محمد زوی (۳۹۴هـ شاوخوا).
*۵- ابو نصراحمد د محمد زوی (۳۹۰- ۴۱۰هـ).
٦- حسن دابونصراحمد زوی؟ (۴۱۰هـ).

اخځ:

العبتي، ګردیزی، اصطخری، نرشخی، مقدسي، بیهقی، قابوس نامه، عوفي، ابن اثیر، مینورسکی دحدودالعالم پر لمنلیکونو، د بار تولد جغرافیای تاریخي ایران، معجم الانساب - د مینورسکي مقالې د لندن چاپ.

he Digital Library

د ملتان لودیان

(د ۳۷۰ -۴۰۱ هـ شاوخوا)

د (۳٦٦هـ۹۷٦م) په شاوخوا کښې سبکتګین په غزني کښې واکمن او ساماني واکمن، بې واکه او کمزوړي شول ځکه نو د افغانستان ښارونه له تخارستان او بلخه تر ګوزګانان هرات، سیستان، بست او کابل تر ګردیزه د غزني په پایتخت پورې وتړل شول (۳٦۸هـ-۹۷۸م).

په دغه وخت کښې دافغانستان ختیزو سیمو تر ماورای سند او ملتان پورې د ملتان د لودیانو په نامتو کهاله اړه درلوده او له لاهوره تر خیبره جیه پاله کابلشاه حکم کاوه. هغه وخت چې سبکتګین پر کابل او ننګرهار یرغل وکړ، جیه پاله وړاندې ورغی او د غزني په شاوخوا کښې یې ورسره جګړه وکړه خو مات شو، د جګړې د تاوان تر ورکولو وروسته بېرته لاهور ته وګرځېد او د قنوج، ډهلي، اجمیر او کالنجر راجه ګان یې له ځان سره ملګری کړل دیو لك چمتو سپرو سره تر خیبره را تېر او د کابل سیند پر غاړه لغمان ته راورسېد.

سبکتګین له هغه سره جګړه وکړه په زرګونو سرې یې ځنې ووژل او نور یې پر شا وشړل، د سند تر سینده پسې ولاړ، په پېښور کښې یې خپل -یو امیر له اوو زرو سپرو سره پرېښوو او په خپله غزني ته راغی (۳۸۱هـ

۹۹۱ م) په دغه وخت کښې ملتان د لودي شیخ حمید په لاس کښې و، (لودي د پښتنو یو نامتو ټبر دی) دغو لودیانو چې د سبکتګین واك ورځ پر ورځ په ډېرېدو ولید له هغه سره یې روغه وشوه او چې جیه پاله ماته وکړه شیخ حمید په ملتان کښې پر خپل ځای پاتې شو او له سبکتګین سره یې تړون وکړ (۳۸۲ هـ). د ده وراره شیخ رضی په اخبارااللودي کښې د احمد لودی په وینا د پښتو ژبې له شاعرانو څخه و، چې د حمید لودي په وختو کښې یې د افغانانو په غرو (سلیمان غره) کښې د اسلام تبلیغ کاوه، له دې څخه څرګندېږي چې د سند او غزني تر منځ ځینو افغانانو لا تر دغه وخته د اسلام دین نه و منلی، لکه چې پر (۳۷۲ هـ) کـال د (حدودالعـالم) جغرافیا لیکونکی د کندهار ښار (د اندس پر غاړه) د برهمنانو او بتانو او لغمان د بودتونو (بتکدو) او بنیهار (بنیر) د بت پرستو هندوانو او افغانانو ځایونه بولي، حال دا چې په همدغه وخت کښې بست غور او رخد اسلامي ښارونه وو او کابل یو داسې ښار و چې نیمایي یې مسلمانان او نیمایي یې هندوان وو. د شیخ حمید د مړینې خبر په تاریخ کښې نه شته خو دومره ښکاري چې په ملتان کښې د ده واکمني د سند تر غاړو او د سلیمان تر غره پورې رسېده. لاهور تر ټکسیلا او ویهند تر کندهاره (د سند د سیند پر غاړه) په جیه پاله پورې اړه درلوده، خو پر (۳۹۲ هـ ۱۰۰۱ م) کال محمود ویهندونیو او پر (۳۹٦ هـ ۱۰۰۵ م) کال چې یې پر ملتان لومړی یرغل وکړ. د ملتان حکمران ابوالفتوح داود د نصر زوی و، نو څرګنده شوه چې نصر د شیخ حمید زوی د لودیانو دویم حکمران د (۳۹۰ هـ - ۹۹۹ م)په شاوخوا کښې حکومت کاوه، دی تر حمید وروسته د هغه پر ځای کښېناست له غزنویانو سره د لودیانو د کورنۍ په سیاسي سیالۍ کښې د سلطان محمود له خوا په بده عقیده او د اسمعیلي ملا حده و، دین ته په ګروهېدلو متهم شوی و. مګر د پښتو له هېوادنیو اخځونو لکه

he Digital Library

پټه خزانه او د ده له پښتو شعره ځرګندېږي چې دا تور غلط او دی ملحد او بې دینه نه و.

ابوالفتوح داود تر نصر وروسته د ملتان تخت ته ورسېد او پر (۳۹۵ هـ ۱۰۰۴م) کال سلطان محمود د بهاتیه پر حکمران (بجی راو) باندې یرغل وکړ، داود څه اعتنا ورته ونه کړه، ځکه نو پر دا بل کال محمود له نوي لښکر سره د ننګرهار له لارې ورغئ، لومړی یې راجه اننده پاله په پېښور کښې مات او بیا ملتان ته ورسېد او تر اوو ورځو کلا بندۍ وروسته داود لودي پر کال دوه لکه او په بل روایت دوه کروړه درهمه خراج ومانه، شل زره درهمه یې هم د جګړې تاوان ورکړ محمود سره یې د روغې تړون وتاړه او تر (۴۰۱ هـ ۱۰۱۰م) کال پورې یې پر ملتان او د افغانستان پر ختیزو سیمو حکومت وکئ، خو پر همدغه کال محمود پر ملتان یرغل وکړ او هغه یې ونیو، د کندهار د شمال د غورك په کلا کښې یې بندي او همهلته مړ شو.

که څه هم چې د داود په مړینې د پخوانیو لودیانو کهول له منځه ولاړ خو د داود اولاده تر هغه وروسته هم په ملتان کښې وه، او د فخرمد بر په وینا د داود زوی شیخ د سلطان مسعود تر مړینې وروسته په ملتان بلواو کړه، چې د سلطان مودود له خوا یو لښکر د لوی حاجب احمد محمد او فقیه سلیطی په سپه سالارۍ دده د سر کوټلو له پاره وګمارل شو، همدا چې لښکر د وایوه کلا ته ورسېد، نوموړی شیخ له خپلو ملګریو سره منصوره ته ولاړ او غزنوي لښکریانو ملتان ونیو، دا په ملتان کښې د لودي کهاله د پایځوړ ورستۍ یادونه ده.

دا کهول په هند کښې د اسلامي او افغاني ثقافت لومړنی ممثل دی، د دغه کهاله دوه تنه شیخ رضي د حمید وراره او نصر د حمید زوی د پښتو ژبې شاعران وو، د دوی شعرونه او ژوند پېښې د پښتو شاعرانو

تذکرې پټې خزانې د شیخ احمد ابن سعید اللودی د کتاب اعلام الوذعی فی اخبار اللودی (۶۸۶ هـ ۱۲۸۷م) په حواله راوړې دي، "فرشته" هم د هغو افغانیت لیکلی دی. موږ وینو چې لودیانو پر (۸۵۵ هـ) کال بیا د بهلول لودي په مشرۍ په هند کښې د سلطنت دویمه کورنۍ جوړه کړې او سل کاله یې حکومت کړی دی (۹۳۲ هـ) خو د لودیانو لومړی کهول د افغانستان په تاریخ اړه لري او د بهلول کورنۍ په هند کښې پاچهي کړې ده.

د لومړی کهاله نومیالي:

۱- شیخ حمید لودي (د ۳۷۰ هـ شاوخوا).
۲- شیخ رضی د حمید وراره (د ۳۸۰ هـ شاوخوا).
۳- نصر د حمید زوی (د ۳۹۰ هـ شاو خوا).
۴- ابو الفتوح دواد د نصر زوی (۳۹۵ شاوخوا)
۵- شیخ ... د داود زوی (د ۴۳۲ هـ شاوخوا)

اخځونه:

تعلقات هندو عرب - زین الاخبار- د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲ ټوك - شوکت افغانی - تاریخ یمینی - فرشته - طبقات اکبری - حدود العالم - تاریخ سند - ابن اثیر - حیات افغانی - خورشید جهان - پټه خزانه - آداب الحرب.

The Digital Library

د تخارستان د باینجور کورنۍ

(۲۳۲- ۳۷۲ هـ)

د دې لړۍ امیرانو په تخارستان، بلخ، خلم، ترمذ، اندراب، پنجهیر، بامیان او وخش کښې حکمراني کوله او په هغه باینجور اړه لري چې د عباسي خلیفه ګانو منصور او مهدي هممهالي وو، کېدای شي چې تر اسلام دمخه د تګین شاهانو پایخوړ وي.

* ۱ - له هغې ډلې څخه: داؤد د الیاس زوی چې د ۲۳۲ هـ په شاوخوا کښې یې سکه وهلې او پر (۲۵۸هـ) کال یعقوب لیث صفاري له ده څخه بلخ ونیو. دی له ۲۳۳ کال څخه تر ۲۵۸هـ پورې د بلخ حکمران و او پر ۲۵۹ هـ کال مړ شو.

* ۲ - ابو داؤد محمد داحمد زوی او د باینجور لمسی، چې د ۲۶۰هـ په شاوخوا کښې یې سکه وهلې ده، دی له ۲۶۰ کال تر ۲۶۵ هـ پورې د بلخ او تر ۲۷۹ هـ پورې د تخار، جوزجان، ختلان او ترمذ واکمن و.

* ۳ - ابو جعفر احمد د محمد زوی او د احمد لمسی چې د ۲۷۹هـ له شاوخوا څخه واکمن و او پر ۲۸۸هـ کال یې په اندراب کښې سکه وهلې ده.

* ۴ - جعفر د احمد زوی او د محمد لمسی چې تر ۳۱۰ هـ وروسته یې حکومت کاوه او پر ۳۱۰-۳۱۲-۳۱۳- هـ یې په ختل کښې سکه وهلې چې

اوس هم شته.

* ۵ - احمد د جعفر زوی او د احمد لمسی چې د ۳۷۲ هـ په شاوخوا کښې حکمران و او د ګردیزي په وینا د چغانیانو دابی علی احمد د محتاج د زوی ملګری و.

د دې کورنۍ ځینې نور کسان هم حکمرانان وو، لکه داؤد د باینجور زوی چې پر ۲۰۶ هـ کال د بصرې عامل و، هاشم د باینجور زوی چې دوخش او هلاور د حکمران و، پر ۲۴۳ هـ کال مړ دی، بیګ د عباس زوی او د باینجور لمسی د ختل خاوند، حارث چې له ۲۷۲ څخه تر ۲۹۳ هـ پورې د ختل حکمران و او سکه یې هم وهلې ده، داود دابو داؤد زوی د عباس لمسی چې د ۲۷۲ هـ په شاوخوا کښې ژوندی و، حاتم د داود زوی او د باینجور لمسی چې د (۲۵۱هـ) په شاوخوا کښې د جوزکرمان حاکم و، او الیاس د هاشم زوی چې په ۲۱۱ هـ کال د مصر سر لښکر و. (د دې کورنۍ د نسب شجره وګورئ ۴۶ لمبر)

The Digital Library

سیمې حکمرانان و، د دوی د نیکونو یو تصویر چې لاس ته راغلی کټ مټ د هپتالي (هیاطله - هون) د پاچهانو بڼو ته ورته دی.

په اسلامی عصر کښې د غرستان د شارانو یادونه د سلطان محمود د فتوحاتو او د غزني سلطنت تر اداري لاندې د هېواد له اداري تمرکز سره منځ ته راځي، چې یو له دې غرستانی شارانو څخه "شاررشید" پر ۳۸۹ هـ کال د سلطان محمود سیاسي مشرتابه اودهېواد اداري یووالي ته غاړه ایښې وه، بل شار ابونصر محمد، د اسد زوی دی چې پر ۴۰۵ هـ کال سلطان محمود بندي کړ او پر ۴۰۶ هـ کال په هرات کښې مړشو.

۳ - شارشاه ابو محمد د محمد زوی و، چې د پلار پر ژوندانه د هغه پر ځای کښېناست او له سلطان محمود او ابو علي سیمجور سره وجنګید او تر ۴۰۶ هـ کال وراندې مړ شو.

۴ - شارارد شیر.

۵ - شارابراهیم دارد شیرزوی.

۶ - شارشاه دابراهیم زوی چې لور یې "حور ملکه" د سلطان حسین جهانسوز غوري ماندینه وه.

هغو شارانو چې د سلطان محمود تر وخت وروسته تېر شوي د غزني او غور تر مرکزي واکمنۍ لاندې ژوند کاوه، خو پوهان او علم پالونکي خلك وو.

ماخذونه:

ابن اثیر - تاریخ یمینی عتبی - دایره المعارف اسلامی، د غرجستان ماده - نامهای ایرانی جستی-روضته الصفا- تاریخ ګزیده - معجم الانساب زمباور - ابن خرد اذبه ۳۹ - معجم البلدان ۳-۷۸۵.

د غـــرســـتـــان شــــاران

(۳۸۹ - ۵۵۰ هـ)

لکه مارکوارت چې په ایرانشهر کښې څرګنده کړې ده، د "شار" کلمه له "شیر" او "شاه" سره ګډه ریښه لري او دا د افغانستان د منځنۍ سیمې د یو شمېر واکمنو لقب و، چې د واکمنۍ سیمې یې ختیز خوا ته د بامیان د شیرانو د هېواد ګاونډۍ وې او لکه د دغه کتاب په لومړیو بحثو کښې چې مو وویل دا شاهي کهولونه د دغه هېواد د هپتالي کوشاني عناصرو پایځوړ دی او د حکمرانۍ مرکز یې په ښشین کښې و، چې شورمین او بغشور هم د هغه ځای ښارونه وو او د دغه هېواد ار نوم په اوستایي تلفظ "غرستانه" او په طبقات ناصري کښې هم "غرستان" (په پښتو د غر{کوه} په مانا+ستان) دی. فردوسي یې په شاهنامه کښې د "غرچګان" په نامه یادوي او معرب یې غرجستان یا غرشستان دی. د دې سیمې شاران حکمرانان په نیاو (عدل) او داد مشهور وو، ناصر خسرو قبادیانی په دغه بیت کښې د دغو کورنیو او د دوی د حکمرانۍ د مرکزو داسې یادونه کړې ده:

استاده بد به بامیان شیری　　بنشسته بعزدربشین شاری(۱)

داسې ښکاري چې د غرستان شاران تر اسلام د مخه هم د دې

۱- د ناصر په دېوان کې دا بیت ناسم لیکل شوی، چې سم شو.

The Digital Library

د انــــــدراب امـــــیـــــران

دا امیران هم د هپتالي کوشانیانو د پخوانیو حکمرانانو له پایځوړه ښکاري چې په اسلامي عصر کښې یې اسلام منلی او د اندراب په غرو کښې پاتې شوي دي، له دې کبله چې د دوی د حکمرانۍ سیمه د ستغو غرو په منځ کښې وه، نو ځکه د جهانګیرانو له واکمنۍ خوندي پاتې وو.

له دغو امیرانو څخه یوازې د دوو تنو نومونه د دوی له سکو څخه لاس ته راغلي دي او دا سکې د ارمیتاژ په موزه کښې شته:

* ۱ - مکتوم د حرب زوی (د ۳۵۹ هـ پر شاوخوا).
* ۲ - سهلان د مکتوم زوی (د ۳۶۵ له شاوخوا څخه تر ۳۷۴هـ پورې).

مأخذونه:

معجم الانساب زمباور - د مار کوف د ارمیتاژ فهرست.

چغـانیـان امیران - آل محـتاج

چغان (معرب یې صغان) تر آمو ها خوا یو ځای دی چې اوس د شوروي تاجکستان جمهوریت جنوبي برخه ده. په نوموړي ځای کښې له پخوانیو زمانو څخه یوه سلطنتي کهاله د "چغان خدات" په نامه حکومت کاوه، چې له آریایي تاجیکو عناصرو څخه و؛ د اسلامي درېیمې پېړۍ په سر کښې امیر محتاج نومي هلته حکمران او چغان خدات ته منسوب و، چې تر هغه وروسته یې کورنۍ په تاریخ کښې د "آل محتاج" په نامه مشهوره شوه، له دې کورنۍ څخه عادلان او پوهان امیران منځته راووتل، د سامانیانو او غزنویانو په وختو کښې یې د آمو سیند پر دواړو غاړو بلخ او تخار باندې د هندوکوش تر شمالي لمنو پورې حکومت کړی دی. د محتاج د پلار دا یادونه چې احمد نومېده د یا قوت په معجم الادباء کښې راغلې ده، ژوند یې پر (۲۵۰هـ) اټکلېدی شي - د دې کورنۍ نور غړي دا دي:

۱ - له محتاجه یو زوی د ابو سعد مظفر په نامه پاتې شو چې د ۳۰۰ هـ په شاوخوا کښې یې ژوند او حکومت کاوه، زوی یې ابوبکر محمدبن مظفر د ساماني نصر بن احمد د دربار امیر او پر ۳۲۱ هـ کال د خراسان حکمران او د خراسان د ټولو عسکرو سپه سالارو، تر هغه د مخه د ۲۹۸هـ کال پر محرمه د اسمعیل ساماني د زوی احمد له درباره د سیستان د نیولو

له پاره استول شوی و او په ګرګان کښې حاکم شو، په خراسان کښې د ده د واکمنۍ ورځې له (۳۲۱ هـ) کاله د ده د مړینې تر کاله (۳۲۹هـ) پورې وې، دغه سړي د خراسان په پیښو کښې تل د یوه غښتلي او اغېزمن واکمن په توګه لاس درلود او په چغانیان کښې ښخ دی.

۲ - ابوعلي احمد د محمد زوی او د مظفر لمسی چې پر ۳۲۷ هـ کال د پلار د ناروغۍ پر وخت د خراسان سپه سالار او حکمران و، پر ۳۲۹هـ کال په جرجان اوری کښې له ماکان بن کاکي سره وجنګېد او هغه یې وواژه، خو پر ۳۳۳هـ کال چې د امیر نوح بن نصرساماني د دربار له خوا د خراسان له حکمرانۍ څخه لرې کړی شو، نو سر یې له اطاعته وغړاوه، نوح یې خلع کړ، په خپله یې د خراسان د چارو واګې په لاس کښې ونیولې او د ژوند تر پایه یې د سامانیانو له دربارسره اخ و ډب درلود، څو چې د ۳۴۴هـ کال د برات پر ۲۹ مړ او په چغانیان کښې ښخ شو.

۳ - ابوالعباس فضل د محمد زوی او د مظفر لمسی پر ۳۳۳ هـ کال د خپل ورور ابوعلي له خوا د بلاد جبل (عراق عجم) پر حکومت مامور شو، او تر هغه وروسته د ساماني عسکرو لوی سپه سالار و چې له خپل ورور سره یې هم جنګونه وکړل او پر ۳۳٦ هـ کال په بخارا کښې بندي شو.

۴ - ابوالمظفر عبدالله د احمد زوی، د محمد بن مظفر لمسی چې تر ۳۳۷ هـ وروسته د ساماني امیر نوح په دربار کښې در هین په توګه اوسېده، پر ۳۴۰ هـ کال له آسه ولوېد، مړ شو او په چغانیان کښې ښخ دی.

۵ - ابو منصور د احمد زوی د محمد لمسی چې پر ۳۴۰هـ کال د چغانیان د حکمرانۍ نایب و.

٦ - ابوالمظفر طاهر د فضل زوی، د محمد لمسی، د مظفر کړوسی،

he Digital Library

د چغانیان والي او ادب پالونکی فاضل سړی و. منجیك تر مذی د ده له ستاینکیو څخه و او پر ۳۷۷هـ مړ دی.

۷* - فخرالدوله ابوالمظفر احمد د محمد زوی ادبپال والي، د دقیقي او فرخي ستایلی و، چې د داغګاه مشهوره بولله "تا پرند نیلګون بر روی پو شد مر غزار" د ده په ستاینه کښې ده، سکه یې هم وهلې وه.

د آل محتاج امیرانو عموماً د سامانیانو او غزنویانو له سلطنتي کورنیو سره خپل ښه اړیکي ساتل، د هغو د ساتنې او ملاتړ تر سیوري لاندې یې د هندوکوش د شمالی ولایاتو حکمراني له بدخشان او تخاره نیولې تر بلخ او جوزجان پورې کوله، دا کورنۍ د دری ادب له پالونکیو څخه ګڼله کېږي.

(د نسب شجره دې وکتل شي - ۴۷ لمبر)

اخځ:

تعلیقات چهار مقاله د دکتور معین - معجم الانساب زمباور - ابن اثیر - تاریخ یمینی - معجم الادباء - رودکي د سعید نفیسی - ابن خلدون - روضةالصفا - دایرةالمعارف اسلامي - دیوان فرخی - د عروضی سمر قندی چهار مقاله

سیــمــجــوریــان

د "سیمجور" کلمه د جستي په وینا په " نامهای ایراني" کښې د زرین ګور خر (سیم‌ګور) په مانا ده او دا د خراسان د یوه سردار ابو عمران سیمجور نوم دی چې د ساماني اسماعیل د احمد د زوی په دربار کښې یې د سرمنشي (دوات دار) وظیفه درلوده (۲۸۷هـ) نو ځکه یې دی "دواتي" باله چې د خراسان یوه لویه کورنۍ وه.

۱- ابو عمران سیمجور دواتي پر ۲۹۸ هـ کال د ساماني اسماعیل د زوی احمد له درباره د سیستان په حکمرانۍ وګمارل شو، خو یو کال وروسته (۳۰۱ هـ) سیستانیانو له نصربن احمد سره مخالفت وکړ او سیمجور له هغه ځایه ووت. په (۳۱۴هـ) کال چې امیر نصر د احمد زوی "ری" ونیو د هغه ځای حکومت یې سیمجور ته ورکړ، دی د خپل مهال زړور او جنګیالی و، چې پر ۳۱٦ هـ کال د خراسان په څنډو کښې د ابوالحسن ناصر اطروش له زوی سره هم جنګېدلی دی.

۲ - ابو علي ابراهیم د سیمجور زوی تر خپل پلار وروسته د مرو، هرات، نیشاپور او قهستان حاکم و (۳۳۳ - ۳۳۵ هـ) نوح د نصر زوی، دی د ابوعلي احمد چغاني تر ګوښه کولو وروسته د خراسان په حکمرانۍ وټاکه، او څه موده هم د ګرګان والي و، چې پر ۳۳٦ هـ کې مړ دی.

۳* - ابوالحسن محمد د ابراهیم زوی او د سیمجور لمسی: د پلار تر مړینې وروسته د خراسان سپه لار او لقب یې ناصرالدوله و، پر ۳۵٦ هـ کال له یوه لښکر سره د "ری" نیولو ته وګمارل شو او د ۳۷۸ هـ کال پر ذیحجه مړ دی.

۴* - ابوعلي محمد مظفر د محمد زوی د ابراهیم لمسی د پلار تر مړینې وروسته د هغه پر ځای کښېناست او حاجب الباب و، څه موده هم د پلار پر ژوندانه د هرات حاکم و، خو تر هغه وروسته په نیشاپور کښې د خراسان واکدار او سپه لار وټاکل شو، سکه یې هم وهلې ده، د خپلواکۍ دعوه یې کوله، تر هغې چې د بلخ له حکمران سره یې لاس یو کړ او د ساماني امیر نوح په مقابل کښې یاغیان شول، خو امیر سبکتګین او زوی یې محمود له دوی سره وجنګېدل او د ۳۸۴ هـ کال د روژې پر ۱۵ ورځ یې په طوس کښې مات کړل؛ ابوعلي خوارزم ته وتښتېد او هلته د (۳۸٦ هـ) کال په روژه کښې ونیول شو، په پای کښې یې سبکتګین ته په لاس ورکړ چې د ګردیز په کلا کښې بندي و او پر ۳۸۸ هـ کال مړ شو.

۵ - ابوالقاسم علي د محمد زوی او د ابراهیم لمسی: د هرات والي و او پر ۳۸٦ هـ کال نیشاپور ته ولاړ د سبکتګین د دربار له خلکو سره یوځای شو، د قهستان حکمراني یې ومونده، د ټیتوالي او پاسوالي تر لیدو وروسته له ساماني منتصر سره یو ځای شو (۳۹۱هـ) په سرخس کښې یې د سبکتګین له زوی نصر سره جګړه وکړه، ونیول شو او غزنه ته یې واستاوه.

٦ - ابوالحسن د ابوعلي سیمجوري زوی: پر ۳۸۵ هـ کال چې یې پلار له برمه پرېووت، دی "ری " ته ولاړ، خو په نیشاپور کښې د امیر محمود لاس ته ورغی، غزني ته واستول شو او په ګردیز کلا کښې بندي و.

۷ - ابوسهل د ابوالقاسم علي زوی او د محمد لمسی: د ۳۸۸ هـ په

شاوخوا کښې یې ژوند کاوه.

د دې کورنۍ نومیالیو په خراسان کښې د ساماني د وخت او د غزنوي دورې د پیل په پېښو کښې لویه ونډه درلوده، ډېره موده یې په بشپړ ځواك او خپلواکۍ حکومت کړی دی، کله یې هم د پاچا په عنوان سکه وهلې ده، چې د ابوالحسن محمد ناصرالدوله سکه شته له ۳۷۲ څخه یې تر ۳۷۷هـ پورې حکومت کړې، او یوه لور یې د نوح بن منصور ساماني پاچا ماندینه وه.

همدارنگه ابوعلي محمد مظفر عمادالدوله (۳۷۷ - ۳۸۷ هـ) هم سکه وهلې وه او خپلواکي یې درلوده. (۴۸ نمبر نسب پانه دې وکتل شي)

مأخذونه:

الکامل - تاریخ یمیني - طبقات ناصری - نامهای ایرانی، د بارتولد ترکستان - د زامباور معجم ۳۱۰.

The Digital Library

غــــزنــــویــــان

(۳۵۱ - ۵۸۳ هـ)

د سامانیانو په یادونه کښې مو ولوستل چې پر (۳۴۹هـ - ۹۶۰م) کال د ساماني لومړي عبدالملك له درباره امیرحاجب الپتگین د خراسان په سپه سالارۍ گمارل شوی و، خو د عبدالملك تر مړینې وروسته الپتگین د ساماني نوح له زوی منصور څخه سر وغړاوه او غزني او زابلستان ته ولاړ (۳۵۰هـ) دا مهال د غزني د شاوخوا حکمران د لویك له کورنۍ څخه یو سړی و، چې د دې کورنۍ یادونه د کتاب په پیل کښې تېره شوه او ښایي چې د افغانستان د هپتالي کوشانیو د امیرانو پایڅوړ وي، ځکه چې په خپله الپتگین او د هغه ځای ناستي چې د نومو په پای کښې یې د "تگین" کلمه راغلې ده، هم د تگین شاهي سلطنتي کهاله ته منسوب دي چې یو افغاني او ترکي گډ جوړښت دی، د چیني گرزندوی وکونگ Wou-Kong په شهادت د (۷۶۰م) کال په شاوخوا کښې یې د افغانستان پر ختیزو او د هندوکوش پر جنوب واکمني کوله او د تگین اباد ښار د دوی په نامه د محمود د اخلافو تروخت پورې هم د اوسني کندهار لوېدیز شمال ته ولاړ و، سکې یې چې د اسلامي عصر په اوایلو پورې اړه لري د هندوکوش په شاوخوا کښې موندل کېږي.

The Digital Library

په هرحال الپتګین له لویك (انوك) څخه غزني لاس ته راوست (۳۵۱هـ) تر خپلې مړينې پورې يې يو کال پر غزني او زابلستان حکومت وکړ او پر (۳۵۲هـ) کال په غزني کښې مړ شو، تر هغه وروسته يې زوی اسحاق پر ځای کښېناست.

دا مهال بیا امیر لویك د غزني د نیولو له پاره راغی، اسحاق بخارا ته و تښتېد، له منصور بن نوح څخه يې مرسته وغوښتله او بېرته يې غزني ونیو، چې تر دريو کالو حکمرانۍ وروسته پر (۳۵۵هـ - ۹۶۵ ع) کال مړ شو. تر الپتګین وروسته د ده يو ملګری چې ښه پرهيزګار، مبارز او عادل سړی و او بلکاتګین نومېد ((په غالب اټکل به همهغو افغاني تګین شاهانو ته منسوب وي)) د ده پر ځای کښېناست، دی لس کاله په غزني کښې امیر و، د (۳۵۹هـ) پر شاوخوا يې په غزني کښې سکه وهلې ده، چې د (۳۶۵هـ) په شاوخوا کښې د ګردیز په کلابندۍ کښې مړ شو، امیر پیري تګین چې يو مفسد سړی او د الپتګین ملګری و، پر غزني يې لاس بری وموند خلك له هغه څخه خوابدي او تنګ شوي وو، نو د غزني او ګردیز د پخواني کهاله امیر، لویك يې راوباله، لویك د کابلشاه د زوی په مرسته د لوګر د خرخ پر شاوخوا (د کابل جنوبي لوري ته) یرغل وکړ. امیر سبکتګین (د الپتګین زوم او ملګري) هغه مات کړ، لس پیلان يې ختي ونیول او غزني ته راغی، د غزني چې خلك د پیریتګین له ظلمه تنګ شوي وو نو په ګډه يې امیر سبکتګین د جوق قرابجکم زوی او د قرارسلان لمسی (غالبا تګین شاهیانو ته منسوب) يې د غزني په امارت ومانه (د ۳۶۶هـ - ۹۷۶م کال د شعبان ۲۷).

امیر سبکتګین نوی مسلمان شوی او زړور سړی و، او د نظام الملك په وینا په سیاست نامه کښې او د حمدالله په وینا په تاریخ ګزیده کښې ده، د زاول د یوه مشر لور غوښتې وه، او له دې لارې د افغانانو زوم

شوی و، ځکه نو د ده په لښکر کښې ټول افغانان جنګېدل او بست، قصدار (بلوچستان د کلات جنوب په اوسني خضدار)، زمینداور، بامیان، تخارستان، غور، زابلستان او کابل يې چې د قراتګین نومي د ګمارل شويو کسانو په لاس کښې و، ونيول او د کابل په شمالي سيمه پروان کښې يې سکه ووهله لکه چې مو د لوديانو په حالاتو کښې ووېل په لغمان کښې يې د کابل سيند پر غاړه دويهند له جيپا له کابل شاه سره جګړه وکړه او د هغه سل زريز لښکر يې مات کړ، لغمان يې تر پېښوره ونيو او د هغو سيمو خلکو ته يې د اسلام د دين تبليغ کاوه (۳۸۱هـ - ۹۹۱م) په دې جګړو کښې سبکتګين ته ډېره ولجه په لاس ورغله، ډېر غښتلی شو، د عتبی او ابن اثير په وينا افاغنه او خلج (نني غلجيان) تر هغه وروسته د ده تابع شول.

د سبکتګين له نورو غوره کارو څخه لکه د دويم ساماني نوح په حالاتو کښې چې مو ووېل، د هرات په جګړه کښې (۳۸۴ هـ - ۹۹۴م) د سبکتګين او د هغه د زوی محمود، مرسته ده چې په نتيجه کښې يې د ساماني دربار مخالفان و پرځېدل. دانامتو عادل، زړور او رېښتين پاچا تر ۲۱ کالو حکمرانۍ وروسته د ۵۶ کلنۍ په عمر پر (۳۸۷ هـ) کال د بلخ او باميان تر منځ د مدرموي په کلي کښې مړ او په غزني کښې ښخ شو. له آمو سينده ترقصدار (بلوچستان) پورې او له سند سينده تر نشاپور او سيستان پورې يې د غزني تر مرکزيت لاندې يو هېواد جوړ کړی و. وطني کورنيو حکمرانانو لکه په سيستان کښې د صفاريانو وروسته پاتې کسانو او په ګوزګان کښې د آل فريغون اميرانو د هيواد په ختيځ کښې د ملتان لودی پاچهانو دده مشرتوب منلی و.

د امير سبکتګين تر مړينې وروسته د ده د شپږو زامنو له ډلې څخه اسمعيل غزني ته راغی او د ده پر ځای کښيناست، خو د بې کفايتۍ له امله

The Digital Library

يې ښوربښيانو سر واخيست، د ده مشر ورور امير محمود چې په نشاپور كښې د خراسان حكمران و، په همدغه كال (۳۸۷ هـ) له خراسانه لښكر راويوست او د غزنين په وره كښې يې له خپل ورور سره جګړه وكړه، خو دا چې د محمود مور زاولۍ وه او فردوسي هم هغه زابلي بللې ده (خجسته درګه محمود زابلي درياست) نو د زابليانو په مرسته يې اسمعيل او د هغه لښكر مات كړ او اسمعيل تر اوو مياشتو پاچهي وروسته په زندان كښې مړشو.

محمود د غزني تر نيولو وروسته د بلخ خوا ته مخه كړه، پر همدغه كال يې شمالي افغانستان هم ونيو، په بلخ كښې د پاچهۍ پر تخت كښيناست او د مرو خواته پر مخ ولاړ چې د نوح له زوى عبدالملك سره جګړه وكړي، خو د جګړې پر ځاى يې روغه وشوه، ساماني درباره له تخارستانه تر بلخ او هراته محمود د خراسان د پاچا په توګه وپېژاند (۳۸۸هـ - ۹۹۸ ع) هغه وخت چې يې وغوښتل له مرو څخه بلخ ته راوګرځي؛ د بغداد خليفه القادربالله له خوا د عهداولوا خلعت ورته راورسېد او پاچهي يې پر خراسان باندې رسماً د "يمين الدوله او امين المله ولى اميرالمومنين" له القابو سره ومنل شوه (د ۳۸۹ هـ - ۹۹۸م ذيقعده). امير محمود په سكو كښې د نظام الدين، ملك الممالك او ملوك الملوك په القابو هم ياد شوى، فردوسى دى "شاه" او العتبى يې احياناً "سلطان" ليكي. د غزنوي دورې نور مورخين لكه بيهقي او ګرديزي ورته "امير" وايي خو نظام الملك په "سياست نامه"، ابن اثير په "الكامل" او منهاج سراج په "طبقات ناصري" كښې ويلي دي چې: محمود لومړى وار د "سلطان" په لقب ملقب شو او د مجمل التواريخ والقصص (د تهران چاپ) د مؤلف په وينا دا لقب محمود د امير خلف صفاري له وينا واخيست او هغه وخت چې خلف ووېل محمود سلطان دى تر هغه وروسته محمود په دغه مشهور شو، (۴۰٦مخ).

سره له دې چې دا لقب د ده او د ده د اخلافو پر سكو نه شته او لومړى وار د ابراهيم غزنوي پر سكه وهل شوى چې پر (۴۵۱هـ - ۱۰۵۹م) كال پر تخت كښېناست، خو په غزني كښې د سلطان محمود د قبر پر شناخته په كوفي غونډې پخواني ليك د ده د مړينې ورځو ته نژدې ليكل شوى دي "الاميرالاجل السيدنظام الدين ابى القاسم محمود بن سبكتګين" چې دا ټينګ سند دې پر پخواني دى.

سلطان محمود پر (۳۸۹هـ) كال د ساماني منصور او عبدالمالك غوره اميران بكتوزون او فايق او وروستني ساماني شهزاده المنتصر يې لكه چې دمخه وليكل شول نسكور كړل په نور پاته ژوند كښې يې د (۳۹۲ هـ او ۴۱٦هـ) تر منځ اووه لس واره پر هند لوى او كوچني يرغلونه وكړل او له (۳۹۰هـ څخه تر ۳۹۲هـ)پورې يې دويهن په ولايت (داټك پر غاړه اوسني هوند) او لغمان او پېښور كښې له جيپاله سره وجنګېد او پېښور يې ونيو، چې د "غازي" په لقب مشهور شو. پر (۳۹۳ هـ - ۱۰۰۲م) كال يې د احمد صفاري زوى خلف لكه د صفاريانو په احوال كښې چې تېر شول ونيو، سيستان يې قبجى حاجب او كد خداى بو علي شاد ته وسپاره، خو بوبكر عبدالله چې د خلف د لور نبيره و، بوالحسن حاجب پر دوى بلوا وكړه، ځو سلطان پر (۳۹۴هـ) كال بيا سيستان ته راغى او هغه بلوا يې شنډه كړه.

پر (۳۹٦هـ-۱۰۰۵م) كال د سند تر سيند پورېووت او لكه د لوديانو په بحث كښې چې وويل شول ملتان يې ونيو او پر (۳۹۷ هـ-۱۰۰٦م) كال يې د تركستان ايلك خان چې بلخ او هرات يې تر نشاپوره تر واك لاندې و مات كښې، پر (۳۹۹هـ -۱۰۰۸م) كال يې د هند راجګان په ويهيند كښې له اننده پاله سره مات كړل د (۴۰۲ - ۴۰۳هـ) تر منځ يې په پنجاب او كشمير كښې فتوحات وكړل او پر (۴۰۳هـ ۱۰۱۲م)كښې يې غرجستان (د غور شمال

e Digital Library

ته) هم ونیو، د بیهقي په وینا یې پر (۴۰۵هـ - ۱۰۱۴ع) کال د بست له لارې پر غور یرغل وکړ، د غور حکمران امیر محمد سوري له لسزریز لښکر سره د آهنګران په کلا کښې کلابند او بندي شو د (۴۰۷هـ - ۱۰۱٦م) په شاوخوا کښې یې پر پنجاب او کشمیر بریدونه وکړل او یو کال وروسته د خوارزم خلکو پر مامون خوارزم شاه (د سلطان محمود پر اوښي) بلوا وکړه او ویې واژه، خو محمود خوارزم ونیو او آلتونتاش یې هلته ودراوه. پر (۴۰۸) (۴۰۹-۴۱۰هـ) کالو یې په هند کښې قنوج او د ګنګ کڅونه له ډېرو بندیانو او ولجو سره ونیول او له دریو ملیونو درهمو سره غزني ته راستون شو. د ابن اثیر په وینا په لاره کښې له افغانانو سره ونښت ځکه چې دوی تل د هند او غزني په لاره کښې د محمود مخه نیوله. پر (۴۱۱هـ - ۱۰۲۰م) کال د غور فتح پر (۴۱۲هـ)کال د کشمیر د لوهر کوټ د حصار محاصره، پر (۴۱۳هـ) کال د ګوالیار او کالنجرو او پر (۴۱۴ هـ) دسلیمان د غرو او افغانانو فتوحات بشپړ شول. پر (۴۱۵هـ ۴۱٦) کال ماوراالنهرته ولاړ، د بلخ او آمو د غاړې امیران یې د ځان تابع کړل له کاشغری قدرخان سره یې تړون وتاړه، او څلور زره سلجوقیان یې خراسان ته راوستل. پر (۴۱٦ هـ) محمود د جنوبي هند د کاتیاوار پر سومنات حمله وکړه، د هغه ځای مشهور بودتون (معبد) یې وران کړ دلته ډېره ولجه لاس ته ورغله او ګجرات یې هم ونیو.

د محمود وروستنی یرغل پر (۴۱۸هـ - ۱۰۲۷م) کال د ملتان د جټانو د طایفې د تادیب له پاره و او په خپل ژوندانه کښې په دې بریالی شو چې له اصفهانه نیولې تر عراق همدان او طبرستانه، ختیځ خواته د ګنګا تر څنډو، شمالاً تر خوارزمه، جنوباً د بلوچستان تر کڅو او کاتیا وار پورې یې یوه لویه شهنشاهي جوړه کړه او خپل زوی مسعود یې په اصفهان کښې کښېناوه (۴۲۰ هـ-۱۰۲۹م) دا لوی هېواد یې له ګنګا څخه د دجلې او فرات

تر کڅو (سواحلو) پورې د غزني د مرکزیت تر ادارې لاندې راووست او په آسیا کښې یې خورا لویه امپراتوري جوړه کړه. ده په غزني - پروان - نشاپور هرات - جوزجان - بلخ - ولو الج (تخارستان) لاهور (د محمود پور په نامه) او د هرات په نورو ښارو کښې سکه ووهله او دربار یې تل د درې سترو شاعرانو لکه فردوسي، فرخي، منوچهري، عنصري او لویو پوهانو لکه البیروني، ابن سینا، ثعالبي، خمار، العتبی او نورو د راټولېدو ځای و. دی ستر، باکفایته، زړور، سخي او د جهاندارۍ په چارو پوه پاچا و، چې د العتبی په وینا یې له ترکي افغاني تاجیکو، خلجو (غلجو چې داصطخری او یاقوت په وینا په خراسان او سیستان او کابل کښې اوسېدل) او هندو عناصرو څخه ګډ لوی لښکر جوړ کړ او د افغانانو طایفې یې د غور په غرو د سلیمان په غره، سپین غره او نورو کښې د ځان تابع او اسلام یې پرې ومانه د ابن اثیر په وینا د معتزله، باطنیه، جهمیه، مشبه او روافضو فرقې یې وشړلې او کتابونه یې وروسېزل. د ابن خلکان په وینا ده هر کال په هند کښې غزا پر ځان فرض کړې وه، په مذهب شافعي و، ابن خلکان د امام الحرمین عبدالملك جویني (د سلطان معاصر) له کتابه چې "مغیث الخلق فی اختیار الاحق" نومېږي وایي چې: محمود دامام ابوحنیفه په مذهب و، له حدیثو سره یې خورازیاته مینه درلودله او تل به یې هغه له لویو شیخانو څخه اورېدل خود قفال سرهزی نامتو شافعی فقیه په هڅه دامام شافعی مذهب ته راواوښت.

لنډه داچې سلطان محمود کروړ او زړور پاچا و، د ابن اثیر په وینا ښه مخ، ښکلې ښه یې درلوده، سترګې یې کوچنۍ او ویښتان یې سره وو، د ابن خلکان په وینا د (۳٦۱هـ) کال د عاشورا پر ٦ مه زیږېدلی و، چې د آسیا په زړه کښې د یوه لوی دولت تر جوړولو وروسته دسل په ناروغۍ

اخته، او پر (٦١) کلنۍ تر (۳۳) کالو پاچهي وروسته د (۴۲۱هـ - ۱۰۳۰م) کال د دویمې خور (ربیع الاخر) پر ۲۳ د پنجشنبې پر ورځ مړ او د غزني په فیروزه مانۍ کښې ښخ شو. اوس که څه هم په غزني کښې د فیروزه مانۍ څه نخښه نه شته، خو یوازې د سلطان د مزار ښناخته (ډبرلیك) پاتې دی چې پر هغه یې په کوفي غونډې لیك داسې لیکلی دي: "غفراناً من الله الامیرالاجل السید نظام الدین ابی القاسم محمود بن سبکتگین غفرله، توفی رحمته الله علیه ونور حفرته وبیض وجهه عشیته یوم الخمیس اسبع بقین من شهر ربیع الاخر سنه احدی و عشرین واربعمائه "هغه کوچنۍ گنبده چې نن د سلطان پر مزار ودانه ده پر ۱۳۲۴هـ ق کال د امیر حبیب الله خان په امر جوړه شوې ده. (۴۹-۵۰عکسونه)

تر محمود وروسته یې زوی محمد له گوزگانان څخه راغی او په غزني کښې د پلار پر ځای کښیناست، خپل اکا امیر یوسف د سبکتگین زوی یې خپل سپه سالار خواجه ابو سهل احمد حمدوی یې وزیر او علي قریب یې لوی حاجب وټاکل خو تر (۵۰) ورځو وروسته ابوالنجم امیر ایاز ایماق او علي دایه له غزني څخه د دې له پاره ووتل چې د سلطان مشر زوی امیر مسعود ته چې په "ری" او اصفهان کښې حکمران و، ورشي او هغه د خلکو له خوا غزني ته راوبولي. محمد د هندوانو د لښکر سپه سالار "سوندهرای" په هغو پسې وگماره، خو د سرای مریانو سوندهرای و واژه او په نشاپور کښې امیر مسعود ته ورغلل، دا مهال د بغداد خلیفه القادر بالله د امارت لوا او غهد د مرسل بن منصور بن افلح گردیزي په لاس امیر مسعود ته ولېږل، ده ته یې د اسلامي دایره المعارف په وینا د ناصرالدین الله او حافظ عبادالله او ظهیرخلیفة الله لقب ورکړ، چې ابن اثیر دالقب سید الملوك او السلاطین هم لیکلی دی، په دغه ډول یې مسعود رسماً د خراسان

Digital Library

پاچا وپېژاند.

امیر مسعود له هراته بست ته راغی، محمد له غزنه څخه تگین آباد (دهلمند او ارغنداو ترمنځ) ته لښکرراووست، خو تر(۷) میاشتو پاچهۍ وروسته امیر یوسف او علي قریب هغه په تگین آباد کښې ونیو ړوند یې کړ او امیر مسعود یې د هغه پر ځای کښیناوه (۴۲۱هـ د کوچني اختر میاشت).

سلطان مسعود خواجه احمد د حسن میمندی زوی (چې پر ۴۲۱ هـ مړ دی) د هند له زندانه راویوست او هغه یې خپل وزیر وټاکه او حسن میکالی (وزیر مشهور په امیر حسنك) یې د قرمطي والي په تور په بلخ کښې غرغره کړ، د محمود له خزانه داره یې چې احمدینا لتگین نومېد خورا ډېر مال واخیست او دی یې هند ته واستاوه او پر (۴۲۲ هـ) کال یې کرمان او مکران ونیول، پر (۴۲۳ هـ ۱۰۳۱ م) کال هرات ته ولاړ او سپه سالار عبدوس یې د خراسان د ترکمانانو د فساد د مخنیوي له پاره وگماره، پر (۴۲۴ هـ) کال یې د کشمیر پر سرستی لښکرو یوست او پر (۴۲۵ هـ - ۱۰۳۳ م) کال یې برآمل، ساری او طبرستان بری وموند امیر بکتعذي یې له لوی لښکر سره د خراسان د شمالي ډاگو د ترکمانانو د مخنیوي له پاره واستاوه خو ببرته، ناکام راستون شو پر (۴۲٦ هـ - ۱۰۳۴ م) کال یې یو لښکر د هندو سپهسالار تلك د جهلن د زوی په مشرۍ د احدینا لتگین د ځپلو له پاره چې په هند کښې یاغي شوی و، ولېږه، احمد مات شو او منصوره ته ور وتښتېد، د سند په اوبو کښې ډوب شو (۴۲۷ هـ - ۱۰۳۵م) او پر همدغه کال یې پرهانسې او د هند پر نورو کلاو یرغل وکړ، تر فتوحاتو وروسته یې خپل زوی امیر مجدود په لاهور کښې حکمران پرېښوو او تر (۴۲۸ هـ - ۱۰۳٦ م) پورې ببرته غزني ته راغی.

له دې کبله چې په خراسان کښې سلجوقي ترکمانانو تل فتنې

Digital Library

جوړولې ځکه یې پر همدغه کال د بلخ له لارې ماوراء النهر ته مخه وکړه، خو پر بلخ باندې داؤد ترکمان یرغل وکړ، چې امیر مسعود بلخ ته ورسېد داؤد مرو ته پر شا شو، او پر (۴۲۹ هـ) کال یې په ګوزګانانو کښې مسعود علي کندزي له پښو واچاوه او ځینې سلجوقیان یې د ځړځایو په ورکړه راضي کړل، له ځینو سره یې پر (۴۳۰ هـ) کال په شمالي سیمو کښې جګړه وکړه او تر (۴۳۱هـ - ۱۰۳۹م) کاله د هرات او غور له لارې غزني ته راغی، لوی حاجب سباشي او حاجب بکتغدی چې په دې جګړو کښې یې خپلسري کړې وه مصادره او په هند کښې معزول کړل. په دې وخت کښې د سلجوقي میکائیل زامنو طغرل او چغری بیك خراسان له نیشاپوره تر هرات بلخ او سیستان پورې ونیو، مسعود یې د مرو اوسرخسی منځ د "دندانقان" په جګړه کښې مات کړ او پر(۴۳۱هـ) کال مسعود خپله وروستنۍ سکه ووهله چې تر هغه وروسته په ۴۳۳هـ کال په هغه ښار کښې سلجوقي طغرل سکه وهلې ده.

امیر مسعود چې د هېواد په اوضاع کښې ګډوډي ولیده، خپل زوی مودود یې په غزنه کښې پرېښوو او په خپله له محمودي خزانو، لښکر او خپل ړانده ورور محمد سره هندوستان ته لاړ خو په ماریګله (د اوسني حسن ابدال په شرقي برخه) کښې د ده لښکریانو پرده بلوا وکړه، ړوند امیر محمد یې خپل پاچا وټاکه، مسعود یې د ګیري (ګهری) په کلا کښې بندي کړ او بیا یې د طاهر بن محمد په لاسو وواژه (د ۴۳۲ هـ - ۱۰۴۰ کال د جمادی الاولی ۱۱).

په دې وخت کښې امیر مودود په غزنه کښې پر تخت کښېناست او له خپل لښکر سره یې هندوستان ته مخه وکړه، د ننګرهار په دنپور (اوسنی جلال آباد ته نږدې - د بابر په آدینه پور) کښې د خپل تره محمد له لښکر سره ونښت او د خپل پلار ترك او تاجیك وژونکي یې ووژل، محمد او د هغه

زوی طاهر یې هم ژوندي پرې نه ښوول (۴۳۲) هلته یې یو ښار د "فتح آباد" په نامه ودان کړ، چې تراوسه په همدغه نامه پاتې دی.

سلطان مودود له سلجوقي ترکانو سره چې نفوذ یې ورځ پر ورځ په ماوراء النهر او خراسان کښې ډېرېده، د ښو اړیکو په ټینګولو کښې زیاریوست او د بیګك لور یې وکړه، خو سره له دې هم د هغه له شره خوندي پاتې نه شو، له همدې کبله غزنویانو تر خراسانه پر خپلو هندي مستملکاتو باور پیدا کړ، دا کار لومړی د مودود په سکو کښې لیدل کېږي چې پر خپله سکه یې د سیوا Siva د غوایه صورت د سری سمنته دیوه Sri samanta Diva له لیکنې (ډېرلیك) سره نقش کړې و، چې دا رویه د ویهند د کابل شاهانو له سکو څخه اخیستل شوې وه. مودود تر ۹ کالو پاچهۍ وروسته پر ۳۹ کلنۍ (۴۴۱هـ - ۱۰۴۹م) کال مړشو او د غزني پاچهي تر دوو میاشتو پورې د امیر مودود د زوی دویم مسعود او تره یې علي د لومړی مسعود د زوی په نامه وه، چې د سلطان محمود زوی عبدالرشید پر دوی غالب او پر همهغه کال (۴۴۱) د غزني پر تخت کښېناست.

سلجوقي داؤد چې د خراسان حکمدار و، د سیستان له لارې پر بست او زمینداور یرغل وکړ او زوی یې الپ ارسلان له تخارستانه پر غزني راغی - خو د عبدالرشید د لښکر سالار چې طغرل نومید او د سلطان محمود له مریانو څخه و، الپ ارسلان د خمار په دره کښې (ښایي د اوسني میدان په کهنه خمار کښې)، داود په بست او د هغه تره بیغو یې په سیستان کښې مات کړل او وروسته بیا غزني ته راغی عبدالرشید یې د آل محمود له ځینو شهزادګانو سره وواژه (د ۴۴۳ - ۱۰۵۰م شاوخوا) خو د غزني خلکو پر طغرل بلوا وکړه او نوشتګین نامي دی وواژه، سلطان فرخزاد د مسعود زوی او د محمود لمسی یې د غزني پرتخت کښېناوه (۴۴۴هـ) ده د زابلستان د خلکو

e Digital Library

له اوړو څخه د درنو مالیو بار لرې کړ، ځکه نو په خلکو ګران شو، فرخزاد د هیواد اداره لوی حاجب خرخیز ته وسپارله. هغه د سلجوقیانو د مقابلې له پاره لوی لښکر خراسان ته ولېږه او د ابن اثیر په وینا په ډېرو جګړو کښې بریالی شو. خو د فرخزاد ځینو مخالفینو دسیسه جوړه کړه او غوښتل یې چې دی په حمام کښې ووژني، خو پر (۴۵۰هـ) کال د خپلو ملګریو په مرسته له دې مړینې څخه وژغورل شو او تر (۷) کالو پاچهۍ وروسته د (۴۵۱ هـ) کال د صفر په میاشت کښې مړ شو، وروروسته یې ورور ابراهیم د مسعود زوی پاچهۍ ته ورسېد، ده له سلجوقي داؤد او آلپ ارسلان سره روغه وکړه او د افغانستان ختیزې برخې تر لاهور پورې ده په لاس کښې پاتې شوې، خو ځلې یې هند ته لښکر ویوست او د خیرآباد، ایمن آباد کلاوې او ډېر مسجدونه، مدرسې او مانۍ یې ودانې کړې، (۴۲) کاله یې په آرامۍ او هوسایې حکومت وکړ او پر (۴۹۲ هـ - ۱۰۹۸م) کال پر شپېته کلنۍ مړ شو، زوی یې علاء الدین درېیم مسعود د ده پر ځای کښېناست او امیر عضدالدوله ته یې د هند امارت ورکړ، خو دا چې د سلطان سنجر خور "مهد عراق" یې ماندینه وه، نو ځکه یې له سلجوقیانو سره روغه او دوستي درلوده، له همدغه کبله یې هند نیولو ته پام واړاوه تر هغې چې د ده سپه سالار طغاتګین په هندستان کښې د ګنګ تراوبو پورېووت.

سلطان ابراهیم د (۵۰۹ هـ - ۱۱۱۵ م) کال په شاوخوا کښې مړ او زوی یې ارسلان شاه په غزني کښې پرتخت کښېناست؛ خپل ورور شېرزاد یې و واژه او خپله میره یې چې د لوی سلطان سنجر خور وه وکنځله، ځکه نو د ده بل ورور بهرامشاه له ده څخه د سنجر دربار ته وتښتېد، هغه له بهرامشاه سره مرسته وکړه او په غزني کښې یې ارسلانشاه مات او هندوستان ته یې په تېښته اړ کړ، چې هم هلته پر (۵۱۱ هـ - ۱۱۱۷ م) کال مړ شو، د ده پر

ځای بهرامشاه د سلجوقي سنجر په ملاتړ پر تخت کښېناست او خپله سکه یې د سلطان سنجر په نامه ووهله، ده هندوستان ته لښکر ویوست، پر (۵۱۲هـ - ۱۱۱۸م) کال یې په ملتان کښې محمد باهلیم له لسو زامنو سره له منځه یووړ او په سوالك کښې یې ناګور کلا جوړه کړه.

غزني ته له راتګ سره سم له سلطان علاء الدین جهانسوز غوري سره یې جګړه اخته شو، په دې جګړه کښې یې زوی دولت شاه ووژل شو. بهرام شاه هندوستان ته پرشالاړ او غزني د غوریانو لاس ته ورغی. خو چې غوریان بېرته وګرځېدل، دی غزني ته راغی او پر (۵۵۲ هـ - ۱۱۵۷م) کال مړ شو تر ده وروسته خسروشاه د بهرامشاه زوی (۵۵۲ - ۵۵۷ هـ) او خسرو ملك د خسروشاه زوی (۵۵۷ - ۵۸۳ هـ) په غزني او لاهور کښې پر تخت کښېناستل، خو خسرو د غزانو په لاسو مات او هغوی غزني ونیو، دی لاهور ته لاړ او بیا پر (۵۸۳هـ) کال سلطان معزالدین محمد سام غوري په لاهور کښې خسرو ونیو، د غرجستان د بلروان په کلا کښې یې بندي کړ او پر (۵۸۷ هـ) کال یې وواژه. د ده له مړینې سره سم د غزنویانو د سبکتګین کهاله کمبله ټوله شوه.

د غزنویانو دولت په افغانستان، ایران، هندوستان او ماوراء النهر کښې د دجلې له کڅو (سواحلو) څخه ترګنګ پورې دوې پېړۍ واکمني لرله، چې غزني، بلخ، لاهور او بست یې پایتختونه وو.

په دغه عصر کښې اسلامي مدنیت او دري ژبې ډېره وده وکړه، په هیواد کښې د اسلام دین بشپړ خپور شو او هند هم د هغه په رڼا روښان شو، د هیواد له ختیځ څخه د کابل شاهي حکومت او دیانت نخښې ورکې شوې د غزنویانو نامتو وزیران ابوالعباس اسفراینی احمد بن حسن میمندي، حسن بن محمد میکالی، خواجه عبدالصمد خواجه طاهر مستوفي او نور وو. د

e Digital Library

افغانستان، هندوستان، ماوراء النهر او ايران ښارونه ودان وو او ښه سوداګري په کښې کېده. نامتو پوهان او ليکوالان يې البيروني، ابن سينا، ابوالفتح بستي، ثعالبي، عبدالجبار العتبي، بونصر مشکان، ابوالفضل بيهقي، د کليله او د منه خاوند نصرالله، ابو منصور موفق هروي (د کتاب الابنيه عن حقايق الادويه ليکونکي) عبدالحي ګرديزي د الحرب والشجاعه ليکونکی فخر مدبرمبارك شاه، د کشف المحجوب ليکونکی او نامتو صوفي ابوالحسن هجويري غزنوي دي.

فردوسي، فرخي، عنصري، عسجدي، منوچهري، سنايي، مسعود سعد سلمان، ناصر خسروبلخي، اسدي طوسي، سيدحسن غزنوي، ابوالفرج روني او مختاري غزنوي د دغه مهال نوميالي شاعران ګڼل کېږي.

د غزنويانو دربار په آسيا کښې د شاعرانو، عالمانو او د فن د خاوندانو پالنځای و، په خپله سلطان محمود پوه او اديب پالونکی پاچاو، ځينې پوهان په فقه کښې يو کتاب د ده بولي او ځينې اشعار او قطعات يې رانقلوي.

د غزنويانو په عصر کښې نفيسه صنايع او د ودانولو فن د يادونې وړ وده کړې وه. سره له دې چې د تاتار يرغل د افغانستان په لويو ښارو کښې د صنعت ټول پايڅوړ (بقايا) له منځه وړی دی، خو د ودانۍ، ډېرو توږلو او خطاطي له صنعت څخه د سبکتګين او سلطان محمود قبرونه او د غزني دوه څلي او د درېيم مسعود د مانۍ کنډوالې په غزني کښې د زمانې له لاس وهلو څخه خوندي پاتې دي، د بست د ښار د لښکر ګاه د آثارو له بقاياو څخه چې پر (۱۹۵۰م) کال په افغانستان کښې د فرانسوي لرغون پېژندونکيو له خوا کيندلي شوي د هغه ځای پر دېوالو يې د رنګينه نقاشيو هنري نخښې موندلي دي چې د غزنوي دورې د هنر او صنايعو طراوت ښيي

ښکاري. په غزنوي دوره کښې د هېواد د ولاياتو اداره د حکمرانانو په واسطه کېده چې د غزني د پاچهانو د دربار له خوا د ملکي او لښکري چارو له پاره له سپه سالارانو د دربار له لويو حاجبانو، پاشهزادګانو او د پاچا له خلپوانو څخه ګمارل کېده. د بيهقي په وينا د غزني د پاچهۍ په مرکز کښې به يو د ديوان وزير او لوی خواجه (د ماليې د وزير او صدراعظم په توګه)، يو ديوان عرض (د سپه سالار تر امر لاندې د حرب د وزارت د چارو له پاره)، د رسالت يو ديوان (د لوی دبير تر امر لاندې د پاچهۍ د ليکنو د فتر د چارو له پاره) او د وکالت يو ديوان (د لوی حاجب تر امر لاندې د دربار د وزارت د چارو له پاره) و. د پاچهۍ په دربار کښې ځينې مشران د "نديم، وزير، خازن او کوټوال" په نامه وو او دا چې هېواد په خپل مرکز پورې نښتی او امنيت هم ټينګ و، نو ځکه د دولتي ماليو زياتوالي هم يقيني دي، لکه څنګه چې مو د مؤرخانو په وينا د خراسان عباسي دورې د پيل ماليات په منځني ډول د (۴۵) مليونو په شاوخوا کښې اټکل کړل اوس هم کولای شو په همدغه ميچ (مقياس) د ټول خراسان، د غزني، زابل، تخارستان، پېښور، لاهور، ملتان، سند، ماوراء النهر او خوارزم د ولاياتو عايدات د غزني دولت په خزانه کښې تر سل مليونو درهمو زيات اټکل کړو، البته هغه زياتې ولجې، ډېر جواهر او سره زر چې د هندوستان په جګړو کښې لاس ته راتلل له دغه حسابه بېل دي.

صاحب بريد (ډاک چلوونکی) د جاسوسي ديوان، سالار (د لښکر مشر) او کوټوال (د پوليسو مشر او د ښار د کلا ساتندوی) په زياتو لويو ښارو کښې د حکومت چارې اجرا کولې او عدلي چارې قاضي ته سپارل شوې وې، لکه د محمود په عصر کښې چې قاضي ابوالحسن د قاضي ابو محمد الفزاري له پارس څخه د استازی په ډول غزني ته راغی، سلطان چې

The Digital Library

د ده علمي مقام، پرهیزګاری او ورع ولیده د غزنه قضا یې ورکړه، د هغه زوزاد تر ډېرو وختو پورې په هغه پایتخت کښې قاضیان وو.

د غزنویانو سیاسي اړیکي د بغداد د خلافت د دربار او د ماوراء النهر له خانانو سره تل دوستانه وو، تل د خلافت رسل (سفیران) او د ماوراء النهر امیران د غزني د پاچهانو دربار ته راتلل او د رسولدار (د تشریفاتو د رییس) له خوا په ډېر درناوي هرکلی ورته ویل کېده. د غزنوي دولت په مامورینو کښې د غزنوي تر پاچهی لاندې ټول خلك شامل وو. آن تر دې چې د غزني دربار په لویو لښکري خلکو او پوځي افسرانو کښې هندوان هم وو، همدا راز د غزني په لښکر کښې ډېر زیات پښتانه هم وو. چې د هند په فتوحاتو کښې یې لویه ونډه درلوده

غزنوي پاچهان

* ۱ - میر الپتګین (۳۵۱ - ۳۵۲هـ)
۲ - امیر اسحق د الپتګین زوی (۳۵۲ - ۳۵۵ هـ)
۳ - امیر بلکتګین (۳۵۵ - ۳۶۵هـ)
۴ - امیر پیری تګین (۳۶۵ - ۳۶٦هـ)
* ۵ - امیر سبکتګین (۳٦٦ - ۳۸۷ هـ)
* ٦ - امیر اسماعیل د سبکتګین زوی (۳۸۷ هـ)
* ۷ - سلطان محمود د سبکتګین زوی (۳۸۷ - ۴۲۱هـ)
* ۸ - امیر محمد د محمود زوی (۴۲۱هـ)
* ۹ - سلطان مسعود د محمود زوی (۴۲۱ - ۴۳۲هـ)
۱۰ - مجمد - دویم ځل (۴۳۲هـ)
* ۱۱ - سلطان مودود د مسعود زوی (۴۳۲ - ۴۴۱هـ)
* ۱۲ - دویم مسعود د مودود زوی (۴۴۱هـ)

۱۳ - علي د لومړي مسعود زوی (۴۴۱هـ)
* ۱۴ - عبدالرشید د محمود زوی (۴۴۱ - ۴۴۴هـ)
۱۵ - طغرل (د محمود مریی) (۴۴۴ هـ)
* ۱٦ - فرخزاد د لومړي مسعود زوی (۴۴۴هـ - ۴۵۱ هـ)
* ۱۷ - سلطان ابراهیم د لومړي مسعود زوی (۴۵۱ - ۴۹۲ هـ)
* ۱۸ - علاء الدین دریم مسعود (۴۹۲ - ۵۰۹ هـ)
۱۹ - شېرزاد د دریم مسعود زوی (۵۰۹ هـ)
* ۲۰ - ارسلان شاه د دریم مسعود زوی (۵۰۹ - ۵۱۱هـ)
* ۲۱ - بهرامشاه د دریم مسعود زوی (۵۱۱ - ۵۵۲هـ)
* ۲۲ - خسروشاه د بهرامشاه زوی (۵۵۲ - ۵۵۷هـ)
* ۲۳ - خسروملك د خسروشاه زوی (۵۵۷ - ۵۸۳هـ)

(۵۱ لمبر شجري او ۴۹ نقشې ته دې وکتل شي)

اخځلیك: تاریخ سیستان - بیهقي - طبقات ناصري - ابن اثیر - طبقات سلاطین اسلام - ګردیزي - العتبي - پاول هورن مختصر تاریخ ایران - آداب الحرب - دائرة المعارف اسلامي - تاریخ ایران رازي - راهنمای افغانستان - سیاست نامه - ابن خلکان - ابن خلدون - تجارب الامم - فرشته روضةالصفا - حبیب السیر - تاریخ ګزیده - مجمل التواریخ والقصص - تاریخ الاسلام السیاسي - تاریخ الاسلام ذهبي - مجلة آریانا - لباب الالباب معجم الانساب زمباور - د سر اولف کیرو پټانز - اخبارالدولة السلجوقیه - راحةالصدور - افغنستان بعد ازاسلام لومړی ټوك - مادر زبان دری - فتوح السلاطین - غزنویان بوسورت.

✿✿✿✿✿

he Digital Library

د سلجو قيانو او خوارزم شاهيانو واکمني

او

د سيستان د ملکانو لنډه يادونه

(۴۲۹ - ۶۳۲هـ)

سلجوقيان د سيحون او ارال رود د شمالي ترکمانانو يو ټبر و، چې د سامانيانو په وختو کښې د بخارا شمالي لور (اوسني نوراتا) او ماوراءالنهر ته راغلي او اسلام يې منلی و، څرنګه چې د دوی کار د ګلو روزنه وه، ځکه نو د څر ځايو د موندلو له پاره ګرځنده وو، په جند کښې د دغه ټبر مشر سلجوق د توقاق يايقاق تيمور زوی څلور زامن لرل: چې نومونه يې: يبغوار سلان مشهور په اسرائيل، ميکائيل، يونس او موسی دي.

سلطان محمود سهواً د سلجوق ټبر څلور زره کورنۍ له جيحونه راپورې ويستې، په خراسان کښې يې تر نيشاپوره څر ځايونه ورکړل او د سلجوق زوی اسرائيل يې چې د منهاج سراج په وينا "برق جهنده او شير دمنده" ته ورته و په کالنجر کښې بندي کړ (د ۴۱۶هـ - ۱۰۲۵م شاوخوا) د ميکائيل زامنو طغرل بېګ، داؤد او چغری بيګ ډېر ژر خپل ټبر راغونډ او خراسان يې تر غزني، سيستان، بلخ، نشاپور او کرمان پورې ونيو. طغرل (۴۲۹ - ۴۵۵ هـ) لکه چې د مسعود غزنوي په حالاتو کښې تېر شو، د دندانقان په جګړه کښې يې سلطان مسعود مات کړ، پر (۴۲۹هـ - ۱۰۳۷م)

کال يې په نشاپور کښې د پاچهی خول پر سر کښېښوو، خپل ورور يبغور يې د لوېديځ افغانستان، پوشنج، هرات او سيستان په حکمدارۍ وګماره او پر (۴۳۲ هـ) کال تر بسته پر مخ ولاړ. ورونو يې داؤد او چغري بيګ د افغانستان په شمالي سيمو کښې له مرو او سرخس څخه نيولي تر بلخ او شبورقان پورې ونيول خو د بلخ په علي اباد کښې د سلطان مسعود لښکر مات کړ، تر هغه وروسته د دندانقان په جګړه کښې (۴۳۱ هـ) د سلجوقيانو ټولو قواو مسعود ته وروستنۍ ماته ورکړه، داؤد خپل نفوذ په جنوب کښې ترسيستانه او په شمال کښې تر بلخ او تخارستانه وغځاوه.

که څه هم سلطان مودود له غزني څخه خپل وزير عبدالرزاق د احمد ميمندي زوی په سيستان کښې د سلجوقيانو جګړې ته واستاوه (د ۴۴۰ هـ ۱۰۴۸ شاوخوا) خو څه يې ونه کړای شول او تخارستان، بلخ، ترمذ، قباديان، وخش، ولوالج د چغري بيګ زوی الپ ارسلان (۴۵۵ - ۴۶۵ هـ ۱۰۶۳ - ۱۰۷۲ م) په لاس کښې وو، په خپله او زوی يې ملکشاه (۴۶۵ - ۴۸۵ هـ ۱۰۷۲ - ۱۰۹۲ م) له سلطان ابراهيم غزنوي سره دوستانه اړيکي وساتل او زابلستان او کابل يې تر لاهوره پورې غزنوي دولت ته پرېښوو، دا مهال د ملکشاه ورور تکش په بلخ کښې ياغي شو. ملکشاه پر (۴۷۷ هـ) کال هغه په ترمذ کښې ونيو او ړوند يې کړ. د ملکشاء زوی سلطان سنجر (۵۱۱هـ - ۵۵۲ هـ - ۱۱۱۷ - ۱۱۵۷ م) چې د سلجوقيانو د کهاله نامتو پاچا ؤ "لکه چې د غزنويانو په احوال کښې تېر شو" له بهرامشاه غزنوي سره يې د ارسلانشاه په مقابل کښې مرسته وکړه او هغه يې تر خپل اغيز لاندې تر لاهوره د غزني پاچا کړ (۵۱۱هـ) يا دا چې د سنجري هېواد وېش بالواسطه تر لاهوره ورسېد، همدارنګه سلطان سنجر (لکه چې د غوريانو په احوال کښې به يې راوړو) د هرات د غرو د ناب نومي ځای په درې کنجۍ کښې

e Digital Library

له علاء الدين حسين جهانسوز غوري سره جګړه وکړه، علاء الدين يې ونيو او بېرته يې غور ته واستاوه (د ۵۵۰ هـ - ۱۱۵۵ م شاوخوا) تر هغه وروسته د قرخطاطايانو او غزانو نيمې وحشي قبيلې د منځنۍ آسيا له غرو څخه راووتلې او سنجري دولت يې له منځه يووړ (۵۵۲ هـ - ۱۱۲۸م شاوخوا) د افغانستان پر سيمو يې له غزني څخه تر زابل او سيستان پورې يرغل وکړ او خسرو شاه غزنوي يې د لاهور خوا ته پر شا وشاړه، خو د "غز" ګواښ ډېر ژر د غوريانو او خوارزم شاهيانو له خوا له منځه يوړل شو، د سلجوقيانو په وختو کښې د خوارزم شاهيانو د کورنۍ لاس هم پر خراسان او د افغانستان په شمالي او لوېديزو سيمو بر شو، چې وروسته به وڅېړل شي.

هغه لويه پېښه چې د خوارزميانو پر مهال منځته راغله هغه د خوارزمشاهيانو او د غوري کهاله "چې له ډېرو وختو يې په غور او باميان کښې په خپلواکۍ حکم کاوه" جګړه وه چې د غوريانو او خوارزميانو په احوال کښې به راشي، علاء الدين محمد (د ۶۱۱ هـ - ۱۲۱۴ م) په شاوخوا کښې غور، فيروز کوه او هرات تر غزني پورې ونيول، غوري کهول يې په غور کښې له پښو واچاوه تر هغه وروسته سلطان جلال الدين د خوارزميانو وروستنی پاچا په افغانستان کښې له چنګيز لښکر سره جګړې وکړې چې په وروستۍ برخه کښې به يې تفصيل راوړل شي.

په دغه وخت کښې افغانستان پر څلورو برخو وېشلی شوی و:

شمالي ولايتونه له تخارستانه تر مرغاو پورې مستقيماً په سنجري او سلجوقي دربار اړه درلوده؛ د غور، باميان او ګوزګانان سيمې د هرات تر شاوخوا پورې د غوريانو د کهاله تر لاس لاندې وې، زابل ولايت له هلمنده تر غزني، کابل، ننګرهار، پېښور او لاهور پورې د غزني د محمود کورنۍ په واکمنۍ کښې و او سيستان ولايت له بست او زميندا وره تر زرنج، فراه او نيه پورې

د سيستان په ملکانو اړه درلوده، چې دغو ملکانو د سلجوقيانو، غوريانو، غزنويانو او ان له چنګيزيانو سره هم ښه اړيکي ساتل، چې د صفاريانو او د نيمروز د وطني اميرانو له پايڅوړ (بقاياو) څخه وو چې "د دوی د نومو تفصيل د صفاريانو په مبحث کښې تېر شو او هم د آل کرت ملکانو چې شرح به يې وروسته راشي له تاتاري پر غلګرانو سره لاس يو او هرات او سيستان يې تر لاسه کړي وو، د سيستان د ملکانو او صفاريانو له پايڅوړ څخه لکه د صفاريانو په برخه کښې چې مو وويل يو هم ملك تاج الدين و (د ۴۸۲ هـ شاوخوا) د دغه سړي له نسله په سيستان کښې تر زرو کالو پورې اميران پاتې وو، چې د "ريو" په وينا پر (۱۰۲۸هـ) کال ملك جلال الدين محمود خان د سيستان امير په (۱۶) پښت عمروليث صفاري ته رسېږي او هم شاه حسين د ملك غياث الدين محمد زوی چې د صفاريانو تاريخ يې له پخوانۍ زمانې څخه تر خپل مهاله د "کتاب احياء الملوك " په نامه ليکلی دی په صفاريانو پورې اړه لري.

اخځليك: طبقات ناصري، اخبارالدولة السجلوقيه - لب التواريخ - تاريخ سيستان - ابن اثير - د پاول هورن تاريخ مختصر ايران - د خليل ادهم دول اسلاميه د زمباور معجم الانساب - راحة الصدور.

(وګورئ ۵۲ نومره نسب پاڼه.)

n: The Digital Library

غوریان

(۴۰-۶۱۲ هـ)

سوريان د خراسان او غور د افغانانو يو ټبر و، چې تر اوسه هم د هرات شمال لوېديځ د بادغيس د زور آباد (زورابد - ياقوت) په شاوخوا کښې د "زوري" په نامه اَستوګن دي؛ تر اسلام دمخه هم دغه کهاله د تخارستان، غور، هرات او خراسان په غرو کښې حکمراني کوله او د "غرشاه" په لقب يادېدل، (په دغه لقب کښې د "غر" کلمه پښتو ده) دا کهول لرغوني افسانوي شخصيت "ضحاك" ته منسوب دی (دا نوم فردوسي "ضحاك" بللی او په پښتو سرچينو کښې د تاريخ سوري په حواله "سهاك" دی. طبري، البيروني او ابن بلخي يې "بيور اسپ ازدهاق" يادوي او په مسعودي کښې "ده اك" راغلی چې د طبري په وينا يې معرب ډول "ازدهاق" دی. په اوستا کښې "دهاك - اژی دها" ياد شوی چې په دري کښې "اژدها" او په پښتو کښې "اژدهار" دی، همدارنګه په خراساني نومونو کښې دا نوم ډېر کارېدلی لکه د زين الاخبار د ليکونکی عبدالحی ګرديزي د پلار نوم ضحاك (د ۴۰۰ په شاوخوا کښې) او ضحاك شيباني (د ۲۸۷ هـ شاوخوا) ظاهري فقيه او باميان ته نژدې "ضحاك" نومي ښار او د "سهاکا" مشهوره پخوانۍ آريايي قبيله چې سکستان د دوی په نامه دی، مفغن صورت يې "سهاك" او "سهاکزی"

د افغاني قبيلو نومونه دي، دا ټول دا ښيي چې دا نوم د لرغوني افغانستان په نومونو کښې پخوانۍ ريښه لري.

د دغه کهاله په نورو نومو کښې يو نوم هم "بسطام" دی چې (د ګستهم - وستهم د پهلوان په مانا معرب ډول دی) چې فردوسي هم هغه يادوي، دغه سړی په شغنان، باميان، تخارستان او غور کښې حکمراني کړې او تر هغه وروسته په غور کښې له دغه ټبر څخه دوو ورونو لاس درلود چې يو امير سول او بل سپه سالار سام و، د سوري ټبر اميران دغه نامه ته منسوب دي چې فردوسي او نورو مورخينو د "ماهوري سوري نژاد" په نامه ياد کړي، بلاذری د "جبل زور" او د هغه ځای د مشهور بت چې هيون تسنګ پر (۶۰۳م) د "شونا" په نامه ليدلی يادونه کوي، ابن فندق هم په تاريخ بيهقي کښې د سلطان مسعود د وختو د خراسان عميد سوري يادوي او په را وروسته وختو کښې نامتو شير شاه سوري هم په هند کښې له دغه افغاني ټبر څخه را پاڅېدلی دی.

د سوري کهاله له نوميالیو څخه يو هم شنسب د خرنك زوی دی چې د فخرالدين مبارکشاه له نسب نامې څه د منهاج سراج په روايت د حضرت علي (رض) هممهالی او د هغه په حضور يې ايمان راوړی و، عهد او لوايې يې ځنې اخيستې وه. له هغه کهاله څخه چې به هر څوك پر تخت کښېناست د حضرت علي ﷺ هغه عهد او لوابه ورکول کېده دا چې په اسلامي دوره کښې د غور لومړی حکمران دی چې موږ يې پېژنو او امير پولاد غوري د ده له زامنو څخه و، چې د غور د غرو شاوخوا يې تر واکمنۍ لاندې وه، د خپلو پلرو نوم يې ژوندی کړ او چې صاحب الدعوت العباسيه ابو مسلم مروزی منځته راووت نو امير پولاد د غور لښکر د ابو مسلم ملاتړ ته ور ووست، د آل عباس د تقويې له پاره يې ډېر کارونه وکړل د امير پولاد د حکمرانۍ

The Digital Library

مرکز د غور مندیش و او د غور پر ټولو غرو او شاوخوا یې حکمراني کوله (د ۱۳۰ هـ - ۷۴۷ م شاوخوا). د امیر پولاد یو زوی و چې امیر کروړ نومېده، د کندهار د خلکو د عنعنې او د احمد بن علي بستي د کتاب "تاریخ سوري" په حواله یې د پټې خزانې کتاب د متن له مخې پېژنو چې پر (۱۳۹ هـ - ۷۵٦م) کال د غور په مندیش کښې امیر و او د "جهان پهلوان" په نامه یې چې د فردوسي د پهلوانانو له القابو څخه دی شهرت درلود.

بالشتان (د کندهار د شمال والشتان) خیسار، تمران او برکوشك (د غور مشهورې کلاوې) د ده په لاس کښې وې، دی داسې غښتلی پهلوان و، چې یوازې له لسو تنو سره جنګېده او له همدغه امله یې کروړ باله چې په پښتو کښې د کلك او سخت په مانا دی. د دغه کهاله واکمني تر زمینداور، بست او والشتان پورې رسېده، له اموي کهاله څخه عباسي کهاله ته د خلافت د انقلاب په جګړو کښې دی هم د ابو مسلم ملګری و، پټه خزانه د تاریخ سوري په حواله د ده یوه پښتو حماسه رانقلوي او د ښې وینا خاوند یې بولي، په خپلې دې پخوانۍ حماسه کښې امیر کروړ جهان پهلوان د خپل حکومت سیمه له مرو او هرات څخه تر جروم (ګرمسیر) غرج او تخار پورې ګڼي او وایي چې زرنج (سیستان) مې د توزې په زور ونیو.

د ده دا حماسي شعر د خراسان او پښتو یو لرغونی حماسي اثر دی چې د ده د غښتلي روح، ملي غرور جهانګیرۍ او جهان کشایۍ څرګندویي کوي، په هغه کښې هغه پښتو زاړه لغات او کلمات دي چې اوس په دې ژبه کښې مستعمل او ژوندي نه دي پاتې شوي.

امیر کروړ پر (۱۵۴ هـ - ۸۰۰م) کال د هرات لوېدیځ لوري ته د پوشنګ په جګړو کښې ووژل شو او تر ده وروسته یې زوی امیر ناصر په غور، بست او زمینداور کښې حکومت کاوه (د ۱٦۰ هـ - ۷۷٦ م شاوخوا).

(د دې په زړه پورې تاریخي، ژبنۍ، او ادبي موضوع د تفصیل له پاره دې د کابل چاپ پټه خزانه کتاب او د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوك وکتل شي).

منهاج سراج تر امیر پولاد وروسته د هارون الرشید تر وختو (د ۱۷۰ هـ - ۷۸٦ م) تر شاوخوا پورې د دغه کهاله د حکمرانانو یادونه، نه کوي، له ښه مرغه دا خلا پټې خزانې د محمد بستي د تاریخ سوري په حواله ډکه کړې چې په لږ تفصیل سره د امیر کروړ او امیر ناصر یادونه کوي او بیا منهاج سراج د دغه کهاله یو بل امیر، بنجي د نهاران شنسبی زوی د غور له لویو امیرانو څخه ګڼي او لیکي چې د خپل یوه معاصر غوري امیر سره چې د بهرام زوی شیش نومېده د هارون الرشید دربار ته ورغلل، امیر بنجي د "قسیم امیر المومنین" په لقب د غور امیر او امیر شیش د غور د لښکر پهلوان وټاکل شول (د ۱۷۰ هـ - ۷۸٦ م شاوخوا). د غور امیران د همدغه بنجي له نسله او د غور سپه سالاران د شیش له توکم څخه دي، چې د صفاریانو په وختو کښې له آل شنسب څخه په مندیش کښې د غور امارت امیر سوري ته رسېدلی و، لکه د صفاریانو په احوال کښې چې مو ولوستل د (۲۵۳ هـ - ۹٦۷م) په شاوخوا کښې یعقوب صفاري د نیمروز، بست او د اور ښارونه تر تګین آباد اور خج پورې ونیول، د هغه ځای امیر یې له پښو وغورځاوه، په دغه وخت کښې امیر سوري د غرني غور امیر و، چې تر هغه وخته لا د غور نیمايي خلك مسلمانان نه وو، تر دې وروسته امیر سبکتګین هم پر غور حملې وکړې، خو د سوري کهاله خپلواکۍ ته یې څه تاوان ونه رسولای شو، لکه څنګه مو چې د غزنویانو په احوال کښې ولوستل سلطان محمود هم پر غور یرغل وکړ، خو د غور امیر چې پر دغه مهال محمد سوري و، کله به یې اطاعت کاوه او کله نه. تر دې چې د بیهقي (۴۰۵ هـ -

he Digital Library

۱۰۱۴م) کال او ابن اثیر په وینا (۴۰۱ هـ) کال محمود د غور د جنوب له خوا د بست او خوابین له لارې له لوی لښکر سره غور ته ورغی، چې د لښکر په مخ کښې د هرات حکمران التونتاش او د طوس حکمران ارسلان جاذب وو، امیر محمد یې په یوه جګړه کښې د لسزریز لښکر په مرسته د آهنګران په کلا کښې کلابند کړ؛ محمد تر ډېرې مودې وروسته له کلا راووت او سلطان ته تسلیم شو، سلطان دی د ده له کشر زوی شیش سره غزني ته بوت، خو (غزني ته نژدې) د ګیلان په شاوخوا کښې هغه پر لاره زهر وخوړل چې په خپله ګوتمی کښې یې ځای پر ځای کړي وو، ځان یې وواژه خو د یرغملتابه سپکاوی یې ونه مانه.

د پښتو ژبې وطني روایات چې د "لرغوني پښتانه" او "تاریخ سوري" کتابو په حواله په پټه خزانه کښې راغلي پورتنۍ تاریخي پېښې تاییدوي او د محمد د مرثیې پښتو بولله هم راوړي چې اسعد د محمد سوري زوی (چې پر ۴۲۵هـ د زمینداور په بغني کښې مړ دی) ویلي ده، دا شاعر په اهنګران کښې د ده په دربار کښې و، دا بولله چې د ژبني بلاغت او فصاحت له مخې ډېره پخه ده، د محمد د مقام لوړوالی او زړورتوب ښيي؛ د آهنګرانو د جګړې او د محمود له خوا د محمد بندیتوب څرګندوي او دی د سوري کهاله ویاړ بولي، چې د خپل کهاله د پت ساتلو په لاره کښې یې ځان قربان کړ، د شیخ اسعد بولله د پښتو لرغوني ادب له غوره‌آثارو څخه ده.

د محمد تر مړینې وروسته د سلطان محمود له خوا امیر بوعلي د محمد سوري زوی د غور د مندیش په غرو کښې د پلار پر ځای کښېناست، د سلطان تابع و، په غور کښې یې په مدرسو، جوماتو او مانیو جوړولو لاس پورې کړ او علم دوسته سړی و، ده د محمودي عهد تر پایه حکمراني وکړه،

خو د مسعود په وختو کښې د (۴۲۵ هـ - ۱۰۳۳م) په شاوخوا کښې (د بوعلي وراره) عباس د شیش زوی پورته شو، خپل تره یې بندي کړ او د غور پاچهي پر تخت کښېناست. عباس ظالم او بېباکه سړی و او د نجوم علم یې خوښ و، د مندیش ولایت په سنګه کلا کښې یې یوه رصدخانه ودانه کړه، خو خلکو د ده له تادا د سلطان ابراهیم غزنوي دربار ته شکایت وکړ، ابراهیم هم غور ته لښکر ویوست او امیر عباس یې غزني ته بندي بوت، د غور امارت یې د ده زوی امیر محمد ته چې د غزني دربار ته مطیع او عالم پالونکی، عادل او د ښو اخلاقو خاوند سړی و، وسپاره. (د ۴۵۰ هـ - ۱۰۵۸م شاوخوا) تر محمد وروسته یې زوی قطب الدین حسن د محمد زوی او د عباس لمسی چې ستر پاچا او د غور د پاچاهانو نیکه و پر تخت کښېناست (د ۴۶۰ هـ - ۱۰٦۷ م شاوخوا)، ده د غوریاغیان په جګړه د ځان تابع کړل په هغه جګړه کښې چې (د غزني جنوب لوېدیځ ته) دوجیرستان او کوشك په پای کښې یې له یاغیانو سره وکړه ووژل شو (د ۴۹۳ هـ شاوخوا) دده زوی ملك عزالدین حسین د غور پر تخت کښېناست، ده له سنجري دولت سره دوستانه اړیکي درلودل او د ښو اخلاقو څښتن، پر ژمنه ولاړ او عالم پالونکی پاچا و، چې اوو زامنو یې خراسان، غور، زابل، غزني، بامیان او تخارستان په خپلې پاچهۍ پورې تړلي وو او هر یوه پر یوې برخې په لاندې ډول حکومت کاوه:

۱- قطب الدین محمد چې خپل لرغوني هېوادني لقب (غر شاه) یې رسماً پر عربي "ملك الجبال" واړاوه او ځان ته یې غوره کړ؛ د فیروز کوه د ښار کلا یې ودانه کړه، او د ورشاد (ورساد) په ولایت کښې یې چې د ده سیمه وه له خپلو ورونو سره شخړې جوړې کړې او غزني ته ولاړ، هلته د بهرامشاه غزنوي له خوا ووژل شو (۵۴۱ هـ - ۱۱۴۶م) چې د هغه وژل د

غوري او غزنوي كهولو تر منځ د اختلاف سبب شو.

۲- بهاء الدين سام د غور د منديش په سنګه كښې و، همدا چې سلطان سوري غزني ته ولاړ فيروز كوه يې هم ده ته پرېښوو، دی پر (۵۲۴هـ ۱۱۴۹ م) كال په فيروز كوه كښې پر تخت كښېناست او د غرجستان له شارانو سره يې دوستي وكړه، د هرات په غرو كښې يې د شيرسنګ كلا، په غرجستان كښې يې د بند روا كلا، د غرجستان او مادين تر منځ يې د فيوار كلا جوړه كړه، او د ګيلان ملك بدرالدين لور (د ګيلان ملكه) يې چې د شنسبانيانو له نسبه وه، ځانته واده كړه، چې د دوو نامتو زامنو سلطان معزالدين محمد سام او سلطان غياث الدين محمد سام مورده. سلطان بهاءالدين د خپل ورور سلطان سوري د غچ اخيستلو له پاره په جروم او غرجستان كښې لښكرې راغونډې او پر غزني يې يرغل وكړ، خو (د غزني) په ګيلان كښې مړ شو، ده د غزني د سفر په وخت كښې د غور او جبال تخت خپل ورور سلطان علاء الدين حسين ته پرېښې و.

۳- ملك شهاب الدين محمد خرنګ د حسين زوی چې د مادين سيمې په ده اړه درلوده، دا سيمه د غور يو ولايت و، د ده زوی ملك ناصر الدين ابوبكر د (۶۱۸هـ - ۱۲۲۱م) په شاوخوا كښې د ګزيو او تمران د ولايت (د كندهار شمالي خوا ته) حكمران و، د چنګيز تر يرغل وروسته هند ته په ډيلي كښې د التتمش دربار ته ولاړ او هلته د (۶۲۰ هـ) په شاوخوا كښې مړ شو.

۴- ملك شجاع الدين علي د حسين زوی چې د غور د جرماس ولايت حكمران و، تر هغه وروسته يې زوی علاء الدين ابوعلي په غور كښې د ده پر ځای كښېناست، د سلطان غياث الدين په وختو كښې د غور، بست، وجير، ګرمسير، درمشان، روز ګان او غزني سيمې ده ته وسپارل شوې، د

خراسان تر نيولو وروسته په نشاپور كښې حكمران و، سلطان معزالدين دی بوت او د غرجستان او زميندآور حمكران يې وټاكه، پر (۶۰۱ هـ) كال يې د قهستان د ملا حده و د جناباد ماڼۍ ونيوله، خو د سلطان معز الدين تر شهادت وروسته د غرجستان د اشيار په كلا كښې بندي شو.

۵- علاء الدين حسين د حسين زوی د غور په وجيرستان كښې حكمران و او د خپل ورور سلطان بهاءالدين تر مړينې وروسته په فيروز كوه كښې د غور پر تخت كښېناست، د غور او غرجستان لښكرې يې را غونډې كړې او غزني ته يې مخه كړه، سلطان بهرام شاه له غزني څخه د غزني او هندوستان له لښكر سره راووت او د ګرمسير او تګين آباد له لارې زميندآور ته ولاړ، علاء الدين چې دا جګړه د خپلو دوو ورونو د غچ اخيستلو له پاره كوله، تګين آباد ته نژدې يې د بهرامشاه له لښكر سره لاس واچاوه، او تر هغه وروسته يې د غزني په شاوخوا كښې دوه ځله د غزنويانو مقاومت مات كړ او د غزنوي دولت پايتخت يې ونيو (۵۴۵ - ۵۴۶ هـ)، ده هغه لوی ښار له خاورو سره برابر كړ او اوسېدونكي يې اته ورځې ټول ووژل، له هغه ځايه يې بست او زميندآور ته مخه وكړه او د بست ښار يې له محمودي ماڼيو او ښكليو ودانيو سره چې په خپل وخت كښې يې ساری نه و هم وران كړ، نو ځكه ورته جهانسوز ويل كېږي.

ده تر دې فتح وروسته تخارستان د غور په مركزي دولت پورې وتاړه او خپل ورور فخر الدين ته يې وسپاره علاءالدين تر دې وروسته له سلجوقي سنجري دولت سره ونښت، سلطان سنجرد هر يو الرود د ناب په سيمه كښې له ده سره جګړه وكړه، څنګه چې خلك له علاءالدين څخه خواشيني وو، د ده شپږ زره خلجي او تركي سپاره لښكريان سنجر ته تسليم شول. په خپله علاءالدين د سنجر لاس ته ورغی بندي شو، خو څنګه چې سنجرد غزانو له

The Digital Library

لاسه مات شوی و، علاءالدین یې و نازا وه؛ مرسته یې ورسره وکړه او بېرته یې غور ته واستاوه همدا چې خلکو د ده په غیاب کښې ملك ناصر الدین حسین د محمد زوی له مادین څخه راوستی او د فیروز کوه پر تخت یې کښېنولی و، چې د علاءالدین د راګرځېدو خبر یې واورېدو ناصر الدین یې وواژه او علاءالدین ته تسلیم شول.

ده بامیان تخارستان، جروم (ګرمسیر)، د اور، بست او د هرات د جبال د تولك او غرجستان، مرغاب ښارو نه هم د غور د پاچهي اطاعت ته اړ کړل او د ملا حده الموت رسل ته یې هم د غور په غرو کښې لار ورکړه، په پای کې د (۵۵۱هـ - ۱۱۵۶م) په شاوخوا کښې د غور په سنګه کښې مړ شو.

تر ده وروسته یې زوی سیف الدین محمد د فیروز کوه پر تخت کښېناست، د ملا حده ورسل یې وواژه او د غزانو د فتنې د مخنیوي له پاره یې ملا وتړله چې د هرات او قادس شاوخوا ته رسېدلي وو، خو تر یوه کال زیات ژوندی پاته نه شو او د غزانو په جګړه کښې د غوري سپه سالار شیش په لاس ووژل شو (د ۵۵۸هـ - ۱۱۶۳م شاوخوا).

علاء الدین جهانسوز د غور لومړی ستر سلطان دی چې د افغانستان هېواد یې تر یوې اداري لاندې راوست او د فیروز کوه په مرکز پورې یې وتاړه.

۶- سلطان سیف الدین سوري (۵۴۳ - ۵۵۴ هـ، ۱۱۴۸ - ۱۱۴۹م)

د غوریانو لومړی پاچا دی چې د سلطان لقب یې واخیست، د ده د پاچاهۍ مرکز د غور دا ستیه حصار و هغه وخت چې یې ورور قطب الدین ملك الجبال په غزني کښې ووژل شو، نو سلطان سوري له بهرامشاه غزنوي سره جګړه وکړه او هغه یې د کورم ناوې ته وخغلاوه، په خپله دی د غزني پر تخت

کښېناست او غور یې خپل ورور سلطان بهاءالدین ته پرېښو و، خو د ژمي په وخت کښې چې یې ورور علاءالدین حسین له غزني څخه غور ته ولاړ بهرامشاه د خلجي (غلجي) افغانانو له لښکر سره له ختیز لوري پر غزني یرغل وکړ، او سلطان سوري یې د هغه له وزیر سید مسجد الدین موسوي سره ونیو او د غزني د طاق د پله پر سر یې غرغره کړ، څو چې ورور یې جهانسوز د هغه په کسات کښې غزني وران کړ.

۷- ملك فخر الدین مسعود تر ټولو ورونو مشرو او د غور په کاسي کښې امیر شو، څنګه چې سلطان علاءالدین جهانسوز د غزني تر فتح وروسته تخارستان هم د ځان تابع کړ، نو خپل مشر ورور ملك فخر الدین مسعود یې د بامیان حکمران وټاکه، ده د شغنان او تخارستان غرونه تر درواز، بلور، وخش او بدخشان پورې ونیول او لکه چې د غیاث الدین محمد په احوال کښې یې لولئ د راغ زر په جګړه کښې د خپلو وریرونو په لاس بندي او بېرته بامیان ته واستول شو او هلته مړ شو (د ۵۵۰ هـ - ۱۱۵۵م شاوخوا). تر ده وروسته یې مشر زوی شمس الدین محمد په بامیان کښې امیر و، د فیروز کوه له درباره او د سلطان غیاث الدین له حضوره هم په رسمیت وپېژندل شو، ده بلخ چغانیان، وخش، جروم (ګرمسیر)، بدخشان او د شغنان غرونه لاس ته راوستل اود سلطانشاه خوارزمشاهي د مخنیوي له پاره یې د غور له لښکر سره یو ځای د مرود رودبار په جګړه کښې ګډون کړی و او د سلطان لقب یې وموند، د ده تر مړینې وروسته یې زوی بهاء الدین سام چې لوی او علمدوسته پاچا و د بامیان پر تخت کښېناست (۵۸۷هـ - ۱۱۸۹م) د ده دربار د پوهانو د غونډې ځای و. امام فخر الدین رازي شیخ الاسلام جلال الدین رسا د اوافصح العجم مولانا سراج الدین د ده په دربار کښې وو، د ده پاچهي له کشمیره تر کاشغر، تر مذه او بلخه

پورې او جنوب خوا ته د غور او غرجستان تر پايه پورې رسېدله، غور، غزني او باميان د ده تر فرمان لاندې وو. هغه وخت چې سلطان معز الدين شهيد شو (۶۰۲ هـ - ۱۲۰۵ م) نو د هېواد اميرانو دی غزني ته ور وغوښت خو دی په ګيلان تر ۱۴ کالو پاچهي وروسته مړ شو. بيا يې زوی جلال الدين علي پر ځای کښېناست (۶۰۲ هـ - ۱۲۰۵م) او خپل ورور علاء الدين يې د غزني پر تخت کښېناوه همدا چې د غور، غز او تاج الدين يلدوز لښکر د کرمان درې د کورم له شاوخوا څخه پر علاءالدين يرغل وکړ نو دی له باميانه د خپل ورور د ملاتړ له پاره راغی او د ده په غياب کښې يې تره علاءالدين مسعود د شمس الدين محمد زوی د باميان تخت ونيو او ورزات يې صاحب وزير ته ورکړ، خو جلال الدين د غزني تر نيولو وروسته ژر باميان ته ورغی او خپل اکا يې د هغه له وزير سره وواژه. بيا چې تاج الدين يلدوز دويم ځل پر غزني يرغل وکړ، د علاءالدين لښکر يې د سقران (شنغران) په رباط کښې مات کړ او دی يې په غزني کښې کلابند کړ، نو جلال الدين له باميانه د خپل ورور د ملاتړ له پاره ورغی، خو د واړه وروڼه د يلدوز لاس ته ورغلل، بېرته باميان ته واستول شول او هلته مړه شول (د ۶۱۲هـ - ۱۲۱۵م).

دا وه د غوري اوو وروڼو لنډه يادونه چې د غور شهنشاهي يې جوړه کړه او تر هغو وروسته سلطان غياث الدين بن محمد سام بهاءالدين قسيم امير المومنين چې د غور له لويو پاچهانو څخه دی پاچا شو، دی له خپل ورور معزالدين سره د خپل تره علاءالدين په امر د وجيرستان په کلا کښې بندي و، خو سلطان سيف الدين د علاء الدين زوی دوی خوشې کړل چې غياث الدين د غزان په جګړه کښې ورسره و، خو چې سيف الدين د خپل سپه سالار له لاسه ووژل شو، همدغه شيش سپه سالار د غور او غرجستان لښکر راوستل او له غياث الدين سره يې بيعت وکړ او د فيروز کوه پر تخت

يې کښېناوه (۵۵۸هـ - ۱۱۶۲م)، ده خپل ورور معزالدين د سر جاندار په رتبه دا ستيه او کجوران حکمران وټاکه، ابوالعباس شيش يې چې د سلطان سيف الدين تر وژلو وروسته يې دي بنه پياوړی کړی و، وواژه. دا مهال د غياث الدين تره ملك فخر الدين مسعود د باميان له حکمران ملك علاء الدين قماج سنجري، د بلخ له حکمران او له تاج الدين يلدوز د هرات له حکمران څخه مرسته وغوښتله او د باميان، بلخ او هرات له لښکرو سره يې پر فيروز کوه يرغل وکړ، په راغ زر نومي ځای کښې له يو بل سره جګړې ته چمتو شول. خو په لومړي سر کښې د غور پهلوانانو ملك يلدوز د هرات حکمران د هغه د لښکر په منځ کښې وواژه او هراتيان يې سره تيت کړل، بيا يې د بلخ لښکر هم مات او د قماج سر يې پرې کړ، د باميان ملك فخرالدين ته يې ور واستاوه، په خپله يې هغه کلا بند کړ، خپل تره معزالدين او غياث الدين يې محترمانه ونيول او بېرته يې باميان ته واستول.

سلطان غياث الدين تر هغه وروسته ګرمسير او زميندارو ونيو؛ قادس، کاليون، فيوار، سيفرود، غرجستان، تالقان او ګرزوان يې هم د غور په سلطنت پورې وتړل او خپل ورور معزالدين يې له جروم (ګرمسير)، تګين آباد او سيستان څخه د غزني، زاول او کابل خوا ته واستاوه. ده د غزانو لښکر چې په دغه وخت کښې يې غزني نيولی و، په (۵۶۹هـ - ۱۱۷۳م) کال له غزني څخه بېرته وشاړه او د غزنويانو پايتخت يې هم په غور پورې وتاړه، د هرات نيولو ته يې ملا وتړله او بهاءالدين طغرل د سنجر يو مريي چې پر هرات يې لاس بر شوی و، د سلطان تر لښکر دمخه خوارزم ته ولاړ او پر (۵۷۱هـ) کال هرات او تر هغه وروسته پر (۵۷۳هـ - ۱۱۷۷م) کال قوشنج هم د غور له مرکز سره ونښتل.

دا مهال د سيستان ملکانو (چې شرح يې تېره شوه) هم د اطاعت

The Digital Library

The Digital Library

غاړه کښېښووه او شمالي ښارونه لکه تالقان، اندخود، میمنه، فاریاب، پنجده، مرو، دزق او خلم هم فتح شول، خو جلال الدین محمد د ایل ارسلان خوارزمشاه زوی د خطایانو په مرسته د هېواد شمالي شاوخوا ته ګواښ پېښاوه، ځکه نو غیاث الدین پر (۵۸۸هـ - ۱۱۹۲م) کال د غزني لښکر د معزالدین په مشرۍ او د بامیان لښکر د ملك شمس الدین په مشرۍ او د سیستان لښکر د تاج الدین حرب په لاربښوونه د مرو په رود بار کښې را غونډ کړل، د مرغاب په کڅو (سواحلو) کښې یې خوارزمشاهیان مات او پر (۵۹٦ - ۱۱۹۹م) کال یې خراسان ونیو، تر نشاپوره پر مخ ولاړ، هغه یې ملك ضیاء الدین ابو علي شنسباني ته وسپاره، مرو شاهجهان یې هم ونیول او ملك نصر الدین محمد خرنك یې د هغه ځای په حکمرانۍ وګماره، د سرخس ایالت یې تاج الدین زنګي د فخر الدین مسعود بامیاني زوی ته وسپاره.

غیاث الدین بیا هېواد ته مرکزیت ورکړ او د منځنۍ اسیا ټولې سیمې یې له هندوستانه تر عراقه او له چینه او جیحونه د هرمز تر سینده پورې د غور د فیروز کوه تر بیرغ لاندې راوستې. دی د خراسان ستر او یوازینی شهنشاه ګڼل کېده، نو د بغداد خلیفه الناصر لدین الله هم خپل سفیران ابن ربیع او قاضي مجد الدین قدوه او ابن الخطیب د فیروز کوه دربار ته راواستول او غوري سلطنت یې په رسمیت وپېژاند. د غور له درباره هم سراج الدین محمد جوزجاني د سفیر په توګه بغداد ته ولاړ او په دغه ډول د فیروز کوه او بغداد د دوو شهنشاهیو تر منځ سیاسي تاوده اړیکي ټینګ شول.

سلطان غیاث الدین غوري د ختیځ او غور ستر علمدوست او زړه سواند پاچا و چې په دربار کښې یې پوهان راغونډېدل، دی پر ٦۳ کلنۍ د (۵۹۹هـ - ۱۲۰۲م) کال د درېیمې خور (جمادی الاولی) پر ۲۷ ورځ د هرات

په ښار کښې وفات او په هغه لوی مسجد کښې چې ده په خپله جوړ کړې و ښخ دی، دا جامع جومات تر اوسه په هرات کښې شته. دی په لومړي سر کښې د خپلو اسلافو په شان د محمد کرام سیستاني په مذهب و، خو وروسته یې شافعي مذهب ومانه. د ده د دربار نومیالي پوهان قاضي وحید الدین شافعي مرورودی او صدرالدین کرامي نیشاپوري وو. د ده د هېوادو قاضیان قاضي القضات معزالدین هروي او قاضي شهاب الدین هرمابادي او وزیران یې شمس الملك، عبدالجبار ګیلاني، فخر الملك شرف الدین قره ٔري، مجد الملك ریوشاري، عین الملك سوریاني، ظهیر الملك سجزي او جلال الدین ریوشاري وو. پر دوبي یې دارالملك فیروز کوه او پر ژمي زمینداور و. له خپل لاس لیك سره یې "حسبی الله وحده" لیکل (**۵۳** نومره تصویر وګورئ).

د سلطان غیاث الدین محمدسام تر مړینې وروسته یې زوی غیاث الدین محمود چې یو عیاش سړی و، د خپل تره معزالدین له خوا د بست، فراه او اسفزار په حکمرانۍ وګمارل شو، ده لښکر راټول کړ او تر مروشاهجان پورې پر مخ ولاړ، د معزالدین تر شهادت وروسته پر (٦۰۲ هـ) کال یې له بست څخه د زمینداور له لارې پر غور یرغل وکړ او فیروز کوه یې له ملك علاء الدین ابو علی څخه واخیست غور یې له غرجستان تالقان، ګرزیوان، قادس او ګرمسیر سره لاس ته راوستل او د خپل پلار او تره د ملك وارث شو. ده تاج الدین یلدوز ته چې د معزالدین محمد له خادمانو څخه و، د غزني د حکمرانۍ چتر او مثال د سند تر سینده پورې ورواستاوه، پر (٦۰۵هـ - ۱۲۰۸م) کال یې د هندوستان د هېوادو مثال سلطان قطب الدین ایبك ته ورکړ، په دې توګه یې د غور پاچهي د هند تر پایه بالواسطه ټینګه کړه.

The Digital Library

پر (۶۰۷هـ - ۱۲۱۰ع) کال ملك رکن الدین ایرانشاه محمود د ملك علاء الدین ابوعلي زوی له پنځوس زریز غزنوي او کاسي لښکر سره پر غور او فیروز کوه یرغل وکړ، خو غیاث الدین محمود د ده سر پرې کړ، د میمنې او فاریاب تر منځ په سالوره کښې یې له علاءالدین آتسز حسین شنسبي سره چې د سلطان محمود خوارزمشاه په مرسته د بلخ، مرو، سرخس او رود بار له لښکرو سره یې د تالقان له لارې پر غور یرغل کړی و، جګړه وکړه؛ د خوارزمشاه او اتسز لښکر یې مات کړ، تر هغه وروسته ځنګه چې علیشاه د تکش خوارزمشاه زوی د خپل ورور له درباره غور ته وتښتېد غیاث الدین محمود دی دبر کوشك په ماڼۍ کښې بندي کړ، د علیشاه نوکرانو دی پر (۶۰۷ هـ - ۱۲۱۰ م) کال ووژه؛ دی سخي، بخښونکی، عادل او حلیم پاچا و، د پلار (۸۰۰) زرعین سندوخه خزانې چې د څلورو سوو او ښانو بارکېده خلکو ته وبخښلې.

د غیاث الدین محمود تر مړینې وروسته د غور امیرانو د ده څوارلس کلن زوی بهاء الدین سام د فیروز کوه پر تخت کښیناوه، درې میاشتې وروسته سلطان علاء الدین اتسز شنسبي د سلطان محمود خوارزمشاه او د هرات امین حاجب ملك خان په مرسته پر فیروز کوه یرغل وکړ او د (۶۰۷م) کال پر دریمه خور (جمادی الاولی) یې هغه ښار ونیو، بهاءالدین یې د شاهي کورنۍ له ښځمنو سره خوارزم ته وشاړه، تر هغه وروسته علاءالدین اتسز د علاءالدین حسین جهانسوز زوی د فیروز کوه پر تخت کښېناست او تر (۴) کالو پورې یې حکومت وکړ په ګیلان کښې د ملك تاج الدین یلدوز او موید الملك محمد د عبدالله سیستاني زوی د غزني له وزیر سره په جګړه کښې مات شو، وروسته ملك نصیرالدین حسین "امیر شکار له غزني څخه پر غور یرغل وکړ او په جرماس کښې یې علاءالدین

اتسز وواژه، غور یې د غزني د پاچهۍ تر اثر لاندې راوست، د (۶۱۱هـ - ۱۲۱۴ ع) په شاوخوا کښې تاج الدین یلدوز له غزني څخه علاء الدین "در غور" بېرته د فیروز کوه تخت ته واستاوه، خو علاءالدین پر (۶۱۲هـ) کال د سلطان محمد خوارزمشاه لاس ته ورغی په خوارزم کښې مړشو، ټول غور د خوارزمشاهي تر لاس لاندې شو.

د سلطان غیاث الدین محمد بل ورور ابوالمظفر معز الدین محمد بن سام قسیم امیرالمؤمنین، هم د ختیځ او آل شنسب ستر پاچا ؤ چې له خپل ورور سره، سر جاندار (د شاهي ګارډ قوماندان)و، تر هغه وروسته د غور د کجوران او استیه د ولایت حکمران شو(۵۵۸ هـ - ۱۱۶۲ م) او د ګرمسیر ښاورنه یې تر تګین آباد پورې لاس ته راوستل، ده په غزني کښې د غزانو دوولس کلنه واکمني ړنګه کړه، د سلطان غیاث الدین محمد په امر د غزني پر تخت کښېناست(۵۶۹هـ - ۱۱۷۷م)، پر (۵۷۰ هـ) کال یې ګردیز فتح او ملتان یې له قرامطه څخه ونیو او پر (۵۷۳ هـ - ۱۱۷۷ع) کال یې د سنقران د یاغیانو غورېونه تاوکړل، پر (۵۷۴ هـ) کال د "بهیم د یو نهرواله" په جګړه کې مات شو. پر (۵۷۵ هـ) کال یې فرشور (پېښور) او پر (۵۷۷هـ - ۱۱۸۱م) کال یې لاهور ونیو، تر هغه وروسته د خپل ژوند تر پایه یې ټول هندوستان ونیو او د اسلام په نور یې روښانه کړ.

په افغانستان کښې د ده د وختو له مهمو پېښو څخه په اندخود کښې د خط له کفارو او د ترکستان له ملوکو سره د سلطان معزالدین محمد جګړه وه چې سالار حسین خرمیل د ګرزیوان ملك د ده د لښکر په مخ کښې و، خو ځنګه چې د غوریانو لښکر څه ونه کړای شول، نو ملك عثمان سمر قندي چې د ترکستان د آل افراسیاب له ملکانو څخه و، منځګړی شو او روغه یې وکړه، سلطان غزنین ته وګرځېد، په پنجاب کښې د کوکهران ډله

The Digital Library

او د جود د غره قبایل یاغیان شول. څکه نو سلطان محمد د هغو غزا ته و
ووت، د هغو تر سر کوټلو وروسته د غزنه پر لار د ملا حده د یوه فدایي له
لاسه په دمیك نومي ځای کښې (چې د اوسني پنجاب د جهلم په سیمه کښې
دی) د (۶۰۲هـ - ۱۲۰۵م) کال د برات (شعبان) پر ۳مه شهید شو.

سلطان محمد معزالدین غوري هم د خپل ورور په شان د آسیا په
زړه کښې یو لوی هېواد وساته او د غور د شهنشاهۍ حدود یې په هندوستان
کښې د گنگا تر سواحلو ورسول او هم یې هند د اسلام په نور روښانه کړ،
د ده هېواد ختیځ خوا ته د گنگا تر کڅو (سواحلو) لوېدیځ پلو ته د خراسان،
خوارزم نسا او باور د تر پایه پورې غځېدلی و، جنوب له بحیرهٔ عرب سره
نښت، د ده حکمداران په لاندې ځایو کښې دا کسان وو: په غور کښې ملك
ضیاء الدین، په بامیان کښې ملك تاج الدین زنگی، په ملتان کښې ملك
حسام الدین علی کر ماج، په لاهور کښې ملك قطب الدین ایبك، په غزنه
او کرمان کښې ملك تاج الدین یلدوز، په سند هوا چه کښې ملك ناصر الدین
قباچه، په بامیان کښې سلطان بهاءالدین سام، په فیروز کوه کښې سلطان
غیاث الدین محمود، په سیستان کښې ملك تاج الدین حرب، په مکران
کښې ملك تاج الدین، او په وخش کښې ملکشاه.

د ده نومیالي وزیران ضیاءالملك درمشی، مؤید الملك محمد
عبدالله سجزي، او شمس الملك عبدالجبار گیلاني دي. قاضیان یې صدر
شهید نظام الدین ابوبکر، سید شرف الدین ابوبکر د صدر شهید زوی او د
لښکر قاضي یې شمس الدین بلخي و. د پاچهی بیرغونه یې ښی خوا سور
او کیڼ خوا ته تور وو. منهاج سراج د سلطان په شاهي خزانه کښې د ډېرې
شتمنۍ یادونه کوي چې د خواجه اسماعیل خزانه دار په وینا د غزني په
خزانه کښې نوازي یو زر او پینځه سوه منه الماس وو.

د پټې خزانې په کتاب کښې د پښتو ژبې محلي روایتونه د پخوانیو
کتابو په حواله دا څرگندوي چې د محمد غوري په دربار کښې د پښتو ژبې
شاعران وو، چې یو له هغو څخه ښکارندوی د فیروز کوه د کوټوال احمد
زوی دی، چې په هند کښې د محمد د فتوحاتو په ستاینه کښې یې یوه ډېره
ښه او خوندوره بولله ویلې او په پټه خزانه کښې لیکل شوې ده چې د پښتو
ژبې له خورا مهمو ادبي، تاریخي آثارو څخه گڼل کېږي (وگورئ ۵۴ نومره
تصویر).

د معزالدین محمد غوري تر شهادت وروسته هغه لوی هېواد ټوټې
ټوټې شو، د افغانستان ختیزه برخه له غزني څخه تر سنده پورې د تاج الدین
یلدوز لاس ته ورغله چې د غور د دربار له خدمتگارانو څخه و او د محمد
خدمت یې کاوه.

دغه تاج الدین خپله یوه لور ملك قطب الدین ایبك (د هند حکمران)
ته او بله لور یې هم ناصرالدین قباچه (د سند حکمران) ته ورکړې وه، غزني
یې د سند تر سینده ونیو، خو هغه وخت چې قطب الدین ایبك له لاهور څخه
پر غزني یرغل وکړ یلدوز د سند په پنج آب سیند کښې ورسره جگړه وکړه
او مات شو، د کرمان د" کورم" ناوې ته ولاړ او له هغه ځایه یې په غزني
کښې پر قطب الدین یرغل وکړ قطب الدین په غزني کښې تر څلوېښتو ورځو
پاچهی. وروسته بېرته هند ته ولاړ او غزني د یلدوز په لاس کښې پاته شو،
لکه چې وویل شول د سلطان غیاث الدین محمود په ملاتړ د هرات په جگړه
کښې د سلطان محمد خوارزمشاه په مقابل کښې ودرېد او پر سیستان یې
هم لښکر ویوست او له تاج الدین حرب سره یې چې د سیستان ملك و، روغه
وکړه (۶۰۲ هـ). ده نه کاله د معزالدین محمد په نامه سکه ووهله چې "عبده"
یې پر لیکلي وو. همدا چې د سلطان محمد خوارزمشاه لښکریان له

The Digital Library

تخارستانه پر غزني راغلل او تر ګردیزه یې ونیول نو تاج الدین یلدوز هندوستان او لوهور ته ولاړ او په هغه جګړه کښې چې په تراین کښې یې له سلطان التمش سره وکړه ونیول شو او په بداون کښې ووژل شو (د ٦١١هـ، ١٢١٦م شاوخوا) د غوریانو د سلسلې د شلېدلو په وخت کښې (٦١٢ هـ شاوخوا) خوارزمشاهیانو شمالي ولایتونه غور او هرات ونیول او سیستان تر بست، تګین آباد او زابلستان پورې د سیستان د محلي ملکانو لاس ته ورغی. غزني ولایت، کابل او ختیځې سیمې تر سنده پورې په تاج الدین یلدوز پورې اړه وموندله، تر ده وروسته د خوارزمشاهي له درباره ملك کربر په غزني، امین ملك په هرات او اختیار الدین محمد خرپوست په پېښور کښې واکمن وو (د آل شنسب وروستني پېښې د چنګیز د راوتلو په شرح کښې راوړل کېږي).

د غوریانو په وخت کښې د غزنویانو د دورې مدنیت بشپړ تابه ته ورسېد، د دري ژبې ادبیات د غوري فاتحینو په واسطه تر ډهلي پورې خپاره شول، پښتو ژبه هم د سوریانو په کهاله کښې پالل شوې او د شعر او ادب ژبه شوه، د اسلام دین یې په ټول افغانستان او د هند په زیاته برخه کښې خپور کړ، صنعت او عمران چې بېلګې یې د هرات جامع مسجد. د غور جام ځلی (منار) (وګورئ ۵۵ ـ ٥٦ نومره عکسونه) او د ډهلي قطب منار دي ډېره وده وکړه، علوم او فنون د غوریانو په لوی هېواد کښې له نامتو پوهانو او شاعرانو سره وپالل شول او د (افغان. هند) اسلامي مدنیت چې لودیانو او غزنویانو یې بنسټ ایښی و، پخوالي ته ورسېد.

د غوریانو د دورې نومیالي پوهان او شاعران داوه: امام فخرالدین رازي، نظامي سمرقندي، احمد میداني نیشاپوري (د مجمع الامثال خاوند) علي باخرزي (د دمیته القصر خاوند) قاضي منهاج سراج جوزجاني (د

طباقات ناصري خاوند) قاضي وحیدالدین شافعي مرورو دي، صدر الدین کرامي نیشاپوري، معز الدین هروي، شیخ الاسلام جلال الدین ورساد، مولانا سراج الدین جوزجاني، ابو نصر فراهي، محمد عوفي (دلباب الباب خاوند)، اسعد سوري، شیخ تیمن، تایمني، ملکیار غرشین، قطب الدین بختیار، ښکارندوی (پښتو شاعران) ملك الکلام فخرالدین مبارکشاه (د غوریانو د منظومې نسب نامې خوند) او نور.

د غوریانو درباري ژبې پښتو او دري وې، ځکه چې غوریان د پښتنو له سوري ټبره څخه وو. نو ځکه د دوی په وختو کښې پښتانه د غور او سلیمان له غرو څخه د ترنك، ارغنداو، هیلمند، کابل او هریرود ناوو ته راسر شول، د هند په فتوحاتو کښې یې د پاچهانو په لښکر کښې هم ګډون وکړ. د پښتنو د قبیلو زیات خلك او مشران په هند کښې د شهنشاهانو او د هغو له ځای ناستیو سره پاتې شول. چې د هغو پایڅوړ تر اوسه هم په ټول هند کښې ډېر شته لکه لودیان، سوریان، مومندان، شیرانیان، بهریچان (بریځن) چې زیاتره یې په هند کښې دروهیله پاټان په نومو یادېږي، دا خلك ان تر اوسه هم د هند په مختلفو سیمو کښې ځانګړې حکومتونه او د ریاست او نفوذ سیمې لرې.

د غور د شاهي کهانه نومیالي

١ - شنسب د خرنك زوی (د ٤٠ - ٨٠ شاوخوا)
٢ - امیر پولاد د شنسب زوی (د ١٣٠ هـ شاوخوا)
٣ - امیر کروړ د پولاد زوی (١٣٩ - ١٥٤ هـ)
٤ - امیر ناصر د کروړ زوی (د ١٦٠ د هـ شاوخوا)
٥ - امیر بنجي د نهاران زوی (د ١٧٠ هـ شاوخوا)
٦ - امیر سوري د ؟ زوی (د ٢٥٣ هـ شاوخوا)

he Digital Library

۷ - امیر محمد سوري (د ۴۰۵ هـ شاوخوا)

۸ - امیر بوعلي د محمد سوري زوی (د ۴۲۵ هـ شاوخوا)

۹ - عباس د شیش زوی او د بوعلي وراره (د ۴۵۰ هـ شاوخوا)

۱۰ - امیر محمد د عباس زوی (د ۴۵۰ شاوخوا)

۱۱ - قطب الدین حسن د محمد زوی (د ۴٦۰ هـ شاوخوا)

۱۲ - ملك الجبال عزالدین حسین د قطب الدین حسن زوی (د ۵۱۰هـ شاوخوا)

۱۳ - قطب الدین محمد د عزاالدین زوی (په ۵۴۱ هـ کښې وژل شوی)

۱۴ - بهاءالدین سام د عزالدین زوی (۵۴۴ ـ ۵۵۴ هـ)

۱۵ - ملك شهاب الدین خرنك د عز الدین زوی (د ۵۵۰ هـ شاوخوا)

۱٦ - ملك شجاع الدین د عز الدین زوی (د ۵۵۰ هـ شاوخوا)

* ۱۷ - سلطان علاءالدین حسین جهانسوز د عزالدین زوی (۵۴۴ ـ ۵۵۱ هـ)

۱۸ - سلطان سیف الدین د عزالدین زوی (۵۴۳ ـ ۵۴۴ هـ)

* ۱۹ - ملك فخرالدین مسعود د عزالدین زوی (د ۵۴۰ هـ شاوخوا)

* ۲۰ - سیف الدین محمد د جهانسوز زوی (۵۵۱ هـ)

* ۲۱- سلطان غیاث الدین محمد سام (۵۵۸ ـ ۵۵۹ هـ)

* ۲۲- سلطان معزالدین محمد سام (۵٦۹ ـ ٦۰۲ هـ)

* ۲۳ - سلطان غیاث الدین محمود د غیاث الدین محمد زوی (۵۹۹ ـ ٦۰۷ هـ)

* ۲۴ - سلطان بهاءالدین سام د محمود زوی (٦۰۷ هـ)

۲۵ -علاءالدین اتسز د جهانسوز زوی (٦۰۷ ـ ٦۱۱ هـ)

۲٦ - علاءالدین درغور (۵۹۹ ـ ٦۱۲ هـ)

۲۷ -ملك ناصرالدین ګزیو د شهاب الدین خرنك زوی (د ٦۱۸ هـ شاوخوا)

۲۸ - سلطان شمس الدین محمد د فخرالدین مسعود زوی (د ٦۵۰هـ شاوخوا)

۲۹ - سلطان بهاءالدین سام د شمس الدین محمد زوی (۵۸۷ ـ ٦۰۲ هـ)

* ۳۰ - جلال الدین ابو علي د بهاءالدین سام زوی (٦۰۲ ـ ٦۱۲ هـ)

۳۱ - علاءالدین مسعود د بهاء الدین سام زوی (٦۰۲ ـ ٦۱۲ هـ)

۳۲ - علاءالدین مسعود د شمس الدین محمد زوی (٦۱۰هـ شاوخوا)

مأخذونه: طبقات ناصری ـ ابن اثیر ـ دول اسلامیه ـ پټه خزانه ـ آداب الحرب ـ دایرة المعارف اسلامی ـ فرشته ـ شوکت افغانی ـ معجم الانساب ـ ګزیده ـ لب التواریخ ـ فتوح اسلاطین عصامی ـ (وګورئ ۵۷ نومره نسب لیك).

The Digital Library

خوارزمشاهيان

خوارزم يو زرغون، ودان او مشهور ولايت و چې د آمو له سينده اوبېده، د اتيا فرسخو په شاوخوا کښې يې اوږدوالی درلود، ښارونه يې له بازارو ډك او کلي يې يو بل ته سره نژدې وو، د کرهنې ځمکې او مانۍ يې درلودې، پايتخت يې گرگانج (جرجانيه) نومېده او له ډېرو پخوانيو زمانو څخه يې د افغانستان د شمالي او مادون النهر له ښارو سره اقتصادي، سياسي او فرهنگي اړيکي درلودل.

د مارکوارت په وينا ايريانم ويجو (باختر ته تر هجرت دمخه د اريايانو اصلي ټاټوبي) همدا ځای و. دا نوم په اوستا کښې XVARIZEM او په پخواني فرس کښې "هوارزميش" و، خوارزمي ژبه نورو آريايي ژبو ته يوه نژدې ژبه وه چې په وروستنيو کيندنو کښې يې آثار راوتلي دي. البيروني هم دا ژبه په آثارالباقيه کښې يوه مستقله ژبه گڼلې ده، د هغې د مياشتو نومونه يې ليکلي دي او وايي چې د خوارزم ملکانو ته "خوارزم شاه" وايي.

د ۳۲ هـ په شاوخوا کښې احنف د قيس زوی عربي فاتح د مادون النهر سيمې له تخارستانه تر تالقان، فارياب او جوزجان پورې ونيولې او د آمو له غاړو خوارزم ته واوښت. خو ويې نه نيولای شوې د معاويه د زوی يزيد په وختو کښې هم سلم د زياد زوی د خوارزم له خلکو سره په څلور سوه

زره درهمه روغه وکړه، خو چې يزيد د مهلب زوی د حجاج له خوا خراسان ته راغی له خوارزميانو سره وجنگېد (د ۸۲هـ شاوخوا)، او د (۸٦ هـ شاوخوا) قتيبه د مسلم باهلي زوی هغه فتح کړ.

د البيروني په وينا د خوارزمشاهيانو د کهاله لومړی مؤسس کيخسرو وو او د اسلام له پيله خوارزم د حکومت له پلوه پر دوو برخو ووېشل شو:

شمال برخه چې پايتخت يې "گرگانج" و، د عربي اميرانو له خوا اداره کېده او جنوبي برخه چې مرکز يې "کات" و د خوارزمشاهانو سيمه وه، د خوارزمشاهانو مشهوره کورنۍ تر اسلام دمخه او وروسته مامونيان و، چې په اسلامي دوره کښې يې مؤسس ابو سعيد احمد د محمد زوی و چې د (۳۴۰ هـ په شاوخوا کښې) يې ژوند کاوه، د ده د (۳٦٦ هـ کال) سکې شته له دې کورنۍ څخه ارثموخ خوارزمشاه د هجری سنې د پيل په شاوخوا کښې اوسېد، نسب يې د البيروني په وينا افريغ ته رسېد او چې قتيبه دويم وار پر خوارزم بری ومومند خوارزمشاه اسکجموك د ازکاجوار زوی د سبری لمسی د سخر کړوسی او د نوموړی ارثموخ کوسی يې په خوارزمشاهۍ وپېژاند د (۸٦هـ شاوخوا) چې د احمد د نسب سلسله ده ته په لاندې توگه رسېده: احمد د محمد زوی، د عراق لمسی، د منصور کړوسی، د عبدالله کوسی چې هغه بيا د تر کسباثه زوی، د شاوشفر لمسی او د اسکجموك کړوسی و.

دويم: ابو عبدالله محمد د احمد زوی چې د ابن اثير په وينا پر (۳۸۵ هـ) کال مړ دی.

دريم: مامون د محمد زوی چې کورنۍ يې د ده په نامه "مامونی" يادېږي، د سامانيانو له خوا په گرگانج کښې د خوارزم والي و، دی له ابو عبدالله خوارزمشاه سره وجنگېد او بريالی شو، د خوارزمشاهۍ لقب يې پر ۳۸۵هـ خپلې کورنۍ ته واړاوه، پر (۳۸۷ هـ) وفات شوی؛ يوه لور يې د

e Digital Library

سلطان محموذ ماندینه وه.

څلورم: ابو الحسن علي د مامون زوی پر (۳۸۷ هـ) پر تخت کښېناست. د سبکتګین لور حره یې وکړه، په خوارزم کښې یې ابن سینا ته ښه راغلاست وویل او سکه یې شته.

پېنځم: ابو العباس د مامون زوی پر (۳۹۰ هـ) کال.

شپږم: ابو الحارث محمد د علي زوی او د مامون لمسی چې پر (۴۰۷ هـ) کال یې سکه ووهله او پر (۴۰۸ هـ) کال سلطان محمود له منځه یووړ، د غزنه له درباره یې لوی حاجب التونتاش د خوارزم په حکومت وګمارد، د خوارزمشاه لقب یې ورکړ، د مامونیانو د کورنۍ کمبله ټوله شوه، او تر التونتاش وروسته یې زوی هارون (۴۲۳ هـ) او اسماعیل خندان د التونتاش زوی (۴۲۵ هـ)او شاه ملك (۴۲۹ هـ) په خوارزم کښې حکومت کاوه چې پر (۴۳۴ هـ) کال طغرل بیګ سلجوقي له منځه یووړل.

د خوارزمشاهیانو د دویمې کورنۍ بنسټ د انوشتګین په لاس کښېښنوو شو چې د بلکاتګین له مریانو څخه و، د (۴۷۰ هـ) په شاوخوا کښې یې د سلجوقي دولت په وختو کښې شهرت وموند او د "غرشا" لقب یې واخیست" همدا چې پر (۴۹۰ هـ) اکنجی قچقار د بر کیاروق ګمارل شوی حکمران ووژل شو، نو د خراسان والي امیر داد حبشي د بر کیاروق په تصویب قطب الدین محمد د انوشتګین زوی په خوارزمشاهۍ وټاکه، تر هغه وروسته دا لقب د چنګیز تر راتلو پورې دې کورنۍ ته پاتې شو، چې یو وخت یې د واکمنۍ سیمه تر زمینداوره هم رسېدله او پر (٦۱۷ هـ) وروستنی خوارزمشاه جلال الدین منکبرنی د افغانستان په خاوره کښې د چنګیز له لښکریانو سره ډېرې جګړې وکړې.

د دغه کهاله نور کسان چې خوارزمشاهۍ ته رسېدلي دادي.

۳ - اتسز د محمد زوی چې پر (۵۲۱ هـ) کال پاچا شو، اوسکه یې ووهله، پر (۵۳۳ هـ) یې له سلطان سنجره ماته وکړه خو پر (۵۳۵ هـ) یې د خوارزم تخت بیا دده ته ورکړ.

د ده په وختو کښې علي چتري په هرات کښې پورته شو، خواتسز د سنجر ټول ملکونه ونیول او دربار یې د فاضلانو د راغونډېدو ځای شو، رشیدالدین وطواط خپل کتاب حدایق السحر د ده په نامه ولیکه، د (۵۵۱هـ) کال پر دربیمه خور (جمادی الاخری) مړ دی.

۴ - ایل ارسلان د اتسز زوی: دی د پلار تر مړینې وروسته پر خوارزمشاهي تخت کښېناست او د قراخطا او قفچاق له قبیلو سره یې روغه وکړه، د سنجري ملکانو پایڅوړ یې له خراسانه وشاړه او یا یې روغه ورسره وکړه او پر (٦۵۸ هـ) مړ شو.

۵ - سلطان شاه ابوالقاسم محمود د ایل ارسلان زوی (۵٦۸- ۵۸۹هـ)

چې له ورور سره د دښمنۍ له امله یې د غور د سلطان غیاث الدین دربار ته پناه یو وړه، خو دا چې د غور دربار له سلطان تکش سره تړون درلود څه مرسته یې ورسره ونه کړه، محمود ماوراءالنهر ته ولاړ، د "خطا له خانه" یې ملاتړ وموند او خراسان یې د غز د امیرانو له لاسه وژغوره، په مرو کښې یې دارالملك جوړ کړ، د هرات ملك بهاءالدین طغرل هم ورسره یو ځای شو، تل به یې د غور بریدونه ګواښل، خو سلطان غیاث الدین غوری په مرورود کښې د غور بامیان او سیستان لښکرې راغونډې کړې او تر شپږو میاشتو یې جګړه وکړه، په پای کښې د غور د سلطان لښکرې له مرغابه پورېوتلې او بهاءالدین یې وواژه او محمود د ماتې په حال کښې پر (۵۸۸ هـ) کال مروته وګرځېد، زهر یې وخوړل او مړ شو (۵۸۹ هـ).

٦ - ابو المظفر سلطان تکش د ایل ارسلان زوی: د ۵۸۹ هـ کال د

he Digital Library

لومړی خور (ربیع الاول) پر ۱۲ پر تخت کښېناست، دی لوی عالم او هنرور پاچا و، چې نیم خراسان یې په خپل مټ تر لاس لاندې کړ د هېواد وېش یې د هیلمند تر غاړو رسېده. ډېرې سکې یې په داور (زمینداور) کښې وهل شوي او له هغه ځایه لاس ته راغي. تکش د قفچاق او خطا له قبیلو سره روغه کړې وه مازندران او د عراق یوه برخه یې ونیوله، د سنجر وراره سلطان طغرل یې بندي کړ؛ د بغداد خلافت دربار یې، ګواښه، د بغداد وزیر" ابن القصاب" یې مات کړ د خلافت دربار خپل دوه تنه سفیران ابن الربیع او ابن الخطیب د غور د فیروز کوه دربار ته واستول چې د سلطان غیاث الدین غوري حضور ته د تکش له تېري ګیله وکړي خو سلطان تکش د ۵۹۶ هـ کال د روژې پر ۹ مړ شو.

۷ - علاءالدین محمد د تکش زوی د پلار تر مړینې وروسته خوارزمشاهۍ ته ورسېد او نشاپور یې خپل ورور علیشاه ته (چې پر ۶۰۹هـ وژل شوی) ورکړ د غور او غزنه دربارو ته یې سفیران واستول او روغه یې وغوښته، د غور تر پاچهانو وروسته یې خراسان ونیو، ملك عزالدین خرمیل غوري له ده سره یو ځای شو، تر یوولسو میاشتو کلابندۍ وروسته یې هرات ونیو او بلخ یې هم لاسته راوست، د ده د هېواد سرحدونه تر بلاساغون، کاشغر او خطا پورې ورسېدل "تاینکو طراز" او "ګورخان خانان" په ترکستان کښې د ده اطاعت ته غاړه کښېښوه، د عراق او اذربایجان هېوادونه یې ونیول، سلطان جلال الدین علي سام غوري یې وواژه، پر ۶۱۲هـ یې غزني ته لښکر کښې وکړه؛ تاج الدین یلدوز یې د هند خوا ته وشاړه او د هېواد وېش یې د سند تر سینده ورسېد او خپل زوی جلال الدین منکبرني یې د افغانستان پر حکمرانۍ وګماره، خو پر (۶۱۷ هـ) کال د چګیز لښکر له ختیځ خوا د ده پر هېواد یرغل وکړ، دی د ماتې په حال کښې د آبسکون جزیرې ته

وتښتېد او پر همهغه کال مړ شو.

د علاءالدین له ورونو څخه یو "یونس خان د تکش زوی" د عراق حکمران، بل "ملك خان" د نشاپور او خراسان حکمدار او دریم علي شاه د عراق او اصفهان حکمران و، څه موده هم د علاءالدین محمد له زامنو څخه ارزلوشاه پر ۶۱۷هـ کال د پلار تر تېښتې وروسته پر تخت کښېناست، خو د چنګیز لښکریانو خوارزم ونیو.

همدارنګه رکن الدین غوریشانستي د علاءالدین محمد زوی څه موده د عراق حکمراني وکړه، خو پر ۶۱۷ هـ کال د چنګیز لښکر دی همهلته وواژه. همداراز "آق سلطان د علاءالدین محمد" بل زوی هم څه موده په کرمان کښې پاچا و، چې د خطایي براق حاجب په لاس ووژل شو.

۸- د سلطان محمد خوارزمشاه مشر زوی او وروستنی زړور پاچا جلال الدین منکبرنی دی چې پر ۶۱۷ هـ کال د خپل تښتېدلي پلار پر ځای کښېناست او د چنګیز له لښکریانو سره یې په مېړانه جګړې وکړې.

دی د پلار پر ژوند د خراسان، غور او غزني نایب السلطنه و چې وزیر یې شهاب الدین الپ سرخسی نومېده، له خپلې خوا یې غزني ملك کربر، فیروز کوه یې مبارزالدین سبزاواري، کرمان یې ملك الامراء او پرشور (پېښور) او بوبکر پور یې ملك اختیارالدین محمد علی خرپوست ته وسپارل.

هغه وخت چې پلار یې پر ۶۱۷هـ کال د چنګیز له یرغله وتښتېد، ده په نشاپور، د خراسان او کرمان په بیابانو او د نیمروز، بست او داور په ښارو کښې جګړې کولې تر هغې چې په غزني کښې ملك خان امین حاجب "د هرات مات شوی حکمران" هم له ده سره یو ځای شو؛ چنګیز خپل زوم قوتو قونوین په دوی پسې وګماره، د پروان په شاوخوا کښې یې درې واره جګړه وکړه او قوتو یې مات کړ، څو چې چنګیز د خراسان له تالقانه د ده

e Digital Library

جګړې ته راغی او جلال الدین د پرشور (پېښور) خوا ته پر شا شو. چنګیز د سند د سیند تر غاړو پسې ولاړ. په هغه جګړه کښې چې د سند د اوبو پر غاړه یې وکړه مات شو او ځان یې اوبو ته واچاوه دا و چې د ملتان او کرمان له لارې پارس ته ولاړ د (٦٢١ هـ) د ٦٢٨ هـ کال د شوال پر ۱۵ د کردانو له لاسه ووژل شو، د ده له مړینې سره د دغه کهاله لړۍ پای ته ورسېده. د دې پېښو تفصیل به د چنګیز خان د حالاتو په شرح کښې راشي (د دغه مخ مخامخ ۵۹ نومره نسب لیك وګورئ).

اخځلیکونه: طبقات ناصري، ابن اثیر، معجم الانساب، د پاول هورن د ایران مختصر تاریخ، تاریخ ګزیده، جهان ګشای جوینی، سیره جلال الدین منکبرنی - نفثة المصدور، د بار تولد ترکستان، تاریخ ایران در عهد مغل دعباس اقبال.

څلورمه برخه

د خوارزمشاه وروستۍ ماتې

او

د چنګیز منځته راتلګ

(٦١٦ - ٦٤٠هـ)

د چنګیز د منځته راتګ پر مهال د غزنوي او غوري کورنیو واکمني له منځه تللې وه. د هېواد د شمالي سیمو واك د خوارزمشاهي دربار په لاس کښې و. په سیستان کښې د نیمروز سمیه ییزو ملکانو کمزوری حکومت چلاوه، د افغانستان ختیزې برخې هم د هغو امیرانو په لاس کښې وې چې د غور سلاطینو ټاکلي وو، په هرات کښې هم کرت حکمرانانو حکومت کاوه (ال کورت).

پر داسې مهال چې د هېواد ځواکونه پاشلي شوي وو، پر ودان افغانستان او د هغه پر پرمختللیو ښارو باندې د آمو له ها خوا د چنګیز تاراکګر یرغلونه پیل شول او د (٦٠٠هـ - ١٢٠٣م) په شاوخوا کښې د چنګیز خان (تموچن د یسو کای بهادر زوی چې د قیات په ټبر کښې پر ۵۴۹

e Digital Library

۱۱۵۴م زوکړی و) تر واکمنۍ لاندې د منګوليا په قراقوروم کښې يوه لويه امپراتوري جوړه شوه چې بريدونه يې ختيځ لورته د چين له سينده تر پاميره رسېده چې د سلو مېليونو په شاوخوا کښې منګوليايي وړې او وحشي ټبر د چنګيز تر کلکې ادارې او خونړي تېغ لاندې د ده فرمان ته لاس پر نامه وو.

دا مهال سلطان علاوالدين محمد خوارزمشاه له اورګنجه پر ماوراءالنهر او د افغانستان او ايران پر يوې سيمې واکمني درلوده. ده د سمرقند د ترکانو او قرا خطائيانو دولت چې د خوارزمي دولت او چنګيزي ځواکونه تر منځ پروت و، ونړاوه او هم يې د افغانستان غوريان چې ملاتړي يې وو او د افغانستان له غزني او نورو سيمو يې د وحشي غزانو په پوپنا کولو کښې لوړتيا ښودلې وه، له پښو واچول همدا راز خوارزمشاه د بغداد له خليفه ناصرالدين سره هم دښمني لرله چې د هغه نوم يې هم له خطبې او سکې غورځولی و، نومړي خليفه د يوه ليک په واسط چنګيز دې ته راوپاراوه چې پر خوارزمشاه يرغل وکړي (۵۷۵-۶۲۲هـ) په خپله د سلطان درباريانو هم له چنګيز سره ليکنۍ اړيکه درلوده، د هېواد په چارو کښې د سلطان د مور ترکان خاتون له لاسه هم ګډوډي او ورانۍ راغلې و. تر دې چې د دې ستمګرې ملکې له لاسه د هېواد ټول مشران ډېر تنګ وو، په دې توګه له دننه او د باندې د خوارزمشاهي دولت د نړېدو سببونه راغونډ شوي وو.

د چنګيز امپراتوري له خوارزمشاهي دولت سره پر (۶۱۶هـ ۱۲۱۹م) کال ونښته، چې سلطان خوارزمشاه تاتار تجارتي کاروان تالا او د چنګيز سفير يې ووژه. چنګيز له ډېره قهره له دوو سوو زرو تنو لښکر سره د توپاني سېلاب په څېر د خوارزمشاه پر هېواد راوخوت او تر شا يې يو مليون نور ملا تړ هم درلود. د ده لښکر تر سيحون راپورېووت او د سلطان محمد لښکر يې مات کړ په يوه داسې زور او وحشت چې په تاريخ کښې يې سارى نه شته

پر اسلامي ودانو ښارو لکه بخارا، سمرقند، بناکت، خجند، جند او د ماوراءالنهر پر نورو ښارو يې يرغل وکړ او دا ښارونه يې په خورا دهشت وران او وګړي يې ووژل (۶۱۷ـ۱۲۲۰ م).

خوارزمشاه چې د چنګيز له زورورو يرغلو څخه تر جيحون راپورېوتی او په بلخ کښې ناست و، د ماوراءالنهر د ورانۍ د خبر تر اورېدلو وروسته مخامخ طوس ته وتښتېد او دا ښارونه يې دغو لاندينيو اميرانو ته وسپارل چې د چنګيز مخه ونيسي: ترمذ د سيستان لښکر مشر امير زنګي ابي حفص ته، د تخارستان ولخ امير سرهنګ سام ته، د باميان کلا امير عمر باوردي ته، پېښور او غزني ملک اختيارالدين خرپوست ته، د غور سنګه ملک حسام الدين سر زراد ته د غور نوري کلاوې ملک قطب الدين حسن، د هرات کاليون اختيار الملک دولت يار، هرات شمس الدين جوزجاني، د غرجستان فيوار پهلوان اصيل الدين نشاپوري، د تالقان نصرت کوه د ملک شمس الدين اتسز باوريانو ته، د (جوزجان) ګرزويوان د الغ خان خدمتګارانو ته، د غرجستان کلاوې عيد پهلوان شروان ته، فيروز کوه ښار مبارزالدين سبز وارې او د تولک کلا يې امير حبشي نيزه ورته و سپارل.

خو د چنګيز لښکرې د جبه‌سبتای او تغاجار په مشرۍ د (۶۱۷هـ-۱۲۲۰م) کال پر لومړۍ خور (ربيع الاول) له جيحونه راپورېوتې او د بلخ تر نيولو وروسته يې په خوارزمشاه پسې د هرات لاره ونيوه د هرات حکمران امين ملک يې کلا بند او تر پوشنجه پورې يې خلک ټول ووژل په ډېره چټکۍ يې ځانونه طوس ته ورسول، خو محمد خوارزم شاه په ډېره ناهيلۍ د آبسکون جزيرې ته وتښتېد، د (۶۱۷هـ) کال د کوچني اختر (شوال) پر مياشت په داسې حال کښې چې کفن يې نه لاره مړ شو او چنګيز خان يې هڅوکي وسيزل تر هغه وروسته د چنګيز لښکر د خوارزمشاهانو مرکز (جرجانيه

The Digital Library

اورګنج) چې د آسیا خورا ودان ښار او د پوهې او ادب زانګو وه، وران او خلك يې له يوه سره ووژل (د ۶۱۸هـ - ۱۲۲۱م کال د صفرې میاشت). د محمد خوارزمشاه مور د هغه کهاله له نورو غړیو سره د چنګیز لښکر لاس ته ورغله، زوی يې جلال الدین د نشاپور او زوزن له لارې بست ته راغی او ځان يې هرات ته ورساوه له هغې خوا په خپله چنګیز د آمو غاړې "ترمذ" ته راغی او تر یوولس ورځنی جګړې وروسته يې د هغه ښار او د بلخ خلك ټول ووژل. زوی يې (تولي) د خراسان ښارونه له مرو او نسا څخه نیولې تر هرات، فیروزکوه، استیه او تولك پورې ونیول او وران يې کړل، یوازې د مرو په لوی ښار کښې يې تر دوو ملیونو زیات خلك ووژل (۶۱۸هـ - ۱۲۲۱م) د هرات خلکو چې د شمس الدین جوزجاني په مشرۍ له تولي سره جګړه کوله تر اوو ورځو کلابندۍ وروسته تسلیم او په سوونو زره تنه يې ووژل شول او یوازې سل زره نجونې يې بندیانې شوې.

تر هغه وروسته چنګیزیانو جوزجان ولایت، اندخود، میمنه او فاریاب تر تالقانه پورې ونیول، د تالقان نصرت کوه کلا لس میاشتې کلابنده وه او ټولو اوسېدونکو يې تر وروستۍ سلګۍ پورې مقاومت وکړ، خو ټول ووژل شول تر هغه وروسته يې بیا پر بامیان یرغل وکړ، خو هلته چې د چغتای زوی موتوجن ووژل شو چنګیز له ډېره قهره پر انسانانو سربېره د بامیان څاروي هم ووژل او هغه ښار يې ماوبالیغ (بدمرغه ودانۍ) وباله او داسې يې له بیخه ونړاوه چې استوګن په کښې پاتې نه شول. تر هغه وروسته يې د تخارستان ښارونه ونیول (۶۱۸هـ - ۱۲۲۱م) پر دغه مهال جلال الدین منکبرني خوارزمشاه له هراته غزني ته راغی، د افغانستان وطني مشران لکه امین ملك له خپل دېرش زریز لښکر سره، سیف الدین اغراق اعظم ملك او مظفر ملك افغاني مشران هم له ده سره یو ځای شول او په پروان (د کابل

شمال خوا ته په اوسني جبل السراج کښې) يې د چنګیز له ۴۵ زرو لښکریانو سره چې د قوتوقو په مشرۍ جنګېدل جګړه وکړه، تردوو ورځو جګړو وروسته يې چنګیزی لښکرو ته سخته ماته ورکړه، چنګیزیانو د تخارستان د ولخ کلا پرېښوده او وتښتېدل.

خو د جلال الدین د بریالي لښکر مشران یو تر بله دښمن او پېښور ته ستانه شول، هلته يې تر دریو میاشتو پورې یو بل واژه چنګیزخان بیا د پروان د ماتې د غچ اخیستو له پاره د تالقان د نصرت کوه تر نیولو وروسته د بامیان له لارې پر غزني یرغل وکړ، جلال الدین له غزني څخه ووت او د ګردیز خوا ته پر شا شو. چنګیز غزني ته راغی، وروسته تر هغه چې هلته يې خپل حاکم کښېناوه، د سند خوا ته پر مخ ولاړ او (د اټك جنوبي خوا ته) د نیلاب پر ګودر يې جلال الدین چې تر سینده پورېووت ونیو، اته کلن زوی يې ور وواژه، جلال الدین خپله مور او ماندینه او د حرم نور غړي په سیند کښې ډوب او په خپله له اوو سوو تنو سره د چنګیز د لښکر په مقابل کښې جنګېده، خو په پای کښې پر یوه آس سپور د سند له دریابه ژوندی پورېووت. چنګیز د سلطان پاتې خپلوان او ملګري ووژل او درې میاشتې يې په پېښور او د پنجاب پر وېش هم خلك ووژل، بیا يې د سند پر ښۍ غاړه تر چتراله یرغل وکړ، تر هغه وروسته يې خپل دوه زامن اوګدای او چغتای په هغو سیمو کښې پرېښوول، خپله د کابل او بامیان له لارې د جیحون غاړې ته ستون شو (۶۱۸ پر شوال) او درې کاله وروسته پر (۶۲۱) کال تربي نوین د چنګیز د لښکر سردار، ناصرالدین قباچه يې په ملتان کښې څلوېښت ورځې محاصره او بېرته ناکامه راوګرځېد.

د جلال الدین منځته راتګ په ټول خراسان کښې د چنګیز پر خلاف خلك زړور کړل، په مرو، هرات او نشاپور کښې د ده د کوټوالانو پر وړاندې

راپورته شول، خو د چنگيز لښکر "مرو" په تش ډاګ بدل کړ هراتيان يې چې د ملك مبارزالدين سبزواري په مشرۍ جنګېدل ټول د (٦١٩هـ) کال پر وروستۍ خور (جمادىالاخرى) ووژل او ښار يې د چنگيز د لښکر د افسر "ايلچيګداى نويان" په امر وران کړ، پر (٦٢٠هـ) يې د غرجستاني اميرمحمد چې د غور د ملکانو خوريه و او د اشيار په کلا کښې يې مقاومت کاوه وواژه. په غزني کښې هم "اوګداى" له کسبګرو پرته نور ټول خلك بيابان ته و کوچول او هلته يې تر تېغ تېر کړل، آن دا چې فيروزکوه يې پر (٦١٩هـ) کال داسې وران کړ چې اوس يې ځاى پېژندنه هم ناشونې ده، همدا شان چغتاى د سند مکران او کرمان (په فتحينو د کورم په ناوه کښې) ولايتونه چور او ړنګ کړل.

چنگيز چې (دَ سند د سيند پر غاړه د اوبو او هوا د خرابۍ له امله ناروغ شو، ځکه نو دى او زامن يې پر (٦١٩ هـ - ١٢.٢٢م) کال ماوراءالنهر ته ستانه شول او پر (٦٢١هـ -١٢٢۴م) کال د خپلې کورنۍ اصلي چونۍ (اردوګاه) ته ورسېد، چنګېز دا مدهشه بلا د (٦٢۴هـ -١٢٢٦م) کال په روژه کښې د (٧٢) کلنۍ پر عمر د تنګت په دښته کښې مړشو او ګڼ شمېر خلك يې له وحشت او تېري څخه بچ شول. "د چنګيز د فتوحاتو څېړل او د نړۍ په نورو سيمو کښې د ده وراني د افغانستان په تاريخ پورې اړه نه لري.) خو جلال الدين خوارزمشاه هغه ننګيالى مېړه چې پر ډېره بې وسۍ سربېره يې خپله متره ونه بايلله، څه مهال يې د سيند کيڼې خوا ته په ځنګلو کښې تېر کړ او ژر يې يوه ډله، له ځان سره يو ځاى او د سند له واکمن "ناصرالدين قباچه" سره يې ډغرې ووهلې، د ډهلي له لوى پاچا "سلطان شمس الدين ايلتمش" (٦٠٧ هـ - ٦٣٣م) څخه يې مرسته وغوښته، خو هغه په دې پلمه چې د ډهلي هوا ښه نه ده، و يې نه منله. جلال الدين په لاهور کښې د هند

د يوه راجا لور وکړه او د هغه په ملاتړ يې "ناصرالدين قباچه" مات کړ او ډېره ولجه يې لاس ته ورغله، د "تهنه" او "ديبل" تر ښاره پر مخ لاړ. سلطان شمس الدين ايلتمش د جلال الدين له ورځ پر ورځ مخ پر ډېرېدو اتلوالې څخه وډارېد او دېرش زرېز لښکر يې د هغه د مخنيوي له پاره واستاوه.

که څه هم چې د جلال الدين د لښکر يوه مشر د ډهلي لښکر مات کړ، خو جلال الدين له څلورو زرو ملګريو سره پر (٦٢١هـ -١٢٢٦م) کال د مکران له لارې د ايران کرمان ته ولاړ؛ تر تفيلس، خلاط، ګرجستان او ارمستان پورې ځايونه يې ونيول، پر (٦٢٨هـ) کال په ميافارقين کښې د کردانو له لاسه ووژل شو او د ده له مړينې سره د خوارزمشاهي کهاله وروستۍ ډيوه مړه شوه (د جلال الدين منکبرنى د فتوحاتو او احوال نوره څېړنه د افغانستان په تاريخ اړه نه لري).

د چنګيز لښکريانو په جلال الدين پسې د ايران تر پايه وځغستل، په خراسان کښې د بقية السيف ښارو او کرېدليو خلکو د ساتنې له پاره لږو عسکروته اړه وه پر غزني، باميان او غور کښې د چنګيز له خوا د (٦٢٢هـ له شاو خوا څخه بيا تر ٦٣٣هـ)-١٢٣٦م) پورې سيف الدين حسن قرلغ حکمران و، همدغه سړى پر (٦٢٢هـ)کال د بغداد د خليفه الظاهر په نامه سکه وهلې ده، پر (٦٢٦هـ - ١٢٣١م) کال چې اوګتاى قاآن پر تخت کښېناست، د خراسان خلك د قراچه ويغان سنقور په مشرۍ د دوى کوټوالانو او حاکمانو ته راپورته شول، اوګتاى په بادغيس کښې له اوسېدونکيو لښکريانو څخه يوه برخه د طاير بهادر په مشرۍ ور واستوله او قراچه يې تر دوو کالو پورې د سيستان د ارګ په کلا کښې کلا بند وساته، داسې خوځښتونه په ټول افغانستان کښې راوټوکېدل، ځکه نو تاتاريانو دويم ځل د غور، هرات، غرجستان، سيستان، کاليون فوار، تولك، سيفرود، خيسار

او غزني په ښارو او جنګي کلاو کښې د هغو خلکو په وژلو لاس پورې کړ چې د دوی له تېغه ژوندي پاتې شوي وو او هم یې بیا هغه ودانۍ چې د دوی له ورانۍ څخه خوندي پاته وې ورانې کړې، تر هغه وروسته جنتمور د خراسان په حکمدارۍ وټاکل شو (۶۳۵هـ ۱۲۳۲م) ده بیا ملك بهاءالدین د خراسان امیر وټاکه، تر هغه وروسته د (۶۳۵هـ -۱۲۳۷م) په شاوخوا کښې نو سال او د (۶۳۸هـ - ۱۲۴۰ م) په شاوخوا کښې ګرګوز و، له (۶۴۱هـ تر ۶۵۴هـ۱۲۴۲-۱۲۵۶م) پورې امیر ارغون د چنګیزیانو له درباره د خراسان حکمرانان وو او د کرت ملکانو د دوی تر اطاعت لاندې پر هرات، فیروزکوه او غرجستان (د افغانستان پر لوېدیزو مهمو برخو) باندې حکومت کاوه او دا بلا وهلي ښارونه یې د تاتار له بلا څخه وساتل. لکه د (۶۴۳هـ -۱۲۴۵م) په شاوخوا کښې چې هولا کو (۶۳۹هـ -۶۴۹هـ، ۱۲۵۱م) د چنګیز لمسی خراسان ته راغی امیر ارغون د هرات د پاچا ملك شمس الدین کرت په ملګرتیا د هغه د اطاعت منلو په توګه ورغلل.

په ماوراءالنّهر کښې استو ګنو چغتایانو د افغانستان ولایتونه: تخارستان، بلخ، میمنه، جوز جان، غرجستان، غور، هرات، بادغیس، سیستان، زابل تر غزني او کابل پورې مستقیماً د تېغ په زور او یا بالواسطه اداره کول، دوی دېرش کاله هغه لوی ښارونه چې په آسیا کښې د مدنیت، ثقافت او اسلامي علومو مهم مرکزونه وو، وران کړل. خلك یې په بېرحمۍ یو مخیز ووژل؛ په زرګونو ستر کتابتونونه یې وسېزل، څکه نو د ثقافت، مدنیت، صنایعو، پوهنو، تجارت او ادب بازار سوړ شو، خراسان د سند تر غاړو پورې یوه ویروونکې کنډواله شوه، ټول تاریخ لیکونکي په ګډه دا مني چې د چنګیز ناتار د نړۍ له خورا زړه بوګنوونکیو پېښو څخه ګڼل کېږي. د ابن اثیر په وینا ټولو خلکو ته یې زیان ورسېد، د چنګیزیانو اردو چې هر

ځای ته رسېدلی نو د لښکر مشران یې د خلکو باداران وو، څکه نو د افغانستان د خلکو په مدنیت کښې چې تر هغه وخته یې د لرغونې آریایي او اسلامي عربي مدنیتو یوه ګډه بڼه درلوده او ساماني، غزنوي او غوري لویو پاچهانو پاللی و یو بل نوی مغولي عنصر هم ور ګډ شو، مغولي آدابو او ژبې په دري ژبه کښې چې رسمي او درباري ژبه وه اغېزه وکړه، د ژوندانه خویونه. اخلاق او کالي هم د دوی په پېښو واړول شول.

(د هغو سیمه ییزو ملکانو یادونه به په راتلونکي مبحث کښې وشي چې د چنګیزیانو په دربار کښې په آزاده توګه او یا د اطاعت له لارې اوسېدل)

سره له دې چې په خراسان کښې د چنګیزیانو ګډوډیو او وینو تویولو، پوهان، مدرسې او کتابتونونه له منځه یوړل، خو بیا هم په دغه دوره کښې داسې شاعران او عالمان وو چې اسلامي فرهنګ یې له خراساني ټولنیزو ځانګړتیاو سره ساته، ځینې هم د وحشت او سفاکۍ له دغه ډګره د هند او روم ښارو ته وتښتېدل.

په خراسان کښې د مغولي دورې پوهان او شاعران دادي: حضرت مولوي بلخي (د مثنوي خاوند)، شیخ نجم الدین دایه (د مر صادالعباد څښتن)، خواجه نصیرالدین طوسي (نامتو حکیم)، معین الدین جویني (د نګارستان خاوند)، شیخ عطار نیشاپورې (نامتو صوفي او د تذکرة الاولیا څښتن)، پور بهاء جامي (شاعر)، امامي هروي (شاعر)، امیر حسیني غوري (د نزهة الارواح خاوند)، ابن یمین فریومدي جویني (شاعر)، سلیمان ماکو (د پښتو تذکره اولیا- ۶۱۶ هـ په شاوخوا کښې).

د چنګیزیانو په وخت کښې اداري او سیاسي تشکیلات او اصطلاحات له هغه شکله چې د خلفاوو، غزنویانو او غوریانو په وخت کښې

he Digital Library

وو، په بل ډول واړول شول په دې مانا چې په ټولو نيول شويو هېوادو کښې د چنگيز لښکري سپه سالارانو د ياسا (د چنگيزی احکامو او قوانينو) په اساس په ډېر شدت حکم کاوه، په ياسا کښې د لښکرکښيو، د ښارو د ورانولو، د ملك د مصالحو د شورى د ترتيب، د جزاگانو د ډولو او د تاتاريانو د ژوندانه د دودونو قاعدې ليکل شوې وې، چې هغه ته يې لکه آسماني کتاب په درنه سترگه کتل او توره (د قومي آدابو او نيکه گانو دساتيرو مجموعه) يې هم ورته ويل. همداراز د فرانسوي ختيځ پوه کاترمر په وينا (د جامع التواريخ رشيدي په سريزه کښې) چنگيزي پاچهانو هر يوه د حاجب په عنوان اسلامي سلا کاران هم لرل، چې د هغو په واسطه او د قاضي القضات په حکم يې د مسلمانانو تر منځ اسلامي احکام او آداب ساتل، د دوی په منځ کښې د "بخشی وتوين" په نامه کشيشان هم وو، چې د کوډو او سحر مخنيوي يې کاوه، دوی او يغوری ليك دود کاراوه. د مغولي دورې کارمنو ته دا رتبې وې: قورچي (وسله وال)، چربي (د وره ساتندوی، دربان)، اخته چي (د اسو ساتونکي) داروغه (د خاصه قراول امر)، کشيکچی (گارډ). بهادر (مبارز). د دربار لويان دا وو: نوين يا نويان (شهزاده) او الغ نويان (لوی شهزاده). ترخان (عسکر افسر) په خپله پاچا ته يې خان، قاآن او خاقان ويل، لښکر يې په لس زريز (تومان) ويشلی شوی و، چې هر زرو تنو ته يې "هزاره" او سلو تنو ته يې "صده" ويل، د جگړې په ډگر کښې په جرنغار (ميسره)، برنغار (ميمنه)، قول (قلب چې د خان دريځ و)، چنداول (ساقه)، هراول (مقدمه) او قراول (کشاف) باندې وېشل کېده.

عسکر يې بنه، ارزاق او ښځې يې "اغروق" بللې. پر لويو لارو يې د مسافرانو له پاره سرايونه (يام) ودان کړي وو، چې په هر يام کښې دولتي چاپار آسان د "الاغ" په نامه موجوده وو او د هغو په واسطه يې شاهي

مخابرات او مواصلات اجرا کول. قضايي محکمې يې "يرغو" او قاضي يې "يرغوچي" او د محکمې د حکم سند يې "مو چلکا" بلل، حشر (اشر) يعنې عسکري او اجباري کار او خدمت يې هم په خلکو کاوه. د پاچا مهر ساتونکي ته يې "تمغاچي" او مهر ته يې "تمغا" ويل، هرير ليغ (فرمان) چې دا مهر به ورباندې و، "واجب الاطاعة" گڼل کېده، دا فرمانونه د ايلچي په لاس استول کېدل، زيات وختونه به د سردارانو شورى چې "قوريلتای" نومېده جوړېده، د لښکر چوڼۍ "يورت يا اردو" به په ييلاق (صيفيه) او قشلاق (شتائيه) کښې وه. افسرانو ته يې "يورتيچي" ويل. په دغه عصر کښې د چين د نقاشۍ فن په منځنۍ آسيا کښې ښه وده وکړه، دا صنعت ډېر پر مخ ولاړ، همدارنگه کاشي کاري، معماري، وريښمينې نساجۍ، زرينو جامو، مرصع، زريفت غاليو او اليچي اوبدلو هم پرمختگ وکړ، چين مغول او هند تجارتي اړيکي د خراسان له لارې له ايران، عراق او روم سره زيات شول، مشهوره وريښمن لار چې د وريښمنو د تجارت په مناسبت په دغه نامه ياده شوې ده، له چين څخه خراسان ته او له هغه ځايه به لوېديزو هېوادو ته تله. د پېښور، کابل، بلخ يا کندهار، هرات او سيستان له لارې د هند او سند لارې د چنگيز د امپراتورۍ تجارتي روابط پراخ کړي وو، دا ځکه چې مغولي خانان هم د خراسان له لارې اروپا ته تلل، خو دا تجارتي پراختيا هغه وخت منځ ته راغله چې چنگيز مړشو، څه نه څه دده د اولاد او لمسيو زور زياتی لږ شو. چنگيز پاچهانو پر دغو کالو پر افغانستان حکومت کړی دی:

* ۱ - چنگيز (په افغانستان کښې) (۶۱۶ - ۶۱۸هـ)
* ۲ - اوگدای د چنگيز زوی (۶۱۸ هـ)
* ۳ - چغتای د چنگيز زوی (۶۱۸ - ۶۳۹ هـ)
* ۴ - تولی د چنگيز زوی (د ۶۲۰ هـ شاوخوا)

The Digital Library

* ۵ - قراهولاکو د تولوی زوی او د چنګیز لمسی (۶۳۹ - ۶۴۹ هـ)
* ٦ - ارغون د اباقا زوی او د هولاکو لمسی (٦۴۳ هـ).

مأخذونه: طبقات ناصری - جامع التواریخ رشیدی - جهانکشای جوینی - تاریخ وصاف - ابن اثیر - دول اسلامیه - د پاول هورن تاریخ ایران، د عباس اقبال از چنګیز تاتیمور - حبیب السیر - تاریخ ګزیده - د محمد نسوی سیرة جلال الدین- تاریخ سند - د براون تاریخ ادبیات ایران - د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲ - روضة الصفا - د ابن عربي مختصرالدول.

د چنګیزیانو په وخت کښې د کرت اولاده او افغاني امیران

(۶۰۰-۷۸۳هـ)

د سلطان غیاث الدین محمد سام غوري په وخت کښې (۵۵۸ ۵۹۹هـ) دوه ورونه یو تاج الدین عثمان مرغنی او بل عزالدین عمر مرغنی د غور د سلطان د تره زامن د دربار مخور سړي وو په اسلامي دایرةالمعارف کښې د لانکورت دیمز په وینا، دوی د هغه امیرمحمد غرجستانی اولاد دی، چې پر (٦۲۰ هـ - ۱۲۲۳م) کال د اشیار په کلا کښې د مغولو په لاس وژل شوي وو (خو دا وینا د څېړلو وړ ده)، عزالدین د سلطان وزیر و، د هرات سیمه ده ته سپارلې شوې وه، ده غرجستان حسام الدین علي عمر مرغنی او خیسار تاج الدین عثمان ته سپارلی و، چې وروستني د سرجاندار منصب درلود، د عزالدین لور عایشه خاتون د سیستان د ملك ناصرالدین عثمان حرب ماندینه وه (د۶۱۲هـ - ۱۲۱۵م پر شاوخوا). دا دوه ورونه د ملك ابوبکر کرت کړوسیان وو چې د غور د ملکانو په وخت کښې یې شهرت درلود، ملك رکن الدین محمد د تاج الدین عثمان زوی و او د خیسارکوتوال د سلطان غیاث الدین محمود (۵۹۹-۶۰۷هـ) لور کړې وه، نامتو مورخ مهناج سراج د ده له درباریانو څخه و، دی د چنګیز له ایلچیانو سره په نرمۍ چلېده او

he Digital Library

چې د چنګيز له خوا د خيسار غور او د هغې سيمې نور اړوند ښارونه ده ته وسپارل شول، نو خپله خور يې ملك شمس الدين محمد مهين ته ورکړه او هغه يې خپل وليعهد او د چنګيز خان مصاحب وټاکه، له دې امله د چنګيزيانو په دربار کښې مقرب او د اعتبار خاوند شو، خو چې پر (٦٤٣هـ ١٢٤٥م) کال رکن الدين مړ شو، شمس الدين محمد مهين يې پر ځای کښېناست. ده پر (٦٤٤هـ) کال له سالين نوين سره چې د چنګيزيانو سپه سالارو، پر ملتان ور ودانګل، د لاهور او ملتان ملکان يې د ځان تابع او د لاهور په حکمرانۍ وګمارل شو، خو چنګيزيان د مسلمانانو د پلوۍ له امله پرې په قهر شول، ده تاتاري حکمران طاير بهادر ته پناه يو وړه او (د کندهار په شاو خواکښې) د تګين اباد حکمران شو، دا چې د افغانستان (دا نوم په تاريخ کښې لومړی وار له همدغه وخته ياد شوی - د سيفی تاريخ هرات ١٦٣مخ) د خلکو په پلوۍ تورن و، ځکه نو له هغه ځايه د منګوخان حضور ته ورغی (٦٤٥هـ-١٢٤٧م) منګوخان د ده د تېر کهاله د قدردانۍ له مخې د ټول هرات، جام، باخزر، کوسويه، فوشنج، تولك، غور، فيرزو کوه، غرجستان، مرغاب، فارياب، مرجق، د آمو تر سينده، فراه، سجستان، تګين اباد ، کابل، تيراه، بست او افغانستان د سند تر سينده ده ته پرېښوول او د خراسان (اوسني افغانستان) د سند تر غاړې خپلواك حکمران وګڼل شو، د (٦٤٦هـ - ١٢٤٨م) په شاو خوا کښې يې د خپل دربار سرداران مامور کړل چې د غور او هرات حکمران شرف الدين بيتکجی چې پر خلکو يې ظلم کاوه ونيو او د هغه له تابعينو سره يې وواژه. تر هغه وروسته پر (٦٤٧ هـ) کال ملك فخرالدين د تالقان، ملك شمس الدين د اسفزار، محمد عوض د خواف، ملك شمس الدين (په ميمنه کښې) د ګرزيوان، ملك عزالدين، حسام الدين او شمس الدين د تولك، ملك علي مسعود ازابی او ملك تاج الدين د فراه

حکمرانان او هم له سيستانه ملك علي مومن او نصرالدين نيهی د شمس الدين مهين حضور ته راغلل او د اطاعت غاړه يې کښېښووه، خو د غرجستان ملك سيف الدين داسې ونه کړل، ځکه نو ملك مهين د خپل لښکر سرداران غرجستان ته واستول، سيف الدين يې ونيو او د هرات په ښار کښې ووژل شو (٦٤٧هـ) يو کال وروسته شمس الدين مهين له هراته فراه ته راغی، د سيستان لښکر يې هم له ځانه سره مل کړ، د خيسار کلا ته ولاړ، له هغه ځايه د غور له لښکر سره تګين آباد ته لاړ، غوښتل يې چې افغانستان ونيسي. (په هغه وخت کښې د غزني او کندهار تر منځ بيا تر سنده پورې افغانستان بلل کېده) د دې سيمو لوی اميران دا وو:

١ - فخر الدولة والدين ملك شاهنشاه لوی افغاني حکمران چې له خپل پايتخت مستنګ څخه يې (چې په اوسني بلوچستان کښې و) ده (د هغه وخت) پرټول افغانستان حکومت کاوه او د مغولو ماليه يې منلې نه وه.

٢ - ملك ميرانشاه د شاهنشاه زوم.

٣ - ملك بهرامشاه د شاهنشاه زوی.

٤ - ملك تاج الدين هرموز (د کندهار شمال ته) په تيری کښې.

٥ - حسام الدين جاول په زاول کښې.

٦ - پهلوان جلم.

٧ - سندان افغان.

٨ - احمد توری.

٩ - مهتر کيورا.

١٠ - مهتر سيورا.

١١ - رانا کنجر.

١٢ - جمال الدين بهروز کهيرايي.

Digital Library

افغاني امیر شهنشاه چې تر اوسه یې په مستنګ کښې خپلواک حکومت لاره ملك شمس الدین ته وړاندیځ وکړ چې کالني مالیات دې وټاکي چې ور وایې ستوي او د ده وطن ته دې لښکر نه راولي، خو شمس الدین د مستنګ تر بریده پرمخ ولاړ او پر (٦٥١ هـ - ۱۲۵۳م) کال ملك تاج الدین د میرانشاه (د افغانستان له خاورې ځخه د ۵۰ فرسخه ځمکې حکمران) ورور او نور افغاني ملکان هم ده ته تسلیم شول، شمس الدین پر (٦٥٢هـ) کال مستنګ کلابند کړ خو امیر شهنشاه، بهرامشاه او میرانشاه له پېنځو زرو جګړنو سره د خاسك کلا ته پناه یو وړه، تر اوو جګړو او څلورو کلابندیو وروسته شهنشاه او بهرامشاه له نوي تنو خپلوانو سره ووژل شو، خو میرانشاه په ډېره مېړانه د شمس الدین د لښکر پر زړه (قلب) حمله وکړه، ترې ووت او سیستان ته یې پناه یووړه، پر (٦٥٨ هـ - ۱۲۵۹م) کال بیا مستنګ ته راغی او د شمس الدین مهین له لښکریانو سره په یوه جګړه کښې ووژل شو.

د افغانانو بل مرکز د تیرې حصار و، چې اوس هم د کندهار شمال ته څلوېښت میله لیرې په همدغه نامه یادېږي د دغه حصار امیر الـمار افغان و، چې د طایر بهادر، قرانوین او سالی نوین لښکرې یې څو واره ماتې کړې وې او د چنګیزیانو اطاعت ته یې غاړه نه وه ایښې، په دغه وخت کښې چې شمس الدین مستنګ ونیو د تیرې پر حصار یې هم یرغل وکړ، الـمار یې تر سختې جګړې وروسته وواژه او حصار یې امیر حسام الدین جاول (د زاول مرادف) ته وسپاره (د ٦٥٣هـ، ۱۲۵۵م صفره) همدارنګه شعیب نومي پښتون چې یو نومیالی افغان و، د (٦٥٣ هـ) کال د برات میاشتې پر لومړنیو ورځو له کشمیره را ورګرځېد د تګین آباد په شاوخوا کښې یې د آل کرت پر حکمران یرغل وکړ، خو شمس الدین مهین له خیساره ژر راورسېد او دی یې د کهیرا په حصار کښې وواژه، تر هغه وروسته یې د شعیب د تره زوی سندان

افغان ته چې په ختهه سورانی و، پام شو، هغه یې (د اوسني بلوچستان) د دوکي په حصار کښې تر سختو جګړو وروسته د جګړې په ډګر کښې وواژه، په دې جګړو کښې خورا لوی جنګیالي لکه د تولك ملك عزالدین، د بغني ملك تاج الدین او ملك تاج الدین کرد د آل کرت د لښکر په مشرتابه جنګېدل (٦٥٤هـ - ۱۲۵٦م کال منځ) په دې جګړې پسې لښکري مشران د سلیمان غره تر لمنو پورې په خپلو مخالفینو پسې لاړل چې په لاس به ورتلل وژل یې. د ساجي حصار یې چې د سرحد د نورو پښتنو امیرانو مرکز و، هم تر سختو جګړو وروسته ونیو. (٦٥٥هـ) او شمس الدین په تګین آباد کښې، پهلوان مبارز الدین محمد نهی حکمران وټاکه، په خپله هرات ته ولاړ، خو یو کال وروسته یې چې دسیستان ملکانو د خپلواکۍ غږ پورته کاوه د مسعود زوی ملك علي وواژه او د هغه وریرونه ملك نصر الدین او ملك علاء الدین یې مستنګ ته وشړل سیستان یې ټول ونیو بې وسلې یې کړ (٦٥٦هـ ۱۲۵۸م) او چې ټول سرکښان یې وټکول نو پر (٦٥٧هـ) کال یې د سند رود پر غاړه د بهکر حصار محاصره کړ او د لسو زرو دینارو او ډېرو ولجو تر اخیستو وروسته بېرته راوګرځېد. په دې توګه شمس الدین مهین ټول افغانستان د هرات تر مرکزیت لاندې راوست او تر غوریانو وروسته یې د هېواد یووالی بشپړ کړ. سره له دې چې دغه ویرلیدلي هېواد د چنګیزیانو له لاسه ډېر مادي او مانیز تېپونه لیدلي وو، خو بیا هم دغه ننګیالي پاچا پر هغو ټپو د سیاسي یووالي د ملهم پټۍ کښېښوه.

پر (٦٥٩ هـ - ۱۲٦۰ م) کال چې ملك تاج الدین کرد یاغي شو او د امیر هرموزتیري او امیر هوبو پښتنو سردارانو په ملاتړ د مستنګ کلا ته راغی، ور سره د کرت د لښکر افسرانو ملك اختیار الدین د تولك، محمد نهی او د بغنی تاج الدین جګړې وکړې، شمس الدین تر (٦٦٥ هـ - ۱۲٦٦ م)

Digital Library

کال پورې ایران او نورو ځایو ته د چنګیزي پاچهانو په سفرو کښې اخته پاتې شو، پر (۶۶۶هـ) کال یې د افغانستان په خاوره کښې تر تیرا پورې جنګونه وکړل، هغه خلك یې د ځان تابع کړل او باج یې پرې ومانه. دا چې هرات په همدغو وختو کښې د چنګیز شهزادګانو د جګړې ډګر و، نو ځکه شمس الدین مهین ډډه وکړه او د خیسار په کلا کښې یې ځان ګوښه وساته، همدا و، چې د آباقا لښکر شهزاده براق مات او بیا د پخوانیو ولایتو فرمان د شمس الدین مهین په نامه صادر شو، دی یې هرات ته راوست (۶۷۴هـ - ۱۲۷۵م) خو څنګه چې چنګیزي شهزاد ګانو ونه غوښتل چې پر خراسان باندې دې د هغه خپل یو غښتلی سړی حکومت وکړي، په تېره بیا چې شمس الدین مهین خراسان او افغانستان ته سیاسي وحدت هم ورکړی و، ځکه نو له ده څخه وبېدل، اصفهان ته یې وغوښت او په تبریز کښې یې پر (۶۷۶هـ ۱۲۷۸م) کال زهر ورکړل او ویې واژه.

تر شمس الدین وروسته یې زوی ملك رکن الدین (د شمس الدین کهین په لقب) پر (۶۷۷هـ) کال په هرات کښې د پلار پر ځای کښېناست، د هرات او خراسان په ودانولو کښې یې زیار ویوست او د عدل او نیاو چارې یې پیل کړې تر (۶۷۸هـ) پورې یې د غور، خیسار او نورې ټولې کلاوې ونیوې او پر (۶۸۰ هـ - ۱۲۸۱ م) کال یې د کندهار کلا هم ونیوه، خپل زوی ملك علاء الدین یې په هرات کښې خپل نایب پرېښوو او په خپله د غور د خیسار په کلا کښې کښېناست (۶۸۲ هـ - ۱۲۸۳م) د پلار غونډې یې له چنګیزي شهزادګانو سره د ملګرتیا اړیکې ټینګک کړل، تاتاري هندونوین یې چې د هرات په سیمو کښې یې خلك آزارول ونیو او هرات بیا د شهزاد ګانو د یرغلو او کورنیو جګړو له کبله وران شو، ملك شمس الدین کهین په همدغو حالاتو کښې پر (۷۰۵ هـ) کال مړ شو. خو یو کال د مخه پر (۶۸۳هـ

۱۲۸۴م) کال د ده مشر زوی ملك فخرالدین چې پلار بندي کړی و، له بندیخانې ووت او له خیساره هرات ته ولاړ، له هغه ځایه یې خواف فراه او د خراسان نور ښارونه ونیول (۶۸۵هـ - ۱۲۸۶م) پر (۶۹۷هـ - ۱۲۹۷م) کال په هرات کښې پر تخت کښېناست، غازان خان د ده حکومت له هراته د سند تر اوبو او امو پورې په رسمیت وپېژاند.

فخرالدین علم پالونکی، عمران دوسته او ادیب پاچا و، خطیب پوشنجي ربیعي "کرت نامه" کتاب د ده په نامه نظم کړی دی. ده پر (۷۰۱هـ - ۱۳۰۱م) کال څوواره پر اسفزار یرغل وکړ، خو چې چنګیزي اولجایتو پاچا شو، دی یې له هراته مبارکۍ ته ورنغی، ځکه نو اولجایتو دانشمند بهادر له لسو زرو سپرو سره د ده د سر ټکولو له پاره هرات ته واستاوه، فخرالدین د غوریو زړور جمال الدین سام د هرات د کلا ساتلو ته وګماره او په خپله د امانکوه کلاته ولاړ، نوموړي سام دانشمند بهادر وواژه او د هغه لښکر یې مات کړ؛ او لجایتوله ډېره غضبه امیر یساول بوجای د دانشمند بهادر زوی له دېرشو زرو سپایانو سره په منډه ورواستول، په دغه وخت کښې فخرالدین مړ شو (۷۰۶ هـ - ۱۳۰۷م). د سردارانو اختلاف او کاختیِ سام غوری هم اړ کړ چې کلا تسلیم کړي په دې توګه په خپله دی او ملګري یې د یساول په حکم ووژل شول.

اولجایتو د هرات، اسفزار، فراه، غور او غرجستان حکومت د فخرالدین ورور ملك غیاث الدین محمد ته وسپاره (۷۰۷ هـ) دی چې د اولجایتو له حضوره هرات ته ورسېد؛ نو غور، خیسار او اسفزار یې هم ونیول، خو ځینو امیرانو اولجایتو د ده په اړه بد ګمان کړ، ځکه یې نو پر (۷۱۱ هـ - ۱۳۱۱م) کال خپل اردو ته وغوښت او تر (۷۱۵ هـ - ۱۳۱۵م) پورې یې د ښېرته تلو اجازه ورنه کړه، د ده تر شا دلدای اوبو جای د بلواله

The Digital Library

وېرې پر هراتيانو زور زياتی کاوه. له تاتاري شهزاده ګانو څخه يو عادل شهزاده چې داود خواجه نومېد غزني، بست، زابل او تګين آباد لاس ته راوړي وو، خو غياث الدين محمد پر (۷۱۵هـ - ۱۳۱۵م) کال بيا د اولجايتو له درباره د افغانستان تر پايه او د آمو تر وبش پورې د هرات په حکمرانی وګمارل شو، دا مهال چنګيزي شهزادګان او د بدخشان ملك. غياث الدين عليشاه د آمو پر غاړه سره ونښتل او له بدخشان څخه تر بلخ او مرغاب پورې د جګړې ډګر شو، په دې جګړې کښې د دانشمند بهادر زوی بوجای ووژل شو او پر (۷۱٦ هـ) کال د نکو دريان امير آوجی بلا د غياث الدين له لاسه ووژل شو، خپل نور مخالفين يې هم پر سر وټکول، او د خراسان او سيستان کلاوي يې ونيولې په اسفراز کښې يې ملك قطب الدين، په فراد کښې يې ملك ينا لتګين، د زره باخرز په حصار کښې يې ملك عبدالعزيز او په تولك کښې يې ملك فرخ زاد وترټل، او پر (۷۲۱ هـ - ۱۳۲۱م) کال يې خپل زوی شمس الدين محمد په هرات کښې پر خپل ځای کښېناوه او په خپله حج ته ولاړ، همدا غياث الدين و، چې پر (۷۲۷ هـ - ۱۳۲٦م) کال يې امير چوپان وواژه پر (۷۲۸هـ) د ابو سعيد دربار ته ولاړ او پر (۷۲۹ هـ - ۱۳۲۸م) کال چې له حج څخه راغی په هرات کښې مړ شو.

د ملك غياث الدين تر مړينې وروسته يې زامن ملك شمس الدين محمد (۷۲۹ - ۷۳۰ هـ)، ملك حافظ (۷۳۰ ـ ۷۳۲ هـ) او ملك معزالدين حسين (۷۳۲ - ۷۷۱ هـ) پاچهۍ ته ورسيدل، ملك معز الدين د آل کرت له نوميالیو او د علم او ادب له پالونکيو څخه و، چې مولانا سعدالدين تفتازانی خپل مطول د ده په نامه وليکه او امير مسعود (د خراسان سربدارانو (۷۳٦ - ۷۸۸هـ) د سلسلې د موسس) خواجه عبدالرزاق باشتينی ورور په زاوه کښې له ده سره جګړه وکړه او مات شو (د ۷۴۳ هـ ـ ۱۳۴۲م

کال د صفری پر ۱۳) حسين برى ومومند او خپل دښمن ته يې کلك ګوزار ورکړ تر هغه وروسته يې په بادغيس کښې د اندخود او شبرغان اميران مات کړل، چې امير قزغن د آمو د شاخوا څخه راغی هرات يې کلابند کړ، نو پر (۷۵۲ هـ - ۱۳۵۱م) کال يې له هغه سره روغه وکړه، بل کال چې ماورالنهر ته لاړ، د ده په غياب کښې يې ورور امير باقر د پاچهۍ دعوه وکړه، خو حسين ژر راوګرځېد او باقر يې بندي کړ معزالدين حسين تر ۳۹ کالو پاچهۍ وروسته پر (۷۷۱ - ۱۳٦۹م) کال مړ شو او زوی يې ملك غياث الدين پر (۷۷۱هـ - ۷۸۳ هـ) د ده پر ځای کېناست، دی د سبزوار د سربدارانو په جګړه کښې بريالی شو، خپل زوی پيرمحمد ته يې د امير تيمور خورزه وکړه، خو پر (۸۳۰هـ - ۱۳۸۱م) چې امير تيمور هرات ونيو، نو غياث الدين د هغه له زوی پير محمد او ورور محمد سره ماورواءالنهر ته تبعيد او پر (۸۳۴ هـ ـ ۱۳۸۵ م) کال وواژه او د آل کرت لړۍ پای ته ورسېده.

په سيستان کښې د نيمروز ملکان د آل کرت هممهالي وو، چې د هغوی څرنګوالی مو د صفاريانو د څېړلو په پای کښې راوړی دی، بل کهول چې د آل کرت هممهالی و، د ترنك رود د غاړی د اميرانو کورنۍ هوتکيان، (د راتلونکي افغاني هوتکي دولت اسلاف) وو، چې د غلجيو د کلات د ترنك رود غاړې په غرو کښې يې حکمراني کوله، د چنګيزيانو د يرغلو مخه يې نيوله، چې يو له هغو څخه بابا هوتك د تولر زوی (چې پر ٦٦۱هـ زېږېدلی او پر ۷۴۰ هـ مړ دی) د پښتنو نوميالی عارف او شاعر او د چنګيزيانو په مقابل کښې ستر جنګيالی و، تر هغه وروسته يې زوی شيخ ملکيار د (۷۴۹ هـ - ۱۳۴۸م) په شاوخوا کښې نوميالی امير او د پښتو ژبې شاعر و، چې د ترنك رود پر غاړه يې د دښمنانو په مقابل کښې جګړې کولې، همدغه کهاله پر دوولسمه هجري پېړۍ د کندهار هوتکي دولت جوړ

کړ (په دغه کتاب کښې دې د هوتکيانو شرح حال وکتل شي) شيخ متي خليل (٦٢٣ - ٦٨٨ هـ) د پښتو صوفي شاعر و، محمد د علي بستي زوی د تاريخ سوري مؤلف، احمد د سعيد لودي زوی د اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی ـ مؤلف (٦٨٦ هـ) شيخ کټه متي زی خليل (د ۷۵۰ هـ په شاوخوا کښې) د لرغوني پښتانه مؤلف هم د افغانستان د دې دورې له علمي کسانو څخه و.

ال کرت علمدوسته، فاضل پالونکي او ودانپال پاچهان وو، د دوی په وخت کښې د چنګيزيانو له چور او چپاو سره سره علم، ادب او صنعت ګردسره وده وکړه، د دوی دربار د پوهانو او شاعرانو د راغونډېدو ځای و، د ربيعی پوشنجي کرت نامه، د تفتازانی مطول، د هرات تاريخ، دسيفی هروی مجموعهٔ غياثی از سامنامه، او د امير حسينی غوری نزهة الارواح او زاد المسافرين د آل کرت د دربار له مشهورو مؤلفاتو څخه وو.

د هرات د کرت اولاده:

۱ - ملك کرت د (۵۰۰ هـ) شاوخوا.

۲ - تاج الدين عثمان مرغنی د (٦۰۰ هـ) شاوخوا.

۳ - عز الدين عمر مرغنی د (٦۰۰ هـ) شاوخوا.

۴ - ابوبکر کرت د (٦۰۰ هـ) شاوخوا.

۵ - رکن الدين خيسار د (٦۴۳ هـ) شاوخوا.

٦ - ملك شمس الدين محمد مهين د ابی بکر کرت زوی (٦۴۳ - ٦۷٦هـ).

۷ - ملك رکن الدين ملقب په شمس الدين کهين د ابی بکر کرت زوی (٦۷۷ ـ ۷۰۵ هـ).

۸ - ملك فخر الدين د کهين زوی (۷۰۵ ـ ۷۰٦ هـ)

Digital Library

* ۹ - ملك غياث الدين محمد د کهين زوی(۷۰٦ ـ ۷۲۹ هـ)

۱۰ - ملك شمس الدين د غياث الدين محمد زوی(۷۲۹ ـ ۷۳۰هـ)

۱۱ - ملك حافظ د غياث الدين محمد زوی(۷۳۰ ـ ۷۳۲ هـ).

* ۱۲ - ملك معزالدين د غياث الدين محمد زوی(۷۳۲ ـ ۷۷۱ هـ).

۱۳ - باقر د غياث الدين زوی(۷۵۳ هـ).

* ۱۴ - ملك غياث الدين پير علی د معز الدين زوی (۷۷۱ - ۷۸۳هـ).

(٦۱ شجرې ته دې وکتل وشي).

اخځ:

تاريخ هرات د سيفی - د "تعديل در نسب نامهٔ آل کرت" مقاله د آريانا په مجله کښې د حبيبي په قلم - تاريخ ايران در عصر مغول د عباس اقبال ـ پټه خزانه ـ لب التواريخ ـ تاريخ سيستان ـ تاريخ ادبيات ايران ۴ ټوك د براون ـ تاريخ ادبيات پښتو ۲ ټوك ـ تزك تيموری ـ حبيب السير ـ روضة الصفا ـ طبقات ناصري.

پینځمه برخه

د هرات تیموریان

(له ۷۷۱ ـ تر ۹۲۰ شاوخوا پورې)

تیمور (په پخوانۍ املا تمر د اوسپنې په مانا) مشهور په کورګان یعني زوم او "تیمور لنګ" د "تراغای برلاس" زوی، د چنګیز کهاله ته منسوب د قرا جارنوین له کوله د ماوراء النهر د کش په ښار کښې د ۷۳٦ هـ کال د برات پر ۲۷ د (۱۳۳٦م د اپریل پر ۱۱) زېږېدلی او د نړۍ له سترو خونړیو پاچهانو څخه و. تیمور پر (۷٦۱ هـ ـ ۱۳۵۹م) شهرت ته ورسېد چې د (۷۷۱هـ ـ ۱۳٦۹ م) کال پر برات یې د ماوراء النهر حکمران امیر حسن نسکور او "صاحبقران" نوم یې وګاټه، خو د ماوراء النهر د سیمو تر نیولو وروسته پر (۷۸۲ هـ - ۱۳۸۰ م) کال د آمو تر سیند راپورېووت، اندخود، سرخس او پوشنج یې ونیول، هرات نیولو ته یې ملا وتړله او د آل کرت وروستنی حکمدار غیاث الدین پیر علي یې له منځه یووړ. د تیمور بل یرغل د (۷۸۵هـ ۱۳۸۳ م) په شاوخوا کښې د افغانستان پر سبزوار او فراه پیل شو، زره او سیستان یې چور چپاو او اوسېدونکی یې ټول ووژل ودانۍ یې داسې ورانې کړې چې کنډوالې یې تر اوسه لېدل کېږي ډېر کله منارونه یې

Digital Library

جوړ کړل، په دغه سفر کښې یې بست او کندهار هم وران کړل. تیمور د خپل ژوندانه تر پایه ۳۵ ځله له چینه تر مصره له ډهلي تر استانبول او مسکوه پورې لښکرې وویستې او وینې یې وبهولې چې نور فتوحات یې د افغانستان په تاریخ پورې اړه نه لري، خو پر (۸۰۰ هـ - ۱۳۹۷م) کال چې د هند نیولو په نیت راووت د افغانستان پر ستم لېدلي هېواد یې بیا یرغل وکړ او هغه ښارونه چې تر چنګیزي چور او چپاو وروسته د آل کرت په وختو کښې بېرته ودان شوي وو، بیا وران کړای شول.

پر همدغه کال تیمور خراسان له فیروز کوه څخه تر ری پورې خپل زوی شاهرخ ته وسپارد او کابل، غزني او کندهار یې خپل لمسي پیر محمد ته ورکړل، پیر محمد په سلیمان غرد کښې د سند تر سینده پورې له اوغانانو (افغانانو) سره جګړې وکړې، دا چې یې کلا بند کړ او د سارنګخان له ګمارل شویو کسانو سره یې لاس واچاوه او ملتان یې هم تر شپږو میاشتو کلابندۍ وروسته ونیو، تیمور هم د اندراب پر لار له هندوکوشه راواوښت او د کابل تر نیولو وروسته د لغمان سهول ته ووت، له هغه ځایه د شمال خوا ته د "کیتر"(۱) له تورکالیو (سیاه پوشو) کافرانو سره یې جګړې وکړې او د چغان سرای په شاوخوا کښې یې د خپلو فتوحاتو یو ډبرلیك په غره کښې وکینده چې تر اوسه شته، تر هغه وروسته یې هند ته مخه کړه او د (۸۰۱ هـ کال د محرم په ۱۲ او د ۱۳۹۸ م کلا د سپتمبر پر ۲۴) د سند د نیلاب له ګودره پورېووت او هندوستان یې تر ډهلي پورې چور او یو لك تنه یې ووژل په دغه سفر کښې دوولس زره پښتانه د ملك بهاء الدین جلوانې، ملك یوسف

(۱) د کوچینو کوشانیانو د لقب "کداره" ـ قیدار یو شکل دی چې اوس هم په دې نامه یادېږي.

The Digital Library

سرواني او ملك حبيب نيازي په مشرۍ له ده سره وو. تيمور تر ورانيو او دا لويې امپراتورۍ تر جوړولو وروسته (۸۰۷ هـ - ۱۴۰۴ م) کال د برات پر ۱۷ د ۷۱ کلنۍ په عمر مړ او په سمرقند کښې ښخ شو.

د تيمور د مړينې پر وخت د تيمور لمسی پير محمد د غياث الدين جهانګير زوی له آمو او بلخ څخه د سند تر سيند د کابل حکمران و. ده په لهو او فسق ژوند تېراوه، ځکه نو په سمرقند کښې د تيمور لمسي د ميرانشاه زوی خليل د چارو واګې په لاس کښې ونيول او تر (۸۱۲ هـ - ۱۴۰۹م) پورې يې د ماوراء النهر پر ځينو برخو حکم چلاوه، خو شاهرخ د تيمور زوی د (۸۰۷ هـ) کال پر روژه په هرات کښې پر تخت کښېناست، دی د ختيځ له لويو، علم دوستو او عمران خوښونکيو پاچهانو څخه و، چې تر شلو کالو يې زياته په هرات کښې پاچهي وکړه. په افغانستان کښې يې د چنګيزي او تيموري فتوحاتو پر ټولو هغو تپو ملهم کښېښوو، چې د چنګيز او تيمور د يرغلو له امله منځته راغلي وو. ښکلې ودانۍ، مدرسې او خانقاوې يې جوړې کړې چې تر اوسه يې هم په هرات او ټول خراسان کښې لکه د مشهد د بقعه رضوی ماجت او نورې نخښې شته. د ده او د ملکې يې "ګوهرشاد" نومونه په علمدوستۍ، ادب پالنه، ودانۍ او عدالت مشهور دي، ده د خپل سلطنت پر لومړي کال د سلطان علي سبز واري ښورښت آرام کړ، او پر ۸۰۸ کال يې د تيمور لمسی سلطان حسين او امير سليمانشاه وځپل. د ده زوی ميراز الغ بيګ اندخود او شبرغان ونيول د ټول خراسان حکمراني تر طوس او نشاپور پورې ورته وسپارل شوه. ملك صالح د ملك اسماعيل زوی چې له هنده غور ته راغی او د محمد سپهبد غوري په ملتيا يې هلته ښورښت پيدا کړ نو امير لقمان بر لاس او امير حسين جاندار د هغې پېښې مخه ونيوه (۸۰۹ هـ - ۱۴۰٦ م) او يو کال وروسته شاهرخ د پير علي تاز د

مخنيوي له پاره بلخ ته مخه وکړه، پير علي هندوکوش ته وتښتېد او شاهرخ تر تخارستان او ختلان پورې د افغانستان ټولې شمالي سيمې ونيوې (۸۱۰هـ). پر (۸۱۱.هـ) کال يې په فراه کښې "ينا لتګين"، "شاه سکندر" او "پهلوان شمس دراز" تر کلابندۍ وروسته د ځان تابع او د اوك او جوين کلا يې ونيوه، شاه قطب الدين د ملك محمود زوی يې بېرته د سيستان په زره کښې کښېناوه او هغه ولايت يې پهلوان جمال ته وسپاره د کندهار، غزني او کابل ولايتونه يې تر سند پورې خپل زوی ميرزا قيد و او بلخ، تخارستان او بدخشان ولايتونه يې ميرزا ابراهيم نومي ته وسپارل، شيخ زين الدين خوافي يې د سيستان امارت ته واستاوه (۸۱۲ هـ) او چې په کندهار کښې د دوو ورونو امير تومان کندهاري پير محمد د امير کتلو زوی مشهور په پيرك او د مودود ګرمسيري تر منځ مخالفت پېښ شو، دواړه هرات ته راغلل، په نتيجه کښې د هغه ځای حکومت پيرك ته وسپارل شو او مودود د هرات په دربار کښې مقرر شو (۸۱۳ هـ - ۱۴۱۰م).

د (۸۱۴ هـ - ۱۴۱۱ م) په سر کښې د هند د پاچا له خوا د ملتان قاضي خضرخان د سفير په حيث د شاهرخ دربار ته راغی او په بادغيس کښې يې ورسره وکتل، د عبدالرزاق سمرقندي په وينا په هند کښې د شاهرخ په نامه خطبه ويل شوې او سکه وهل شوې وه.

پر (۸۱۵ هـ - ۱۴۱۲م) کال د بدخشان حکمران شاه بهاء الدين ياغي شو او د شاهرخ لښکريانو له بغلان او اشکمش څخه پر بدخشان يرغل وکړ په بهاء الدين پسې تر پاميره ولاړ او د هغه ولايت حکومت يې د بهاء الدين وروّشاه محمود ته ورکړ، خو څلور کاله وروسته ميرزا سيورغتمش د بدخشان حکمران شو پر (۸۱٦ هـ - ۱۴۱۳ م) کال د هرات ښار د اختيارالدين حصار چې فخرالدين کرت جوړ کړی او د تيمور په يرغلو کښې

The Digital Library

وران شوی و، د شاهرخ په امر بېرته ودان شو پر (۸۲۰ هـ - ۱۴۱۷ م) چې د دوو محلي حاکمانو د سیفل کندهاري د زوی او ملك محمد تر منځ شخړه پېښه شوه او د کندهار پښتنو د سند تر سینده او گرمسیر پورې بلوا وکړه شاهرخ صدرالدین ابراهیم صدر عالي د هزاره سیمې ته ولېږه او د هغه ځای مشران یې د پاچا خدمت ته راوستل، د بدخشان لښکریان له زاسیو غتمش سره او سیستان سپایان له ملك قطب الدین سره یو ځای شول او د شاهرخ تر رکاب لاندې یې پر کندهار یرغل وکړ، د هزاره گانو امیران د پرمل افغان له مشرانو سره د خواجه لقمان (نعمان) تر مشرۍ لاندې د غزني له شاوخوا څخه راغلل او اطاعت یې ومانه کابل میرزا قیدو ته وسپارل شو او شاهرخ د هلمند د غاړې دا غرق له لارې بېرته هرات ته ولاړ امیر عبدالصمد یې د گرمسیر پر حکومت او امیر حسام یې د کندهار پر کوتوالۍ وټاکل، چې میرزا قیدو یاغي شو، د اوبې د ناب تر جگړې وروسته گرفتار او په هرات کښې بندي شو، نو شاهرخ د کابل، غزني او کندهار ولایت او افغانستان د هند او سند تر بریدو پورې خپل زوی میرزا سیورغتمش ته ورکړ (۸۲۱ هـ) نه کاله د ټول افغانستان حکمران و، څو چې د (۸۳۰ هـ - ۱۴۲۶ م) کال د حرم پر میاشت د کابل په ښار کښې مړ شو او شاهرخ هغه ټول ولایت د هغه زوی میرزا سلطان مسعود ته وسپاره. شاهرخ پریوارت هېواد له سیحونه د عرب تر بحیرې او دفارس له لوېدیزو څنډو د سند د سیند تر غاړو پورې پنځوس کاله په برې سره واکمني لرله، او بو اویا کلن د (۸۵۰ هـ - ۱۴۴۶ م) کال د ذیحجی د میاشتې پر ۲۵ په ری کښې مړ شو. د شاهرخ تر مړینې وروسته د ده په ارث هېواد کښې د تیموري شهزادگانو تر منځ شخړې منځته راغلې او په سمرقند کښې د ده عالم او منجم زوی الغ بیگ (د زیج الغ بیگ او او لوس اربعه مؤلف) او د سمرقند درصد گاه ۸۴۱ هـ موسس) د

د ده پر ځای کښېناست. له خپل لښکر سره بلخ ته راغی او د افغانستان شمالي ولایتونه یې ونیول، خپل زوی میرزا عبدالطیف یې د هغو ولایتو حکمران وټاکه او په خپله سمرقند ته ولاړ (۸۵۱ هـ) خو همدا مهال میرزا علاء الدوله د بایسنقر زوی او د شاهرخ لمسي هرات لاس ته راوست او د عبدالطیف د مقابلې له پاره یې پر بلخ او شبورغان یرغل وکړ، خو بې له دې چې خپل مقصد ته ورسېږي تر چور، چپاو او ورانولو وروسته هرات ته ستون شو (۸۵۱هـ - ۱۴۴۷ م) الغ بیگ په ماوراءالنهر، ختلان، کندوز، بدخشان، میمنې او فاریاب پورې لښکر راغونډ او د هرات خوا ته پر مخ ولاړ، خو میرزا علاء الدین له خپل لښکر سره د منجاب د کوتل له لارې مقابلې ته ورووت. د هرات پر ۱۴ فرسخۍ په تر ناب کښې سره ونښتل، د میرزا علاء الدوله لښکر مات شو او په خپله مشهد ته وتښتېد. خپل ورور میرزا ابو القاسم بابر ته ورغی، الغ بیگ سید عماد الدین ته یې وزارت او مولانا قطب الدین احمد اساسي ته یې د قضای اعلی منصب ورکړ، په خپله یې د مشهد خوا ته مخه وکړه (۸۵۲ هـ). د ده تر شا امیر زاده یار علي او امیر سلطان ابو سعید چې د هرات د نره تو په حصار کښې بندیان وو، له زندانه ووتل او په هرات کښې یې اړودوړ جوړ کړ، الغ بیگ له مشهده بېرته د هرات خوا ته مخه کړه او د ښار د باندې یې چور کړ د هغه ځای حکمراني یې میرزا عبدالطیف ته پرېښوده او په خپله تر آمو پورېووت (۸۵۲ هـ) میرزا عبدالطیف پېنځلس ورځې وروسته هرات میرزا ابوالقاسم بابر ته چې له سرخس څخه پر مخ راته پرېښوو او په خپله بلخ ته وتښتېد. بابر میرزا هرات ونیو او امیر زاده یارعلي یې وواژه (۸۵۲ هـ پای).

تر هغه وروسته بابر میرزا سیستان او نیمروز هم په خپل هېواد پورې وتړل، خو ورور یې علاء الدین په بلخ او بدخشان کښې ورته پورته

شو، بابر د هرات له لښکر سره د بدخشان د غرو خوا ته وخوځېد، شمالي ولایتونه یې له بدخشان څخه تر مرغاب پورې امیر ناصرالدین او امیر مبارزالدین هزار اسپي ته وسپارل (۸۵۴ هـ) بابر میرزا تر (۸۶۱ هـ - ۱۴۵۸م) پورې پر هرات او سیستان او د افغانستان پر شمالي ولایتو باندې تر بدخشان او خراسان پورې سلطنت وکړ او پر همدغه کال مړ شو، خو عبدالطیف په بلخ کښې د خپل پلار پر خلاف بیرغ پورته کړ، پر (۸۵۳ هـ - ۱۴۴۹ع) یې خپل پلار الغ بیګ او خپل ورور عبدالعزیز ووژل او یو کال وروسته دی په خپله هم ووژل شو (۸۵۴ هـ - ۱۴۵۰م).

د هرات د تیموریانو نومیالی سلطان ابو سعید ګورګان د سلطان محمد زوی، د میرانشاه لمسی او د تیمور کړوسی دی چې پر (۸۶۱ هـ - ۱۴۵۶ م) کال د هرات د سلطنت پر تخت کښېناست ده هم پر زابلستان د خراسان او توران تر پایه حکم وچلاوه او د شاهرخ نومیالۍ ملکه ګوهرشاد یې پر (۸۶۲ هـ) کال ووژله، تر لسو کالو پورې یې په کامرانۍ سره حکومت وکړ. د کابل، غزني او د افغانستان ولایتونه یې د هندوستان تر ویش پورې خپل زوی میرزا الغ بیګ ته ورکړي وو، د دغه شهزاده ځینې سپاهیان د ملتان تر دروازې هم ورسېدل (۸۷۳ هـ).

خو د بدخشان په ولایت کښې د ابو سعید بل زوی میرزا سلطان ابوبکر (۸۶۵ - ۸۸۴ هـ) حکومت کاوه، چې د بدخشان یوه محلي شهزاده وربانډې حمله وکړه خو نوموړی شهزاده هم ووژل شو، همدا شان د کندهار او ګرمسیر ولایت یې خپل بل زوی میرزا سلطان مراد ته ورکړي وو، چې پر (۸۷۳ هـ - ۱۴۶۸ م) کال په یوه جګړه کښې د اوزون حسن لاست ته ورغی او ووژل شو.

د ابوسعید له لویو مخالفینو څخه یو هم سلطان حسین د منصور

The Digital Library

زوی، د بابر لمسی، د عمر شیخ کړوسی او د تیمور کوسی دی چې علم دوسته فاضل پاچا و، ده په ایران او ماوراءالنهر کښې تر اوږدې حکمرانۍ وروسته ډېرې لوړې ژورې ولیدې همدا چې سلطان ابوسعید د ایران د شمال اران د قراباغ په اوو فرسخۍ کښې د امیر حسن بیګ د لښکر په مقابل کښې مات، بندي او ووژل شو (۸۷۳ هـ درجب ۱۴) نو سلطان حسین د (۸۷۳ هـ - ۱۴۶۸ م) کال د روژې پر لسمه د جمعې پر ورځ په هرات کښې د پاچهۍ پر تخت کښېناست، د ده پاچهي هم د شاهرخ د دورې په څېر د علم ادب او صنعت د روزنې دوره وه، د ده نامتو وزیر امیر علي شیر نوایي د علم او ادب او جهاندارۍ په کارو کښې ساری نه لاره (د ۹۰۶ هـ. ۱۵۰۰م د جمادی الثاني ـ څلورمې خور پر ۱۳ مړ دی) واعظ کاشفي، علامه جلال الدین دواني، مولانا جامي نامتو عالم او صوفي، میر خواند، خواند میر او عبدالرزاق سمرقندي د دې دورې نومیالي تاریخ پوهان دي.

د هرات انځور ګر بهزاد د ده په عصر کښې اوسېده د سلطان حسین بایقرا له عمراني نخښو څخه د بلخ په خواجه حیران کښې د هغه مزار ودانول دي چې حضرت علي ته منسوب دي (د افغانستان په شمالي سیمه کښې اوسني مزار شریف) د ده پر وخت کښې امیر ابو اسحاق تر خان د بلخ حکمران او میرزا سلطان حسین د شبورغان حاکم و، هغه وخت چې هغه دواړه مړه شول میر مغول په بلخ او ملك یحیی په سیستان کښې والیان شول د (۸۷۴هـ - ۱۴۶۹ م) پر شاوخوا میرزا محمد عمر چې له تیموري شاهزاده ګانو څخه و، له هراته د ګرمسیر د نیولو له پاره واستول شو، نظام الدین احمد بر لاس چې د کندهار حاکم و تسلیم او میرزا محمد عمر د هغې سیمې حکمران شو، همدا رنګه په خپله سلطان حسین د نره تو کلا ونیوه او د مرغاب له غاړو یې مخالفین ورك کړل خو پر (۸۷۵ هـ - ۱۴۷۰ م) کال چې

Digital Library

سلطان حسین د خراسان په شاوخوا کښې له ترکمنو قبیلو سره په جګړه اخته و، د ده ورور یادګار میرزا هرات ونیو، هغه وچې سلطان حسین له زرو سپرو سره له میمنې او فاریاب څخه ورتېر شو او یادګار یې په هرات کښې د خوب په حال کښې ونیو او ویې واژه، په خپله سلطان حسین تر ۳۹ کالو پاچهي وروسته د (۹۱۱هـ - ۱۵۰۵م) کال د ذیحجې میاشتې، پر ۱۱ مه پر اویا کلنۍ مړ شو. (وګورئ ۶۲ -۶۳ عکس).

دا مهال د هرات دولت سیاسي او علمي اغېزه تر استانبول او جنوبي هندوستان پورې رسېدلې وه، له استانبوله د آل عثمان سلاطینو او له جنوبي هنده د اسلامي دولت نامتو ادیب وزیر محمود ګاوان د هرات له دربار او مولانا جامي سره سیاسي او علمي لیکنې لرلې.

د سلطان حسین میرزا تر مړینې وروسته د هرات غښتلی مرکزي دولت د بدیع الزمان میرزا او مظفر حسین میرزا شاهزاد ګانو په لاس کښې و، خو له بده مرغه هغه مدنیت دوسته او عمران پسنده دولت چې هرات یې د آسیا د علم، ادب او صنعت مرکز ګرځولی و، د سند له غاړو د ایران تر پایه او د سیحون له سینده تر عرب بحیرې پورې یې سیاسي نفوذ غوړېدلی و، بیا د چنګیز نژاد ته منسوب د یوه سړي شیبک خان په لاس وران او برباد شو، د ازبکانو او صفویانو په جګړو کښې سني او شیعه مذهبي اختلافاتو د هرات ښایسته ښار وران کړ.

د هرات تیموري پاچهان:

* ۱ - تیمور د تراغای زوی (۷۷۱ - ۸۰۷ هـ)
* ۲ - شاهرخ د تیمور زوی (۸۰۷ - هـ ۸۵۰ هـ)
* ۳ - الغ بیګ د شاهرخ زوی (۸۵۰ - ۸۵۳ هـ)
* ۴ - عبدالطیف د الغ بیګ زوی (۸۵۳ - ۸۵۴ هـ)

* ۵ - ابو القاسم بابرد بایسنقر زوی او د شاهرخ لمسی (۸۵۴-۸۶۱هـ)
* ۶ - ابو سعید کورګان د محمد میرانشا زوی او د تیمور لمسی (۸۶۱ - ۸۷۳هـ)
* ۷ - سلطان حسین د غیاث الدین منصور زوی، د بایقرا لمسی، د عمر شیخ کړوسی او د تیمور کوسی (د تیموریانو د نسب شجره وګورئ).

ماخذونه:

ریاض الانشاء د محمود ګاوان، مطلع السعدین د عبدالرزاق سمر قندی، تاریخ ایران، تارخ ایران در دورهٔ مغول د عباس اقبال، تاریخ ادبیات ایران بعهد مغل د براون، رهنمای افغانستان، دایرة المعارف اسلامي، حبیب السیر، روضة الصفا.

The Digital Library

د کونړ حکمرانان

او یوسفزیان

(د ۸۰۰ - ۹۰۰ هـ شاوخوا)

د (۸۰۰ هـ - ۱۳۹۷م) پر شاوخوا چې د افغانستان پر خاوره د تیمور یرغلونه جاري وو، د کونړ په درو کښې یوې سیمه ییزې کورنۍ حکمراني کوله چې حکمران یې (سلطان) باله. دغه کهاله د کونړ په پیچ دره کښې مرکز درلود او کلیوالي افسانو دوی د ذوالقرنین زوزاد ګڼل. د دغه کهاله له نومالیو څخه یوسلطان پکهل او بل د هغه ورور سلطان بهرام و، چې دوی بیا د سلطان کهجامن زامن او د هندو لمسیان وو. سلطان پکهل له لغمانه تر کونړ، باجوړ، سوات او کشمیره پورې حکومت کاوه، (د پېښور د هزاره ضلع) پکهلی نومي ځایَ همده ته منسوب دی. د کونړ په درو کښې د ده لیکنې (ډبرلیکونه) پاتې دي تر ده وروسته یې زامن په سوات کښې سره ونښتل او لویه جګړه یې وکړه.

خو سلطان بهرام لغمان او ننګرهار ونیول او خپل یوه برخه مخالفان یې پېښور ته وشړل، د ده د واکمنۍ مرکز د سپین غره په لمنه کښې پاپین و. تر ورور وروسته یې د هغه د حکمرانۍ ځمکې تر کشمیر پورې هم ونیولې او له کابله تر کمشیره یې پر یوه هېواد باندې حکم کاوه، تر ده وروسته

"سلطان تومنا" د حکمرانۍ واکې په لاس کښې ونیول، خو د دې کورنۍ حکمراني د شینوارو، کونړ، سوات او باجوړ په غرو کښې د هزاره تر ضلع او کشمیر پورې محدوده پاتې وه، د کابل، ننګرهار او پېښور په غرو، رغو او د غرو په لمنو کښې د کندهار د سیمو او د ارغستان د رود د غاړو د پښتنو مهاجرتونه د تیمور د اولادې په وختو کښې پیل شول د کند او زمند ټبرونه د ګاونډیانو داختلاف او د څرڅایو د لړوالي له امله د کندهار له سیمو څخه د کابل خوا ته را وکوچېدل، د ګومل او نورو ځایو خلك له دوی سره یو ځای شول او د کابل په درو کښې اوسېدل، د دوی حکمرانان مداد، مدو او شیخ عثمان وو، د (۸۷۰هـ - ۱۴۶۵م) پر شاوخوا کښې چې میرزا الغ بیګ د سلطان ابو سعید کورګان زوی د کابل حکمدارو، د دغه ټبر ټول مشران یې له ملك سلطان شاه سره یو ځای راغونډ او ویې وژل، خو د سلطان شاه یوسفزي وراره (احمد) له دې وژنې بچ پاتې شو، تر کلاڼي خلك یې په لغمان کښې مېشت کړل، خو په حصارك کښې د یوسفزیو او مهمندزیو تر منځ لویه جګړه پېښه شوه، چې په نتیجه کښې یې مهمندزیو د ننګرهار سیمې ونیولې او یوسفزیانو د باجوړ، بونیر او سوات خوا ته مخه کړه، د هغه ځای بومي خلك (د لازاك) وتښتېدل، پر شور (پېښور) ته یې پناه یووړه او یوسفزیو د شلمانیو مشر چې جلو نومید وواژه او د پېښور د شمال د اشنغر او دوابه پر ټولو ځمکو یې قبضه وکړه له ناوګۍ څخه یې د (باجوړ) تر ارهنده ونیول. دا مهال د یوسفزیو حکمرانان ملك احمد او ملك ملي وو، دا شیخ آدم مشهور په (ملي) د یوسف زوی د پښتنو له سړبني ټبر څخه دی چې د یوسفزیو د قوم ستر مشر، لاربنود، واکمن، نامتو مقنن (law Giver) او په تقوی او فضیلت مشهور سړی و، ده د (۸۲۰هـ - ۱۴۱۷م) پر شاوخوا کښې د شیخ ملي دفتر په نامه د ټولنیزو قوانینو، قومي دودونو او د ځمکو د وېش په اړه یو کتاب

e Digital Library

ولیکه، چې یوسفزیانو له هغه وخته تر وروسته ځلور پېړیو پورې هم خپلې میراثي ځمکې د هغه دفتر د قوانینو په لارښوونه ویشلې، په دغو قوانینو کښې د کرهنې، څړ د اوسېدو ځمکې د عدالت او مساوات له مخې وېشل شوي او تر لسو کالو وروسته د کورنیو د غړیو د زیاتوالي یا لږوالي له کبله نوی وېش کېده، داکتاب د پښتنو د تېرو د نسبو له شرح سره لیکل شوی و.

تر شیخ ملي وروسته د یوسفزیو واکمني کجوخان رانیي زی ته ورسېده (د ۹۰۰هـ ۱۴۹۴م شاوخوا) کجوخان هم یو کتاب ولیکه چې د شیخ ملي د دفتر پایځوړ یا بشپړوونکی ګڼل کېږي. په هغه کښې یې د یوسفزیو د تاریخ شرح او د شیخ ملي د وضع کړیو قوانینو سمون او تکمیل راوړی و. ډېره موده د دغه قوم مشر او واکمن و او د (۱۲) زرو سپرو په مرسته یې په شیخ پتور کښې له غوریه خېلو سره جګړه وکړه او مات یې کړل. د یوسفزیو بله مهمه جګړه په لنګرکوټ کښې له دلازاك سره وه چې د لازاك ته یې وروستنۍ ماته ورکړه، ترکجو خان وروسته د یوسفزیو دوه تنه شاه منصور د ملك سلیمان زوی او سلطان ویس سواتي د هغو سیمو حکمرانان وو چې د (۹۱۰هـ ۹۲۵) پر شاوخوا محلي واکمنان ګڼل کېدل، د شاه منصور یوه لور بي بي مبارکه د بابر ماندینه وه او همدارنګه سطان علاء الدین سواتي او طاووس خان د بابر له هممهالیو نومیالیو څخه وو چې ده په خپله دا نومیالي یاد کړي دي.

۱- سلطان پکهل د کونړ د کهجامن زوی او د هندو لمسی (د ۸۰۰هـ) شاوخوا.

۲- سلطان بهرام د کهجامن زوی (۸۱۰هـ شاوخوا)

۳- سلطان تومنا (۸۱۵هـ شاوخوا)

۴- ملك احمد یوسفزی د(۸۱۵هـ شاوخوا)

۵- شیخ آدم ملی د یوسف زوی (د ۸۲۰هـ شاوخوا)

٦- کجو خان رانیی زی (۹۰۰) هـ شاوخوا)

۷- شاه منصور د ملك سلیمان زوی (۹۱۰هـ شاوخوا)

۸- سلطان ویس سواتی (د ۹۱۰هـ شاوخوا)

۹- سلطان علاء الدین سواتی (د ۹۱۰هـ شاو خوا)

۱۰- طاووس خان د (۹۱۰ هـ شاوخوا)

اخځ: تاریخ مرصع، تذکرة الابرار و الاشرار، تاریخ پشاور، حیات افغاني، نسب نامهٔ افاغنه مجلهٔ آثار عتیقهٔ هند، د افغانستان کالنی، پټه‌ـ خزانه، د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲ ټوك، خورشید جهان، صولت افغانی، بابرنامه.

The Digital Library

د هند تیموریان

د ارغونیانو، اوزبکو او صفویانو اغېزه

(۹۱۰ - ۱۱۵۱ هـ)

د هرات د تیموریانو د دورې په پای کښې، ظهیر الدین محمد بابر د عمر شیخ میرزا زوی او د هرات د پخواني سلطان ابو سعید کورگان لمسی د (۸۹۹ - ۱۴۹۳م) کال د روژې میاشتې پر پېنځمه د فرغانه په اند جان کښې پر یوولس کلنۍ پر تخت کښېناست. دا وخت د هرات شهزادگان په خپلو مینځو کښې سره نښتي او اخته وو او د هرات سلطنت کمزوری شوی و، بابر د پلار او مور له خوا چنگیز او تیمور ته منسوب و، دی سره له دې چې کوچنی و، خو بیا یې هم وکړای شول چې پاچهي وساتي، دا مهال د ده اکا سلطان احمد میرزا په سمرقند کښې او سلطان محمود میرزا د بدخشان په کندوز کښې حکومت کاوه، له بابر سره یې مخالفت درلود د بابر ورور جهانگیر میرزا هم د ده مخالف و چې دغو مخالفینو او د ده نورو رقیبانو د ده ورور له اندجانه ویوست او شیباني خان (۹۰۵ - ۹۱۶هـ) د ابراهیم زوی چې د چنگیز د زوی جوجي له کوله و سمرقند ونیو، له بابر سره ونښت چې هغه پېښې د افغانستان په تاریخ پورې اړه نه لري.

بابر تر (۹۰۹ هـ - ۱۵۰۳ م) پورې له شیباني سره جگړه وکړه او چې

خپل بهٔ (حریف) یې غښتلی ولید نو د افغانستان خوا ته یې مخه کړه پر همدغه کال له جیحونه راپورېووت او د بدخشان حکمران خسرو شاه ته چې په کندوز کښې و، ورغی؛ لږ مهال وروسته یې د خسرو د لښکر اته زره سپاره او پلي خپل پلویان کړل. خسرو یې د میمنې خوا ته وشاړه چې تیموري شهزاده بدیع الزمان میرزا ته یې پناه یووړه. په خپله بابر د خسرو مالونه خپل کړل او د خسرو له لښکریانو او دریو څلورو زرو مغولي کورنیو سره یې له کندوزه کابل ته مخه وکړه. دا مهال د کابل حکمران عبدالرزاق میرزا دالغ بیگ میرزا کوچنی زوی و، چې د حکومت چارې یې د شیرم زکه (زکي) نومي په لاس کښې وې، د کابل مشرانو امیر محمد یوسف، محد قاسم بیگ او امیر یونس علی دی په سلطاني دیوانخانه کښې وواژه. په همدغو وختو کښې د افغانستان د جنوبي سیمو د کندهار او گرمسیر حکمراني د میر حسن د زوی امیر ذوالنون ارغون په کهاله پورې اړه درلوده، دا امیر ارغون (چې په بلوڅي روایاتو کښې په زنو مشهور دی) د ابو سعید کورگان له نوکرانو څخه و، چې سلطان حسین بایقرا د غور، غرجستان او زمینداور پر حکمرانۍ ټاکلی و، ده پر (۹۰۴ هـ) کال د هزاره او نکدرې قبیلې ایل کړې او د دغه خدمت په پاداش کښې یې د فراه، غور او کندهار حکومت وموند، پر (۹۰۲هـ - ۱۴۹۶ م) کال یې شهزاده بدیع الزمان ته خپله لور ورکړه او له هغه سره یې په هغه یاغي تابه کښې چې له خپل پلار سلطان حسین بایقرا څخه یې کړی و، مرسته وکړه او پر (۹۰۴ هـ - ۱۴۹۸ م) کال یې هرات ونیو، بدیع الزمان چې پر بلخ بری وموند، ارغون سیستان ونیو، سلطان حسین بایقرا چې پر (۹۱۱ هـ) کال مړ شو، نو د ارغون واک لاپسې ډېر شو له کندهاره یې د شال، بولان او مستنگ (اوسني بلوچستان) پر ولایت د سند تر غاړو پورې، لاس بری وموند، په خپله د هرات په کلا بندۍ

The Digital Library

او د شیباني په جګړه کښې ووژل شو (د ۹۱۳ هـ - ۱۵۰۷ م شاوخوا) تر ده وروسته یې دوو زامنو شاه بیګ او محمد مقیم ارغون له کندهاره د سند تر سینده حکم کاوه، د هرات تر نیولو وروسته یې له شبیاني خان سره روغه وکړه. خو چې زکي ووژل شو او د کابل چارې ویجاړې شوې نو محمد مقیم ارغون د کندهار له ګرمسیره پر کابل یرغل وکړ پر (۹۰۸ هـ) کال یې میرزا عبدالرزاق د لغمان خواته پر شا وشاړه؛ کابل یې ونیو او دالغ بیګ لور یې وکړه. بابر چې د شمال له خوا تر هندوکوش را تېر شو او محمد مقیم له کابله کندهار ته ولاړ نو بابر کابل ونیو (۹۰۹ هـ - ۱۵۰۳ م).

محمد مقیم په کندهار کښې لښکر راغونډول پیل کړل او بابر د غزني خوا ته وووت. د غلجیو تر کلات پورې پر مخ ولاړ، خپل ورور جهانګیر میرزا ته یې د غزني حکومت ورکړ (۹۱۱ هـ - ۱۵۰۵ م)؛ یو کال وروسته د افغانستان ټول تیموري شهزادګان د شیباني د ورځ پر ورځ زیاتېدونکي ځواک پر وړاندې د مرغاب پر غاړه سره غونډ شول او بابر یې هم وروغوښت بابر چې د سلطان حسین د مړینې خبر اورېدلی و، په خپله د ده په وینا په زړه کښې یې د هرات خرخښه وه، نو د هزاره او اویماق له لارې مروچاق ته ولاړ، د کل باغان په پړاو کښې له نوموړیو شهزادګانو سره یو ځای شو (د ۹۱۲ هـ ځلورمه خور - جمادی الاخری - ۱۵۰۶ م) دا چې شیباني جنګ ته راوړاندې نه شو او له بلې خوا له کابل څخه هم د خرپړتیا خبر بابر ته راورسېد، نو بابر بیرته پر سره ژمي کابل ته راغی او په لار کښې درانه تلفات ورپېښ شول، څکه چې د ده تر شا د کابل ځینو مشرانو د بابر تره جان میرزا په پاچهي منلی و، خو چې بابر کابل ته راورسېد تره یې کندهار او سیستان ته وتښتېد، دا مهال شیباني پر بدخشان یرغل وکړ او د بابر کشر ورور ناصر میزا یې د کابل خوا ته وشاړه.

بابر په افغانستان کښې تر چنګیز او تیمور وروسته غښتلی پاچا و، دی له هغو افغاني قبایلو سره ونښت چې په غرو او رغو کښې یې کوچیاني ژوند لاره هغه درانه تلفات یې چې د هرات په سفر کښې لیدلي د غزني د جنوب ختیز غلجیو قبیلو په چور او چپاو تلافي کړل (۹۱۳ هـ).

پر همدغه کال چې شیباني خان د هرات او فراه تر یرغل وروسته ګرمسیر ته ورسېد، نو بابر له کابله ور ووت او د کندهار په خالیشك نومي ځای کښې یې له شاه بیګ او محمد مقیم ارغوني سره جګړه وکړه، د خپل دوه زریز لښکر په مرسته یې کندهار ونیو شاه بیګ مستنګ او مقیم زمینداور ته وتښتېدل، بابر کندهار ایالت خپل ورور ناصر میرزا ته وسپاره او په خپله کابل ته راغی، خو د ارغون زامن چې شیباني ته یې پناه وړې وه د شیباني په ملاتړ یې بېرته پر کندهار یرغل وکړ او ناصر میرزا یې کابل ته وشاړه، شیباني کندهار شاه بیګ ته وسپاره او په خپله بېرته خراسان ته ولاړ (۹۱۳ هـ).

وړاندې مو وویل چې میرزا عبدالرزاق د محمد مقیم له لاسه مات شو او له کابله د افغانستان ختیځ ته وتښتېد، په ننګرهار کښې یې د علي شبکور سیستاني، محمد علي شیباني، عبدالله صف شکن، نظر، یعقوب او نورو په مرسته د پاچهۍ بیرغ پورته کړ، بابر پر (۹۱۴ هـ - ۱۵۰۸ م) کال پر هغه حمله وکړه او له خپلو دریو څلورو زرو تنو لښکرو سره په ننګرهار کښې وجنګېد، عبدالرزاق یې ووژاه او هم یې زبیر راعي چې په بدخشان کښې یې له بابر سره مقابله کوله د خپل تره جان میرزا په واسطه له منځه یوور، دا مهال چې بابر په کابل او بدخشان کښې بوخت و، په هرات کښې د تیموري شهزادګانو حکومت د شیباني په لاس رنګ شو او ټول خراسان تر کندهار پورې لاس ته ورغی، څکه پر (۹۱٦ هـ - ۱۵۱۰) کال صفوي پاچا شاه

The Digital Library

اسمعیل مرو ته لاړ او شیباني یې هلته کلابند کړ، شیباني د برات میاشتې پر ۲۶ له پېنځلسو زرو تنو سره پر صفویانو یرغل وکړ، په دې جګړه کښې لس زره اوزبك په خپله له شیباني سره ووژل شول او شاه اسمعیل د (۹۱۷هـ ۱۵۱۱م) کال پر پسرلي تر آمو پرمخ ولاړ او بېرته هرات ته راغی، همدا چې د صفویانو په جګړه کښې د بابر لوی رقیب شیباني خان ووژل شو، نو بابر له شپېتو زرو تنو سره له کابل او بلخ څخه پر ماوراء النهر یرغل وکړ او تر ډېرو فتوحاتو وروسته تر (۹۲۰ هـ - ۱۵۱۴ م) پورې یې هغه نیولي ښارونه بېرته له لاسه ووتل او ناکامه کابل ته راوګرځېد بابر چې په ماوراء النهر کښې له ډېر وغښتلیو او کلکو رقیبانو سره مخامخېده نو ځکه یې تر هغه وروسته هغې سیمې ته پام وانه ړاوه او وېې غوښتل چې د هند د ارتو ملکو په نیولو لاس پورې کړي، د دغه کار لومړني کارونه یې په کابل کښې تر سره کړل او پر (۹۲۵ هـ - ۱۵۱۹م) یې پر هند خپل لومړی یرغل پیل کړ، د سند د نیلاب له ګودره د پنجاب تر بهره پورې ورسېد، هغه سیمې یې حسن بیګ اتکه ته وسپارلې او د ککهران پر ولایت او د پرهاله پر کلا یې حمله وکړه، د بهره او سند تر منځ ولایت یې محمد علي ته وسپاره بېرته کابل ته راغی او په لاره کښې یې د پېښور د شمال د یوسفزیو ډېرې قبیلې د ځان پر خوا کړې د یوسفزیو د یوه مشر شاه منصور لور یې وکړه.

په دې وسیله یې وکړای شول د سبکتګین په څېر (چې د محمود مور یې د زابل له پښتنو څخه کړې وه) د پښتنو زړور او ننګیالي قبایل د ځان پلوي کړي او د هغو په مرسته او ملاتړ د هند راتلونکي امپراتور شي، ځکه چې یوسفزیان د خیبر او سند تر منځ په ارته سیمه کښې پراته و نو دا ناشوني برېښېده چې د دوی له مرستې پرته دې څوك له کابله د سند اخوا هند ته واوړي.

په دې توګه د بابر کار اسان شو، نو پر دویم یرغل چې د (۹۲۵هـ) کال په پای کښې یې وکړ تر اټك پورېوت چې بېرته را وګرځېد نو په لاره کښې یې د حضر خیل قبیلې چور کړې، په درېیم یرغل (۹۲۶ هـ - ۱۵۱۹م) د پنجاب تر سیالکوټه پر مخ ولاړ، سید پور یې وران او خلك یې قتل عام کړل کابل ته راغی. شاه بیګ ارغون چې له سنده پر کندهار یرغل کاوه، نو ځکه بابر کندهار کلابند او له شاه بیګ سره یې روغه وکړه بېرته کابل ته ستون شو (د ۹۲۶ هـ - ۱۵۱۹م رجب)، بل کال یې بیا کندهار کلابند کړ او شاه بیګ یې د شال خواته پر شا وشاړه د (۹۲۸ هـ، ۱۵۲۱ م) کال د کوچني اختر د میاشتې پر ۱۳ یې د کندهار ښار په روغه ونیو او شهزاده کامران یې د هغه ځای حکمران وټاکه.

د بابر څلورم ځل تګ پر (۹۳۰هـ - ۱۵۲۳م) کال تر لاهور او سیالکوټه پورې و او په پېنځم ځل تګ یې (د ۹۳۲هـ د رجب پر ۸) د پاني پت په جګړه کښې سلطان ابراهیم لودي وواژه او (د ۹۳۲ هـ ۱۵۲۵م د رجب پر ۱۲) د ډهلي پر تخت کښېناست، همدا مهال د پېښور، کوهاټ او بنو خوا د یوسفزیو لویو قبیلو مهاجرتونه بشپړ شول او هم د بلوڅو لویو قبیلو د سند سیمه د غازي خان تر ډېرې او د پنجاب تر جنوبه ونیوه.

تر هغه وروسته کابل، بدخشان او کندهار له ډهلي څخه د بابر له خوا اداره کېدل خواجه کلان د غزني او ګردېز حکمران (۹۳۲هـ)، شهزاده همایون د کابل او بدخشان حکمران (۹۳۳ هـ - ۱۵۲۶م) او شهزاده کامران د کندهار حکمران و. همدارنګه همایون چې پر (۹۳۵هـ) کال هند ته ولاړ، سلطان سعدي خان کاشغري پر بدخشان حمله وکړه، خو د بابر زوی هندال میرزا هغه مات کړ او بابر د بدخشان حکمراني سلیمان میرزا ته وسپارله.

کندهار تر کامران وروسته شهزاده عسکري ته وسپارل شو، ده پر

The Digital Library

(۹۳۰هـ) تر ۱۵۲۳م) د کندهار د چهل زینې په دالان جوړولو او ډبرلیك لیکلو پیل وکړ چې تر (۹۵۳ هـ - ۱۵۴۶م) پورې یې بشپړ کړل.

د افغانستان په تاریخ کښې بابر یو نومیالی، زړور، خونړی، پوه او مؤلف پاچا و، چې پر بلخ، بدخشان، کابل او کندهار یې تر ډهلي پورې پر یو لوی هېواد حکومت کاوه ده په پاړسي او تورکي شعر وایه او ځو مهم تالیفونه هم لري. د (۹۳۷ هـ ۱۵۳۰م) کال پر ځلورمه خور - جمادی الثانی په اګره کښې مړ او د ده د وصیت له مخې د کابل په بابر باغ کښې ښخ شو. د ده هدیره پر (۱۰۵٦ هـ - ۱٦۴٦ م) شاهجهان جوړه کړه چې تر اوسه په کابل کښې مشهوره ده (وګورئ ٦۵ او ٦٦ نومره عکس) تر هغه وروسته یې زوی نصیر الدین همایون د ډهلي پر تخت کښېناست، پنجاب پېښور، لغمان، کابل، کندهار او بامیان یې د خپل ورو شهزاده کامران د حکمرانۍ سیمه وبلله او بدخشان یې د بابر د جان میرزا زوی میرزا سلیمان (د بابر تره) ته وسپارله؛ د (۹۴۲ هـ - ۱۵۳۵م) کال په شاوخوا کښې صفوي سام میرزا له هراته پر کندهار یرغل وکړ او د کندهار ښار یې د میرزا کامران د حکمران له لاسه ویوست، هغه وو چې کامران له لاهوره کندهار ته راغی، سام میرزا یې مات او کندهار یې خواجه کلان بېګ ته وسپاره او په خپله لاهور ته ولاړ، د بل کال په سر کښې په خپله صفوي شاه طهماسپ کندهار بیا له خواجه کلان څخه واخیست او میرزا بداغ خان قاجار ته یې وسپاره، خو هغه وخت چې شاه طهماسپ ایران ته ولاړ، بیا کامران له لاهوره راغی او کندهار یې ونیو (۹۴۳ هـ - ۱۵۳٦م).

خو همایون په هندوستان کښې ونه شو کړای چې د خپل پلار د پاچهۍ مقام وساتي دا ځکه چې بابر د لودیانو شهنشاهي برباد کړې او په هند کښې یې د افغاني تاریخ عظمت ته صدمه رسولې وه، له دې کبله

افغانان د خپل تاریخي برم د راژوندي کولو په تکل وو، د هند شهنشاهي یې خپل موروثي ملك ګاڼه او سلطان ابراهیم لودي چې د ناوړې اداري او ناپوهۍ له امله یې افغاني قوت تیت کړی و او نتیجه یې د پاني پت په جګړه کښې د بابر په مقابل کښې ولیده، نو ځکه دا مهال یو نابغه هوښیار پښتون فرید خان مشهور په "شېرشاه" په هند کښې د سوري له ټبره منځته راووت، ده په هند کښې افغاني تیت ځواکونه سره راټول او د افغاني برم نغری یې بیا تود کړ، د پښتنو د چارو تر سمون او د دوی تر یووالي وروسته یې پر همایون حمله وکړه، همایون مات شو او د هند د شاهنشاهۍ مقام بېرته د هغه د تاریخي خاوندانو لاس ته ورغی؛ د ماتې پر همدغه کال د (۹۴۷ هـ - ۱۵۴۰م پر رجب) همایون د سند عمر کوټ ته ورسېد او د شال او مستنګ او د افغانستان د جنوبي ګرمسیر او سیستان له لارې هرات او مشهد ته ولاړ، صفوي دربار ته یې پناه یووړه. خو میرزا کامران په کابل، میرزا عسکري او میرزا هندال په کندهار کښې پناه واخیسته، تر څه مودې وروسته میرزا کامران له کابله هڅه وکړه او په نارین کښې یې د هغه ځای له حکمران سلیمان میرزا سره جګړه وکړه، هغه یې په زرو د ځان تابع کړ او تر هغه وروسته یې پر کندهار یرغل وکړ، کندهار یې د هندال میرزا له لاسه ویوست او میرزا عسکري ته یې وسپاره. هندال د (جلال آباد) جوی شاهي ته مقرر شو او په افغانستان کښې خطبه او سکه د کامران په نامه جاري شوه، ده تر هغې جګړې وروسته چې پر (۹۴۸ هـ - ۱۵۴۱ م) کال یې په اندراب کې له سلیمان میرزا سره وکړه ټول بدخشان یې له خپل هېواد سره یو ځای کړ، له بدخشانه تر کندهاره او له کابله د سند تر سینده یې حکم کاوه چې د حکومت مرکز یې کابل و.

خو همایون هم له صفوي درباره مرسته واخیسته او پر (۹۵۱ هـ -

The Digital Library

۱۵۴۴م) کال له دېرشو زرو تنو سره د هرات له لارې د هلمند غاړې ته راورسېد او په بست کښې يې د کامران حکمرانان شاهم علي او مير خلج کلابند کړل او ډېر ژر يې کندهار تر شپږو مياشتو کلابندۍ وروسته پر (۹۵۲ھ) کال له ميرزا عسکري څخه ونيو، له هغه تړون سره سم چې له صفوي پاچا سره يې کړی و، هغه ښار يې شهزاده مراد صفوي ته وسپاره، خو چې هغه کوچنی شاهزاده په کندهار کښې مړ شو، نو همايون هغه ښار بيرم خان ته وسپاره، صفوي لښکريان يې بېرته رخصت او په خپله يې کابل ته مخه وکړه، د شاه کامران حکمرانان ورته تسليم شول اود (۹۵۳ ھ - ۱۵۴٦م) کال په روژه کښې کابل هم د همايون لاس ته ورغی، کامران غزني ته وتښتېد او له هغه ځايه يې د سند ارغونيه حکمرانانو ته پناه يووړه.

همايون پر همدغه کال سليمان ميرزا د هندوکوش له شمالي ولاياتو څخه ماوراء النهر ته وشاړه او هغه ولايتونه يې هم د ځان کړل، بيا همايون په ډېر تلوار له شمالي سيمو څخه راغی او د (۹۵۴ ھ - ۱۵۴۷ م) کال پر لومړی خور (ربيع الاول) يې کامران مات کړ چې هغه بدخشان ته وتښتېد او کابل د همايون لاس ته ورغی.

همدا چې کامران په بدخشان، تالقان او بغلان کښې پښې ټينګې کړې نو همايون بې له ځنډه په تالقان کښې هغه تسليمېدو ته اړ کړ او د کولاب ولايت ته يې واستاوه، ميرزا ابراهيم يې په هغه ولايت کښې پرېښوو په خپله کابل ته راغی (۹۵۴ھ - ۱۵۴۷ م). خو کامران په کولاب کښې يوه ډله راټوله کړه او د پيرمحمد خان په مرسته يې بدخشان ونيو، ځکه نو همايون درېيم ځل د هندوکوش شمالي سيمو ته ولاړ او د هغو سيمو تر نيولو وروسته يې د ختلان او کولاب سيمې ميرزا کامران، د ظفر او تالقان کلا يې ميرزا سليمان او ابراهيم، کندز، اشکمش او نارين يې ميرزا هندال ته ورکړل

او په خپله کابل ته راغی (د ۹۵۵ ھ - ۱۵۴۸ م کال د روژې دويمه ورځ).

د همايون څلورم تګ بلخ ته د پير محمد خان په مقابل کښې و، خو ناکام را وګرځېد (۹۵٦ ھ - ۱۵۴۹م). پر (۹۵۷ھ) کال چې کامران بيا په شمالي ولايتو کښې لږ څه ځواکمن شو همايون پينځم ځل هغې خوا ته ولاړ، خو د غوربند په جګړه کښې مات او کامران بياکابل ونيو، خو همايون ډېر ژر لښکر راټول او په شتر ګرام کښې يې له کامران سره جګړه وکړه، کامران لغمان ته وتښتېد، همايون کابل ونيو او ميرزا عسکري يې چې په دغه جنګ کښې نيول شوی و، بدخشان او بلخ ته واستاوه، چې له هغه ځايه عربستان ته ولاړ او هلته مړ شو (۹٦۵ ھ). خو کامران بيا د پښتنو مهمندو او خليل قبيلو لښکر جوړ کړ او د جلال اباد د چهار باغ کلا يې محاصره کړه، څو همايون هغه په يوه جګړه کښې له خيبره پېښور ته وشاړه او بيا پر (۹۵۸ھ ۱۵۵۱م) کال په چپرهار کښې د دغو دوو ورونو تر منځ جګړه پېښه شوه، ميرزا هندال ووژل شو، کامران هند ته وتښتېد، مګر سلطان آدم ګهکر هغه ونيو او پر (۹٦۰ ھ ۱۵۵۲ م) کال يې همايون ته وسپاره همايون هغه په بې رحمۍ ړوند کړ.

دا مهال چې د بابر کهول په افغانستان کښې په خپلو منځو کښې سره اخته وو او همايون خپل ورونه له منځه ايستل نو د افغانستان خاوره په وينو لړلې وه، په هند کښې شير شاه سوري د مدنيت، نظم، ودانۍ او جهاندارۍ ګټور بنسټونه کښېښوول، خو دا مدنيت پال شهنشاه د (۹۵۲ ھ ۱۵۴۵م) کال د لومړي خور - ربيع الاول پر لسمه ورځ د کالنجر کلا په يوه ناوړه اور پېښه کښې شهيد شو، کهاله يې ونه شو کړای د ده په څېر د افغاني پرتم نغری تود وساتي. افغاني مشرانو چې پوه لارښود يې نه درلود نوسره خواره واره شول. (وګورئ ٦۷- شکل)

The Digital Library

له دې خوا همایون خان د ورونو له جنجاله وزګار کړ، خپل ورور شهزاد محمد حکیم یې په کابل کښې حکمران پرېښوو او په خپله د (۹٦۲هـ) کال د صفرې پر میاشت د پېښور له لارې د هند نیولو په تکل وخوځېد، د (۹٦۲ هـ) کال د روژې په سر کښې د ډهلي پر تخت کښېناست او د (۹٦۳ هـ - ۱۵۵۵م) کال د لومړي خور (ربیع الاول) پر پینځمه په ډهلي کښې مړ شو. (وګورئ ٦۸ نومره عکس).

د ده پر ځای یې دیارلس کلن زوی جلال الدین محمد اکبر د (۹٦۳هـ -۱۵۵۵م) کال د دویمې خور (ربیع الثانی) پر ۱۲ د جمعې پر ورځ په لاهور کښې پاچا شو، همدا چې د همایون د مړینې خبر کابل ته ورسېد، میرزا سلیمان او زوی یې محمد ابراهیم کابل ته راغلل او محمد حکیم یې د کابل په ښار کښې څلور میاشتې کلا بند کړ، خو چې د اکبر لښکر کابل ته راورسېد سلیمان پرته له دې چې کابل ښار ونیسي، بېرته بدخشان ته ولاړ (۹٦۳ هـ) او د کابل د چارو واګې د شهزاده محمد حکیم مور "مېرمن ماه چوچك" په لاس کښې ونیول. دغه مهال ټول چارواکي په شخړو اخته وو، چې پر (۹۷۰ هـ - ۱۵٦۲م) کال د اکبر له درباره منعم خان خانان کابل ته وګمارل شو، دی د جلال اباد په چهار باغ کښې د کابل له لښکر سره مخامخ شو ماته یې وکړه او هند ته وتښتېد، څنګه چې همایون کندهار د کلات غلجي شاه محمد ته سپارلی و، نو ځکه صفوي شاه طهماسپ یو لښکر د شاه اسمعیل صفوي د لمسي سلطان حسین میرزا په مشرۍ کندهار ته راوخوځاوه او پر (۹۴٦ هـ) کال یې د کندهار ښار له شاه محمد څخه ونیو.

همدارنګه پر (۹٦۷ هـ - ۱۵۵۹ م) کال میرزا سلیمان له بدخشانه د بلخ نیولو په تکل لښکر راویوست او د ګازران پر چینه یې د پیر محمد خان له لښکر سره جګړه وکړه، خو مات شو او زوی یې محمد ابراهیم د

دښمن په لاس ووژل شو.

تر هغه وروسته ابوالمعالي ترمذي د (۹۷۱ هـ - ۱۵٦۳م) کال په شاوخوا کښې د اکبر له درباره کابل ته راوتښتېد، د محمد حکیم خور یې وکړه او د شهزاده مور یې له ځینو نورو امیرانو سره ووژله، شهزاده او د کابل مظلومینو د بدخشان له حکمران میرزا سلیمان څخه مرسته وغوښته، میرزا د غوربند له پله سره د ابوالمعالي او د کابل له لښکر سره مخامخ شو، ابوالمعالی یې وواژه او د (۹۷۱ هـ - ۱۵٦۳ م کال د روژې پر ۱۷ یې کابل ونیو سلیمان کابل خپل زوم شهزاده محمد حکیم او میرزا سلطان امید علی ته پرېښوو، په خپله بدخشان ته ولاړ، محمد حکیم د اکبري دربار په ملاتړ له کابله د سند تر سینده او له کندها، د د هندوکوش تر سلسلې پورې خپلواك حکمران شو او د میرزا سلیمان نفوذ له منځه ولاړ (۹۷۲ هـ - ۱۵٦۴م) محمد حکیم چې په کابل کښې غښتلی شو، نو د خپل ماما فریدون په لمسانه یې له پېښوره پر لاهور یرغل وکړ، خو پر (۹۷۴ هـ -۱۵٦٦م) کال اکبر شاه له اګرې څخه لاهور ته راغی او محمد حکیم یې بېرته پېښور ته پر شا وشاړه.

میرزا سلیمان د محمد حکیم په غیاب کښې له بدخشانه راغی، کابل یې کلابند کړ، خو چې د محمد حکیم د راتګ خبر یې واورېد کابل یې پرېښوو، بدخشان ته ولاړ او له هغه ځایه د خپل لمسي شاهرخ د ابراهیم میرزا د زوی له لاسه چې په بدخشان، اندراب، تالقان او کندز کښې غښتلی شوی و، د کابل له لارې هند ته وتښتېد، او د بدخشان حکمراني د شاهرخ میرزا شوه (۹۸۳ هـ - ۱۵۷۵م) خو سلیمان له هنده د بیت الله د زیارت په پلمه ایران ته ولاړ او له هغه ځایه کندهار او کابل ته راغی پر (۹۸۷ هـ ۱۵۷۹ م) کال یې د محمد حکیم په مرسته پر بدخشان او خپل لمسي یرغل وکړ؛ شاهرخ ورسره روغه وکړه له تالقانه تر هندوکوشه یې سلیمان ته

Digital Library

پرېښوو او په خپله یې په بدخشان اکتفا وکړه (۹۸۸ هـ).

ترديٍ روغي وروسته شهزاده محمد حکیم له کابله د پېښور او لاهور خوا ته لښکر ویوست او دا ښار یې کلابند کړ، خو د (۹۸۹هـ - ۱۵۸۱م) کال پر محرمه اکبر دی د لاهور له شاوخوا پر شا وشاړه او په خپل ورور پسې تر کابله ولاړ، دا د ده لومړی سفر و، خو کابل او زابلستان یې بېرته محمد حکیم ته وسپارل او د (۹۸۹ هـ کال د صفر پر ۱۴) له هغه ځایه هندوستان ته وګرځېد. خو په بدخشان کښې د میرزا سلیمان او شاهرخ اختلاف ورك نه شو، له دغه اختلافه د بلخ حکمران عبدالله اوزبك ګټه واخیسته دواړه یې کابل ته پر شا وشړل او بدخشان یې د هندوکوش تر لړۍ پورې له بلخ سره یو ځای کړ.

شهزاده محمد حکیم د (۹۹۳ هـ - ۱۵۸۵ م) کال د برات پر ۱۲ په کابل کښې مړ شو، اکبر پاچا د کابل ساتنې له پاره کنورمان سنګه له نوي ځواك سره راواستاوه او زین خان کوکه یې د دغه ځای حکمران وټاکه، کابل مستقیماً د اکبري هېواد برخه شوه (۹۹۵هـ - ۱۵۸٦م) د اکبر لښکرې د سوات او باجوړ په سیمو کښې د پښتنو له توریالیو قبیلو سره ونښتې او په خپله اکبر هم پر (۹۹۷ هـ -۱۵۸۸م) کال پېښور ته راغی دا کابل ته د ده دویم سفر و، په کابل کښې یې تر یوې میاشتې تېرېدو وروسته د کابل حکمراني کابلي قاسم خان ته ورکړه او په خپله پېښور ته وګرځېد، خو د روښاني حکمدارانو او د بایزید له زوی جلال الدین سره یې د افغانستان په جګړه کښې ځلوېښت زره شاهي سپاره او د اکبري دربار مهم غړي راجه بیربل د پښتنو له لاسه ووژل شول، غزني د روښانیانو لاس ته ورغی چې تفصیل به یې د روښانیانو تر سرلیك لاندې راشي.

لکه دمخه چې مو ولیکل کندهار ښار د صفوي شهزادګانو په لاس

کښې و چې له اکبري هېواده بېل شوی و، ځکه نو پر (۹۹۹هـ - ۱۵۹۰م) کال خان خانان د بلوچستان له لارې پر کندهار حمله وکړه او کابلي شاه بېګ خان دا ښار بیا د اکبري هېواد یوه برخه کړه (۱۰۰۳هـ - ۱۵۹۴م). دی د اکبر د دورې تر پایه د کندهار حکمران و، پر (۱۰۱۱هـ - ۱٦۰۲م) کال یې د بدخشان شاهرخ زوی میرزا حسن چې پر کندهار یې یرغل کړی و، غورته پر شا وشاړه. پر (۱۰۱۴ هـ-۱٦۰۵م) کال د هند شاهنشاه جلال الدین محمد اکبر له دنیا ولاړ. (وګورئ ٦۹ نومره عکس).

د جلال الدین اکبر له مړینې وروسته یې زوی نورالدین جهانګیر پر ځای کښېناست، دا وخت د هرات صفوي حکمران حسین شاملو د سیستان د حاکم په مرسته پر کندهار حمله وکړه، خوشاه بیګ خان په کلا کښې بندي کړ پېښې یې ټینګې کړې جهانګیر هم له هنده ملاتړ لښکر را واستاوه او صفوي لښکر ناکام وتښتېد. د کندهار، سند او ملتان حکمراني د جهانګیر له درباره غازي خان ته ورکړ شوه (۱۰۱۴هـ - ۱٦۰۵م).

جهانګیر پر (۱۰۱۵ هـ ۱٦۰٦م) کال کابل ته لاړ په دغه ښار کښې یې شاه بېګ خان د افغانستان د شمالي سیمو حکمران وټاکه او تر پېنځو کالو وروسته پر (۱۰۲۰هـ - ۱٦۱۱م) کال چې روښاني احداد پر کابل یرغل وکړ، نو جهانګیر د شاه بېګ خان پر ځای قلیج خان د کابل په حکمرانۍ وګماره (له اکبر او جهانګیر سره د روښانیانو د جګړو تفصیل دې د روښانیانو په فصل کښې ولوستل شي).

کندهار چې تل د صفوي او بابري پاچهانو د جګړې ډګر و، اوس نو د جهانګیر لاس ته ورغلی و، خو پر (۱۰۳۱هـ - ۱٦۲۱م) کال بیا شاه عباس صفوي ونیو، سره له دې چې جهانګیر پر (۱۰۳۵هـ ۱٦۲۵م) کال کابل ته خپل دویم سفر وکړ، خو برې یې ونه موند چې کندهار ته لښکر وباسي، ځکه

Digital Library

يې خواجه ابوالحسن د کابل او بنګښ له سیمو د سند تر سینده حکمران وټاکه او په خپله هند ته ولاړ د (۱۰۳۷هـ - ۱۶۲۷م) کال د صفر پر ۲۸ د یکشنبې پر ورځ په لاهور کښې مړ شو (۷۰ عکس) د ده پر ځای یې زوی شهزاده خرم د هند پر تخت کښېناست، چې په شهاب الدین محمد شاه جهان مشهور شو. د بایزید روښان د کهاله جنګونه چې په تېرا، پېښور، کابل، غزني او بنګښ کښې د همایون او اکبر له مهاله پیل شوي وو، د شاهجهان د پاچاهۍ تر مهاله ونه دربدل، ځکه نو د ډهلي د دربار حکمرانان د افغانستان په سیمو کښې له سختو مقابلو سره مخامخ وو (شرح به یې د روښانیانو تر سرلیك لاندې راشي) جهانګیر چې له دنیا ولاړ د افغانستان حکمران ظفر خان له روښاني احداد سره په جګړه اخته و، دا مهال د بلخ حکمدار نذر محمد خان فرصت غنیمت وګاڼه او د بامیان د ضحاك پر کلا یې یرغل وکړ د افغانستا ن د شمالي ولایاتو د ټولو سیمو تر نیولو وروسته تر هندوکوش راتېر شو او کابل یې په خونړیو جګړو درې میاشتې کلا بند کړ، شاهجهان خواجه ابولحسن او مومند لښکر خان له ۱۵ زرو سپرو سره او سپه سالار مهابت خان له شلو زرو سپرو سره افغانستان ته راواستاوه (د ۱۰۳۷ هـ - ۱۶۲۷م) کال د ذیعقدې میاشت) نذر محمد د غور له لارې بلخ ته پرشا شو او کابل د لښکر خان لاس ته ورغی (د ۱۰۳۸هـ -۱۶۲۸م کال د محرمې میاشت) د دغه کال په پای کښې د شیخ رکن الدین افغان زوی کمال الدین د اټك له غاړو بیاتر کابل پورې پښتانه قبایل له ځان سره یو لاس کړل او د ډهلي حکومت پر خلاف پورته شو، پېښور یې کلا بند کړ، خو د کابل حکمران اسمعیل خان پورته شوی خلك سره تیت کړل او پېښور یې وساته (د ۱۰۳۸ هـ - ۱۶۲۸ م کال د ذیحجې میاشت).

په اکبري عصر کښې حسن خان ترین د اوسني بلوچستان د پښین

د سیمو له غټو مشرانو څخه و، چې زوی یې شېرخان ترین د صفوي او د ډهلي د تیموري حکومتو تر منځ خپلواك اوسېد، پر (۱۰۴۱هـ - ۱۶۳۱م) کال یې د سیوستان د نیولو هڅه هم وکړه دا مهال د کندهار صفوي حکمران علي مردان پر پښین یرغل وکړ او شېرخان د دوکي او چیتالي کلا وته پناه یوړه، خو شاهجهان د (۱۰۴۷ هـ - ۱۶۳۷ م) کال پر منځ د کندهار خواته لښکر راواستاوه، صفوي حکمران علیمردان خان تسلیم او کندهار یې د شاهجهان لښکر ته وسپاره، د کندهار محلي مشران ملك مغدود او کامران (په همدغه کتاب کښې ــــ د ابدالیانو شرح وګورئ) د شاهجهان له درباره رسماً د کندهار حکمداران وپېژندل شول او د شاهجهان لښکر د هلمند تر غاړو، زمینداور، بست او ګرشك پورې سیمې ونیولې (د ۱۰۴۸هـ - ۱۶۳۸م کال درېمه خور - جمادی الاولی) او د (۱۰۴۹هـ) پر محرمه شاهجهان کابل ته خپل لومړی سفر وکړ او د یوسفزیو غورځنګ د مخنیوي له پاره یې چې په نوښار او پېښور کښې یې د شاهجهان غټ حکمرانان وژلي وو، علی مردان خان وګماره (۱۰۵۰هـ) او سعید خان یې په کابل او قلیچ خان یې په کندهار کښې مقرر کړل نیم افغانستان یې له هندوکوشه تر کندهاره د ډهلي تیموري دولت برخه کړه، پښتانه ملك اودل او ملك حمزه چې په هلمند او سیستان کښې یې خپلواکي ساتله د (۱۰۴۹هـ) کال پر برات یې د هلمند پر غاړه د شاهجهان له لښکر سره جګړه وکړه، خو مات شول او له منځه ولاړل، شاهجهان پر کندهار باندې د صفوي حملو د مخنیوي له پاره شهزاده د اراشکوه له پنځوسو زرو سپرو سره وګماره او بیا څنګه چې د کندهار صفوي قواو او د هندوکوش د شمالي ولایاتو حکمران نذر محمد خان کابل ګواښه، نو ځکه شاهجهان د (۱۰۵۵ هـ - ۱۶۴۵ م) کال پر ذیحجه شهزاده مراد بخش له پنځوسو زرو سپرو، لسو زرو پلیو او درنې توپخانې سره راوخوځول، دی

he Digital Library

په خپله هم د (۱۰۵٦ هـ) کال پر دویمه خور کابل ته راورسېد او بې ځنډه یې د پروان او هندوکوش د درو له لارې پر شمالي ولایاتو یرغل وکړ، ټول بدخشان یې تر بلخ پورې ونیو او د ډهلي د تیموري هېواد وېش یې تر آمو سینده ورساوه، خواص خان یې د کندهار په صوبه دارۍ وټاکه، خواجه عبدالرحمن یې په بدخشان، سعادت خان یې په ترمذ، اسدالله یې په زمینداور او ذوالفقار خان یې په کابل کښې وګمارل په خپله پېښور او لاهور ته ولاړ، خو د نذر محمد خان زوی عبدالعزیز خان د توران والي پر (۱۰۵۷هـ ۱٦۴۷م) کال بیا پر بلخ یرغل وکړ د ده حملې د هندوکوش تر کلاو پورې ورسېدلې، ځکه نو شاه جهان کابل ته دریم سفر وکړ، شهزاده اورنګ زیب له خپلو لښکرو سره د هندوکوش په شمالي سیمو کښې د اوزبکو د حملو د مخنیوي له پاره تر بلخ، اندخود او میمنې پورې پر مخ ولاړ، څنګه چې د هندوکوش د شمال ساتنه سخته وه، ځکه نو شاهجهان بلخ نذر محمد خان ته وسپاره او په خپله هند ته ولاړ (د ۱۰۵۷هـ - ۱٦۴۷م کال د رجب میاشت).

صفویانو کندهار هېرنه کړ او پر (۱۰۵۸ هـ) کال یې لومړی د کندهار ښار د غوښتلو په اړه د دوستۍ له لارې یو لیك شاهجهان ته واستاوه او ترهغه وروسته په خپله شاه عباس ثاني له لوی لښکر راو پنځو بالیمز توپو سره له اصفهانه را wووت پر کندهار یې یرغل وکړ او دا ښار یې په ژمي کښې د پنځوسو زرو سپرو په مرسته کلابند کړ، د ډهلي له درباره شهزاده اورنګزیب له اویا زریز لښکر سره له لاهور او کابل څخه کندهار ته متوجه شو، خو صفوي پاچا تر خونړیو جګړو وروسته کندهار ونیو او محراب خان یې له لسو زرو سپرو سره هلته پرېښوو، په خپله دې هرات ته ولاړ، شهزاده اورنګزیب د (۱۰۵۹هـ - ۱٦۴۹م) کال پر درېیمه خور (جمادی الاولی)، محراب په کندهار کښې کلابند کړ او په خپله شاهجهان هم څلورم

ځل کابل ته لاړ خو دا چې څه کار یې و نه کړای شو نو اورنګزېب ته یې د کندهار د څلور میاشتنۍ کلابندۍ د پرېښوو او لاهور ته د تګ امر وکړ. دوه کاله وروسته شاه جهان کابل ته پېنځم سفر وکړ او شهزاده اورنګ زیب یې له پنځوسو زرو سپرو او پلیو، شلو کلانړوونکیو توپو، شلو منځنیو توپو او لسو مستوجنګي پیلانو سره کندهار ته واستاوه، سعد الله خان یې هم له نور لښکر سره د شهزاده د ملاتړ په توګه وګماره، دغه پیاوړی ځواك چې کندهار یې بیا کلابند کړې و، تر دوو میاشتو پورې یې هېڅ ونه شو کړای او بې نتیجې کابل او لاهور ته ولاړ (۱۰٦۱هـ - ۱٦۵۰م د روژی میاشت) بل کال بیا شاه جهان یو لوی لښکر د شهزاده دارا شکوه په مشرۍ د کندهار درېیم وار کلا بندۍ له پاره راواستاوه چې په دغه لښکر کې یو سل او پنځوس زره سپاره، څلورپنځوس غټ او کوچني توپونه، یو سل اویا جنګي پیلان او د توپ دېرش زره ګولۍ وې. د کندهار کروړ حکمران محراب خان بیا ځان ټینګ او د کندهار کلا یې پېنځه میاشتې وساتله شاه جهان بې له دې چې کندهار ونیسي دریم وار هم ناکام هند ته ولاړ، په دې توګه یوازی کابل او غزني د شاه جهان په لاس کې پاتې شول، د هغو د ساتنې له پاره یې بهادر خان افغان وګماره، کندهار، سیستان او هرات د صفویانو په لاس کښې وو، شمالي ولایات له میمنې او اندخود څخه نیولې تر بلخ، تخارستان او هندوکوش پورې د توران په حکمدارانو پورې چې د نذر محمد خان او لاده وه اړه درلوده. شاهجهان چې پر (۱۰٦۸هـ - ۱٦۵۷م) کال د خپل زوي اورنګزیب له خوا بندي شو او پر ځای یې اورنګزیب د ډهلي پر تخت کېښناست، نو اورنګزېب مهابت خان د کابل حکمران، شمشېرخان د غزني حاکم او سعید خان د افغاني کوهستان او پېښور پوځدار وټاکه. (وګورئ ۷۱ او ۷۲ نومره عکسونه).

The Digital Library

د عالمګیر عصر د افغانستان په تاریخ کښې له شوره ډکه دوره وه چې د هېواد سیمې له اټك څخه تر کابله د ډهلي دربار د لښکرو او افغانانو تر منځ د جګړو ډګرو.

لومړی د پېښور د شمال یوسفزیو د باکو، ملا چالاك او سلطان محمود ګدون په مشرۍ پر پکهلی یرغل وکړ، عالمګیر پر (۱۰۷۷هـ - ۱۶۶۶م) د اټك پوځدار کامل خان ته د هغوی مخنیوی وسپاره، خو (۱۰۷۹هـ ۱۶۶۸م) کال په شاوخوا کښې ایمل خان مومند (چې د ایمل شاه په نامه یې سکه وهله) په خیبر کښې د نومیالی پښتون او د پښتو نامتو شاعر "خوشحال خان ختك" په ملګرتیا د عالمګیر د قوا پر خلاف ډېرې جګړې وکړې) عالمګیر په خپله د دوی د مخنیوي له پاره درې کاله په حسن ابدال کښې کې پروت و شهزاده محمد اعظم په کابل کښې و، آغر خان له پښتنو سره خونړۍ جګړې وکړې، تر هغې چې عالمګیر د تهترې، دوآبه، نوښار، ګنداب او خاپښ تر پېنځو جګړو او تقریباً د داوړو خواو د یو لك تنو تر وژلو وروسته ونه شو کړای چې د افغانانو نهضت له منځه یوسي، نو له دې اوږدې جګړې څخه یې زړه تنګ شو ډهلي ته ولاړ (۱۰۸۱هـ) خو ایمل خان په لغمان کښې له آغرخان سره خورا لویه خونړۍ جګړه وکړه، پر (۱۱۰۲هـ= ۱۶۰۹م) کال آغر د افغانانو له خوا ووژل شو او د عالمګیر د دورې په پای کښې شهزاده محمد معظم بهادر شاه په کابل او پېښور کښې واکمن ؤ، چې پر (۱۱۱۴هـ- ۱۷۰۲م) کال یې د افغاني قبایلو یو غټ مشر پردل خان چې له خپل لښکر سره له خوسته کابل ته راتلو، د کابل او پېښور د لارې د بندیدو او بلوا له وېرې وواژه.

عالمګیر چې پر (۱۱۱۸هـ ۱۷۰٦م) کال مړ شو معظم له کابله لاهور ته ولاړ او د پاچهۍ بیرغ یې پورته کړ، د ډهلي د بابري دورې په پای

کې ناصر د کابل او پېښور او باقر خان د غزني حکمرانان وو او کندهار تر پښین، مستنګ او ډېره جاتو پورې د هوتکي پاچاهانو په لاس کښې و، څو چې پر (۱۱۵۱ - ۱۷۳۸م) کال نادر افشار د بابر د پاچهۍ کمبله تر (۲۴۰) کالو وروسته له افغانستانه ټوله کړه. په افغانستان کښې د ډهلي د امپراتورۍ، د ایران د صفویانو او د ماوراء النهر د توراني پاچاهانو د درېو لویو ځواکو د مخامخېدو او یو ځای کېدو نقطه وه، ځکه یې د پاچاهانو له مدنیت روزلو او صنعت او ادب پاللو څخه ګټه وانه خیسته. دوه نیمې پېړۍ له بهرنیو یرغلګرو سره د کورنیو آزادۍ غوښتونکیو په سختو جګړو وران شو په دې توګه پرته له جګړې وینې تویدنې او جاسوسۍ د بابري مدنیت له ودانیو کومه نخښه و نه لیدل شوه.

په افغانستان کښې د بهرنیانو د دغو دوو نیمو پېړیو د ورانیو منظره ډېره دردوونکې ده او هغه څه چې د چنګیز او تیمور تر چور او چپاو وروسته د هرات د تیموریانو دولت جوړ کړي او د مدنیت، صنعت او ادب آثار یې منځته راوړي وو هغه په دې موده کښې وران شول، خو همدا دوره د افغان ملت د خپلواکۍ غوښتلو او له وطن سره د مینې لرلو د حس خورا ښه ښکارندویه ده چې دوه نیمې پېړۍ د درویو مدهشو قوتو سره وجنګېد او پر دې قوتونه یې پرې نه ښوول چې د دوی پر هېواد په خوښۍ او آرامۍ واکمنې وکړي.

دا مهال د ډهلي تیموري پاچاهانو په کابل او کندهار، صفوي پاچاهانو په هرات او سیستان او توراني پاچاهانو په بلخ او بدخشان کښې سکه وهله، خو افغاني قومونه چې له درېو خواو څخه تهدیدېدل ځکه نو په دوی کښې د مقاومت روح او دا تونومي ساتل تقویه کېدل، دا مهال پښتو ادبیات نضج او پوخوالي ته ورسېدل، د آزادۍ او خپلواکۍ غوښتلو لار

The Digital Library

خوښوونکیو لکه پیر روښان، خوشحال خان او نورو په پښتو ژبه ډېر ارزښتمن آثار ولیکل، د همدې دورې یوه ځانګړتیا دا هم ده چې په پښتو ادبیاتو کښې د هند د پردیو بابري پاچاهانو د واکمنۍ په مقابل کښې یو راز سخته کرکه او تنفر پیدا شو.

په افغانستان کښې د ډهلي د تیموریانو ملکي او لښکري تشکیلات د هند د لودیانو او سوریانو غوندې وو، د مستر سمت او دولافوز په وینا شېر شاهي مدني بنستونه یې ارت کړل، افغانستان یې پر څلورو صوبو وېشلی وو: چې له هغې جملې څخه کابل صوبې د بابر د شاهنشاهۍ له پیله بیا د نادرشاه افشار تر فتح پورې په ډهلي اړه درلوده خو دویمه صوبه کندهار کله په ډهلي او کله د ایران په صفویه اړه درلودلې وه، درېیمه صوبه بدخشان د ډهلي د تیموریانو، هندیانو او د هغو د پلرنیو خپلوانو تر منځ د شخړو ځای ؤ، څلورمه صوبه بلخ هم کله د ډهلي په بابري کهاله اړه درلوده او کله یې د توران په پاچاهانو پورې. د کابل صوبې د بابر په وخت کښې د ده په وینا شل محله درلوده او عایدات یې شل لکه شاهرخۍ وې چې له یو کروړ اته ویشت لکه دام سره برابرې وې، همدا صوبه د ابو الفضل په وینا له پامیر، ګلګت، سوات، بونېر او باجوړ څخه تر کندهار او زابلستان پورې غځېدلې وه او په اکبري عصر کښې پر دوه سر کاره (کابل او کندهار) وېشل شوې وه، د کابل سرکار (۲۲) محله وو، (۸۰۵۰۷. ۴۶۵) دام نغدی، (۱۳۷، ۱۷۸) دام مالیه، (۲۸،۱۸۷) سپاره، (۷۰۰ و ۲۱۲) پلي او په خپله کابل ښار (۱۲،۷۵۸،۴۱۰) دام نغد عایدات درلوده.

خو د کندهار سرکار (۲۴) محله، (۸۱۱۴) تومان (د کلیو مجموعه)، (۲۹،۶۰۰) نغد دیناره، (۴۵،۷۷۵) پسونه (۴۵) بلوخي آسان او (۳،۷۵۲،۹۷۷) خرواره غله، (۴۲۰) منه وریجې، دوه خرواره اوړه، (۲۰)

منه غوړي، (۱۳،۸۷۵) سپاره او (۲۷،۲۶۰) پلي، دولتي عایدات وو.

لاهوري عبدالحمید د شاه جهان په وخت د بابر د اولادې د هېواد له ۲۲ صوبو څخه د افغانستان څلور صوبې او د هغوی دولتي عایدات داسې شمېرلي دي: کابل شپاړس کروړه دام، کندهار شپږ کروړه دام، بلخ اته کروړ دام، بدخشان څلور کروړ دام (هر پېنځه دامه له "۲" آنوسره برابر دي).

د ابو الفضل په وینا هره صوبه پر څو سرکارو، ښارو، کلاو او تاڼو وېشل کېده، صوبه دار ملکي او نظامي آمر و، چې تر دوو لسو کروړو دامه پورې یې تنخا رسېده. د صوبه دار تر امر لاندې یو کومکي (موقتي نظامي آمر)، تعینات (دایمي نظامي آمر)، پوځدار (د لوی نظامي افسر مرستیال) تانه دار او کوتوال په مهمو مرکزو کښې د هېواد د ښارو، لارو او نظامي کلاو عامه امنیت اداره کاوه او کله هم یوه صوبه د تیول (اقطاع) په توګه یوه امیر او شهزاده ته ورکول کېده چې هغه ته به یې تیولد اروایه، په هره صوبه او ښار کښې مامور محاسبه او د مالي چارو دیوان و، د شرعي محکمو او عدلیه چارې هم قاضي اداره کولې، چې د لښکر له پاره (د اردو عدالت) یو ځانګړی عسکر قاضي موجود و، بخشي یو مامور و چې د لښکر تنخا او لوازم یې تهیه کول واقعه نویس د استخبار او جاسوسي چارې اداره کولې، چې په هر ځای کښې یې د (هرکاره) په نامه جاسوسان درلودل، کله هم د ډهلي د بابر د اولادې په دربار کښې د ناظم او نظامت په نامه هم فوق العاده تنظیمه رییسان په موقتې توګه د ځینو مهمو چارو له پاره ټاکل کېدل، د دغو ټولو دولتي کار کوونکیو رتبې او تنخاوې دا ډول وې: لومړی لس زری (ده هزاری) چې (۷۰۰) اسان، دوه سوه پیلان، دوه سوه بار وړونکي څاروي او (۳۲۰) ګاډۍ یې تر امر لاندې وې پر میاشت یې تر (۶۰) زرو روپیو تنخا اخیستله.

دا رتبې له لس زري (ده هزاری) څخه تر لس باشي (ده باشی) پورې (٦٦) رتبو ته رسېدلې او هر منصب له کښتنی. خوا له پینځه زري څخه د تنخاه له حیثه درې مرتبې درلودلې مثلاً لومړی پینځه زري او دویم دریم پینځه زري.

د ډهلي د تیموري دورې له پاتیو ودانیو څخه په افغانستان کښې:
یو د کندهار د اوسني ښـــار لوېدیځ خوا ته د سرپوزې پــــه غره کښې د چهل زینې دالان دی چې د هغه د لیکنې له مخې د هغه ځای ودانی پر (۹۳۰هـ) کال میرزا کامران، میرزاعسکري او میرزا هندال، پیل کړې او پر (۹۵۳هـ) کال یې پای ته رسولې تر هغو ورسته یوه اکبري منصبدار میر معصوم نومي پر (۱۰۰۴هـ کال) هلته د ماهرو ډېرو توړوونکیو په واسطه په څلورو کالو کښې د همایون او اکبر په نامه یو ډېرلیك کیندلی دی. بله لیکنه د کندهاري بابا حسن ابدال د خوریي سید حسن زنجیر پا د مزار ډېرلیك دی چې همدغه میر معصوم پر (۱۰۰۱هـ) کال کیندلی دی. همدا راز د کندهار شمال خوا ته څلوېښت میله لرې په خاکریز کښې د سید عبد الجلیل (مشهور په شاه مقصود) د سلطان خلیل زوی او د سلطان محمد لمسی (۸۵۴ مړ) د مزار ودانی. او ډېرلیك دی چې پر (۱۰۵۵هـ) کال د سید معصوم د زوی میر بزرگ له خوا ودانه شوې او کیندل شوې ده:
د هاغه وخت بل ډېرلیك د سید محمد مشهور په سید شیر قلندر د امیر انصاري د زوي د مزار ډېرلیك دی چې د تاریخ معصومي په وینا د ۹۳۳هـ کال پر محرمه وفات شوي او پر (۱۰۰۵) کال نوموړي میر معصوم د کندهار د پنجوایي د سپېروان په غره کښې کیندلې او ودانی. یې پرې جوړه کړې ده بل د کندهار چارباغ دی چې د ابو الفضل په وینا د بابر له ودانیو څخه و.

he Digital Library

خو په کابل کښې د شهر آراء باغ، چارباغ، د جلو خانې باغ اور ته باغ، صورت باغ، مهتاب باغ او د آهو خانې باغ د عبدالمجید په وېناد بابر د ودانیو له پاتې شونیو څخه دي چې جهانگیر یې په خپل تزك کښې هم ستاینه کړې ده. همدا شان د پغمان باغ چې میرزا الغ بیگ او بابر جوړ کړی) او د بابر تخت چې په خپله د ده په امر پر ۹۱۴ هـ کال جوړ شوي او پر (۱۰۱٦هـ) کال جهانگیر د کابل جنوبي خوا ته بشپړ کړ، همدا راز د کابل چار چته (مشهور بازار چې علیمردان خان جوړ کړی و) د شور بازار مسجد (چې اورنگزیب ودان کړی و) علیمردان باغ، صفا باغ (د جلال آباد په بهسود کښې چې بابر جوړ کړی دی)، وفا باغ چې پر (۹۱۴هـ بابر ودان کړ) شهباز کلا (چې د ابو الفضل په وینا پر ۹۹۸هـ کال اکبر جوړه کړې وه)، استالف باغ، د بابر د مزار مرمرین مسجد او د مېملې باغ (کابل ختیزې خوا ته په ۱۰۵٦هـ کال ودان شوی) د شاه جهان له ودانیو څخه دي.

د کابل حصار چې له پخوا موجود و د جهانگیري تزك په وینا میرزا کامران ترمیم کړی او د بالاحصار ودانی. د (۱۰۱۵هـ) کال پر سفر کښې د جهانگیر په امر ودانې شوې، خو د کندهار ښار حصار چې پر (۱۱۵۱هـ) کال نادرشاه وران کړ له پخوانی زمانې موجود ؤ، د عبدالمجید په وینا شاجهان هغه د اته لکو روپیو په لگښت ترمیم کړ د کابل شمالي خوا ته د پروان کلا (اوسنی جبل السراج) هم پر (۹۵۵هـ) کال همایون ودانه کړه چې د ده د لښکر مرکز و.

د ډهلي د تیموري پاچهانو په وختو کښې کابل، کندهار، بلخ او بدخشان دار الضرب هم وو او د ابو الفضل په وېناد اکبر په عصر کښې کابل یو له هغو څلورو صوبو څخه و، چې د اکبر د طلا سکه په کښې وهل کېده، په څلورو واړو صوبو کښې د ډهلي د تیموري یا د صفوي پاچاهانو

he Digital Library

له خوا د سپینو زرو او مسو سکې وهل کېدې، د جهانګیر پر مهال په کندهار کښې مسي سکې وهل شوې دي چې د لمریز کال د میاشتو په ډول شکل لري، همدا شان جهانګیر د خپلې پاچاهۍ پر ۱۴م کال په کندهار کښې د سپینو زرو پر روپۍ سکه ووهله چې دا بیت پرې لیکل شوی و: ((ز جهانګیر بن اکبر شاه سکۀ قندهار شد دلخواه.))

په افغانستان کښې د ډهلي د تیموریانو د وختونو علمي او ادبي نومیالي دا دي:

ابتري بدخشی (شاعر)، ابراهیم بټنی (د مخزن افغان بشپړوونکی)، ملك ابو الفتح سیستانی (سردار شاعر)، آتشی قندهاري (شاعر پر ۹۷۳هـ مړ دی)، شیخ احمد مجدد کابلي، (د سرهند عارف ۹۷۱هـ ۱۰۳۴هـ)، ارزاني (پښتو شاعر د ۹۵۰هـ شاوخوا)، اشرف خان هجري (د خوشال خان ختك زوي پښتو شاعر)، میر اعجاز هروي (شاعر او نثر لیکونکی)، سلیم لودي افغان (شاعر)، افضل خان ختك (پر ۱۱۸۳ هـ مړ او د پښتو د تاریخ مرصع مؤلف)، ملا الف هوتك (د پښتو بحر الایمان ناظم - ۱۰۱۹هـ)، امام الدین متي زی (۱۰۲۰ - ۱۰٦۸هـ) د تاریخ افغان مؤلف، امانی کابلی (شاعر)، امانی افغان (شاعر - ۱۰۷۷هـ کال پر شاوخوا)، امیر (پښتو شاعر- ۱۰۲۳ هـ)، انوري هروي (شاعر)، بابا بلخي (شاعر- د ۹۵۰ شاوخوا)، بابو جان (پښتو شاعر- د ۱۰۵۰هـ شاوخوا)، خواجه باقی الله کابلي (عارف او د سلسله الاحرار مؤلف ۹۷۱- ۱۰۱۲هـ)، شیخ بایزید افغان (د عالمګیر د وختو نامتو زاهد) بایزید روښان (پښتون مشر او لیکونکی)، بای خان (پښتو شاعر- ۱۱۰۰هـ پرشاوخوا)، شیخ بستان بړیخ (پښتون شاعر او عارف چې پر ۱۰۰۲هـ مړ دی)، بنايي کابلي (د همایون د وختو شاعر)، بوالعجب کابلي (د اکبر د دورې شاعر)، جهانګیر هروي (د منظر الآثار ناظم چې پر ۹۴٦هـ

مړ دی)، غزنوي (شاعر پر۹۷۳ هـ کال په پېښور مړ کښې دی)، تادیب هروی (شاعر ۱۰۸۰هـ)، تاش محمد کندوزی د حجه الاورنګ شاهیه مؤلف- ۱۱۰۰هـ)، ترابي بلخي (شاعر)، خوشال خان ختك (د پښتو نومیالی شاعر او جنګیالی مشر)، سلطان قندهاری، (د اکبر د وختو شاعر)، ثابت بدخشی (شاعر)، ثابت بړیخ (پښتون عارف)، ثاني خان هروي (د اکبري دورې شاعر)، حبیبي کابلي (د یوسف او زلیخا ناظم -۱۰۹۰هـ)، قاضي نظام بدخشي (د بابر د دورې قاضي خان)، حسام الدین بدخشي (د بابر او همایون د دورې قاضي)، حلیمه (پښتنه شاعره- د خوشال خان ختك لور)، ملك حمزه سیستاني (شاعر ۱۰۸۳هـ)، حمید ماشوخېل مومند (پښتو شاعر ۱۱۰۰هـ)، حمید ګل (پښتو شاعر)، خانګل خلیل (پښتو شاعر)، خانی کابلي (شاعر ۹۸۵هـ)، خرد بیګی کابلي (شاعر چې پر ۹۷۵هـ مړ دی)، خواند میر (د حبیب السیر، خلاصة الاخبار، دستور الوزراء او نورو لیکونکی پر ۹۴۱هـ مړ دی)، خواجه زاده کابلی (د اکبر د عصر شاعر)، خواجه حسن هروی (شاعر- چې پر ۹۷۹هـ مړ دی)، خواجه محمد بنګښ (د عالمګیري عصر پښتو شاعر)، داعی کشمي (شاعر - پر ۹۹۴ کال مړ دی)، درویزه ننګرهاری (پښتو لیکونکی او نامتو مبلغ)، دولت لوانی (د پښتو شاعر- د ۱۰۵۸ هـ پر شاوخوا)، رابعه کندهاری (د بابر د عصر شاعره)، دوست محمد کاکړ (شاعر او د پښتو غرغښت نامې کتاب مؤلف ۹۲۹هـ)، دبیري کابلي (د شاهجان د وختو شاعر)، ربیع بلخی (شاعر ۱۰۸۰هـ)، رحمان بابا (د پښتو نومیالی شاعر او نامتو عارف)، رونقی بدخشی (شاعر پر ۹٦۴هـ مړ دی)، زایر بدخشی (شاعر پر ۱۰٦۷هـ مړ دی)، ساغری هروي (شاعر د ۹۵۰هـ پر شاوخوا)، سروري کابلی (ذ عالمګیر د عصر شاعر)، زرغونه کندهارۍ (د پښتو شاعره چې پر ۹۰۳هـ کال یې د سعدي بوستان په پښتو

نظم کړ)، سکندر خان (د پښتو شاعر او د خوشال ختك زوی)، سلطان کندهاري (د اکبر د عصر شاعر)، سلطان علي او بهی هروی شاعر (۹۵۰ هـ شا و خوا)، سلطان محمد خندان (د کابل خطاط او شاعر -۱۱۰۰هـ کال په شا و خوا)، سوسني کابلي شاعر او جهانګير د عصر امير)، سيد احمد ختك (د اکبری عصر له مؤلفانو څخه و)، سيف خان خوستی قطغنی (په موسيقی د راګ پن مؤلف او د شاهجهان د وختو افسر چې په ۱۰۹۵ هـ مړ دی)، ملا شاه بدخشي (شاعر او تفسير ليکونکی په ۱۰۷۰ هـ کښې مړ دی)، شجاع سيستانی (شاعر)، شوخی هروی (شاعر)، شيدای بلخي (د بابر د حضور له پوهانو څخه و)، امير شير علي خان لودي (د مرآة الخيال د تذکرې مؤلف ۱۱۰۲ هـ)، شير محمد هوتك کندهاری (۱۰۹۲ - ۱۱۷۵ هـ د اسرار العارفين ناظم په پښتو)، شير محمد ننګرهاری (د پښتو شاعر ۱۱۰۰ هـ)، صادق کندهاری (د همايون د عصر شاعر) صبوحی بدخشی (شاعر- چې په ۹۷۳ مړ دی)، صبوحی کابلی (د اکبر د دربار شاعر) صدر خان ختك (د پښتو شاعر او د خوشال ختك زوی)، حاجي عارف کندهاری (د بيرم خان د دربار مشهور مؤرخ، صوفي او شاعر او په ۹۸٦ هـ د مطلع و مقطع ليکونکی)، حاجي عارف کابلي (شاعر ۱۰۰۰ هـ) ملا عالم ګلبهاري (د اکبر د وختو شاعر او د صلصلة الجرس ناظم او د لالة العقل او بحرالوجود او عوالم الاثار او فواتح الولايه ليکونکی چې پر ۹۹۲ مړ دی)، عباس سروانی (د تاريخ شير شاهی مؤلف)، عبدالسلام پشاوری (پښتو ليکونکی او د درويزه لمسی)، عبدالرحمن بختيار (۹۰۰ د شاوخوا عارف)، عبدالعزيز هروی (د بابر دوختو عالم)، عبدالرحمن رمزی بدخشی (دردالشعيه او اِثبات نبوت مؤلف)، مير عبدالله د مير نعمان زوی (شاعر او د نقشبند يه له مشايخو څخه و)، عبدالعلي تالقانی (د انشا ليکونکی ۱۰٦۰ هـ)، عبدالله نيازی(دا کبری دورې عارف چې پر ۱۰۰۰ مړ

he Digital Library

دی او د شيخ سليم چشتی او سيد محمد جونپوری شاګرد)، عبدالله (د پښتو شاعر د ۱۰۰۰ هـ پر شاوخوا)، د هزاره ضلع عبدالرحمن مانکراوی، (په اکبری عصر کښې د حسينه مؤلف)، عبدالرحيمَ مانکر اوی (دا کبر په عصر کښې دردالبدع مولف)، عبدالوهاب مانکراوی (دا کبر په عصر کښې د کنزالدقايق ناظم)، عبدالرسول د سيد علي زوی (پر ۱۱۱۸ هـ کال د مجمع اللغات والاسامولف)، عبدالقادر ختك (د پښتو شاعر او د خوشال خان زوی)، عبدالصمد بدخشی (د ۹۵۰ هـ د شاوخوا شاعر)، عبدالرحيم هوتك کندهاری (د پښتو شاعر)، عبدالرشيد د سلطان حسين زوی (د ۱۱۰۰ هـ پر شاوخوا د رشيد البيان ناظم)، عبدالرزاق کابلی (د شاهجهان د عصر عالم چې پر شرح تجريد محاکمات يې حواشي ليکلې)، عزت هروی (شاعر او د عالمګير د دربار لښکري افسر چې پر ۱۰۸۰ هـ مړ دی)، عشقی کابلی (مير بخشی او د اکبری عصر شاعر چې پر ۹۹۰ هـ مړ دی)، علي خان (د پښتو شاعر)، سيد علي کندوزی د سيد قنبر زوی مشهور په پير بابا (نامتو عارف)، عمر خويشکی (د اکبری عصر له پوهانو او د پير روښان له پيرّوانو څخه و)، عيسی پېښوری د آخوند پنجو شاګرد (د اهل بيت د فضليت د کتاب ليکونکی)، عيسی مشوانی (د پښتو شاعر - ۹۰۰ هـ)، عيسی آخوند زاده کاکړ (د پښتو شاعر د ۱۰۵۰ هـ پر شاوخوا)، مير کلان غزنوی (د اکبر عصر شاعر او امير)، غلام محمد د شير خان ګيګيانی زوی (په پښتو د معراج نامې او سيف الملوك ناظم ۱۱۱۵ هـ)، غيوری کابلي (شاعر او د شهزاده محمد حکيم نوکر)، فخری هروی (شاعر او د همايون د عصر مؤلف)، فصيح هروی (شاعر)، فصيحه هروی (شاعره)، فياض پېښوری (د پښتو شاعر د بهرام او ګل ندامې د کيسې ناظم)، فياض هروي (شاعر ۱۱۰۰هـ) فيروزه کابلی (شاعر او د همايون له درباريانو څخه)، قاسم

The Digital Library

کندهاري (د اکبر د عصر له پوهانو څخه)، شیخ قاسم سلیماني پېښوري (د اکبر د عصر عارف او د تذکرة الاولیاء افغان لیکونکی)، قاسم کاهی کابلی (د اکبر د دربار شاعر)، قاسم شینواري (په پښتو کښې د فواید شریعت لیکونکی پر ۹۷۶ هـ)، قلندر (د پښتو شاعر)، کاظم خان شیدا (د خوشال خان خټك د کورنۍ پښتو شاعر)، کاشفي بدخشي (شاعر - ۱۰۴۲ هـ)، میرزا کامل د احمد بخشي زوی (د بحر الزمان لیکونکی چې پر ۱۱۳۱ کال مړ دی)، ګدایی کابلی (د همایون د عصر شاعر)، لایق بلخي (د توران د پاچا امام قلی خان د دربار شاعر)، شیخ متی کاسي (د اکبر د وختو عارف چې پر ۱۰۱۰ هـ مړ دی)، میر محمد زاهد هروي د قاضي اسلم زوی (د شاهجهان وقایع نویس ۱۰۴۶، د خپل وخت عالم د شرح مواقف د حاشیې، د علامه دواني د شرح تهذیب د حاشیې، د قطب الدین رازی د تصور او تصدیق د حاشیې او د شرح الهیا کل وزواید ثلاثه د حاشیې لیکونکی)، قاضي محمد اسلم هروی (د جهانګیر په عصر کښې د کابل او هند قاضي او د شاهجهان امام و، چې پر ۱۰۶۱ هـ کال په لاهور کښې مړ دی)، شیخ محمد امین بدخشي (عارف او د قطرات او د ضروریه د رسالې لیکونکی چې پر ۱۰۹۸ هـ کال په کشمیر کښې مړ دی)، محمد یوسف کابلی د شاه بیګخان زوی (وژلی شوی شاعر - ۹۸۰ هـ)، شیخ محمد صالح الکوزی کندهاري (د پښتو شاعر - اود ۱۰۱۴ هـ د شاوخوا عالم)، محمد صالح فارغي (د همایون د عصر شاعر)، محمد تقی تالقاني غافل (شاعر چې پر ۱۰۵۰ هـ مړ دي)، ملا محمد هروی (د اکبری عصر عالم - ۹۸۲ هـ)، محمد هاشم کندهاري (د بیرم خان د دربار شاعر)، محمد فاضل بدخشي (د جهانګیر په عصر کښې د عدالت اردو قاضي او د خپل وخت عالم)، محمد امین فوشنجي د قنبر علي زوی (د شیباني د دربار امیر او شاعر)، محمد

طاهر انصاري هروی (د ۱۰۰۰ هـ د شاوخوا شاعر)، محمد د ابراهیم زوی (د سلطان ابراهیم لودي د عصر مورخ او د تاریخ ابراهیم شاهي لیکونکی)، علي محمد مخلص روښاني (۹۵۰ هـ د پښتو شاعر) ملامست زمند (د ۱۰۵۰ کال په شاوخوا کښې په پښتو د سلوك الغزات لیکونکي)، مستفید جګدلکی (د ۱۰۰۰ هـ په شاوخوا کښې د بخارا د پاچا عبدالعزیز خان د دربار شاعر)، مسعود د عبدالله پېښوري زوی (د پښتو شاعر اود ۱۰۰۰ هـ شاوخوا کښې د آدم خان او درخانی د نکل ناظم)، مصطفی خان بدخشي (د عالمګیر د دربار امیر، عالم او د قرآن د آیتو د استخراج په اړه د امارات الکلم د کتاب لیکونکی)، مصطفی د نورمحمد زوی، د عبدالکریم لمسی او د درویزه کړوسی د ۱۱۱۲هـ کال د شاوخوا پښتو لیکونکی)، مظفر الدین بدخشي (د ۹۸۷ هـ شاوخوا شاعر) میر معصوم نومی د سید صفایي زوی د هماغه بابا حسن ابدال له نسله چې په کندهار کښې ښخ دی (د اکبر د دورې شاعر، نظامي افسر، د تاریخ معصومي او طب نامې مولف، د معدن الافکار، حسن، ناز، اکبرنامې او پری صورت ناظم) مغزي هروی (د میرزا کامران د عصر شاعر چې پر ۹۸۲ هـ مړ دی)، معجز کابلی (د عالمګیر د عصر شاعر) مفید بلخی (د ۱۰۵۰ هـ کال په شاوخوا کښې د بخارا د عبدالعزیز خان د دربار شاعر) مقصود هروی (د همایون د دربار خطاط)، تاج محمد ممنون (شاعر پر ۱۱۵۰ هـ مړ دی)، قاسم موجي بدخشي (امیر او د همایون د دربار شاعر، د یوسف، زلیخا او لیلی مجنون ناظم چې پر ۹۷۹ مړ دی)، مهری هروی (د ملکه نورجهان د دربار شاعره) میر کلان هروی (د جهانګیر ښوونکی او نامتو عالم چې پر ۹۸۳هـ مړ دی)، میرك بلخی چې فکري یې تخلص و، (عالم او شاعر و او پر ۱۰۶۱ هـ کال په اصفهان کښې مړ دی)، میرك هروی (د دارا شکوه ښوونکی او د خپل وخت عالم او د

عالمګیر د وخت صدر کل چې پر ۱۰۷۱ هـ مړ دی)، میر دوست کابلی (د اکبری عصر خطاط)، میرزا خان انصاري روښاني (د پښتو شاعر)، میرالهی بدخشی (د کولاب شاعر او قاضي. د ۹۵۰ هـ پر شاوخوا)، میر علي ہروي (نامتو خطاط چې پر ۹٦٦ هـ مړ دی)، میرزا قلي میلي هروي (شاعر چې پر ۹۸۳هـ مړ دی)، ناظم هروي (شاعر- د ۱۰۷۰هـ پر شاوخوا) میر نصر الدین هروي (د عالمګیر او اکبر د دربار له پوهانو څخه)، قاضي نظام غازي خان بدخشی (د شهزاده محمد حکیم او اکبر د دربار امیر او عالم ؤ او د اثبات کلام او بیان ایمان تحقیق او تصدیق د رسالې مولف او د وسایل تصوف او پر شرح عقاید د حاشیې لیکونکی چې پر ۹۹۲ هـ مړ دی)، خواجه نظام الدین احمد هروي د محمد مقیم زوی د اکبر د دربار مورخ او د طبقات اکبري مولف (چې پر ۱۰۰۳ مړ دی)، نظمي بلخي (د ۱۱۰۰ هـ د شاوخوا مولف)، نعمت الله هروي (د خواجه حبیب الله زوی پر ۱۰۱۸ هـ د مخزن افغان لیکونکی)، نعمت الله د رکن الدین تیراهی زوی (د ذکر و فکر د رسالې او رسایل تصوف مولف د ۱۰۰۰ هـ پر شاوخوا)، نېکبخته د پېښور د شمالي د شیخ الله داد مموزي لور (د شیخ قاسم سلیماني مور او پر ۹٦۹هـ کال د ارشاد الفقرا، مولفه)، واصب کندهاری (شاعر پر ۱۰۵۰ هـ په اصفهان کښې مړ دی)، واصل (د ۹۰۰ هـ په شاوخو کښې د پښتو شاعر)، واصل کابلی (شاعر چې پر ۹٦۸ هـ مړ دی)، واقعي هروي (د اکبر ملازم - شاعر)، والای قطغنی (شاعر او د شاهجهان په وخت کښې د کشمیر صوبدار چې پر ۱۰۷۴ هـ مړ دی)، وداعي هروی (د اکبر د وخت شاعر)، وفای هروي (شاعر- چې پر ۱۰۷۴ هـ مړ دی)، وقوفي هروي (د اکبر د عصر شاعر او عالم)، ویسی هروی د ۹۸۳ هـ په شاوخوا کښې شاعر او خطاط)، هدایت بدخشی (د خسرو او شیرین ناظم چې پر ۱۵۰ هـ مړ دی)، همت خان (د شاهجهان د

The Digital Library

دربار له امیرانو او شاعرانو څخه و، چې پر ۱۰۹۲ هـ مړ دی)، همت سیستانی د ملك حمزه زوی د (د شاه جهان د عصر شاعر)، یاري هروي (د ۹۵۰ هـ د شاوخوا شاعر)، یحیی سبزواری (شاعر چې پر ۱۰۳۵ هـ مړ دی)، یکتای بلخی (د بخارا امام قلی خان د دربار شاعر)، یګانه بلخي (د بخارا د امام قلي خان د دربار شاعر)، یونس خیبري (پښتو شاعر). د بابریانو په عصر کښې هندوستان تر یوې سیاسي ادارې لاندې راغلی و، دا مهال د ایران صفوي شهنشاهي بشپړه شوې وه. په تورکیه او عربي هېوادو کښې هم د عثمان د اولادې خلافت د افریقا تر پایه غځېدلی و. په ماوراءالنهر کښې هم شیباني کهاله (۹۰٦ -۱۰۰۷هـ) اقتدار موندلی و چې د دغو څلورو اسلامي شهنشاهیو د هېوادو بریدونه د ګنګا له غاړې د ایتالیا تر کڅو، جبل الطارق او طنجې پورې غځېدلي او د اسیا،اروپا او افریقا پر لویه برخه یې واکمني لرله. دانګلستان، روسیې، هالنډ، پرتګال، هسپانیا د هېوادونو سیاسي او تجارتي اړیکي هم له هند، ایران او عثمانیه سره ټینګ شوي وو، ځکه نو د هند تجارت د پېښور، کابل، بخارا، کندهار، هرات، بخارااو مشهد له لارو له ماوراءالنهر او ایران سره پر مخ لاړ. د شاهجهان په وختو کښې د کابل، کندهار، بلخ او بدخشان له صوبو څخه په دولتي خزانه کښې د دولت د عایداتو له زیاتوالي څخه هم زباتېږي چې تجارت، کرهڼې او صنعت پراختیا موندلې وه، ځکه نو د هند ایران او عثماني امپراتوریو د صنایعو تجارت او علومو د ودې په ډګر کښې یې ښه خدمتونه کړي دي، له ماوراءالنهر ایران او خراسان څخه به تل صنعت کاران هند ته او له هغه ځایه به نوموړیو هېوادو ته تلل راتلل. پوهانو به هم له یوه هېواده بل ته تګ راتګ کاوه. تاجرانو به هم د عثمانیه، ایران او ماوراءالنهر نفیس کالي او مالونه د خراسان له لارې هند ته او هندي مالونه (عقاقیر او دارو درمل) به یې

خراسان ماوراءالنهر، ایران او عثمانیه ته ورل، له دې کبله به تل تجارتي بداېي قافلې د کابل، کندهار او هرات له لارو تېرېدې. امرتسر، پېښور، ملتان، ښکارپور، کابل کندهار، هرات، بخارا، خجند او مشهد د تجارتي لارې ستر مرکزونه وو.

په افغانستان کښې د بابر اولاده:

* ۱- بابر (۹۱۰-۹۳۷ هـ)
* ۲- همايون د بابر زوی (۹۳۷ - ۹۶۳ هـ)
* ۳- کامران د بابر زوی (د ۹۶۰ شاوخوا)
* ۴- جلال الدين محمد اکبر د همايون زوی (۹۶۳ -۱۰۱۴ هـ)
* ۵- محمد حکيم د همايون زوی (د ۹۹۰ هـ شاوخوا)
* ٦- جهانګير د اکبر زوی (۱۰۱۴ - ۱۰۳۷ هـ)
* ۷- شا هجهان د جهانګير زوی (۱۰۳۷ - ۱۰۷٦ هـ)
* ۸- اورنګ زيب د شاهجهان زوی (۱۰٦۸ -۱۱۱۸ هـ)
* ۹- معظم شاه د عالمګير زوی (د ۱۱۱۸-۱۱۲۴ هـ شاوخوا)

(۷۳ نومره نسب پاڼه وګورئ)

مأخذونه:

تاريخ هند د دو لافوز- بابر، د فرانسوی فرنارد ګرو ناد- اقبالنامهٔ جهانګيری- اکبرنامه - تزك جهانګير - منتخب اللباب - عالمګير نامه - طبقات اکبري - رياض السلاطين - دول اسلاميه - ايين اکبري - رقعات عالمګيری - منتخب التواريخ - تزك بابر، فرشته - مجمع السلاطين - کيمبرج هستری آف انډيا ۴ ټوك - دائرة المعارف اسلامي - سيرا لمتاخرين - تاريخ معصومي - مفتاح التواريخ - مخزن افغاني - حيات افغاني - خورشيد جهان تاريخ نظامي ايران - تذکرة الابرا روالاشرار - سلوك الغزات قلمی پښتو-

تاريخ مرصع پښتو - ديوان خوشال خان پښتو - پټه خزانه پښتو - پادشاهنامه- عمل صالح - افغانستان در عصر تيموريان هند د حبيبي - تاريخ هند د سمة ماثرالا مرا- سبجة المر جان فی آثار هندوستان - د کندهار د چهل زينې ډبرليك - تذکرۀ نصر آبادی - ذکر مجدد - تذکرۀ علمای هند - د پښتونخوا هار او بهار- پښتانه شعرا ۲ ټوك - روز روشن - تاريخ افغاني د امام الدين هفت اقليم - شمع انجمن - د راورټي د ګرامر سريزه - شکرستان افغاني - بهارستان افغاني - سکينة الفضلا - قاموس الاعلام ترکي - مذکر احباب قلمي - حجة الاورنګ شاهيه قلمي - آتشکدۀ أذر - ګلشن روه - چراغ انجمن- د خوشال خان د کليات سريزه -تذکره حسيني - کليد افغاني - جامي سرو ازاد - تاريخچهٔ شعر پشتو - تاريخ ادبيات پښتو ۲ ټوك - رياض الشعراء قلمي مراة الخيال - مأثر رحيمی - مخزن اسلام پښتو قلمی - خزينة الاصفيا، د عبدالقادر خان د دېوان مقدمه - تذکرة الخواتين - نفايس الماثر - فوايد الشريعه پښتو خطي.

The Digital Library

شپږمه برخه

روښـــــانـــيـــان

(۹۶۰ - ۱۰۴۷ هـ)

مخکښې مو ولوستل چې د غور د سوريانو دوره چې په ختمه افغان او د افغاني وياړونو ساتندويان وو په بې ساري برم و پرتم تېره شوه، هغه شاهنشاهي د خراسان د لوېديزو سيمو له پايه د ګنګا تر غاړو خپره وه. سر ببره پر دې چې د چنګيز وحشيانه يرغلو دا برم و پرتم و نړاوه، خو افغانانو هغه هېر نه کړ او په هند کښې يې بيا د لوديانو، سوريانو، خلجيانو او نورو د پاچاهۍ په جوړولو لاس پورې کړ. خو د چنګيز او تيمور د اولادې پرله پسې يرغلو پرې نه ښووه چې د افغانستان او خراسان خاوره بيا يو سياسي يووالی ومومي، بابر چې د همهغه توکم (نژاد) سړی و، هماغه يې وکړل چې نيکونو يې کړي وو.

په دې څو پرله پسې پېړيو کښې افغانان تل د خپل تېر برم و پرتم د راګرځولو په تکل کښې وو او په دغو څلورو سوو کالو کښې د افغانانو په غرو کښې داسې مېړونه وزېږېدل چې د افغاني تاريخي برم د راګرځولو له

The Digital Library

پاره يې د خونړيو پاچاهانو له ځواکونو سره ډغرې ووهلې او لکه په دغه تاريخچه کې مو چې څو ځله لوستې دي له تاريخي هڅو سره سره يې د خپلواکۍ بيرغ هم رپاند ساتلی دی.

يو له هغو مېړونيو څخه چې غوښتل يې بيا افغانان خپل تاريخي برم ته ورسېږي بايزيد مشهور په پير روښان و، چې ښکيلاکګرو ورته (پير تاريك) وايه، دا تاريخي زړور او د ښکيلاکي واکمنۍ دښمن شخصيت بايزيد د قاضي عبدالله زوی او د محمد لمسی چې ده ته يې سراج الدين او ميا مسکين روښان هم ويل د انصاري له کورنۍ، په ختيه اورمړ پښتون، پر (۹۳۲هـ) کال د پنجاب په جالندهر کښې د بيبنې (صورت مهند بي بي) له نسه چې د محمد امين لور وه وزېږېد، انصاري کهول لومړی په کندهار او بيا د وزيرستان په کانيګرم کښې اوسېده، محمد امين د بيبنې پلار د عبد الله د نيکه ورور و، دا يو علم پال کهول و.

د روښان د کهاله نيکه محمد انصاري دوولس زامن لرل چې له هغې جملې څخه عبدالله فضيلت درلود، د قضا په چارو بوخت و او لکه چې آخوند درويزه وايي اورمړ او انصاري د وزيرستان له قبيلو څخه دي او ميا روښان له انصاري قبيلې څخه و.

خو د پنجاب د جالندهر په ښار کښې د انصاري په نامه يو کهول و، چې ځانونه يې د ميا روښان اولاده بلله او له دوی سره د (تذکرة الانصار) په نامه يو کتاب و، چې په هغه کښې يې د بايزيد نسب په اووه لسمه پوړۍ ايوب الانصاری د حضرت محمد(ص) يوه صحابي ته رسولی دی.

وايي چې د بايزيد د زېږېدو ځای جلندهر دی او د ده حجره تر اوسه د شيخ احمد غوث ولي مزار ته نژدې شته.

په دې توګه به يې د دغه تاريخي اړيکي له امله انصاري نوم

The Digital Library

مونډلی وي، خو دا چې د وزیرستان په اور مړ قبیلو کښې په دغه نامه کومه قبیله نه شته ځکه نو ښایي وویل شي چې انصاریان له پلار و نیکه را په دې خوا له افغانانو سره اوسېدل، ځکه نو دوی افغانان وو او ټولو خلکو د درناوي په سترګو ورته کتل.

بایزید په کوچینوالي کښې له خپله پلاره او ملا پاینده او ملا سلیمان کالنجري څخه زده کړه وکړه، چې زلمی شو پلار یې وغوښتل چې دی په ملتان کښې د شیخ بهاء الدین زکریا په کورنۍ وګروهوي او د هغوی مرید یې کړي، خو ده چې وده او لارښوونه ارتي نه ګڼله نو د خپل تره زوي خواجه اسمعیل د خداداد زوی او د محمد لمسی ته یې د ارادت لاس وغځاوه، تل یې په زهد، طاعت او تقوی ژوند کاوه او له خپل پلار سره چې ظاهراً قاضي او په دنیوي چارو ککړ و، نه اوسېده.

دا مهال بایزید ځانګړې زیار، زهد، مراقبې او تفکر ته ملا وتړله او لکه چې په خپله وایي یوه شپه یې حضرت خضر پر خوب ولید، تر هغه وروسته د قرب او وصلت مرتبې ته ورسېد او تل یې خپل پلار و مېړیزی ورور شیخ یعقوب د قاضي تابه او بډې اخیستلو څخه منع کول ځکه نو له هغه وخته د ده او د کورنۍ تر منځ اختلاف پیدا شوی و.

بایزید له زلمي تابه په ګرځېدو او د نفس په تزکیه لاس پورې کړی و، تر کندهار، هند، ماوراء النهر او سمرقند پورې ولاړ د پوهانو او د نظر له خاوندانو سره یې وکتل او دودیز عربي او دیني علوم یې زده کړل، په ادب، فسلفه او تصوف کښې یې مطا لعات وکړل او د آفاق او نفس په سیر بوخت شو، د دغه سفر په ترڅ کښې یې د آسانو سوداګري کوله، چې له سمرقنده به یې ښه اسان رانیول او هند ته به یې بوتلل، د ده دا سفرونه له پېنځلس کلنۍ څخه د (۹۴۷هـ) کال په شاوخوا کښې پیل او د (۹۶۰هـ) کال

تر حدودو پورې جاري وو.

دا وخت د بایزید علمي او فکري شخصیت ښه پوخ او د مورخانو په وینا فکور، عالم، فصیح او فاضل سړی ځنې جوړ شو. آخوند درویزه د ده مخالف هم وایي چې هوښیار، پوه او فیلسوف سړی و. د دبستان مذاهب مؤلف لیکي چې: په کابل کښې یې د میرزا محمد حکیم په دربار کښې ډېر پوهان او علماء په مناظره کښې پړه کړل او پر هغو یې بری وموند، ځکه نو میرزا دی په درنښت بیرته واستاوه او حتی وایي چې: په خپله میرزا، د کابل قاضي خان، حکیم خان او میرزا اتالیق ټول پر ده معتقد شول.

بایزید د خپلو سفر و او ګرځېدو پر مهال په ټوله پښتونخوا کښې د افغانانو د مظلومیت حال ته خیر شو، دا چې د لودیانو او سوریانو تېر برم هم ور په یاد و، نو دا فکر ورته پیدا شو چې دا بې وزلي او تیت پرك خلك پر خپل ملي مرکز راغونډ او په دوی کښې داسې حکومت منځته راولي چې د دوی خپل وي او د پښتنو د آزادۍ نغری بیا تود شي.

څرګنده ده چې د بایزید دا سیاسي نظریه د هند د تیموریانو د هغو ظلمونو او ستمو مخالفت و، چې دوی پر افغانانو کول او په لیدو یې هر حساس پښتون د مخنیوي له پاره پارېده.

په دې اړه دوه تاریخي سندونه را سره شته: لومړی داچې بایزید د مشهور بیرم خان د حمکرانۍ پر مهال د (۹۶۰هـ) کال پر شاوخوا کندهار ته راغلی و او تجارتي مالونه یې راوړي وو لکه په خپله چې ده لیکلی دي: د هغې سیمې حکمران پر کاروانیانو ستم وکړ، د داد خواهۍ پر و خت یې دی هم دربار ته بوت، دی داسې لیکي:

"...په هغه وخت کښې په کندهار کښې یو میر و، چې بیرمخان نومېد، پر هغه کاروان یې ظلم وکړ... نو د ځینو وارثان ټول شول د فریاد

The Digital Library

کولو له پاره او زه یې هم له خان سره رهي کړه ... ما وویل حق تعالی به امیران او پاچاهان له عدله وپوښتي او د چا یو ذره عمل نه ضایع کوي، ورښيي یې چې: (فمن یعمل مثقال ذره خیراً یره) نو بیرمخان ومنل او ویې ویل: چې د حال پوښتنه کوم، خو پوښننه یې و نه کړه د وعدې مخالفت وشو..."

له دغه بیانه چې په خپله د بایزید په قلم نقل شوی دی داسې څرګندېږي چې دا ستر افغاني شخصیت پر خپل قوم باندې د پردیو حاکمانو د مظالمو له لیدو څخه متاثر، ظالمان یې د عدالت او نیاو خوا ته وبلل.

دا شریف احساس چې د پردیو د زړه خوروونکیو ستمو له لیدو څخه بې شکه هر غیرتمن سړی ته پیدا کېږي، د روښاني نهضت اساسي سبب شو چې تذکرة الانصار یې داسې بیانوي: "حکام مغل ظلم و ستم خود را بر افغانان بغایت رسانیدند، تا جاییکه روزی یکی ازین ستم کاران یکنفر زن افغان را ماخوذ داشت و موی سر او را با سنګ آسیا فرو بست، چون پله سنګ بدوران آمدی، آنزن نیز با آن ګشتی و فریاد برآوردی..." بایزید چې سپیڅلی پښتون و، د دغه ویرجن حالت په لیدو به سره پېچیل کېده او له ګوګله به یې دود خوت، څکه یې نو د هغه ظلم او ستم مخنیوی خپله ملي وجیبه وګڼله او د روحي سیر او مراقبت په عالم کښې یې، د سرور کائناتﷺ حضور ته عرض وکړ او اجازه یې وغوښتله چې قوم د مظلومانو د څور او ستم د مخنیوي له پاره هڅه وکړي او ظلم پای ته ورسوي تر هغه وروسته چې یې داسې یوه روحاني اجازه واخیستله نو په مېړانه د پردیو ستمګرانو مخې ته ودرېد او د افغانانو په غرو کښې یې یو داسې نهضت منځته راووست چې په هغه کښې د جالندهر یو نومیالي بزرګ شیخ غوث الکرام داسې وویل: "په غرو کښې بیا یو اور بل شو، خدای دې عاقبت په خیر

کړي".

بایزید د عدل او انصاف پر لار قدم کښېښوو او له هغې سیمې یې د څور او ستم کرغېړنې نخښې ورکې کړې.

کېدای شي دا بیان کټ مټ رېښتیا نه وي، خو دا حقیقت ترې لاس ته راځي چې د روښان نهضت علت العلل پر افغان اولس د پردیو د ستمګارۍ مخنیوی و، چې هغه وخت د (ډهلي) د تیموري حکمدارانو د ظلم په اور سوزېدل، ظلم او ناروا تل په خپل مقابل کښې اتلان زېږوي او ننګیالي مېړونه پاروي.

پورتنۍ لیکې د بایزید روښان د آزادۍ غوښتلو نظریه او د سیاسي عقیدې فلسفه څرګندوي. خو هغه یو داسې مرکب کرکټر (سجیه) درلوده چې ظاهراً یې په نورو سیاسي آزادۍ غوښتونکیو او جنګیالیو کښې څرګندېدای نه شي، څکه دی په عین حال کښې چې یو ننګیالی جګړن و، د تصوف، صلاح، تقوا، د نفس د ریاضت او ارشاد څښتن هم و چې ده د شخصیت دا اړخ په لاندې لیکو کښې د هغه له تعلیل سره لوستل کېدای شي:

د چنګیز او تیمور تر هولناك چور او چپاو وروسته د منځنۍ آسیا په هېوادو کښې له مصره تر هنده د ګوښه ګیرۍ، له ژوندانه څخه د تېښتې او منفي خوا ته د رجوع یو راز احساس پیدا شو چې د هماغو تاریخي بدمرغیو وینو تویولو منطقي نتیجه وه. خلك چې له مادي آلامو څخه ستړي شوي وو، نو د تصوف او روحانیت په لمنه یې منګولې ولګولې او د جګړې، چور او چپاو له ډګره یې د خانقاه ګوټ ته پناه یووړه، د تصوف مسلك بشپړ دود شو، په ټوله منځنۍ آسیا کښې د اولیاء الله او د تصوف د خاوندانو ګاونډ د ویرژړلیو او ربړېدلیو له پاره یوازینی ټاتوبی ګڼل کېده، ان تر

The Digital Library

(۹۰۰هـ) کال وروسته په اردبيل کښې د شيخ صفی الدين د خانقاه له ګوټ ځخه يوه لويه شاهشناهي هم را ولاړه شوه، چې وروسته يې پر ټول ايران او د افغاني خاورې پر يوې برخې واکمني درلوده او د دربار رسمي کسان د (صوفي) په لقب ياد شول، په بخارا او هرات کښې د تيمور د اولادې حکومت هم پر روحي بنسټو ولاړونو د دوي په دربار کښې د نقشبنديانو اغېزه دومره ډېره وه چې د تيمور غوندې مدهش خونخوار هم ورته پر ګونډو شوی او تندی يې پر ډرشل ورته ايښي و، د هرات په دربار کښې مولانا جامي دومره اغېزه درلوده چې د هغه ستر وزير امير علي شير نوايي د ده په ستاينه کښې شعرونه ويل او له هند نه نامتو وزير محمد کاونان د خپل نياز عرض د ده حضور ته ليکه.

دا مهال د پښتونخوا سيمه چې دهند، ايران او ماوراء النهر تر منځ پرته وه له دې روحي هڅې ځخه خورا زياته متاثره شوې وه، تر دې چې يوه سړی د پير بابا په نامه له اټکه تر کابله د خلکو د ځان او مال څښتن و او ټول يې تر روحي اغېزې لاندې وو.

دا نافذ او جذاب شخصيت سيد علي نومېده چې د قنبر علي زوی، د سيد احمد نور لمسی، د سيد يوسف نور کړوسی او د محمد نور کوسی و، چې د محمد زوی د تيمور لنګ له خوريانو ځخه و، د ده اولادې د تيموري پاچاهانو له دربارو سره اړه دلوده، د سيد علي پلار له ترمذه کندوز ته راغی، له هغه ځايه د بابر له زوی همايون سره هند ته لاړ، په خپله سيد علي په مانك پور کښې د شيخ سالار رومي لاس ونيو او استفاضه يې ځنې وکړه، بيا له هغه ځايه د افغانانو غرو رغو ته راغی سيد علي تر (۹۰۰هـ) وروسته زېږېدلی او د (۹٦۲هـ) کال په شاخوا کښې د اټك او خيبر تر منځ سيمو ته راغی، ده چې د تيمور له کهاله سره خپلوي او اړه درلوده او له بلې

خوا هاغه مهال د همدغو سيمو خلکو د ډهلي تيموري امپراتورۍ ته تل سر درد پيدا کاوه، نو ځکه نومړيو سيمو ته د سيد علي راتګ له سياسي مقاصدو ځخه تش نه و او دغو سيمو ته له رارسېدو سره يې د يوسفزيو د دولت زيږېديوه لوی ملك لور وکړه او د روحاني اغېزې د خپرولو په ترڅ کښې يې خپل سياسي مقصدونه هم پر مخ بيول. غوښتل يې چې په دې سيمو کښې د دين او روحانيت له لارې د ډهلي د دبار مخالفان نوم بدي او ناکام کړي او د ډهلي د دبار اطاعت ته د خلکو پاملرنه وګرځوي.

سيد علي دلته مخلص او خونګرمه مريدان پيدا کړل، په پښتونخوا کښې تر دېرشو کالو پورې بې تاج و تخته پاچا و، چې د ډهلي له درباره مادي او مانيزه مرسته ورسره کېده، د ده سياسي او روحاني مرکز په بونير غرو (پاچاکلی) و، چې همدلته پر (۹۹۱هـ) کال مړ شو. دغه سيد او د ده مريدانو په خپل ټول ځواك د بايزيد روښان تکفير او ناکامۍ ته ملا وتړله او په راز راز وسيلو يې (لکه پروپاګند، وعظ او خطابه او د کتابو د ليکلو له لارې) په پير روښان پورې د الحاد، بد بينۍ او بد اعتقادۍ تور وتاړه.

اوس به تاسې ته روښانه شوې وي چې د بايزيد د پيدايښت په چاپېريال کښې تصوف او طريقت، پيرۍ او مريدۍ څومره غښتلې اغېزه او دود درلود؟ ځکه نو که بايزيد له آره يو آزادی غوښتونکی جنګيالی مېړه هم و، خو د خپل چاپېريال د غوښتنې له مخې اړ و، چې خپله متاع د بازاريانو له غوښتنې سره سمه عرضه کړي او خپل ځان په هغه وسله سمبال کړی چې د ده د سياسي مخالفانو په لاس کښې وه او د ده پر ضد يې کاروله ځکه نو بايزيد تصوف، رياضت او طريقت له خپل سياسي مسلك سره چې په دې سيمو کښې يې تاريخي وياړنې، افغاني پاچاهۍ منځته راوړل او سياسي مرکز جوړول و، ګډ او يو داسې عجيب مرکب يې ځنې جوړ کړ چې

The Digital Library

هم یې روحي اړخ لاره او هم مادي.

تر دغه ځایه مو د روښاني نهضت د پیدایښت او د دغو خلکو د تفکر بڼه او د دوی د تحریك د فلسفې په شاوخوا کښې لنډ څه وویل.

اوس د دغه ستر مېړه په اړه پاتې ټکي لیکو:

بایزید په زلیمتابه کښې شمسیه نومي لودي پېغله په جالندهر کښې په نکاح کړه، چې د دې افغاني مېرمنې له نسه یې نومیالي اولادونه وزیږېدل، لکه د دبستان مذاهب مؤلف چې لیکي: د ۹۶۹هـ کال تر شاوخوا پورې د بایزید شهرت هرې خوا ته خپور او ډېر ځواك یې وموند افغانانو د ده بلنه ومنله او د ده مرستې ته یې ملا وتړله.

بایزید لومړی د دَبار او سیاست د واکمنو په لارښوونه لاس پورې کړ او د (صراط التوحید) د کوچنۍ رسالې له لارې یې خپل نصیحتونه دوی ته ورسول، دهٔ مخلص مریدان هم پیدا کړل چې د مړینې تر وخته پورې یې د ده ملا وتړله، د هغو نومیالیو له ډلې څخه دا درې ادیبان او د پښتو ژبې شاعران ورونه هم وو:

ارزاني (په پښتو شعر کښې د دیوان خاوند) ملا محمد عمر او ملا علي محمد مخلص (په پښتو شعر دیوان څښتن).

همدارنګه ملا پاینده، ملا دولت اکوزی، دولت لوڼ او میرزا انصاری (دواړه په پښتو کښې د دیوان خاوندان) هم د ده ملګري وو.

بایزید چې د پردیو پر خلاف د جهاد اعلان وکړ او په کابل او پېښور کښې یې د ډهلي حکمرانان ووېرول، نو ځکه دولتیانو او د دوی طرفدارانو چې د سید علي (پیر بابا) له تابعانو څخه وو، د ننګرهاری آخون درویزه په روحاني او علمي لارښوونه (چې په فارسي کښې د تذکرة الابرار او په پښتو کښې د مخزن الاسلام مؤلف ؤ.) د بایزید مخې ته ودرېدل. د ده

مرکز دا وخت د پېښور په شمال کښې د اشنغر د (کله دیر) د ملا دولت مومند په کاله کښې و او د (۹۷۰هـ) په شاوخوا کښې د کابل صوبدار محسن خان د سید علي او اخون درویزه په مرسته پرده باندې لښکر را ویوست، دی د هغه د لښکریانو لاس ته ورغی او کابل ته یې بوت، هلته یې په سیاه چال کښې بندي کړ چې دغو پېښو د (۹۸۰هـ) تر شاوخوا پورې دوام وموند.

بایزید په کابل کښې لږ موده بندي و، لکه د مخه چې مو ولوستل د ده استعداد او د استدلال نفوذ او قوت د کابل پر حکمران اغېزه وکړه نو دی یې په ډېر درناوي له بنده خوشې کړ، ننګرهار ته ورسېد، هلته یې بیا د آزادۍ غوښتلو غږ پورته او خپل سیاسي مرکز یې د "تیرا" په غرو کښې وټاکه او له همدغه ځایه بایزید روښان د "افغاني حکومت" بیرغ ورپاوه.

د (۹۸۰ هـ) کال په شاوخوا کښې اپریدیو، اورکزیو او اتمانخېلو زړوورو قبیلو د ده اطاعت ومانه، خو ځنګه چې د هغه ځای زیاترو خلکو د دښمنانو ملا تړلې وه، نو روښان د هغو ملګرتیا و نه منله او ویې ویل: "دا چې ستاسې زړونه له مغول سره تړلي دي نو د پښتنو منځته راتلای نه شي" خو هغو خلکو خپل لاسونه وتړل او د پښېمانۍ او توبې په توګه د ده حضور ته ورغلل، بایزید د دوی لوی ګناهکاران ووژل او پاتې دیارلس سوه تنه یې له تیرا څخه وشړل، په دې توګه یې هغه سیمه د پردیو له اغېزې او اثارو څخه بیخې پاکه کړه، خو د پردیو لښکر د تیرا پر "چوری" نومي ځای یرغل وکړ، د بایزید پیروانو چې وسله نه درلوده د هغو تېرونلانو په واسطه یې د یرغلګرو مخه ونیوله چې د تیرا په غرو کښې شنه کېږي، هغوی ته یې سخته ماته ورکړه او د جګړې د روښان د ملګریو په ګټه پای وموند.

درویزه وایي چې: بایزید له تیرا څخه د پردې پرستو، ریښې بیخې

The Digital Library

وايستلې، دوه سوه او شل تنه يې تر تېره تيغ تېر کړل، پاتې کسان د ملي کسات (انتقام) له ډاره ننګرهار ته وتښتېدل، تر هغې وروسته بايزيد د ملي قواو په ترتيب او تجهيز لاس پورې کړ او د افغانانو د تېر عظمت درس يې د غرو د ننګياليو اوسېدونکيو غوږو ته ورساوه.

د غرو زرګونه پلي او سپاره ننګيالي يې خدمت ته راغلل او د ډيلي حکومت د راپرځولو له پاره يې د ملي جهاد غږ پورته کړ، دوی د بايزيد په مشرۍ له تېرا څخه د ننګرهار خواته راوخوځېدل او په "برو" نومي ځای کښې کښېنته شول، د کابل صوبدار محسن خان چې په دغه غورځنګ خبر و، له خورا لوی لښکر سره يې په جلال اباد کښې انتظار يوست، د دوی مخې ته راووت او د شينوارو په "تورراغه" نومي ځای کښې دواړه قوتونه سره مخامخ شول، سخته جګړه ونښته او د غرو ننګيالي پښتانه چې په تشو لاسو د غرو په لرګيو او نيانو يې جنګ کاوه، د ډهلي د پاچهۍ د وسله والو قواو په مقابل کښې چې د اور او اوسپنې وسلې يې درلودلې په ډېره مېړانه ودرېدل، بايزيد هم د خپلو پيروانو په منځ کښې په ډېره مېړانه جنګېده، چې د همدې خونړۍ جګړې په ډګر کښې ووژل شو، ځکه نو د تور راغه جګړه د يرغلګرو لښکرو په ګټه پای ته ورسېده.

په ثقه وينا دی د (۹۸۸هـ) کال په شاوخوا کښې پر ٥٦ کلنۍ شهيد شوی، هديره يې معلومه نه ده خو زيات اټکل دادی چې په وزيرستان کښې به وي.

بايزيد پر خپل ژوندانه د پرديو په مقابل کښې د ملي غورځنګ بنسټ کښېښوو او هم يې خلکو ته د افغاني حکومت جوړولو فکر پيدا کړ، دی پر سياسي او جګړه ييزو اثارو سربېره ادبي او علمي اثار هم لري، ده په څلورو پښتو، عربي فارسي او هندي ژبو خبرې او ليکنې کړای

شوې، خو په پښتو ژبه کښې د فني نثر ليکنې يعنې د مسجع نثر د ادبي مکتب بنسټ ايښوونکی ګڼل کېږي، چې خپل مشهور کتاب "خيرالبيان" يې په همدغه نيم منظوم نثر چې فارسي، عربي او هندي ژباړې هم لري ليکلی دی. د ده نور کتابونه يو "صراط التوحيد" نومېږي چې پر (۹۷۸هـ) کال يې په هغه کښې د خپل ژوندانه پيښې، د کامل پير د لټولو موضوع او نصيحتونه ليکلي دي، بل کتاب يې حالنامه د خپل ژوندانه بيان دی چې د دبستان مولف له هغه څخه روايت کوي او څلورم کتاب يې د مقصود المومنين په نامه په عربي ژبه ليکلی چې د اخلاقو، تصوف او طريقت بحثونه لري. د دغو څلورو کتابو پر ليکلو سربېره يې د پښتو ژبې له پاره يو ليکدود هم جوړ کړی، چې د دې ژبې مخصوص آوازونه يې په خاصو اشکالو کښې ښوولی وو.

بايزيد په ناکامۍ له دنيا تېر شو، خو د ازادۍ غوښتلو هغه تخم چې ده په پښتونخوا کښې وکاره تر هغه وروسته شين شو، چې ثمره يې په پښتونخوا کښې د ازادۍ غوښتلو پرله پسې غورځنګونه وو لکه په کندهار کښې د ميرويس غورځنګ او په خيبر کښې د خوشال او ايمل هڅې او بالاخره د احمد شاهي لويي شهنشاهی جوړېدل، درويزه د پير روښان مخالف قطب دده او د ده د اولادې دا سياسي مفکوره داسې بيانوي چې دوی وويل: "لښکرې راغونډوو، هندوستان نيسو، عامه ناره يې وکړه چې افغان سپاره دې پر موږ راټول شي، د اکبر پاچا خزانې زموږ دي."

له بايزيد څخه دوې سلسلې ماثر پاتې دي: ادبي ماثر چې **يوې د لې پښتو** ليکونکيو لکه: درويزه، بابو جان، قاسم او نورو د ده په نيم منظوم مسجع سبك د نثر کتابونه وليکل.

دويم د ده حربي او سياسي ماثر دي چې د ده اولادې د پښتونخوا

The Digital Library

په غرو کښې تر یوې پېرۍ پورې د خپلواکۍ غوښتلو جګړه پر مخ بوتله. بایزید حنفي مذهبه مسلمان او فقیه متصوف دی چې په تصوف کښې د اهل شهود مذهب ملاتړی دی، خو کله کله د سکر په حالت کښې د وجودیه په مشرب هم ګروهېږي، په تصوف او طریقت کښې یې خپلو مریدانو ته اته پوړه ټاکلي دي: شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، او سکونت چې دا هره یوه مرتبه خاص دودونه او آداب لري.

خو د ده سیاسي پروګرام پر څو بنسټو ولاړ ؤ:

لومړی: د **افغانانو** آزادي تر دغه پلان لاندې:

الف: د پردیو د ظلم پر پروړاندې د کرکې را وېښول.

ب: له حکومتیانو لرې والی چې په انګریزي یې (نن کواپریشن) بولي.

ج: د آزادۍ لپاره جګړه اوسربښندنه.

دویم: له اداري او مالي جنګي تشکیلاتو سره افغاني حکومت جوړول.

درېیم: په هند کښې دافغاني شهنشاهۍ او د غوریانو، خلجیانو او لودیانو د ویاړونو راژوندي کول.

دا وو د روښاني غورځنګ د بنسټ اېښوونکي د څرنګوالي لنډیځ، اوس به وګورو چې تر ده ورسته څه پېښې شول؟ او دا ملي غورځنګ کوم ځای ته ورسېد؟

د خپلواکۍ او آزادۍ غوښتنې هغه اور چې بایزید د پښتونخوا د غرو د خلکو په سینو کښې بل کړی و، د ده په وژلو مړ نه شو، تره ده ورسته یې زوی جلال الدین پر ځلوازلس کلنۍ د پلار د روحاني او سیاسي ریاست په ګدۍ کښېناست، د ډهلي د دربار مورخانو ابو الفضل، خافي خان

او بداوني د ده نوم (جلاله) لیکې او وایي چې: د هند پاچا اکبر دی په دغه نامه باله:

د دبستان لیکونکی وایي چې: جلال الدین په خپلواکۍ حکومت کاوه، عادل او ضابط سړی و.

پر (۹۸۹هـ) کال چې اکبر له کابله هند ته راغی جلال الدین په افغاني قبیلو کښې په مشرتابه او ریاست پېژندل شوی و، اکبر هغه خپل حضور ته ور وغوښت، خو جلال الدین چې د درباریانو په دروه او چل خبر و، نو د خپل پلار مرکز ته چې د تیرا په غرو کښې و- ولاړ او پښتنانه قبایل چې د پېښور د تیولدار سید حامد بخاري له خوره ډېر په تنګ شوي وو، پر جلال الدین را غونډ شول، او نوموړی ستمګر حکمران یې وواژه، دا وخت د پښتنو ملي قوت د جلال الدین تر بیرغ لاندی شلو زرو پلیو او پنځوزرو سپرو ته رسېده.

جلال الدین اکبر چې د هند لوی امپراتور ؤ، د روحاني جلال الدین ورکاوي ته یې کلکه ملا وتړله، پر (۹۹۴هـ) کال یې کنورمان سنګ او خواجه شمس الدین خافی له یوه ویروونکي پوځي ځواك سره د جلال الدین د مخنیوي له پاره وګمارل، ځنګه چې د پېښور شاوخوا د یوسفزیو، غوریه خېلو او مومندو قبیلې ټولې ورسره وې نو د خیبر په غرو کښې خورا سختې جګړې وشوې، د اکبر لښکرو د جلال الدین په وړاندې څه ونه شو کړی، نو ځکه اکبر یو بل لوی لښکر له زین خان کوکه سره د خپل مخکیني لښکر د ملاتړ له پاره را واستاوه او جګړه لا توده شوه.

دا جګړه تر دا بل کاله جاري وه، خو چې د اکبر دویم لښکر هم د افغانانو پر وړاندې څه ونه شو کړی، نو اکبر هغه وترټل او پر (۹۹۵هـ) کال یې بل نوی لښکر راوستاوه، چې د بنګښ له لارې یې د جلال الدین پر

The Digital Library

ځواکونو يرغل وکړ، امان سنکهه د بګرام له خوا راووت، خو جلال الدين له خپلو زرو سپرو او پينځلسو زرو پليو سره پر هغه بريد وکړ په دې جګړه کښې د ده يو نيم زر تنه ووژل شول او اکبري تيري کوونکيو ته هم درانه تلفات ورسېدل.

تر دې جګړې وروسته جلال الدين وکړی شول چې خپل نفوذ له تيرا څخه د پېښور شمال خوا ته په اشنغر کښې خپور او زړور يوسفزيان هم د خان ملګري کړي، هغه وو چې پر (۹۹۶هـ) کال يې د همدغو قبيلو په ملاتړ د سوات او باجوړ په سيمو کښې د آزادی غوښتنې غږ پورته کړ، د اکبر له لښکرو سره ونښت او بېرته تيرا ته راغی د اکبر دربار چې د دغه سرسخته رقيب د مقاومت له لاسه په تنګ شوی و، يو درونډ لښکر يې د صادق خان په مشرتابه د تيرا خوا ته وګماره چې د جلال الدين د لښکر پر زړه حمله وکړي، صادق د اپريديو او اورکزيو پر قبيلو بريالی شو، او د جلال الدين د لښکريو مشر ملا ابراهيم يې ونيو خو په خپله جلال الدين د (وزيرستان) د کاڼي ګورم له لارې پر شاشو او د اکبر لښکرې تر ډېري مودې د يوسفزيو له هغو قبيلو سره په جګړه اخته وې چې له جلالي آزادي پالو سره يې لار او اړه درلوده (۹۹۶هـ).

دا وار جلال الدين څلور کاله د جګړې له ډګره مخ واړاوه، وايي چې توران ته لاړ، خو پر (۱۰۰۰هـ) کال يې بيا افغاني ځواکونه را غونډ کړل، د اکبر له درباره هم ازمايلي شوي کسان لکه جعفر بيګ اصف خان او قاسم خان کابلي د ده د له منځه وړلو له پاره غوره شول او تر سختو جګړو وروسته د جلال الدين د کهاله څو تنه چې د ده ورور وحدت علي (واحد علي) هم پکښې و د اصف خان لاس ته ورغلل.

د ډيلي دربار چې د جګړې په ډګر کښې د لښکر په زور جلال الدين

مات نه کړی شو نو دروه او رشوت ورکولو ته يې لاس واچاوه او په خپله په افغانانو کښې يې بېلتون راوست، د دروه او رشوة له لارې يې د قبيلو ځينې مشران د ده پرضد وپارول، چې له هغې جملې څخه ملك حمزه اکوزه په (سرکاوی) کښې لاس ور واچاوه خو جلال الدين هغه مات کړ بيا يې د ميني) په شاو خوا کښې هم حمزه پرشاو شاړه خو ترهغه وروسته اکبر د حمزه د ملاتړ له پاره خورا زيات لښکر را واستاوه او ټول اکبري ځواکونه پر جلال الدين راتوی شول، په دې جګړه کښې د لازاکو په (توره بيله) کښې د جلال الدين دوه نوميالي ورونه شيخ عمر او خير الدين ووژل او بل ورور نور الدين يې مومندانو وواژه، خو په خپله جلال الدين چې ډېر تلفات وررسېدلي وو د تيرا غرو ته لاړ.

جلال الدين د غزني اتل په توګه په تيرا کښې په مهمو لښکري سمبالتياو لاس پورې کړ زيات قبايل يې له خان سره يو کړل او تر (۱۰۰۱هـ) کال پورې يې د **افغانانو**تازه دمه لښکر پر خپل ملي مرکز را غونډ کي، شهنشاه اکبر هم دا پلا خپل ډېر مهم او لومړۍ درجه سري د ده د مخنيوي له پاره وګمارل چې مشري يې زين خان کوکه او شيخ فيضي کوله وروسته تر هغه راجه بيربل، سعيد خان او نور يې له لسو زرو سپرو سره ملاتړ ته راغلل، خو جلال الدين په کلکه هغه لښکر مات او پر شا يې وشاړه د ډهلي دربار د مورخانو په وينا له اکبري څلوېښت يا پنځوس زريز سپاره لښکر څخه د زورورو افغانانو له لاسه يو هم ژوندی پاتې نه شو او ان د اکبر د شهنشاهۍ د ټولو چارو چلوونکی او د اکبري دربار مهم غړی راجه بيربل هم په دې لاره کښې سر بايلوو، زين خان کوکه له نورو اميرانو سره د اټك خوا ته وتښتيد او نور نو له هغې جګړې څخه يو تن هم نجات و نه موند.

د اکبر دربار ته چې ددې تباهۍ خبر ورغی نور راجه تودرمل يې

Digital Library

د قاسم خان کابلي په مرسته د لار ښارنې له پاره واستاوه او دغو داړو په ډېر چل و ول زين خان کابل ته ورسولای شو.

تر هغه وروسته د ډهلي قواو تر څو کالو پورې د قاسم خان کابلي په مرسته د کابل او پېښور لاره ساتله، پر (۱۰۰۴هـ) کال بيا جلال الدين پر اکبري لښکر برغل وکړ، اکبر پاچا قليچ خان د ده د مخنيوی له پاره راولېږه، دا سړی هم تر څو جګړو وروسته د کابل خوا ته پر شا شو، جلال الدين د پښتونخوا پر ټولو غرو له خيبره تر تيرا پورې او د کابل پر جنوبي سيمو تر غزني پورې بريالی شو، پر (۱۰۰۷ هـ) کال يې د غزني ښار هم د تورې په زور د پرديو له منګولو څخه ونيو او تر دوو کالو يې پر هغو سيمو حکومت کاوه، پر (۱۰۰۹ هـ) کال د اکبر لښکر د غزني په ښار کښې اووه ورځې له ده سره جګړه وکړه او هم يې د هغه ډېر خلك د ده پر وړاندې وپارول، د جګړې په يوه ډګر کښې شادمان نومي دی ټپي کړ، تر هغه وروسته جلال الدين رباط غره ته ولاړ، شريف خان اتکه چې د ډهلي د دربار حکمران و، مراد بيګ نومي په ده پسې وګماره، نوموړي هغه نوميالی اتل ټپي چې څو کاله يې د آزادۍ له پاره د پرديو پر وړاندې جګړه کړې وه شهيد کړ، د ده له شوره ډك سر يې اکبري دربار ته واستاوه، حال دا چې د ده ورور کمال الدين لا د مخه په اکبري زندان کښې مړ شوی و.

هغسې چې د ډهلي دربار ګڼلې وه، د جلال الدين په وژلو هم د افغانانو د آزادۍ غوښتنې تلوسه مړه نه شوه، تر ده وروسته يې وراره احداد د عمر شيخ زوی او د بايزيد لمسی چې د ده زوم و د خپلواکۍ غوښتنې بيرغ پر خپلو اوږو پورته کړ، د خپلو غير تمنو اسلافو په شان يې هنګامه توده وساتله. د دبستان ليکونکي په وينا احداد يو عادل، ضابط او د خپل نيکه پر ايين ثابت ولاړ سړی و، افغاني قبايل ورباندې راغونډ شول او د

(۱۰۲۰ هـ) کال پر صفره يې جهانګيري حکمران چې معزالملك بخشي نومېد مات کړ، د کابل پر ښار يې برید وکړ، په دې جګړه کښې د احداد يو ملګری "بارکی" نومي مړ شو، د ډهلي لښکر د ناد علي ميداني او قليچ خان په ملاتړ له ده سره جګړه کوله چې احداد په دې جګړه کښې پر شا شو.

څلور کاله وروسته احداد د کابل جنوبي خواته په څرخ کښې بيا نوی لښکر راټول کړ او جهانګير پر (۱۰۲۴ هـ) کال يو دروند او لوی لښکر د ده د مخنيوي له پاره وګماره، په خپله جهانګير په دې اړه داسې وايي:

"احداد افغان که از دير باز در کوهستان کابل در مقام سرکشی وفتنه انګيزيست وبسياری از افغانان آن سرحد بروجمع شده اند و از زمان والد برزګوارم (اکبر) تا حال که سال دهم جلوس من است افواج هميشه بر سر او تعيين بوده اند رفته رفته شکستها خوردو پريشانيها کشيد" (تزوك جهانګيری).

د څرخ ډاګونه د دواړو خواوو په وينو سره شول، تر سختې جګړې وروسته د جهانګير لښکرو بری وموند، د احداد ملګري د درو زريو تنو په شاوخوا کښې ووژل شول، خو په خپله احداد د کندهار خواته ولاړ او د لښکر مرکز يې د دښمن د لښکريانو لاس ته ورغی.

پر (۱۰۲۸ هـ) کال احداد د جهانګيري لښکر په مقابل کښې بيا لښکر راغونډ کړ، د ډهلي د نامتو درباري مهابت خان زوی امان الله خان ورسره وجنګېد، په دې جګړه کښې هم د احداد لښکر ته سخت تاوان ورسېد او غرو ته وخوت.

د ډهلي له لښکر سره د احداد وروستنۍ جګړه پر (۱۰۳۵ هـ) کال په تيرا کښې وشوه، د جهانګير لښکر د افغانانو له ملي قواو سره ونښت، په کابل کښې د جهانګير حکمران د خواجه ابوالحسن زوی ظفر خان خورا

...e Digital Library

لوی لښکر را ویوست او په تیرا کښې یې پر نواغر (لواغر) چې د احداد د ملي ریاست مرکز و، یرغل وکړ؛ احداد یې هلته کلا بند کړ، یو شپه چې تیرې کوونکي پر کلا وروختل احداد د ژوند تر پایه په مېړانه ورسره وجنګېد او په مېړانه یې خپل سر د ملي خپلواکۍ ساتنې په لار کښې کښېښود، شهید شو - د ډهلي لښکرو د ده سر پرې کړ او د احمد بیګ د زوی افتخار خان په لاس یې د جهانګیر دربار ته سوغات واستاوه، هغه ورځ چې د شهنشاه دربار ته د دغه افغان ملي مجاهد سر ورسېد نو جهانګیر خدای ته پر سجده شو، شکر یې ویوست او د خوښۍ د ساز او سرود د ږغولو امر یې وکړ - خو:

سر کشته بر نیزه میز د نفس
که معراج مردان همینست و بس

احداد د روښان په کورنۍ کښې تر جلال الدین وروسته خورا زړور او لوی سړی و، صمصام الدوله د ده په اړه لیکي:

"شجاعت و بهادری او ناسخ داستان رستم و افراسیاب است، و در عهد جهانگیر آویزش های سخت باعسا کر پادشاهی نمود" (مآثرالامرا).

د دبستان لیکونکی د ده اخلاقي ښېګڼې داسې ښیي:

"احداد مر دی بود عادل و ضابط... و حق مردم رسانیدی و خمس اموال که از جهاد بهم رسیدی، در بیت المال داشتی وآنرا نیز بغا زیان رسانیدی..."دبستان". تر احداد وروسته یې زوی عبدالقادر چې د جلال الدین د لور علایي له نسه و د پلار پر مسند کښېناست او دوه کاله یې په تیرا کښې حکومت وکړ، څو چې شاهجهان پر (١٠٣٧ هـ) کال ظفر خان د کابل په صوبدارۍ وټاکه او د عبدالقادر په مقابل کښې یې راواستاوه خو

عبدالقادر پر ظفر خان بری ومونده هغه ډېر ملګري یې ونیول او سزا یې ورکړه، او یوازې د ظفر خان مېرمن له دې معرکې څخه په ډېر مشکل ووتله. دا خونړۍ جګړه د تیرا په خرمانه درې کښې وشوه.

تر هغه وروسته عبدالقادر له خپلو تره زامنو کریمداد او محمد زمان سره تل د تیرا د ملي لښکر مشرتوب کاوه، پر (١٠٣٩ هـ) کال یې له پېښور څخه اووه میله لیرې په یولم ګذر کښې د افغان کمال الدین په هغه غورځنګ کښې ګډون وکړ چې د پېښور په شاوخوا کښې د ډهلي د لښکر پر وړاندې منځته راغلی و خو پر (١٠۴۴ هـ) کال عبدالقادر د کابل د صوبدار سعید خان لاس ته ورغی او هند ته یې وتښتاوه. همدارنګه د جلال الدین زوی الله داد چې په دغو ملي هڅو کښې د عبدالقادر ملګری و او د افغانانو د ملي ټولیو مشرتوب یې کاوه د ډهلي د لښکریانو په لاس هند ته واستول شو، همدا راز د جلال الدین بل زوی کریمداد د (١٠۴٧ هـ) کال په روژه کښې د شاهجهان په امر په پېښور کښې ووژل شو.

په دې توګه د بایزید روښان کهاله وروستۍ رڼا تر یوې پېړۍ مجاهدې وروسته مړه شوه، خو له ظلم او ستم سره ددغه کهاله مبارزې او د دوی آزادي غوښتنه، مېړانه او خپلواکي غوښتنه به زموږ په ملي تاریخ کښې د تلپاتې یادګار په توګه لیکل شوي وي.

نومیالي روښانیان:

١-بایزید پیر روښان د عبدالله اورمړ انصاري زوی د (٩۴٩ هـ - ٩٨٨ هـ) پر شاوخوا.

٢- جلال الدین د بایزید روښان زوی (٩٨٨ - ١٠٠٩ هـ)

٣- احداد د عمر شیخ زی او د بایزید لمسی (١٠٠٩ - ١٠٣٥ هـ)

۴- عبدالقادر د احداد زوی (۱۰۳۵ - ۱۰۴۴ هـ)

(وګورئ ۷۴ نومره نسب پاڼه)

اخځلیك:

د اخوند درویزه تذکرة الابرا روالا شرار - د پښتو د شاعر دولت قلمي دېوان - د بدایونی منتخب التواریخ - د اخون درویزه مخزن اسلام- ماثر الامرا - منتخب اللباب - پادشاه نامه - تزك جهانګیری - عمل صالح - اقبال نامه - دبستان مذاهب - اکبر نامه - طبقات اکبري - ددولا فوز تاریخ هند - فرشته - سروی لسانی هند، لسم ټوك - حیات افغانی - مجلهٔ معارف ۱۹ ټوك - صراط التوحید - تاریخ مرصع - مجلهٔ آثار عتیقهٔ هند د بمبۍ چاپ دپښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوك - افغانستان در عصر تیموریان هند - د خیر البیان پښتو خطي نسخه.

The Digital Library

توخیان

(۱۲۰۰ هـ)

د غلجیو افغانانو یو ټبر چې په زابل، د ترنك او ارغند او پر غاړو، د کلات په غرو کښې د مقر تر بریدونو اوسېږي توخي نومېږي.

د ډهلي د تیموریانو او د ایران د صفویانو په وختو کښې د توخیو یوه کهاله ددغو دوو شهنشاهیو په منځ کښې خپل واك ساته، چې پر (۹٦۲هـ) کال د همدغو خلکو یو نومیالی شاه محمد کلاتي په کندهار کښې حکمران و، چې همایون هغه ولایت ورسپارلی و. تر شاه محمد وروسته د اورنګزیب پر مهال له دغه کهاله څخه "ملخی" نومي د کلات حکمران، چې د اورنګزیب دربار رسماً د سلطان ملخي په لقب وپېژاند په هغه فرمان کښې چې د (۱۰۹۳ - ۱٦۸۱م) کال د دریمې خور (جمادی الاولی) پر (۹) د عالمګیر له درباره دده په نامه صادر شو، دی یې د ټولو غلجیو ملك وګاڼه چې د حکمرانۍ برید یې له یوې خوا د صفوي هېواد تر شاوخوا او بلې خوا د هند د عالمګېر دولت تر پولې رسېده، د ده د زړو کلاو کنډوالې تر اوسه د شاه جوی او کلات تر منځ شته.

د ده په وخت کښې د صفویانو او غلجیو ټبرو تر منځ سختې جګړې وشوې چې جبار خان سلیمانخېل (چې د کابل او جلال آباد پر لار په خاك

e Digital Library

جبار کښې ښخ دی) یې په ترخ کښې ووژل شو، ملخي د ابدالي ټبر له مشر سره چې خدا داد سلطان نومېد يو تړون وتاړه تر خپلو منځو يې د کندهار د جلدك د ګرماوناوه ويش او بريد وټاکه، دی د اېنځرګي او سرې ډبرې (سرخ سنګك) تر منځ د دروازګی په جګړه کښې ووژل شو، دا پېښه د (١١٠٠ ھ ١٦٨٨م) په شاوخوا کښې وشوه او پر ځای يې حاجي عادل کښېناست. تر يوه وخته پورې ده په خپله او د ده زوی بابی خان پر کلات او څېرمه سيمو حکومت کاوه، د ترنك درود پر غاړه د کلات او جختران کلاوې د دوی مرکز و، چې په پای کښې بای خان هم ووژل شو، ښالم (شاه عالم) د علی خان زوی، د ملخي وراره او زوی يې خوشال خان هم څه موده حکمراني وکړه، د دغه کهاله وروستني محلي حکمرانان د خوشال خان زامن اشرف خان او الهيار خان وو چې اشرف د اعليحضرت احمد شاه ابدالي له خوا تر غزني پورې د کلات حکمران شو او پر هند باندې په لومړی حمله کښې له احمد شاه سره ملګری و، د تيمور شاه په وختو کښې د اشرف خان زوی امو خان ته د غلجيانو مشرتوب ورسېد، د دغه کهاله پايځوړ د امير عبدالرحمن خان تر وختو واك درلود.

نوميالي توخيان:

١- شاه محمد کلاتی (د ٩٦٠ ھ شاوخوا)

٢- سلطان ملخي (د ١٠٩٠ ھ شاوخوا)

٣- حاجی عادل د ملخي زوی (د ١١٠٠ ھ شاوخوا).

٤- بای خان د عادل زوی (د ١١١۵ ھ شاوخوا)

۵- شاه عالم (مشهور په ښالم خان) د علی خان زوی (د ١١۵٠ شاوخوا)

٦- اشرف او الله يار د شاه عالم زامن (د ١١٦٠ ھ شاوخوا)

٧- اموخان د اشرف خان زوی (د ١٢٠٠ ھ شاوخوا)

مأخذونه:

پټه خزانه - صولت افغانی - حيات افغانی - خورشيد جهان - آريانا
٢ - ټوك تاريخ سلطانی - د توخيو شفاهي روايتونه.

e Digital Library

ابدالیان

(۴۴۰ - ۱۱۴۴هـ)

د افغانستان او هند په تاریخ کښې ابدالیان نامتو تېر دی چې د نامه ریښه یې د (۴۰۰م) شاوخواسپین پوستې آریایي قبیلې ته چې اپتل (Aptal) یا هپتالي نومېده رسېږي. دغې قبیلې په باختر او تخارستان کښې یو غښتلی دولت جوړ کړ، د بریتانیکا دایرة المعارف په وینا مورخانو یې نوم "ابدلوی" هم راوړی دی چې په تاریخونو کښې یې مختلف شکلونه هپتل (اودل) = ابدل، هیطل - یفتل لیکل شوی دی.

اروپایان دا ارایایي هپتالیان سپین هونان (White Huns) بولي. د (هون - هان) د کلمې ریښه په پښتنو کښې تر اوسه د "خان" په شکل پاتې ده، ځکه چې د فیلالوژۍ له مخې پر "خ" د "هـ" اوښتل روا وو لکه د "هوارزم" اوښتل پر (خوارزم) او د "هو" اوښتل په "خه" (خوب). دغو خلکو تر اسلام دمخه د اسیا په زړه کښې حکومت کاوه، او د ایران د ساسانیانو له شهنشاهۍ سره وجنګېدل چې د عربو مورخان دوي د "هیاطله" په نامه لیکي. د ددوی پایځوړ په زابلستان کښې د عربو د راوتو او د اسلام د خپرېدو تر وخته و، چې ډېرلیکونه یې تر اوسه د کندهار شمال خوا ته په روزګان کښې شته د ځینو پاچهانو نومونه یې هم پښتو دي لکه میرکولا

(میر- لمر) او (کولا - کهول).سربېره پردې د دوی ښې، اندامونه او جګې پوزې (چې د دوی پر سکو کښل شوي) هم پښتنو ته ورته دي، داسې څرګندېږي چې دا سپین نژادي ارایي قبایل وروسته تر هغه چې افغانستان ته راغلي د پکهت (پښتون) له پخواني عنصر سره یو ځای شوي او د دغه هېواد له پخوانیو کورنیو عناصرو سره ګډ شوي دي.

د اسلامي دورې په تاریخ کښې لومړی نامتو سړی چې د "ابدال - اودل" په نامه یاد شوی د پښتني قبیلو مشهور نیکه دی چې له خپل نامتو کهاله سره په سلیمان غره کښې اوسېد، دی د ترین زوی، د ښرخبون لمسی او د سړه بن کړوسي و، دده نوم په پښتو ادبیاتو او پخوانیو نسخو کښې (اودل - او د جمع منسوب په ډول اودالی -ابدال) راغلی دی چې د (۴۴۰ هـ ۱۰۴۸ م) په شاوخوا کښې یې پښتانه قبایل پر ځان راټول کړي وو، د ده له توکمه (نژاده) ملك سلیمان د عیسی زوی چې په زیرك مشهور و، پښتني قبیلې له سلیمان غره څخه د کندهار سیمې ته بوتلې او هلته یې میشتې کړې د خپل ژوندانه په پای کښې یې خپل زوی ملك بارك په یوه لویه جرګه کښې پر خپل ځای کښېناوه، تربارك وروسته د زیرك بل زوی ملك پوپل خپل نفوذ د (اوسني بلوچستان) تر شال او ږوبه ورساوه او تر پېنځه شپېته کلن مشرتابه وروسته د ۸۹ کالو پر عمر مړ شو. تر هغه وروسته یې زوی ملك حبیب او بیا د ملك حبیب زوی ملك بامی د کندهار د قبایلو ولسوالان وو، له سلطان سکندر لودي سره یې (۸۵۵ - ۹۰۰ هـ) د ملګرتیا اړیکي لرل نوموړي سلطان د ملك حبیب مشرتوب رسماً پېژندلی و.

تر هغه وروسته بهلول د کانی زوی او د بامي لمسی او ملك صالح د معروف زوی او د بهلول لمسی تکړه ولسوالان وو، صالح د شیر شاه سوري (۹۴۷ - ۹۶۰ هـ) له دربار سره ښه اړیکي درلودل، او خپل نمایندګان یې

The Digital Library

هند ته ولېږل، تر ده وروسته ملك سدو د صالح ورور چې د سدوزيو لومړی نيکه دی په يوه لويه قومي جرګه کښې د کندهار د ولسوالۍ او مشرتابه پر مسند کښېناست (د ۹۶۵ هـ - ۱۵۵۷ م کال د ذيحجې پر ۱۷ زېږېدلی) او د کندهار ارغسان يې خپل مرکز وټاکه خپل دښمن حاجي زله خان يې له منځه يوور. محمد د بارکزيو مشر (د محمدزيو لومړی پلار) د سدو همهالی و، د سيد جمالالدين افغان او نورو مورخانو په وينا د صفوی شاه عباس دربار هم په رسميت پېژندلی و (د ۱۰۱۰ هـ - ۱۶۲۱ م شاوخوا) هغه مهال چې سد و د خپل وخت پياوړی سيمه ييز حکمران (۷۵) کلنی ته ورسېد، نو په يوه لويه قومي جرګه کښې يې له خپلو پينځو زامنو (خواجه خضرخان، مودود (مغدود) خان، زعفران خان، کامران خان او بهادرخان) څخه خواجه خضرخان پر خپل ځای ولسوال او قومي مشر وټاکه څلور نوميالي وروڼه يې د شاهجهان همهالي وو چې پر (۱۰۴۷هـ - ۱۶۳۷م) کال د شاهجهان لښکر و، د دوی په مرسته کندهار ونيو او د هغه له خوا د کندهار ولسوالان وپېژندل شول، دوی له ډهلي دربار سره ښه اړيکي نه لرل پر (۱۰۵۰ هـ - ۱۶۴۰م) کال ملك مغدود خان او کامران خان ډهلي ته ولاړل او شاهجهان يې په درناوي هرکلی وکړ. ملك مغدود پر (۱۰۵۳هـ -۱۶۴۳م) کال له کابل حکمران امير يحيی سره جګړه وکړه او ووژل شو، کامران فاضل سړی و، پر (۱۰۳۸ هـ - ۱۶۲۸ م) کال يې په پښتو ژبه د "کليد کامراني" په نامه يو کتاب هم ليکلی و. د ګريفن په وينا خضر خان پر (۱۰۳۶ هـ - ۱۶۲۶م) کال مړ شو، ترهغه وروسته يې زامن خداداد سلطان مشهور په خودکی) او شيرخان د کندهار مشران او ولسوالان وو.

خداداد خان له خپلو ګاونډيو غلجيو قبيلو سره دوستانه اړيکي وساتل، په قومي جرګو کښې يې له سلطان ملخي سره مفاهمه وکړه او د

دوستي تړون يې وتاړه، د دواړو خواو تر منځ يې د ولسواليو ويش له کندهار څخه پنځوس ميله ختيځې خوا ته د جلدك ګرماو او د برين پل وټاکه، د ږوب او بوري څمکې يې د سليمان غره تر لمنو ونيولې، د (۱۱۰۵ هـ - ۱۶۹۳م) کال په شاوخوا کښې يې ورور شيرخان د کندهار له صفوي حکمران سره ونښت او د کوړك په بند کښې يې صفوي لښکر پوپنا کړ، ده د مغدود خان پر زوی شاه حسين باندې بری وموند او حسين يې ملتان ته وشاړه، همدغه حسين ته عالمګير په سيالکوټ او رنګپور کښې جاګير ورکړی و، د ګريفن په وينا د دکن په جګړه کښې له عالمګير سرَه پر اووه زريز منصب ملګری و، د ده ورور الله داد خان د دو سوو سپرو د مشرۍ رتبه درلوده، حسين خان پر (۱۰۶۹هـ - ۱۶۵۵ م) کال په رنګپور کښې مړ شو، شجاع خان د احمد شاه ابدالي په وختو کښې، شريف خان د تيمورشاه په دوره کښې او مظفرخان رکن الدوله چې د ملتان د ناظمانو په توګه ټاکل شوي وو، د همدغه حسين اولاده وه.

د سدوزيو وروڼو مرکز عموماً له کندهار څخه ديرش ميله ختيځې خوا ته د ښار صفا سيمه وه، چې له صفوي درباره هم د "ميرزا" په لقب پېژندل شوي وو، د ډهلي دربار شيرخان ته د "شهزاده" لقب ورکړی و، له کندهاره تر فراه پورې د ابدالي قبيلو مشرانو لکه بدال خان باميزي، ميرالکوزي او نورو د ده مشرتوب منلی و، تر شير خان وروسته يې زوی سرمست خان او تر هغه وروسته د سرمست خان زوی دولت خان د کندهار ولسوالان شول او د پلرني مشرتابه پر ځای کښيناستل د سلطان خداداد زوی حيات سلطان هم د کندهار ولسوالي دولت خان ته وسپارله او په خپله له خپل ورور لښکرخان او شپږو زرو ابدالي کورنيو سره ملتان ته و لاړ، دولت خان د کندهار ښار له صفوي حکمران سره سختې جګړې وکړې او د

The Digital Library

خپلواکۍ بیرغ یې تر غزني او سلیمان غره پورې اوچت کړ، دا هغه وخت و چې د ایران صفوي او د ډهلي تیموري دولتونه په خپلو منځو کښې د کندهار ښار پر سر په نزاع سره اخته وو، لکه مخکښې چې مو وویل شاهجهان او عالمګیر څو څو ځله کندهار ته لوی لښکر راواستول.

دولت خان چې ددغه ډګر پهلوان و، خپل اقتدار یې خپراوه، دوارې خواوې د ده مرستې ته اړ وې دویم صفوي شاه عباس په هغو لیکونو کښې چې د (۱۰۵۹ هـ - ۱۶۴۹ م) کال پر سر یې دولت خان ته رالېږلې وې دی یې "ایالت پناه" کوتوال قلعهٔ قندهار بللی دی او د یوې داسې خورا لویې صوبې د حکومت دور سپارلو ژمنه یې ورسره کړې وه چې په ایران او هندوستان کښې یې ساری نه و (عباس نامه)

څنګه چې د دولت خان د واکمنۍ لمنه خپره شوه نو پنځوس کاله یې په بریالیتوب حکومت وکړ؛ د صفوي دولت د بېګلربیګي واك او اختیار یې یوازې د کندهار په کلا کښې کلا بند کړی و، ځکه نو تر (۱۱۰۶هـ - ۱۶۹۴ م) کال وروسته شاه حسین صفوي زمان خان د کندهار له حکمرانۍ څخه ور وغوښت او د هغه پر ځای یې نصراني ګرګین خان ګرجي د شاهنوازخان په لقب د کندهار بیګلربیګي وټاکه، دغه ظالم سړی چې د صفوي دولت د ماتې سبب شو، د شپې له خونخوارو سپرو سره په ښارصفا کښې د دولت خان پر کور ورولوېد، دولت خان او د هغه زوی نظر محمد خان یې (د ۱۱۱۵ هـ - ۱۷۰۳م پر شاوخوا) ووژل. ابدالي قبیله د خپل مشر دولت خان په وژنه ډېره خواشینې شوه د هغه زوی رستم خان یې په خپل مشر تابه وټاکه، رستم لایق سړی و، د سرورخان بامیزی او کټه خان اکوزی په ملاتړ یې د ولسوالۍ چارې پرمخ بیولې، د ده کشر ورور زمان خان په کرمان کښې د یرغمل په توګه د صفوي حکومت په لاس کښې و، ځکه نو رستم

خان له صفویانو سره څرګند مخالفت نه شو کړای خو د کندهار په جنوب کښې یې د بلوڅانو په لاس صفوي لښکر تباه کړ څلور کاله وروسته چې رستم مړ شو، نو ابدالي قبیلې هم یې مشره پاته او سره تیت شوې. د پښتني قبیلو مشرتوب د هوتکو کهاله نامتو مؤسس حاجی میرویس لاس ته ورغی، ابدالي مشران هرات ته ولاړل هلته یې خپله حکمراني پر پښو و دروله (د ۱۱۱۹ هـ - ۱۷۰۷ م).

دمخه مو وویل چې حیات سلطان ابدالی د دولت خان پر مهال په ملتان کښې اوسېده هغه وخت چې پر (۱۱۲۳هـ - ۱۷۱۱م) کال کیخسرو خان په کندهار کښې له پېنځه ویشت زریز صفوي لښکر سره د میرویس خان له لاسه تباه شو، عبدالله خان د حیات سلطان زوی له خپل زوی اسدالله خان سره له ملتانه راغی او په هرات کښې یې پرصفوي بیګلر بیګي عباس قلي خان شاملو یرغل وکړ د هرات لوېدیز خوا ته د غوریان د دوښاخ په غره کښې ابدالي قبیلې او هراتیان ورسره یو ځای شول، اسفزار یې ونیو او صفوي نوی حکمران - جعفر خان یې مات کړ. دغه افغاني لښکر د (۱۱۲۹هـ - ۱۷۱۶ م) کال د روژې پر ۲۶ هرات هم ونیو، غوریان، کوسان، بالامرغاب او بادغیس یې د هرات له ټولو سیمو سره په خپل حکومت پورې ونښلول. هغه وخت چې فتح علي خان ترکمان له اصفهانه له ستر لښکر سره د دوی پر وړاندې راووت د غوریان په کوسویه کښې یې هغه ټول لښکر تر تیغ تېر او په هرات کښې یې ملي حکومت اعلان کړ، اسدالله په هغه جګړه کښې چې پر (۱۱۳۲هـ - ۱۷۱۹م) کال یې د خاش رود پر غاړه په دلارام کښې له شاه محمود هوتك سره وکړه ووژل شو، عبدالله خان چې د خپل زوی په مړینه ډېر ویرجن شوي و، د هرات د ملیونو مشرتوب یې د الکوزی مشر عبدالغني خان پر سلا د دولت خان زوی زمان خان ته چې یوتګړه سړی و، وسپاره. ده

he Digital Library

ابدالي قبيلې د هرات له ټولو ملي ځواو سره يو کړې او د صفويانو جګړن اميران يې له جعفرخان بيګلربيګي سره يوځای د هرات په ښار کښې ووژل، صفوي دربار صفي قلي خان ترکمان له لوی لښکر سره له مشهده د هرات خوا ته راوکوچاوه، خو د هرات ملي لښکر د زمان خان په مشرۍ صفي قلي او د هغه لښکر د کافر کلا په ډګر کښې ووژل، زمان خان تر دوو کالو او پېنځو مياشتو پورې په ډېر برياليتوب حکومت وکړ او پر (۱۱۳۵ هـ - ۱۷۲۲م) کال مړشو.

د زمانخان تر مړينې وروسته د عبدالله خان زوی محمد خان د کندهار له ښوراوکه راغی او د هرات د حکمرانۍ واګې يې په لاس کښې ونيولې تر مشهده پر مخ ولاړ هغه ښار يې څلور مياشتې کلابند (د ۱۱۳۶هـ - ۱۷۲۳م په شاوخوا کښې) او خپل واك يې په خراسان کښې خپور کړ، د غوريان لوېديځ خوا ته يې د سنګان کلا ونيوله، خو ابداليانو دی بې واکه کړ، پر ځای يې د زمانخان مشر زوی ذوالفقارخان د کندهار له ښوراوکه راوغوښت او خپل امير يې وټاکه (۱۱۳۶هـ) د زړه بدي د ليرې کولو له پاره ملي جرګه جوړه شوه، دې جرګې د باخرز و بادغيس حکمراني ذوالفقارخان ته ورکړه او د عبدالله خان زوی رحمان خان يې د فراه په حکمرانۍ وګماره او په هرات کښې يې د مليونو د مرکزي حکومت له پاره د عبد الله خان بل زوی الله يارخان له ملتانه راوغوښت (۱۱۳۸ هـ - ۱۷۲۵ م).

الله يارخان او ذوالفقارخان زړور مېړونه وو، د نادرشاه افشار د تيري ګرو لښکرو پر وړاندې يې سخت جنګونه وکړل، پر (۱۱۳۹ هـ) کال چې نادرشاه مشهد ونيو او اته زريز لښکر يې د سنګان کلاته واستاوه نو د هرات حکمرانانو په يوه ملي جرګه کښې د نادر پر وړاندې خپل ملي ځواك راټول کړ او پر (۱۱۴۱ هـ - ۱۷۲۸م) کال الله يارخان په تربت جام کښې د نادري

لښکر مخه ونيوله، نادر د يوه ليك په لېږلو الله يارخان ته د روغې وړانديځ وکړ خو ونه منل شو په کافر کلاکښې جګړه ونښته او د نادر پښه ټپي شوه د هرات لښکر پر شاشو هرات ته راغی خو الله يار خان بيا له خپل لښکر سره له هرات څخه دوه فرسخه ليرې د پريان په رباط کښې د نادر مخې ته ورغی، ذوالفقار هم د جبهې شاته د ده ملاتړ کاوه، نادرشاه اړشو چې له دوی سره روغه وکړي او پر هرات باندې د دوی حکمراني ومني، هغه و، چې تردوو مياشتو پرله پسې جګړو وروسته د (۱۱۴۱ هـ - ۱۷۲۸ م) کال د ذوالحجې د مياشتې پر څلورمه بېرته مشهد ته ولاړ.

يو کال وروسته د هرات مليونو د عبدالغني الکوزي په قيادت الله يارخان مروچاق ته واستاوه او د هغه پر ځای يې د هرات حکومت ذوالفقار خان ته وسپاره (۱۱۴۲ هـ - د شوال ۳) ذوالفقار د لښکر په سمبالتيا لاس پورې کئ او په اتوزرو تنو يې د مشهد ښار کلابند کړ د (۱۱۴۳هـ - ۱۷۳۰م) کال د محرم تر ۱۳مې يې جنګ وکړ او بېرته هرات ته لاړ، له هاخوا د نادر شاه له لوري بيا د هرات د نيولو په تکل راغی او پر (۱۱۴۳ هـ ۱۷۳۰م) روژه يې دا ښار کلابند کړ، څنګه چې له کندهاره شاه حسين هوتك هم د هرات له ساتونکيو مليونو سره مرسته وکړه څکه نو ذوالفقار هم په ډېره مېړانه جګړه کوله او ښار يې دښمن ته نه سپاره، دا مهال بيا الله يار له مروچاق څخه راغی او (د ۱۱۴۴ هـ - ۱۷۳۱ م کال د صفرې پر ۱۸) هرات ته ننووت، ذواالفقار هم د جګړې واګې ده ته وسپارلې او په خپله له خپل کشر ورور احمدخان سره (چې وروسته احمدشاه ابدالي شو) کندهار ته ولاړ همدا بېلتون کټ مټ د مليونو د کار د سستيدو سبب شو. الله يارهم له نادر سره په مېړانه وجنګيد او تريوکال پورې يې هرات وساته خو په پای کښې له هغه ښاره ووت او د ملتان خواته لاړ، نادر پر هرات برې ومونډ او

پر هرات باندې د ابداليانو د مشر تابه دوره د (۱۱۴۴هـ - ۱۷۳۱م) کال د روژې پر لومړۍ پای ته ورسېده، تر هغه وروسته پر (۱۱٦۰هـ - ۱۷۴۷م) کال په کندهار کښې احمدشاه ابدالي بيا د افغاني سلطنت بنسټ کښېښوو او هرات د پخوا په شان د افغاني هېواد يوه برخه شوه.

د هرات د ابداليانو د حکمرانۍ سيمې:

هرات ښار او شاوخوا يې - اوبه - شافلان - کوسويه - غوريان - پوريان - جام - لنګر - خواف - باخرز - زوزن د مشهد تر بريده - او جنوب خوا د هلمندله غاړو تر ميوند، فراه او سيستان پورې او شمال خوا بادغيس او آب مرغاب.

د کندهار ابداليان:

۱ - ملك اودل = ابدال د ترين زوی (۴۴۰ هـ شاوخوا)
۲ - ملك سليمان زيرك د عيسى زوی (د ۷۵۰ هـ شاوخوا)
۳ - ملك بارك د زيرك زوی (د ۷٦۰ شاوخوا)
۴ - ملك پوپل د زيرك زوی (۷۸۳ هـ شاوخوا)
۵ - ملك حبيب د پوپل زوی (د ۸۰۰ هـ شاوخوا)
٦ - ملك بامي د حبيب زوی (د ۸۵۰ هـ شاوخوا)
۷ - ملك بهلول د کاني زوی او د بامي لمسی (د ۸۹۰ هـ شاوخوا)
۸ - ملك صالح دمعروف زوی اودبهلول لمسی (د ۹۵۰ هـ شاوخوا)
۹ - ملك سدو د معروف زوی د بهلول لمسی (پر ۹٦۵ هـ زيږېدلی او پر ۱۰۳۱ هـ مړدی)
۱۰- خضر خان د سدو زوی (پر ۱۰۳٦ هـ مړ دی)
۱۱ -ملك مغدود دسدو زوی اوکامران دسدو زوی(۱۰۵۰هـشاوخوا)
۱۲ - خداداد سلطان او شېرخان د خضرخان زامن (۱۰۷۰هـشاوخوا)

۱۳ - سرمست خان د شير خان زوی (د ۱۱۱۰ هـ شاوخوا)
۱۴ - دولت خان د سرمست خان زوی (د ۱۱۱۵ هـ شاوخوا)
۱۵ - رستم خان د دولت زوی (د ۱۱۱۹ هـ شاوخوا)

د هرات ابداليان:

۱٦ - حيات سلطان د خداداد سلطان زوی (د ۱۱۲۳ هـ شاوخوا)
۱۷ - عبدالله خان د حيات سلطان زوی (د ۱۱۳۰ هـ شاوخوا)
۱۸ - زمانخان د دولتخان زوی (۱۱۳۲ هـ - ۱۱۳۵)
۱۹ - محمدخان دعبداللهخان زوی (د ۱۱۳٦ هـ شاوخوا)
۲۰-ذوالفقار خان دزمانخان زوی (۱۱۳٦ هـ - ۱۱۴۴ هـ)
۲۱ - الله يارخان د عبدالله خان زوی (۱۱۳۸- ۱۱۴۴هـ)
۲۲ - رحمان خان د عبدالله خان زوی (۱۱۳۸ -۱۱۴۴ هـ)

اخځونه: بريتانيکا دائرة المعارف-آريانا مجله ۳ ټ کابل - پټه خزانه د کابل چاپ - مخزن افغاني قلمي - تاريخ سلطاني د سلطان محمدخالص کندهاري د ۱۲۹۸ د بمبيي چاپ - تذکرة الملوك د راورټي په حواله - لوی احمد شاه بابا د کابل چاپ - آئين اکبري - تاريخ احمد قلمي - خورشيد جهان - تتمة البيان - تاريخ نادرشاه - روضة الصفای ناصري ۸ ټوك - جهانکشای نادري - عمل صالح ۲ ټوك - تاج التواريخ ۲ ټوك - تاريخ ايران د سرپرسی سايکس - خلاصةالانساب خطی - کابل مجله ۲ ټوك - نادرنامه، منظوم خطی - پښتانه شعرا، لومړی ټوك ۱۹۴۵ کال کابل کالنی - صولت افغاني - مجمع التواريخ - مشاهيرابداليان - عباسنامه - تاريخ روسای پنجاب- شوکت افغانی - احمد شاه بابا د کابل چاپ د مير غلام محمد غبا، تاليف.

(۷۵ نومره نسبليك وګورئ.)

: The Digital Library

هوتکیان

(۱۱۲۰هـ - ۱۱۵۰ هـ)

د دغه لنډ تاریخ په پیل کښې مو د پښتون کهاله په اړه ولوستل چې د پښتون له درو زامنو څخه یو هم بیټني یابیټ نیکه نومېد، د دغه شیخ له پښتنه او د متو له نسه چې د ده لور وه، د (غرزي - غلجي- غلزي) په نامه د پښتنو د مشهورو غلجیو قبیلو ټبرونه مشهور شول.

دا نوم بېشکه "غرزی" د "کوهزاد" په مانا دی، ځکه چې په افغانستان کښې د سرېو او ځایو د زیاتو نومو رېښې د پښتو د "غر" له کلمې څخه راوتلې دي او ان د غور - غرڅه - غرج- غلج- خلج ټولو کلمو رېښې له دې کلمې څخه جوړې دي، چې په منځنۍ آسیا کښې د ځایو او قبیلو له پاره کارېږي.

توماسچك وايي چې د ګر "GAR" يعني غر کلمه لرغوني باکتري دري کلمه ده او "غرچه" د آمو لوړې خوا ته د غرني ولایت د آریایي اوسېدونکیو نوم دی، له دې کبله نو غرچه، خلج، غلج او غرج د غره د زوی یا غرزی او (کوهزاد = کهزاد) په مانا دی.

د "غر" کلمه چې اوس په پښتو کښې د غره په مانا ژوندی ده د - اوېستا په "هوم یشت" کښې "ګیری" راغلې چې په خورده اوېستا کښې هم

لیدل کېږي، په سنسکریت کښې هم "ګیر" او "ګیری" "GIRI" د غره په مانا و، ان عربانو د پخواني ګرشاه لقب (ملك الجبال) په معرب ډول جرشاه کړی دی. (د تاریخ طبرستان ۵٦ - ۱۸۳ مخونه)

په پښتو کښې غرڅه - غرڅنی د (کوهي - غرني) په مانا دی چې د غرچه او غلچه = غلجی نوم له هغه څخه راوتلی دی او غلجیان د پامیر او زرافشان د رود په درو کښې اوسي.

عربي جغرافیا لیکونکیو هم دغه ټکي ته اشاره کړې ده چې "غر" د "جبل" په مانا د غرشستان او غرجستان په تاریخي نومو کښې دخیل و، یاقوت د البشاری په حواله وايي چې: غرج اصلاً د غره په مانا دی خراساني مؤرخانو چې دا کلمې له خپلو هېوادوالو څخه اورېدلې دي د "غرجستان" نوم یې په اصلي شکل "غرستان" لیکلی دی چې له غر+ستان څخه عبارت دی (غر - د کوه، په مانا او "ستان" د ظرفیت پخوانۍ علامه ده).

لکه منهاج سراج جوزجاني چې د دغه هېواد له خلکو څخه و، زیاتره د عربو د غرجستان او غرشستان پر ځای غرستان لیکي، د طبقات ناصري په زړو خطي نسخو کښې څو ځایه غرستان لیدل کېږي.

په هر حال غلجي = غلزي یو پخوانی نوم دی چې مانایې د غره زوی ده. د افغاني غلجیانو لومړی نیکه په همدغه نامه یادېده، ده درې زامن لرل چې نومونه یې هم آریایي زړو نومو ته بېخي ورته دي:

توران - تولر - بولر - موړ پوهېږو چې "تور" له هغو پخوانیو آریایي نومو څخه دی چې په اوېستا کښې راغلی دی دا نوم تر اوسه په پښتنو کښې په بېلا، بېل ډول (تور- توراني- تورك- توري) رواج لري، همداراز "بولر" یا "بلور" یو زوړ نوم دی چې د ګلګت تر سیمو د نورستان پر خلکو اطلاقېده، د ((بارتولد)) په وینا تر اوسه هم د هغه ځای ځینې تور پوښه قبایل ځانونه

he Digital Library

"بلور" بولي، دا کلمه تر ۱۸ پیړۍ پورې په چیني کتابو کښې لیدل کېږي . محمد حیدر دوغلت چې د (۹۳۲هـ) په شاوخوا کښې ژوندی و، پردې سیمو یې حکمراني کوله نو د کشمیر له ناوې څخه د کابل ترناوې پورې او شمال خوا تر یارکند او کاشغر پورې یې داسیمې بلور او بلور ستان وبللې ترده دمخه منهاج سراج او محمد غوفی د غوري دوری مؤرخان د شغنان، تخارستان او درواز د غرو په لړ کښې بلور هم راوړي مستربیلو وایي چې:

بولر یابلور د باختر د کلمې طبیعي تحریف دی. په هر صورت د غلجي، توران، تولر، بولر کلمې او نومونه ټول دا راښیي چې دوی پخوانۍ آریایي ریښې لري او هم دا زیاتوي چې افغاني غلجیان هم له ارایایي نژاد سره ټینګه اړه لري.

خو (هوتك) (د کندهار او کلات له غلجیو قبیلو څخه) د هوتکو د قبیلې لومړي نیکه چې د پښتو اشعار یې د پټې خزانې په واسطه موږ ته رارسېدلي، د انساب پېژندونکیو په وینا د بارو زوی او د پورتني نوموړي تولر لمسی و، چې ده د ملکیار، یوسف، دولت او عرب په نومونو څلور زامن درلودل، د هوتکو د پاچهۍ د موسس میرویس خان پلار ښالم خان په اتم پلار په دې توګه ده ته رسېږي:

ښالم د کرم زوي، د مند لمسی، د عمر کړوسی، د جلال الدین کوسی، د قطب کودی چې هغه بیا د اسحاق زوی، د حسین لمسی، د ملکیار کړوسی او د هوتك کوسی دی.

د هوتکو کهاله غړي د ترنك او ارغنداو پرغاړو سیمه ییز ولسوالان و، لکه چې وویل شول له چنګیزیانو سره یې سختې جګړې وکړې، خو د د دوی د ژوندانه ښکاره څرنګوالی لاس ته رانه غی، یوازې دا معلومه ده چې تر میرویس خان دمخه د کندهار له جلدکه تر غزني د غلجیو قبیلو مشر تابه

او ولسوالي په سلطان ملخي توخي پورې اړه درلوده چې دمخه یې یادونه وشوه.

د میرویس خان پلار ښالم خان چې د خپل وخت له مشرانو څخه و، د سلطان ملخي لور نازو نومې یې په نکاح کړه، چې د هغې له نسه څلور زامن حاجي میرخان، عبدالعزیز، عبدالقادر، او یحیی خان و زیږېدل.

له دغو زامنو څخه حاجي میرخان یا میرویس خان هغه نومیالی و، چې له غزني څخه ترکندهاره یې خپل نفوذ خپور کئ، د توخي او ابدالي د دوو ټبرو (چې له کندهاره ترغزني یې حکومت کاوه) او د ډهلي او اصفهان د دوو شاهنشاهیو د تاریخي نفوذ تر منځ یې په ولسي چارو کښې لوی لاس درلود، په کندهار کښې یې د خپلواك سلطنت بنسټ کېښېښوو، د سید جمال الدین افغاني او سلطان محمد خالص په وینا دی د متین فکر او لوړو اخلاقو څښتن او هم ښه ژبور سړی و، دا چې له یوې خوایې مور د توخي حکمرانانو له کهاله وه، او له بلې خوایې د ابدالي کامران خان (چې د مخه یې یادونه وشوه) خانزاده نومې لورکړې وه، ځکه نو ابدالي او توخي قبیلو دواړو د ده ملاتړله. له بل پلوه د ده خپل کهول هم له ډېرو پیړیو راهیسې په هوتکو کښې نفوذ درلود او ولسوالي یې کړې وه.

د همدغو ورتیاو له مخې میرویس د کندهار د ابدالیو او غلجیو د ټبرو له خوا د "بابا" په لقب وپېژندل شو، هغه وخت چې صفوي نصراني حکمران ګرګین خان کندهار ته راغی او پر خلکو یې هغسې ستمونه وکړل چې د زغملو نه وه، نو میرویس څلور واره اصفهان ته ولاړ د شاه حسین صفوی دربار ته یې د خلکو فریاد ورساوه او هم یې د دربار اوضاع له نژدې څخه وکتله، دده یو ملګري "ریدي خان" په خپل منظوم کتاب "محمود نامه" کښې چې د میرویس د زوی په نامه یې نظم کړی دی د. میرویس دا د خواهي

The Digital Library

او د شاه حسین صفوي ځواب داسې بیانوي:

چې میرخان تللی اصفهان ته ونه
مخ یې مکې د پاك سبحان ته ونه
پاچا تې عرض کړ ټول حال د پښتون
د ګرګین ظلم بد احوال د پښتون
پاچا ویل: زه نسوای کولای چاره
د ګرګین خان ظلم و ستم د پاره
که یې معزول کړم کندهار نه پرېږدي
جور وستم او خپل شعار نه پرېږدي
ګرګین خو ګرګ دی ګرګ خو ظلم کوي
وینې تووینه هم پسونه څیري
زه هم خایف یم چې به څه کړم ګرګین
نامسلمان دی، ارمنی دی، بې دین
نه په اسلام کښې ځان پا بند ګڼینه
نه نصراني نه له عیسی بیرینه
بیرېږم زه چې خدای کړي قهر ښکاره
د سلطنت په رڼا کور سي تیاره
میرخان ویل: ای حسین پاچا وګوره
حال د حاکم او رعایا وګوره!
ګرګ دی ایله کئ پررمه سو شبان
جور و ستم کاندې بیحد ګرګین خان
موږ له طاقت نسته چې کړو به زیاتي
صبر پر ظلم د ظالم ارمني

دا ځلورم واردی راځم سلطانه
عرض د ظالم له لاسه کړم سلطانه!
که پاچا نه کړي داد خواهي د مظلوم
ظالم حاکم کا، ظلم ډېر په محکوم
جور چې ډېر شي سلطنت شي برباد
د ظلم قصر پوپنا بې بنیاد

عربیه:

الملك یبقی مع الکفر ولایبقی مع الظلم
کافر کولای سلطنت شي مدام
که وکړې داد، نه وي جابر پرانام
مګر ظالم خو نسي کړای سلطنت
خالق رحیم دی، ورکوی خلافت
چا ته؟ چې زړه یې وي په مهر ودان
د خدای عیال ګڼي پر مځکه انسان
سلطانه! واوره په ښي غوږ دا وینا
مکړه ستم د خلق الله په هر چا
د ستمګارو پای ورانی دی، خراب
د ظلم اور یې کا په خپله تراب
د مظلوم آه داسې کاري وي ګوره
چې اور یې نه ځي د ظالم له کوره
لمبې په بلي کا د ظلم په کور
تول به کاندې بېنوا په دې اور

The Digital Library

ښـایـي ظـالـم چـې رحم وکـــا پـه ځـان
په ظلم خوار نه کړي خپل ځان او جهان
سلطانه! ګـوره پـر ځـان رحـم وکـــړه
_ خپـل کـلی کـور پـه جـور مـه ورانـوه"

خو دا چې صفوي پاچا د میرویس فریاد وا نه ورید او د اصفهان له درباره نا امیده شو، نو له هغه ځایه بیت الله ته ولاړ، د عربو له عالمانو څخه یې له ګرګین سره د جنګ جواز او د هغه د وژلو فتوا واخیسته، په اصفهان دربار کښې یې هم دومره نفود وموند چې درباریان یې پر ګرګین بد ګمانه کړل، تر هغه وروسته حاجي میرویس کندهار ته راغی، هلته یې د ارغنداو پر غاړه (له کندهار د اوسني ښار څخه شپږ میله لیرې) په کوکران کښې یوه لویه ملي جرګه جوړه خلکو ته یې د اصفهان د دربار او ضاع بیان او د حجاز د علماوو فتوا ښکاره کړه او له دوی څخه یې تعهد واخیست.

په دویمه جرګه کښې چې د کندهار ښار ختیځ ته شل میله لیرې په مانجه کښې جوړه شوه او په هغه کښې د کندهار د زیاتو قومو مشرانو لکه سیدال خان ناصر، بابو خان بابی، بهادر خان، پیر محمد میاجي هوتك، یوسف خان هوتك، عزیز خان نورزی، ګلخان بابر، نورخان بړیڅ، نصرو خان الکوزی، یحیی خان د میرویس ورور، محمد خان د هغه وراره او یونس خان کاکړ ګډون کړی و، د خپلواکۍ د اعلان وثیقه لاسلیك شوه او ټولو په قران عظیم الشان لوړه وکړه.

تر هغه وروسته میرویس د کندهار د ټولو قومونو په مرسته د صفویانو بیګلربیګي ګرګین خان او د هغه ټول لښکریان ووژل، کندهار ښار یې ونیو او د ګرګین وراره الکسندل میرزا د هغه ستمګر مړی واخیست او له ښځو او کوچنیانو سره یې هرات ته وتښتېد.

وروستني مؤرخان د دغه ملي مشر د آزادۍ غوښتلو د غورځنګ پر نېټه اختلاف لري: مثلاً شېر محمد یې د (۱۱۲۰هـ) کال د صفرې میاشت او سلطان محمد یې د (۱۱۲۱هـ) کال صفره لیکي، خو نواب صمصام الدوله د هغې پېښې کال (۱۱۲۰ هـ) ګڼلی او خافي خان مؤرخ وايي چې پر (۱۱۱۹هـ) کال په هند کښې د محمد اعظم شاه دربار نه د ګرګین د وژلو خبر ورسېد کلنل ملیسون د افغانستان په تاریخ کښې (۱۷۰۹م - ۱۱۲۱هـ) کال لیکلی دی، آو میرزا محمد خلیل صفوي (۱۱۲۲هـ) کال ښوولی دی.

خو د پټې خزانې روایت لیکونکی تر ټولو مؤرخانو موثق او د اعتبار څښتن دی. هغه پېښې په خپلو سترګو لیدلي او هم یې مستقیماً له خپل پلار څخه روایت کړي دي چې: "پر ۲۹ د ذیقعدة الحرام سنه (۱۱۱۹) هجري د حاجي میر خان د خپلواکۍ دغه پاځون د ګرګین او صفویانو د لښکر په وژل کېدو پای ته ورسېد.

کندهار د جغرافیي موقعیت له اړخه د ایران او هند د دوو شاهنشاهیو تر منځ ډېر ارزښت لاره، هغه وخت چې ملي مجاهدینو د میرویس په مشرۍ په کندهار کښې د خپلواکۍ بیرغ پورته کړ، د هند تیمور دربار د دغه خبر په اورېدو ورېږدېد او د پښتنو خپلواکۍ یې د ځان له پاره لوی ګواښ وباله، دا ځکه چې د هند تیموري حکمداران د غوریانو، خلجیانو او لودیانو د امپراتورۍ او له بیا راژوندي کېدو څخه وېرېدل، لکه صمصام الدوله او خافي خان چې لیکي:

هغه وخت چې د افغانانو د خپلواکۍ د اعلان خبر د هند تیموري دربار ته ورسېد نو په ښکاره یې د مجبوریت په سبب د افغانانو خپلواکي تر یو ځایه په رسمیت وپېژنده، خو په پټه یې د اصفهان له دربار سره مخابره او مفاهمه وکړه چې د دې پېښې د مخنیوي له پاره چې د خافي خان په

ne Digital Library

تصریح د دوارو هېوادو او ولسونو له پاره د صایبې رایې مخالفه پېښنه وه ډېر ژر زیار وباسي (منتخب اللباب) خو حاجي میرویس چې د دوی قوي شاهنشاهیو تر منځ خپل خطرناك موقعیت ښه پېژانده، په درېمه جرګه کښې یې د اولس مشران راغونډ کړل وروسته تر هغه چې د افغاناولس سیاسي دریځ یې د دوو ختیزو او لوېدیزو دولتو تر منځ وښووه او د هغوی قوتونه یې څرګند کړل نو ویې ویل: "که زما سره یو شئ او زما ملا وتړئ نو د خپلواکۍ بیرغ به هسك وساتو، او پرې به نه ږدو چې بیا د پردیو مریتابه کړی. زموږ په غاړه کښې ولوېږي، هغه کسان چې د پردیو مریتوب مني موږ له هغه سره هېڅ اړه او خپلوي نه لرو او نور دې زموږ په هېواد کښې نه اوسي".

ملي جرګې چې د ملي مشر وینا واورېده نو ده ته یې د موافقت لاس ورکئ او ټینګه ژمنه یې ورسره وکړه چې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې به د خپلې ملي خپلواکۍ او آزادۍ ساتنه کوي". (تتمة البیان)

د ګرګین او د هغه د ملګریو د وژلو خبر د ګرجي د لښکر د هغه بقیة السیف په واسطه اصفهان ته ورسېد چې د ګرګین له خوا د پښین سیمې د ترین ټبر د مخنیوي له پاره هغې خواته تللی وو، د بېرته راګرځېدو په وخت کښې میرویس شړلی او پارس ته تښتېدلی وو، پخپله میرویس هم صفوي پاچا ته لیك واستاوه، د افغان او فارس جګړې د کتاب لیکوال په وینا په هغه لیك کښې یې لیکلي وو چې: پاچا دی له تدبیره کار واخلي، کندهار ته دې لښکر نه رالېږي، ځکه ټول افغانان د دوی وژلو ته توره په لاس ولاړ دي، او که مجبوره شي ښایي چې کندهار د ډهلي پاچا ته وسپاري، ځکه نو ښایي چې صفوي پاچا ددغه هېواد سیاسي موقع په نظر کښې ونیسي" همداشان یې د ډهلي دربار ته لیك واستاوه او په هغه کښې یې د دوارو خواو، یادونه وکړه او تمه یې ورپیدا کړه چې که د هند دربار دده مرسته وکړي په

راتلونکي وخت کښې به د صفوي توابعو یوه برخه د اصفهان پر خلاف وپاروي.

خو صفوي دربار وغوښتل چې میرویس د ګوابښلو او بیرولو له لارې د ځان تابع کړي، ځکه یې میرویس ته یو استازی راوستاوه، چې د ملیسون په وینا جاني خان او د مرجان ملکم او سید جمال الدین افغاني په وینا محمد جامي خان نومېد، دغه استازي له صفوي درباره یو پیغام راوړی و چې: د ایران پاچا د ګرګین وژل بخښي، خو میرویس باید اطاعت ته غاړه کښېږدي او صفوي لښکر کندهار ته پرېږدي. سربېره پر هغه نوموړي استازي افغاني مشر د مقابل لوري له عظمت او شوکت او د دغه کار له ناوړې پایلې و ډاراوه خو میرویس چې کلك زړه او ټینګ اعصاب لرل په ډېره مېړانه یې داسې ځواب ورکئ:

"ته فکر کوې چې عقل او حکمت یوازې په ناز او نعمت کښې لاس ته راځي او زموږ په غرو کښې کښې یې اثر نه شته - ستا پاچا که څه کولای شوای خپل کار یې په زور پر مخ بېوه، دغو بې ګټو خبرو ته به اړنه و ..." (سرجان ملکم).

میرویس امرو وکئ چې: هغه درې ملي صفوي استازي زندان ته بوځئ، د ملیسون په وینا په دغه کار کښې یې دوه لوی مقصده درلودل، لومړی دا چې د ایران د دربار ځواب ځنډنی شي چې لښکر رالېږل هم وځنډېږي، بل دا چې د اصفهان دربار ته څرګنده شي چې د افغاني خپلواکۍ بیرغ ټیټیدونکی نه دی او د صفوي دربار تهدید او تطمیع د ده او نورو زړورو افغانانو پر روح څه اغېزه نه لري.

څنګه چې د لومړي سفیر را استول د میرویس خان آزادی پال هوډ مات نه کړ نو د اصفهان درباریانو له یوې بلې وسیلې څخه کار واخیست او د هرات حکمران محمد خان بلوڅ یې چې د میرویس پخواني دوست او د حج

The Digital Library

په سفر کښې هم ورسره و، د سفارت په توګه کندهار ته واستاوه، چې په دوستانه ډول له افغان ملي مشر سره خبرې وکړي، او د خپلواکۍ تود نغری په دوستانه نصیحتو سوړ کړ، خو افغان مشر نوي استازي ته وویل:

"خدای ته شکر باسه چې ستا د ملګرتیا حق مې سترګو ته دربرېږي، که دا نه وای نو تابه هم د نورو په شان پاداش لیدلی وای - زموږ د غرو آزاد خلك د بیا مریتابه په کړۍ کښې نه شي لوېدلای، زړورو زمریانو زنځیر شلولی دی او له تیکو را ایستلی شوې تورې بېرته په تیکو کښې نه ننوځي.

"میرویس د دوستۍ د درناوي په بنسټ محمد خان په ښه عزت وساته او په دې وسیله یې د اصفهان دربار ته څرګنده کړه چې: دی او د ده قوم به خپله ملي خپلواکۍ بیا له لاسه ور نه کړي، د میرویس د دغه مېړني دریځ نه ماتیدونکی هوډ پر وړاندې د اصفهان دربار د هرات حکمران ته چې د محمد خان پر ځای ټاکل شوی و، پر (۱۱۲۲هـ - ۱۷۱۰م) کال امر وکړ چې پر کندهار یرغل وکړي، خو میرویس له پېنځو زرو پښتنو سپرو سره د هغه مخه ونیوه او سخته لویه ماته یې ورکړه.

په راتلونکو (۱۸) میاشتو کښې د اصفهان له خوا څلور ځله پر میرویس او آزادی غوښتونکیو **افغانانو** باندې لښکرکښۍ وشوې، خو ټول بېرته ناکام پرشاولاړل، وروستۍ پلا پېنځه زریز لښکر د تبریز د حکمران محمد خان په مشرۍ دې خوا ته وګمارل شو چې یوازې پنځوسوو پښتنو سپرو پر شا وشړل، تر زرو زیات کسان یې په جنګ کښې ووژل او ټپیان پر ډګر پاتې شول، په خپله حکمران هم له درو زامنو سره د پښتنو جنګیالیو په لاس کښېیووت.

دغو پرله پسې ماتو او ناکامیو د اصفهان دربار اړ کړ چې لویه لښکرکښي وکړي، ډېر په قهر شو او خورا لوی خونخوار لښکر یې راویوست

د دغه لوی لښکر سالارې یې د ګرجستان حکمران او د وژل شوي ګرګین وراره خسرو خان یا کیخسرو خان ګرجي ته وسپارله چې د دربار له زبردستو کسانو څخه و، دا ځکه چې ګوندې خسروخان به د خپل تره د غچ اخیستلو له لارې له جوشه ډك کار پر مخ بوځي، هغه و، چې خسرو د کندهار خوا ته پر مخ راغی او په فراه کښې یې واړول، په دې لویه لښکرکښۍ کښې د خراسان ټول امیران، د هرات حاکم او د کرمان حکمران علي قلي هم د خسرو ملګری وو. دا مهال میرویس خان د پټې خزانې د لیکوال پلار داود خان هوتك په فراه کښې د افغاني ځواکونو مشر وټاکه، چې همهلته له خسرو سره ونښت، خو خسرو پر مخ راغی او میرویس له لږ قوت سره ګرشك ته نژدې د هلمند پر غاړه تیار ناست و، د میرزا محمد خلیل په وینا د خسرو لښکر پنځوس زره سپاره او پلي لرل، چې بشپړه توپخانه او خزانه هم ورسره وه او په هغه کښې (۱۲۰۰) نه خالص ګرجیان وو، چې خاص د ګرګین د غچ اخیستلو له پاره راغلي وو، بالمقابل پښتني ملي قواوې لږې وې، ځکه نو را پر شاشوې، او د خسرو لښکرو کندهار کلابند کړ (۱۱۳۳هـ - ۱۷۱۲م).

کندهاریانو د ښار په ساتلو کښې په ډېره مېړانه پښې ټینګې کړې او په هره حمله کښې یې صفوي لښکر پرشا وواهه، په خپله میرویس هم خپل قوتونه له سره نوي راغونډ کړل او د کندهار د جنوب له خوا یې د بلوڅو د پښین د ترینو او نور قومونه د وطن ساتنې له پاره راوپارول او د خسرو پر لښکر یې یرغل وکړ، د ذخیرو د رارسېدلو لاره یې پر وتړله. خسرو چې خپل نیم لښکر په دې اخ وډب کښې بایللی و، ویې غوښتل بېرته پارس ته وتښتي، خو میرویس له خپلو (۱٦) زرو تنو سره پر هغه یرغل وکړ، د جان ملکم په وینا د صفوي تېرکوونکیو له (۲۵) زرو تنو څخه یوازې پېنځو سوو تر اووسوو تنو پورې له مړینې ځان وژغورلای شو.

خسروخان هم په جګړه کښې د خپل اکا په څیرو وژل شو، د اد (۱۱۲۳هـ) کال د روژې پر ۲۸ مه (او د مجمع التواریخ په وینا پر ۱۱۲۴هـ) پېښه شوه، تر دې خونړۍ جګړې وروسته چې کندهاري ننګیالیو، صفوي تېري کوونکي ټول ووژل، د اصفهان دربار یوبل لوی خونړی لښکر د محمد رستم خان په مشرۍ کندهار ته راواستاوه، خو دا چې د ملي مشر مټ او بازو د ولس په یووالي او مرسته ډېر سخت غښتلی و، نو ځکه دغه لښکر هم هېڅ ونه کړای شول او مات شو، رستم د دې له پاره چې د خپلو اسلافو په برخلیك اخته نه شي بېرته پارس ته پرشاسو (۱۱۲٦هـ - ۱۷۱۴م).

همدارنګه محمد زمان قورچي باشي هم له اصفهانه له لوی لښکر سره کندهار ته راواستول شو، چې د میرزا خلیل په وینا د بسطام په سیمه کښې دی هم ووژل شو. څنګه چې په دې وخت کښې چې د هرات ملیون هم (لکه چې وویل شول) د ابدالي امیرانو په مشرتابه له متجاوزو صفویانو سره مقامت کاوه، ځکه نو تر هغه وروسته کندهار ته د صفوی لښکر را استول ممکن نه شول او میرویس هم په کندهار کښې د ښه واك خاوند او غښتلي ملي مشر شو، چې خلکو ورته د "بابا" لقب ورکئ.

ده په دې وخت کښې د ډهلي له دربار سره خپل سیاسي اړیکي ډېر ښه ساتل او د کندهار ملي دولت یې هغه دربار ته په رسمیت ور پېژندلی و په پای کښې یې دسیاسي دوستانه اړیکو د ټینګښت له پاره خپل ورور حاجي امکو د سفیر په توګه د هند تیموری پاچا فرخ سیر ډهلي دربار ته واستاوه او د هغه په لاس یې دوستانه سوغاتونه ورولېږل، د ډهلي دربار هم د کندهار ملي حکمران په رسمیت وپېژاند او د حاجي امیرخاني "خطاب یې د "تورې" او "پیل" له سوغاتو سره د میرویس ملي دربار ته راواستاوه (مجمع التواریخ) چې په دې سیاسي وسیله میرویس د خپل هېواد له ختیز اړخه تر

The Digital Library

یوه ځایه ډاډه شو. د میرویس د حکمرانۍ بریدونه له فراه، شین ډنډ (سبزوار) او سیستان څخه نیولي تر پښین او د سلیمان غره تر لمنو او شمال خوا تر غزني پورې رسېدل، پر ابدالي او غلجي قبیلو یې په مساوي توګه حکومت کاوه بلو ځانو هم ورسره مرسته او ملګرتیا کوله. ده د شاهۍ لقب ونه مانه، او په هغه جرګه کښې چې د کندهار قومو د ده د سترو خدمتو د ستایلو له پاره دی په خپله پاچهۍ مانه ده خلکو ته ویل چې: "ما د دې له پاره ستاسي خدمت نه دی کړی چې پاچهۍ وکړم یا د پاچهۍ پر تخت کښېنم او خولۍ کږه کښېږدم، زه په دې ښه نه ایسم چې پر تاسې پاچهي وکړم، بلکې په دې ښه ایسم چې ستاسې خدمتګاري وکړم ما ته همدا بس ده چې ولس راته "بابا" ووایي، نور نو نه جواهر غواړم او نه سره زر او سپین زر، زما همدابس دی چې ستاسي خدمت وکړم او تاسې د خپلو زامنو په څېر وروزم. زما پاچهي د لاسه نه کېږي، زه ستاسې کوچنی خادم یم!"

د ده د دغو خبرو مطلب د دري ژبې یو شاعر داسي منظوم کړي دي:

نه خدمت نمودم که شاهی کنم
بتخت شهی کج کلاهی کنم

نزیبد مراشاهی و سروري
سر افرازم از افسر چاکري

مرا بس که گویند قومم " پدر "
ندارم طمع گوهر وسیم وزر

همین افسرم به که خدمت کنم
شما را چوفرزند خود پرورم

نه دیهیم شاهی بود درخورم

شما را همی کمترك چاکرم

میرویس یو ځیرك، پوه او ډیپلومات سړی و، د ګاونډیانو په سیاسي اوضاع ښه پوه او صفوي دربار یې ښه پېژاند، د حکمدارۍ په دود او دستور ښه پوهېده، اته کاله یې د یوه مشربابا په توګه د خپل ولس مشرتوب وکړ، خلك یې خوښ وساتل تل یې د خلکو خواخوږي کوله او د مهربان پلار په څېر یې وروزل. په افغانستان کښې خلك ورته "بابا" وایي او د یوه بزرګ قطب په شان د ده د مزار زیارت کوي د ځینو ناروغیو له پاره د ده د مزار خاوره شفا بولي. وایي چې: دغه نومیالی مشر جګه ونه، قوي اندامونه او سپینه اوږده ږیره درلوده، پر سر یې وښتان نه وو، سپین پرتوګ اوسپین کمیس یې اغوستل او یو پټو یې درلود چې د کلیو په ملي جرګو کښې به یې پر مځکه د خلکو په منځ کښې غوړاوه او د کلیوالو په څېر به پر هغه کښېناست، نور به یې هم پر خپل پټو کښېنول او ملي پېښې او قضایا به یې د خپل صایب فکر په مرسته حل کول، خلك به یې له یو بل سره دوستۍ، ښېګڼې، همدردۍ او مرستې ته بلل.

میرویس د خپلو هېوادپالو مجاهداتو په پای کښې د افغاني سلطنت او ملي برم مړه ډیوه بیا په کندهار کښې بله کړه، د خپلواکۍ او آزادۍ هېر شوی درس یې د خپلو خلکو غوږو ته ورساوه او د ۱۱۲۷هـ کال د ذیحجةالحرام پر ۲۸ مه نېټه له دې دنیا ولاړ په افغان تاریخ کښې یې د تل له پاره نیك او ښه نوم پرېښوو، دی د کندهار ښار لوېدیځ خواته د کوکران په کلي کښې د لوی سړك پر غاړه ښخ او دا بیت یې پر مزار لیکلی دی:

بر سر مرقد ماچون گذری همت خواه
که زیارتگۀ مردان جهان خواهد بود

(وګورئ ۷٦ - ۷۷ عکس)

له میرویس څخه دوه زامن پاتې شول یو محمود چې د پلار د مړینې پر وخت ۱۸ کلن و او حسین چې ۱۴ کلن و. د میرویس تر مړینې وروسته یې ورور پرځای کښېناست چې د ملیسون، جان ملکم او سید جمال الدین په وینا "عبدالله" او د ده د همهالیو لکه جهانګشای نادري، مجمع التواریخ، پټه خزانه او همدارنګه د سلطان محمد، شېرمحمد، روضةالصفای ناصری او انسکلوپیډیای اسلامي په موثوق قول "عبدالعزیز" نومېد. دغه سړی د خپل ستر وررو په شان لوړ همت نه درلود، همدا چې واکمن شو ملي جرګه یې راوبلله او خلکو ته یې د صفویانو د اطاعت منلو وړاندیځ وکړ، ملي جرګې دغه جوغ ته غاړه کښې نه ښووده، خو عبدالعزیز د اصفهان دربار ته استازی ولېږه او په درو شرطو یې د اصفهان دربار اطاعت ومانه:

لومړی، د هغه باج او خراج معافول، چې د ګرګین په وختو کښې افغان اخیستل کېده.

دویم، کندهار ته د صفوي لښکر نه راتګ.

درېیم، د عبدالعزیز په اولاده د پاچهۍ دوام.

پښتانه چې د عبدالعزیز په دغه ناوړه وضعیت خبر شول، د دوی ځلوښتو زرو مشرانو د میرویس له مشر زوی محمود سره لاسونه یوکړل، عبدالعزیز یې وواژه.

خو په پټه خزانه کښې لیکلی شوي دي چې:

"میر عبدالعزیز چې د حاجي میر خان ورور و، په کندهار کښې مشر شو، خو د اولس رعایت یې کم کا. ځو چې په (۱۱۲۹) سنه هجري د شپې د نارنج له قصره له بامه خطا شو او راولوېد مړشو." (پټه خزانه - ۱۰۹مخ)

ملیسون د دې پېښې نېټه د (۱۷۱٦م) کال مارچ لیکي چې له

همهغه (۱۱۲۹م) کال سره برابره ده.

د کندهار خلکو دا پردی پال سړی په سزا ورساوه او پرې یې نه ښوو چې خپله ملي خپلواکي چې د زرو افغان زلمیانو په وینو اخیستل شوې وه، له لاسه وباسي، د عبدالعزیز تر مړینې وروسته یې د میرویس مشر زوی چې محمود نومېد خپل مشر وټاکه، محمود تر (۱۱۳۴هـ - ۱۷۲۱م) کال پورې د کندهار د پاچا په توګه حکمراني وکړه ده چې د پلار په شان یې لوړ همت درلود، د ملي حکومت د پراختیاپه فکر، کښې شو، پر همهغه کال یې د فراه او سیستان له لارې پر کرمان یرغل وکئ او د هغه ځای د حاکم "لطف علي" سره تر روغې وروسته بېرته کندهار ته راغی خو آرام نه کښیناست، بیا یې پر همهغه (۱۱۳۴هـ) کال په کندهار کښې ملی تازه دمه قواوي راغونډې کړې او د صفوي دولت پر پایتخت اصفهان یې حمله وکړه ښار یې کلابند کئ، تر اتو میاشتو کلابندۍ وروسته (۱۱- ۱۵ - محرم ۱۱۳۵هـ.ق - ۱۷۲۲م) د صفوي کورنۍ وروستی پاچاشاه حسین د ایران تاج او تخت محمود ته وسپاره او پایتخت یې د افغاني بریالي لښکر ته پرېښوو.

شاه محمود د ایران فاتح د اصفهان تر نیولو وروسته د خپلې شهنشانۍ په وختو کښې د خپلو لویو سپه‌لارانو لکه سیدال خان ناصر، پیر محمد میاجي، محمدخان او عبدالله خان بلوخ په واسطه لوی لښکرکښۍ وکړې چې تر دوه نیمو کالو پاچهۍ وروسته د (۱۱۳۷هـ - ۱۷۲۵م) کال د برات پر ۱۲ شپه په اصفهان کښې د دماغي ناروغۍ له امله د (۲۷) کالو پر عمر ووژل شو، دا د سلطان محمد، شېرمحمد ماثرالامراء او روضةالصفای ناصری وېناده، خو سید جمال الدین او ملیسون د ده د وژلو نیټه (۱۷۲۵م ۱۱۳۸هـ) کال لیکلې دي.

د اصفهان د فاتح شاه محمود تر وژلو وروسته د میرویس وراره د

عبدالعزیز زوی شاه اشرف په اصفهان کښې د افغاني سلطنت پرتخت کښیناست او په ځیرکۍ سره یې د سلطنت چارې په ډېره ښه او سمه توګه اداره کړې، سیدال خان ناصر یې بیا د افغاني لښکرو سپه سالار وټاکه او هرې خواته یې لښکرکښۍ او فتوحات وکړل. دده د وخت له مهمو پېښو څخه یوه هم د بغداد د والي احمد پاشا لښکرکښۍ وه چې د شاه اشرف د پاچهۍ پر درېیم کال د (۱۱۳۹هـ کال د برات له ۱۲ څخه د ۱۱۴۰ هـ - ۱۷۲۷م کال ترمنځ) وشوه. شاه اشرف په خپل لښکر تور کان مات کړل، خو نور یې پښتانه نه پرېښوول چې له تورکانو سره ونښلي، دا ځکه چې شاه اشرف نه غوښتل د ترکانواو افغانانو تر منځ زیات مرګ او ژوبله وشي، هغه و، چې د شاه اشرف د ښه سیاست په اثر دا پېښه تر (۹) میاشتو وروسته په روغه او صفا پای ته ورسېده، د ده د پاچهۍ پر پینځم کال (۱۱۴۲- ۱۷۲۹م) د عثماني خلیفه درېیم سلطان احمد خان له خوا راشد پاشا د سفیر په ډول د شاه اشرف دربار اصفهان ته راغی او هم له افغاني درباره محمد علیخان بلوڅ د ایلچي په توګه عثماني دربار ته ولاړ او په دې توګه د افغاني او عثماني دولتو تر منځ ښه اړیکي ټینګ شول.

تر هغه وروسته شاه اشرف د ایران له شمال څخه د روسي قواو د تیري مخه هم ونیوه، خو په داخل کښې له نادرافشار غونډې بډه (حریف) سره مخامخ شو او د افغاني قوت رسۍ سره وشلېده، دا ځکه چې له کندهاره چې د هوتکي پاچهۍ مرکز و، په ایران کښې افغاني لښکرو ته مرسته نه رسېده، له همدې کبله اشرف څو ځایه ماتې وکړه تر پینځو کالو او (۷) میاشتو پاچهۍ وروسته له ایرانه راپر شا شو، د هلمند پر غاړه د ګرمسیر ملخان کلا ته راغی، له هغه ځایه یې کوز ښوراوك زردکوه ته پناه یووړه او همهلته د عبدالله خان بلوڅ د زوی ابراهیم نومي له لاسه ووژل شو، دا پېښه

The Digital Library

د (۱۱۴۲ هـ - ۱۷۲۹ م) په پای کښې وه.

خو په کندهار کښې چې د هوتکو د پاچهۍ مرکز و، تر (۱۱۳۵هـ) کال وروسته چې شاه محمود اصفهان ونیو د ده کشر ورور شاه حسین حکومت کاوه دی عالم ادیب او ادب پال پاچاه و، د ده د پاچهۍ وخت په کندهار کښې په آرامۍ او هوسایۍ تېر شو، د پټې خزانې په وینا چې د ده په دربار کښې لیکل شوې، د ده امر له هراته، فراه او شین ډنډ (سبزوار) څخه نیولې تر غزني او ګومل پورې چلېده او هم يې د شال (کوټې) او پښنین سیمې د پنجاب د حدودو تر ډېره اسماعیل خان او ډېرهٔ غازي خان پورې ونیولې همدارنګه د کندهار ځواکونو له خوا د ملتان صوبه تر تهدید لاندې ونیول شوه او د افغاني قواو پر مختګ تر ملتانه ورسېد. دا مهال د هوتکو شهنشاهي د اوسني بلوچستانٔ په ګډون د دجلې له غاړو څخه تر ملتان پورې رسېدلې وه، چې لوېدیځ ته شاه محمود او شاه اشرف ختیځ ته شاه حسین حکومت کاوه. د شاه حسین د پاچهۍ آرامې دورې تر (۱۱۴۹هـ - ۱۷۳٦م) پورې دوام درلود، همدغه کال د رجب پر (۱۷) نادرافشار د افغانستان د سیمو د نیولو په تکل لښکر راویوست، څکه چې ده په پارس او ګرجستان کښې د افغاني قواو پایځوږ سره تیت او پرك کړی و، دا مهال يې د کندهار د هوتکي دولت له ماتولو پرته بل کارنه لارد، هغه وو چې نادرشاه د کوچنی اختر د میاشتې پر دویمه له سیستانه راتېر او د شوال پر ۱۸ مه د دلخك او دلارام له لارې د هلمند پرغاړه ګرشك کلا ته راورسېد، د هغه ځای تر نیولو وروسته د کوچنی اختر د میاشتې پر (۱۱)مه له هلمنده راپوریووت او د (۱۱۴۹هـ - ۱۷۳٦م) کال د ذیقعدې د میاشتې په سرکښې يې د کندهار تینګه کلا چې هوتکي پایتخت و، کلابنده کړه.

د کندهار زلمی مدافع شاه حسین د نامتو سپه سالار سیدال خان

ناصر په ملاتړ تر یوه کال او څو میاشتو پورې د کندهار ښار په ډېره مېړانه وساته او نادرشاه يې پرې نه ښوو، چې له خپل ډېر غښتلي پوځي ځواك سره سره کندهار ونیسي.

د (۱۱۵۰هـ - ۱۷۳۷م) کال د ذیحجې د میاشتې په سر کښې د شاه حسین نظامي مقاومت پای ته ورسېد څکه چې تر هغه دمخه لا د ده زړور سپه سالار سیدال خان د ده له زوی محمد سره د کلات په کلا کښې د نادرافشار لاس ته ور غلی و، او سیدال د نادر په امر ړوند کړای شوي و.

څکه نو شاه حسین نادرشاه ته غاړه کښېښووه، د کندهار له ماتې سره د هوتکو د شاهنشاهۍ ستوری هم ولوېد، ټول افغانستان د نادر افشار لاس ته ورغی د سلطان محمد په وینا شاه حسین تر ۱۵ کالو پاچهۍ وروسته د نادر په امر مازندران ته و شړل شو او همهلته د ۱۱۴۹ هـ کال (بنایي ۱۱۵۱ هـ - ۱۷۳۸م وي) د برات د میاشتې پر لسمه د نادري قهر په زهرو له دنیا ولاړ. (وګورئ ۷۸ - ۷۹ - ۸۰ نومره عکسونه).

د افغانستان په تاریخ کښې د هوتکو د حکمرانۍ ډېرش کلنه دوره د خپلواکۍ غورځنګ د راپاریدو له پلوه خورا غوره پېر دی، څکه چې په دغه دوره کښې څوواره پرله پسې په کندهار کښې د داخلي او ملي حکومت بنسټ کښېښوول شو، چې وروسته بیا احمد شاه بابا پر هغه بنسټ د افغاني سلطنت ماڼۍ ودانه کړه. دې دورې افغان ولس دنیا ته په زړورتوب وروپېژاند، په خپله میرویس غښتلی او ملي شخصیت درلود، د پوهې او پښتنې روزنې په غېږ کښې پالل شوی و، مور يې "نازو" د سلطان ملخي لور عالمه او شاعره میرمن وه، چې پټه خزانه ددې او د میرویس خان د لور "زینبې" پښتو شعرونه راوړي.

سربېره پر دې د هوتکو په دوره کښې ډېر ادیبان او د توري او قلم

The Digital Library

خاوندان وو، لکه سیدال خان ناصر ستر پښتون سپه سالار، بهادرخان، پیر محمد میاجي او داود خان چې د هغې دورې، هم جنګیالی سالاران او هم پوهیالي عالمان او شاعران وو. د هوتکو په وخت کښې د پټې خزانې کتاب د پښتو د لرغونیو او معاصرو شاعرانو د ژوندانه د پېښو په اړه د شاه حسین د دربار د منشي محمد هوتك په قلم و لیکل شو، همدارنګه ملابازمحمد توخي، ملایارمحمد هوتك (د ارکان خمسه مولف)، ملایونس توخي، ملا اکبر (په پښتو کښې د جامع الفرایض مولف)، ملازعفران توخی (د سلطان محمد په وینا تره کی او د امیر عبدالرحمن په وینا توخي) د شاه حسین وزیر او د "ګلدستهٔ زعفراني" مولف، الله یار اپریدي د پښتو شاعر او د دیوان خاوند، ریدي خان (د شاه محمود هوتك د فتوحاتو په باب کښې په پښتو ژبه د محمود نامې ناظم)، ملاعادل (په پښتو د محاسن الصلوة مولف) او ملانورمحمد (په پښتو د نافع المسلمین مولف) د هوتکي عصر شاعران او مولفان وو.

شاه حسین د کندهار ښار په نارنج شاهي مانۍ کښې چې کندوالې یې تراوسه شته ادبي جرګې درلودې عالمان او ژبور ادیبان یې پالل، میان عبدالحکیم کاکړ (مشهور په کاکاصاحب چې د اوسني بلوچستان په چتیالي کښې ښخ دی) د همدغه عصر له نومیالو روحانیونو او صوفیانو څخه و چې په نقشبندیه طریقه کښې د خپل وخت له اقطابو څخه ګڼل کېږي.

هوتکیان:

۱ - میرویس خان د ښالم خان زوی (۱۱۱۹ - ۱۱۲۷ هـ)

۲ - عبدالعزیز د ښالم خان زوی (۱۱۲۷ - ۱۱۲۹ هـ)

* ۳ - شاه محمود د میرویس زوی (۱۱۲۹ - ۱۱۳۷ هـ)

* ۴ - شاه اشرف د عبدالعزیز زوی (۱۱۳۷ - ۱۱۴۲ هـ)

* ۵ - شاه حسین د میرویس زوی (۱۱۳۵ - ۱۱۵۰ هـ)

اخځونه:

مخزن افغانی - تذکرة الابرار - جغرافیاي تاریخي ایران - معجم البلدان - طبقات ناصری - حیات افغانی - ماثرالامراء - منتخب اللباب ۲ ټوکه - تاریخ افغانستان د ملیسون تالیف - تتمة البیان - سرجان ملکم - پټه خزانه - روضة الصفای ناصری - تاریخ افغانستان د علی قلی میرزا - تاریخ نظامي ایران لومړی ټوك - تاریخ ایران د سرپرسي سایکس - نادرنامه (قلمي) - سیرالمتأخرین - مجمع التواریخ - میرویس بابا د کابل چاپ - تاریخ کرمان خورشید جهان - تاریخ سلطانی - صولت افغانی - د صفویانو سقوط او پرپارس باندې د افغانانو سلطه د لوکهارت انګلیس تالیف ۱۹۵۸ م - د محمد علی حزین د احوال تذکره - بدایع الوقایع.

The Digital Library

سدوزیان

(۱۱۶۰ - ۱۲۵۸هـ)

دمخه مو ولوستل چې نادرشاه د امام قلي افشار زوی (۱۱۴۸هـ - ۱۷۳۵م) له ایرانه راغی د هوتکو پاچهي او په هرات کښې یې د ابدالیانو حکمراني رنګه کړه او په تېره بیا د کندهار په نیولو یې د هوتکو پاچاهي بیخي ختمه کړه.

نادرشاه د کندهار د زاړه ښار د کلابندۍ په وخت کښې د کندهار د اوسني ښار لوېدیځ خوا ته پر نمناکو ځمکو د "نادرآباد" په نامه یو ښار ودان کئ او په هغه کښې یې پر (۱۱۵۰هـ - ۱۷۳۷م) کال په خپل نامه سکه ووهله زوړ ښار یې تر نیولو وروسته ونړاوه چې تر اوسه هماغسې ویجاړ پاتې دی. نادر پر همهغه کال د افغانستان شمالي ولایتونه له بدخشانه تر بلخ، میمنې او آمو سینده د خپل زوی رضا قلي په واسطه ونیول. د کندهار تر نیولو وروسته یې د سلطان محمود او بابر سیاست و چلاوه، له افغاني مشرانو سره یې نرمه لار غوره کړه عبدالغني خان الکوزی یې د هرات د ابدالیو قبیلو د مشر په توګه و پېژاند او پیر محمد خان هروي ته یې د بلوڅو او خاران حکومت ورکئ حاجي اسماعیل الکوزی یې د هرات د اسفزار حاکم وټاکه او اشرف خان غلجي ته یې د کلات حکومت وسپاره ده نېژدې

ځلوېښت زره افغان زړور سپایان د نور محمد خان غلجي په مشرۍ چې لقب یې "میرافغان" و، په خپل لښکر کښې واخیستل او د سیاسي ځیرکۍ له امله یې پر خپلو افغاني عسکرو بشپړ باور وکئ، نادرشاه د زمان خان ابدالي زوی احمدخان او ذوالفقار خان چې په کندهار کښې د شاه حسین هوتك په امر بندیان وو، ونازول او په مازندران کښې یې جاګیر او تنخا ورته وټاکله (۱۱۵۱ هـ - ۱۷۳۸ م).

نادرشاه بې له ځنډه د کابل خواته لاړ، د غلجیو کلات یې ونیو او خپل لښکر یې غزني او کابل ته واستاوه، دا مهال د کابل حکمران د ډهلي د دربار له خوا ناصرخان یو غښتلی، زړور او د خلکو خوښ سړی و، خو دا چې ډهلي دربار یې ملاتړ نه کاوه او تنخا یې هم نه ورکوله ځکه یې ځان ټینګ هم نه کړای شو، خو سره له هغه ناصرخان د شرزه خان او نورو افغاني قبیلو په مرسته کابل ساته، رحیمداد خان کوټوال په ښار کښې کلابند و، چې په پای کښې نادرشاه د کابل ښار کلاوې وراني او ویې نیولې (۱۱۵۱هـ) د نادر زوی د بامیان، ضحاك او د هندوکش د لمنو د نورو کلاو نیولو ته مخه وکړه د کابل او پېښور د لارې خانان عباس خان او سعدالله خان هم نادر ونیول، خو ناصرخان د کابل او پېښور تر منځ افغاني قبایل د نادر پر وړاندې جنګ ته چمتو کړل او د نادر دزوی شهزاده نصرالله له لښکر سره ونښت ناصر خان په یوه جګړه کښې ټپي او ونیول شو، خو نادرشاه هغه بیا د کابل او پېښور په حکمرانۍ وګماره او په خپله ده د ایران او افغان په تازه دمه لښکر پېښور ونیو، لاهور او ډهلي پورې پر مخ ولاړ (۱۱۵۲هـ - ۱۷۳۹م).

نادرشاه د ډهلي ترېولوژنې، چور او چپاو وروسته د انګریزي، اووه اتیانیم ملیونو پونډو په اندازه شتمني او جواهرو له شاه جهاني تخت طاوس سره پېښور ته راوړل (۱۱۵۲ هـ) خو چې تراټك راپورې ووت له یوسفزیو سره

The Digital Library

ونښت او په ډېره بېړه د خيبر تر درې راتېر شو چې تر کابل پورې سيمې يې خپلې کړې. تر هغه وروسته د کابل له جنوبي لارې د کورم، بنګښ، ډېره جاتو او سند خوا ته ولاړ د سند د سيند ټولې لوېديزې ځمکې يې ونيولې او د بولان د درې له لارې کندهار او هرات ته ولاړ، پر (۱۱۵۳هـ) کال يې د خپلو فتوحاتو جشن چې له ماوراءالنهر او خوارزم څخه نيولې د سند تر سيند، دجله، فرات او سيحون پورې رسېدل، په مشهد کښې جوړ کئ د (۱۱۵۴هـ - ۱۷۴۱م) کال په شاوخوا کښې يې احمد خان ابدالي له مازندران څخه را وغوښت او د ابدالي لښکر په مشر يې خپل همرکاب وټاکه. احمد خان شپږ کاله له نادر شاه سره په حضر او سفر کښې د جهاندارۍ په چارو کښې تجربه وکړه او داغستان او ايروان ته يې د نادرشاه په جنګي سفرو کښې خپل جنګي رشادتونه وښوول، تر دې حده يې د نادر ځانګړې پاملرنه ځان ته واړوله چې نادر به تر ځان وروسته پر ده باندې د پاچاهۍ مقام د نيولو زېرى کاوه.

نادر شاه تر زياتو فتوحاتو وروسته د مزاج اوښتلو له امله له خپل طبيعي حالته ووت، د خپلو شاوخوا خلکو په وينو تويولو او وژلو يې لاس پورې کئ چې د ده خپل نژدې درباري خلك ځينې وبېرېدل او د (۱۱۶۰هـ ۱۷۴۷م) کال د دربيمې خور (جمادى الاخرى) پر ۱۱ مه د يکشنبې پر شپه د خبوشان په فتح آباد کښې د محمد خان قجر، موسى افشار، خوجه بيګ افشار او صالح قرتلوي له خوا د نورو اويا تنو دربار په خوښه ووژل شو.

نادرافشار يو زړور، هوښيار او خونکار سړى و، د ده سياست په افغانستان کښې له قهر او ناز سره ګډ و، ده د هرات د ابداليانو ملي مشرتوب له بيخه ويوست او بيا يې په کندهار کښې د هوتکو پاچاهي هم له منځه يووړه، د دغو دواړو ټبرو مشران چې په افغانستان کښې يې د

خپلواکۍ بيرغ جګ ساته، د ده له لاسه ژوبل مړه او برباد شول، خو له دغه قهر او ناز سره سره يې په ټول افغانستان کښې د نوموړيو قبيلو له پاتې مشرانو سره جوړ شو، ويې نازول او ډېر افغاني زړور زلميان يې په خپل لښکر کښې د افغاني سالارانو په قيادت واخيستل او ويې پالل.

که له يوې خوا نادرشاه د افغاني ملي حکومت په هرات او کندهار کښې رنګ کړ (چې د کندهار د زاړه ښار کنډوالې تر اوسه د ده د ورانکاريو نښې دي) نو له بلې خوا به د احمدخان ابدالي غوندې مېړه پالنه چې تر ده وروسته يې په کندهار کښې بيا د افغاني لويې پاچهۍ خښته کښېښووه هم د ده له ښو يادګارو څخه وګڼل شي.

د نادرشاه تر وژلو وروسته احمدخان ابدالي او نورمحمدخان ميرافغان د افغان او ازبکو سپايانو په مرسته د نادرشاه حرم د ياغي لښکريانو له چور او چپاو څخه وژغوره، چې د دغه خدمت په بدل کښې د نادر د حرم له خوا د "کوه نور" مشهور الماس چې په هند کښې له افغاني لوديانو څخه بابر او د هغه کورنۍ ته پاتې شوى او د ډهلي تر نيولو وروسته د نادرشاه لاس ته ورغلى وو، ورکړل شو او ټولو افغاني قواو هرات ته مخه کړه، د (۱۱۶۰هـ ۱۷۴۷م) کال د درجب پر مياشت کندهار ته ورسېدل، افغاني مشرانو ژر تر ژره د نادرآباد نوې کلا ته نژدې د شيرسرخ پر هديره ملي جرګه جوړه کړه چې په هغې کښې د افغاني مشهورو قبيلو مشرانو لکه نورمحمدخان مير افغان د غلجيو مشر، محبت خان د پوپلزيو مشر، موسى خان د ساکزيو مشر، نصرالله خان د نورزيو مشر، او حاجي جمال خان د بارکزيو مشر ګډون کړى ؤ.

دې ملي جرګې له شوره ډکې اته غونډې وکړې، خو د قبيلو مشرانو ونه شو کړاى چې يو د بل حکمراني پر ځان ومني، نورمحمدخان ميرافغان

he Digital Library

د مشرتابه، تجربې او نفوذ له پلوه د دغه کار وړ ښکارېده، خو څنګه چې د تند مزاج خاوند و، ونه ټاکل شو، دويم سړی چې حاجي جمال ؤ، هم دومره پوخ، متين او د نفوذ څښتن ؤ، چې نور مشران دده له راتلونکي استبداد، قدرت او استيلا څخه ډارېدل. ټولو د پاچاهۍ له پاره داسې سړی لټاوه چې د افغاني آزاد مزاج، ملي ديموکراسۍ او نوي جرګې له اصولو سره يې سمون له لاری په راتلونکي کښې يې پر دوی په استبداد او زور حکومت نه کولای او په عين وخت کښې د غښتلې او قوي قبيلې خاوند هم نه وای.

د دې لويې تاريخي جرګې په نهمه غونډه کښې د ټولو خلکو سترګې احمدخان ابدالي ته واوښتلې چې " ۲۵ " کلن نوښتګر، زغمونکې پوه او ازميلی زلمی و، چې هم يې قبيله کوچنۍ وه "سدوزي ډېر لږ وو" او پښتنو مشرانو دا باور درلود چې دا کشر زلمی پر دوی په استبداد او شدت حکومت نه شي کولای ځکه يې نو دی په پاچاهۍ ومانه، او د دې ښه انتخاب په سبب يې د افغانانو له لاسه وتلی لرغونی برم و پرتم بيا را ژوندی کړ.

په دې وخت کښې صابرشاه نومې يو ملنګ د استاد لايخوار کابلي زوی چې د شيرسرخ په هديره کښې اوسيد، له خپلې کوډلې راووت، او هديرې ته نژدې له کروندې يې څو غنم وړې پرې او د دغه نوي انتخاب شوي زلمي پاچا په پګړۍ کښې يې د "خول " په توګه وټومبل، دا د (۱۱۶۰هـ ۱۷۴۷م) کال د رجب (جولای) پر مياشت پېښه شوه).

احمد شاه بابا

احمدشاه ابدالي د هرات د حکمران زمان خان (چې دمخه يې يادونه وشوه) زوی، په خټه ابدالي سدوزی په (۱۱۳۵هـ ۱۷۲۲م) کال د زرغونې نومې مېرمنې له نسه چې په خټه الکوزۍ وه، په ملتان يا هرات کښې وزېږېد، سره له دې چې د سن له مخې کشر ؤ، خو د خپل سلطنت په وختو کښې يې افغانستان ته لوی خدمت وکړ، چې په همدې سبب د افغانستان خلکو ورته د "بابا" لقب ورکړ. ده پر خپل مهر چې طاوسي شکل ئې درلود دا جمله ليکلې وه:

"الحکم لله يافتاح - احمد شاه در دران" د "دراني" کلمه که څه هم پخوا په تاريخو کښې څرګنده استعمالېده، خو تر هغه وروسته يې ښيخې د "ابدالي" کلمې ځای ونيو چې تر اوسه ټول ابداليان ځانونه "دراني" بولي.

احمدشاه په افغانستان کښې اداري، لښکري، مالي او مدني تشکيلات تاسيس او وزيران يې وټاکل، چې اشرف الوزراء بګې خان باميزی مشهور په شاه وليخان د ده سر وزير ؤ او په (۱۱۷۴هـ ۱۷۶۰م)کال يې د "احمد شاهي ښار" په نامه د کندهار د اوسنی ښار بنسټ کښېښوو، پر (۱۱۶۶هـ) کال يې د کابل جنګي حصار ودان او هم يې د هندوکش په شمال کښې د تاشقرغان ښار جوړ کړ او په سند کښې يې د حيدرآباد ښار د بنسټ

ډېره کېښوده (۱۱۸۲هـ). په کندهار، مشهد، اټك، ډهلي، روهيلکنډ، پېښور، ټټه، ډېره غازيخان، کشمير، کابل، ملتان او هرات کښې يې په خپل نامه سکه ووهله، د ده سرو زرو، سپينو زرو او مسو د احمدشاهي دولت رسمي نښان (دوه څوکې توره، د غنمو وږی او ستوري) کيندل شوی. او پر ځينو سکو دا بيت هم ؤ:

حکم شد از قادر بيچون باحمد پادشاه
سکه زن برسيم و زر از پشت ماهی تا بماه

احمد شاه په منځني توګه يو لك عسکر ساتل او له پنجاب، کشمير او سنده نيولې د آمو تر سيند، مشهد او بحيرهٔ عرب پورې د ده د هېواد ټول عايدات (۳۱) مليونو روپيو ته رسيدل، خو جنګي ولجې، خزانې او نور زيات ثروتونه چې د هند په جګړو کښې لاس ته ورتله له دغه شمېرد بېل دي.

ده د خپلې پاچاهۍ پر مهال دغه جګړه ييز سفرونه بشپړ کړي دي:

د احمدشاه بابا جګړه ييز سفرونه

۱- د (۱۱٦۰هـ -۱۷۴۷م) کال په پای کښې يې غزني، کابل او پېښور ونيو او په کابل او پېښور کښې يې (تيموري او نادري پخوانی حاکم) ناصرخان مات کئ، عبدالصمد خان مومندزی د اشنغر يو مشر له احمد شاهي لښکر سره يو ځای شو. احمد شاهي سپه سالار سردار جهانخان، ناصر خان د اټك هاخوا ته وځغلاوه او په خپله احمدشاه کندهار ته ولاړ.

۲- پر (۱۱٦۱هـ - ۱۷۴۸م) کال له ډېرشو زرو پليو او سپرو سره له کندهاره راووت او د کابل او پېښور له لارې د اټك او جيلم غاړو ته ورسيد. د لاهور حکمران شهنوازخان د وزيرالممالك قمرالدينخان په واسطه له ډهلي څخه مرسته وغوښتله، او د چناب د سيند پر غاړه له احمد شاهي لښکر سره مخامخ شو، خو د جنګ له ميدانه وتښتېد او احمدشاه لاهور ونيو، تر هغه وروسته يې ډهلی ونيو، د محمد شاه لښکر يې مات او د ربيع الاول پر ۱۳مه ۱۱٦۱ د سرهند ښار ته ننوت.

د ۱۱٦۱هـ کال د لومړی خور پر ۲۲ مه د جمعې پر ورځ تر مالوپور په جګړه کښې وزيرالممالك قمرالدين خان ووژل شو، څکه نو د ډهلي ګورګاني پاچا محمدشاه د لاهور ولايت د هغه خلف مېرمنو معين الملك ته وسپاره، احمد شاه له ډهلي دولت سره روغه وکړه، د سند سيند يې د دوو هېوادو تر منځ بريد وټاکه او د پېښور - کابل له لارې بېرته کندهار ته راغی.

۳- پر ۱۱٦۲هـ د کابل او پېښور له لارې لاهور ته لاړ، د لاهور له حکمران مېرمنو معين الملك سره يې هم روغه وکړه، د سيالکوټ، ګجرات، پنجاب د اورنګ آباد او امرتسر ماليات يې د مېرمنو پر غاړه کښېښووه چې

هر کال به يې احمد شاهي اعلی ديوان ته رسوي، کندهار ته بېرته د رسېدو پر وخت يې د قبيلو ځينې مشران لکه: نورمحمد خان ميرافغان غلجي، ګدوخان او محبت خان پوپلزی چې د ده پر خلاف يې دسيسه جوړه کړې وه ووژل.

۴ - پر ۱۱۶۳ هـ ۱۷۴۹م کال هرات ته ولاړ هغه ښار يې تر څلورو مياشتو کلابندۍ وروسته له امير عالم خان څخه ونيو او د سردار جهان خان پوپلزي په مشرۍ يې پينځه زره سپاره تر بت جام ته ولېږل، هرات يې درويش علي خان هزاره ته وسپاره او په خپله مشهد ته لاړ، هغه ښار يې تر څلورو مياشتو کلابندۍ وروسته د نادرشاه لمسی شهرخ ميرزا ته ورکئ او په خپله د نيشاپور خوا ته ولاړ، خو چې د نيشاپور حاکم عباس قلي خان بيات مقاومت وکئ او له بلې خوا د ژمي سخت موسم راغی، نو احمدشاه د هرات له لارې کندهار ته راوګرځېد.

۵- د بلوچستان سفر: د احمد شاه "بابا" په وخت کښې د کلات حکمران او د براهوی خان د نادرشاه له خوا د ميرعبد الله زوی ميرمحبت خان ؤ، خو بلوڅخان چې د هغه د کشر ورور امير نصير خان پر خوا وو او د احمد شاه حضور ته يې عرض کړی ؤ، نو ځکه پر ۱۱۶۳ هـ کال چې احمدشاه د خراسان له سفره راوګرځېد ، سمدستي يې له کندهاره د بلوڅو کلا ته مخه وکړه، په دغه وخت کښې ميرنصيرخان د سند په خدا آباد کښې ميا نورمحمد کلهوره ته ناست ؤ، مور يې بي بي مريمه په کندهار کښې وه او دواړو شاهي مرسته غوښتله.

احمد شاه مستنګ ته تر رسېدو وروسته کلات ته رهي شو، مير محبت خان حاجي رحيم خان بابي له قرآنکريم سره د احمدشاه حضور ته شفيع واستاوه، احمدشاه هم د سمدستي له پاره د کلات خاني ميرمحبت خان

The Digital Library

ته پرېښووه بېرته کندهار ته راغی. نوموړي خان خپله يوه خور چې بي بي ميرګوهر نوميده د آخون محمد حيات په وسيله په غزني کښې د احمدشاه حضور ته واستوله او هغه هم واده کړه. څو مياشتې وروسته د بلوڅو د خانۍ د ستونزې د هوارۍ له پاره د هغې سيمې ټول نوميالي سرداران کندهار ته د احمدشاه حضور ته راوغوښتل شول، مير نصير خان هم له خپلې مور سره هلته و چې په پای کښې احمدشاه، مير محبت خان د طهماسپ خان په لاس بندي او مير نصيرخان يې د کلات په خانۍ وګماره (۱۱۶۴).

خو مير نصير خان په کلات کښې د خپلسرۍ بيرغ اوچت کړ. هغه ؤ، چې د بلوڅو د قبيلو يوې برخې په کندهار کښې د احمد شاه حضور ته استغاثې وکړې، احمدشاه چې دا خبر واورېد ژر وخوځېد او کلات يې دوولس ورځې کلابند کئ، خو د جنګ او وينو تويولو امر يې و، نه کئ، په پای کښې نصير خان د آخون محمد حيات او وزير شاه ولي خان په واسطه د احمدشاه حضور ته ورسېد او وبخښل شو چې تر دې وروسته يې په احمد شاهي لښکر کښيو کښې ګډون کاوه.

۶ - په ۱۱۶۴ هـ کال بيا احمدشاه له خپل لښکر سره د هرات له لارې پر نيشاپور حمله وکړه، د نيشاپور کلا يې په لويو توپو وويشته او ويې نيوله، د هغه ځای حکومت يې بېرته عباس قلي خان بيات ته چې تسليم شوی و، وسپاره. احمدشاه د خراسان شاوخوا ونيول. د مشهد له حکمران شاهرخ ميرزا سره يې په دې شرط روغه وکړه چې سکه او خطبه به د ده په نامه وي او د جام، باخرز، تربت، خواف او تر شيرازه ولايتونو احمدشاه ته وسپاري، تر هغه وروسته شاهرخ خپله سکه په دې بيت کښلې کړه:

يافت از الطاف احمد پادشاه   شاهرخ بر تخت شاهي تکيه گاه

احمد شاه له مشهده هرات ته راغی او وزير شاه ولي خان يې مرو،

The Digital Library

میمنه، اندخوی، بلخ، بامیان او بدخشان ته واستاوه، نوموړي وزیر د افغانستان ټول شمالي ولایتونه د هېواد په مرکز پورې وتړل.

۷ - پر ۱۱۶۵هـ ۱۷۵۱م کال د پنجاب د نیولو له پاره لاهور ته ولاړ. مېرمنو معین الملك تر ځلور میاشتو پورې مقابله وکړه، خو تر هغه وروسته تسلیم شو او احمد شاه دی د هغه ځای حاکم په توګه وپېژاند.

په دغه سفر کې د احمد شاه له حضوره (ایشیك آقاسی) شاغاسي عبدالله خان د کشمیر نیولو ته وګمارل شو او هغه هم ونیو، خواجه عبدالله کوچك یې د کشمیر حاکم او سکجیون هندو یې د هغه ځای مستوفي وټاکه، قلندر خان پښتون یې د ډهلي دربار ته سفیر واستاوه او ګورګاني احمد شاه ومنله چې پنجاب، سند او کشمیر دې د احمد شاهي هېواد برخه وي.

احمد شاه د پنجاب، ملتان او کشمیر د چارو تر سمون وروسته د سند د سیند ښی غاړې ته راپورې ووت، بنو او کابل ته راغی او له دې ځایه بېرته کندهار ته ولاړ.

۸ - د ۱۱۶۷هـ کال په سر کښې احمدشاه سند ته یو سفر وکړ، چې شرح به یې وروسته راشي، خو د همدغه کال په منځ کښې له کندهاره هرات ته ولاړ او د خراسان تر نیولو وروسته یې مشهد کلابند کړ، د نادرشاه لمسي شاهرخ میرزا د ده اطاعت ته غاړه کښېښووه، احمدشاه د ړانده شاهرخ نیابت نورمحمد خان افغان ته وسپاره، جام، باخرز، خاف، تربت او تر شېرازه یې په هرات پورې وتړل او شاه پسند خان یې د شاهرود بسطام او سبز وار د نیولو له پاره واستاوه.

تر هغه وروسته، عباس قلي خان بیات په نیشاپور کښې کلابند او غاړې ایښودو ته اړکړ او بیا یې هم دی د نېشاپور په حکومت وګماره، د هغې طایفې څو کورنۍ یې غزني او کابل ته ولېږلې او په ۱۱۶۸هـ کال بېرته

کندهار ته وګرځېد.

۹- پر ۱۱۶۷هـ چې مېرمنو معین الملك مړ شو، احمد شاه د هغه زوی میر مومن د لاهور حکمران وټاکه. خو دی چې کوچنی ؤ، نو د خپلې مور مغلانې بیګم په لاربښوونه یې حکومت کاوه. په دې وخت د مغلانې بیګم او امیرانو تر منځ اختلاف پېښ شو، د نواب عبدالصمد خان زوی خواجه عبدالله خان نوموړې میرمن بندي کړه او له احمد شاهي حضوره یې د لاهور د حکمران مقام وغوښت. احمدشاه د جهان خان سپه سالار ورور امان خان پوپلزی د لاهور د چارو د سمون له پاره ور واستاوه، خو هغه څه و نه شو کړای او پر (۱۱۷۰هـ) کال آدینه بېګ د ډهلي له لښکر سره لاهور ونیو او پر کال یې دېرش لکه روپۍ ډهلي ته ورکولې.

دا وخت په کشمیر کښې سکجیون هندو هم د احمدشاه له اطاعته سر وغړاوه او افغاني حکمران خواجه کوچك یې وواژه، د ډهلي په لمسانه یې د کشمیر حکمراني ونیوله، همهغه وو چې احمدشاه له کندهاره لاهور ته ولاړ او د هغه سیمو تر نیوو وروسته یې نورالدین خان بامیزی کشمیر ته واستاوه هغه سکجیون ونیو او کشمیر یې بېرته په افغاني هېواد پورې وتاړه.

احمد شاه له لاهوره ډهلي ته مخه وکړه او په کرنال کښې یې د اصالت خان یوسفزي زوی نواب نجیب الدوله مخې ته راغی، د (۱۱۷۰هـ) کال د درېیمې خور (جمادي الاولی) پر ۷ مه د جمعې په ورځ ډهلي ته ننوت، دویم عالمګیر یې د ډهلي پر تخت کښېناوه او د هغه د ورور شهزاده عزیزالدین لور یې شهزاده تیمور ته وکړه د ډهلي د وزارت چارې یې د قمرالدین خان زوی نظام الدوله ته وسپارلې او نواب نجیب الدوله یې د هند سپه سالار وټاکه. احمدشاه د ډهلي د شاوخوا تر نیولو او د هغه ځای د یاغیانو تر وهلو وروسته عبدالصمد خان اشنغری مهمندزی د سر هند حاکم،

The Digital Library

سرفراز خان یې د دوآبه ستلج او بیاه حاکم، شجاع خان ابدالي یې د ملتان حاکم او شهزاده تیمور یې تر سند او تته پورې د لاهور حاکم وټاکه. سپه سالار جهان خان یې د سکانو مخنیوي ته وګماره، بلند خان سدوزی ته یې د کشمیر حکومت وسپاره او د (۱۱۷۰هـ - ۱۷۵۶م) کال په پای کښې کندهار ته را وګرځېد.

۱۰ - د پانـــي پـــت غـــــزا:

احمد شاه چې پر (۱۱۷۰هـ) کال له هنده را وګرځېد په پنجاب کښې نوي فتنې پیدا شوې او د فیروز جنګ زوی غازي الدین خان او آدینه بیګ پورته شول.

سیکانو هم په پنجاب کښې قوت وموند او د لوېدیځ له خوا هم د مرهټه لویو قوتو د ډهلي پاچاهي ګواښله او پنجاب یې هم ونیو، چې شهزاده تیمور او سپه سالار جهان خان د دغو ټولو ځواکو د ګواښ له مخنیوي څخه عاجز شول، دا مهال د هند اسلامي مشرانو او د ډهلي امیرانو احمدشاه راوباله چې د هند د اسلامي پاچاهۍ د ساتلو او ژغورلو له پاره هند ته راشي. امام الهند شاه ولي الله دهلوي هم د احمدشاه حضور ته لیکونه واستول او دی یې هند ته وباله، ځکه نو احمدشاه له کندهاره پر (۱۱۷۱هـ) کال د بلوڅو کلات ته خوځېد او هلته یې نصیر خان چې خپل سری شوي و د روغې جوړې له لارې تسلیمېدو ته اړویست. بیا نو د کندهار له ډېرشو زرو او د بلوڅو له لسو زرو عسکرو سره د نصیر خان او سراوان جاله وان د سردار میر عبدالنبي د ورور میر عبد الکریم او نورو په مشرۍ د بولان له درې څخه تیر (۱۱۷۲هـ) او د سند د سیند غاړو ته ورسېد، له هغه ځایه د لاهور خوا ته وخوځید او سارنپور ته ولاړ.

هلته د هند د پښتنو ستر مشران لکه سپه سالار نجیب الدوله، سعدالله خان روهیله، حافظ الملك رحمت خان او د هغه زوی عنایت خان، دوندي خان او قطب خان له لسو زرو تنو لښکر سره د احمدشاه حضور ته راغلل. دا وخت د احمدشاه ټول لښکر چې په هغه کښې د کندهار، پېښور، بلوڅو او د هند د افغان غازیان راغونډ شوي وو، شپېتو زرو پلیو او سپرو ته رسېده چې توپخانه هم ور سره وه.

احمد شاهي لښکرو له هندوانو او سیکانو سره تر ډېرو جګړو وروسته "چې دښمنانو ته یې ډېرې ماتې ورکړې" وروستنۍ ټاکونکې جګړه د پاني پت پر ډګر له لسو لکو مرهټانو او هندوانو سره وکړه او په دې جګړه کښې یې د دښمن په زرو زرو جګړن (دوه لکه) کسان تر تېغ تېر کړل، د (۱۱۷۴هـ ۱۷۶۰م) کال د څلورمې خور (جمادی الاخری) په شپږمه نېټه یې لویه سوبه (فتح) په برخه شوه، چې د دې سترې غزا جنګي ولجې او غنایم (۵۰) زره آسان، دوه لکه غوایي، پنځه سوه پیلان، څو زره اوښان او ۲۲ زره بندیان لاس ته ورغلل، چې له یوه ابراهیم نومي پرته یې نور ټول وبخښل شول.

احمدشاه د پاني پت تر ټولو لویې سوبې او له مرهټانو څخه د هند د مسلمانانو تر ژغورلو وروسته د دویم عالمګیر زوی شاه عالم په ډهلي کښې پاچا او میرزا جوان بخت زوی یې ور نایب السلطنه کی، نواب شجاع الدوله یې د فرزندخان او رستم هند په لقب وزیر اعظم او پښتون نواب نجیب الدوله یې سپه سالار وټاکه د پنجاب حکومت یې زین خان مومند ته ورکځ، په خپله کندهار ته راغی او شهزاده تیمور یې د هرات په حکمرانۍ ولېږه.

The Digital Library

۱۱ - د سیکانو ترټل:

هغه وخت چې احمدشاه د پاني پت تر سوبې وروسته کندهار ته راوګرځېد په پنجاب کښې جیسا سنګهه د بغاوت بیرغ پورته کئ، چې د رنجیت نیکه چهرت سنګهه او الاجت هم په دې بغاوت کښې لاس درلود د پنجاب نایب الحکومه زین خان یې کلابند کئ.

احمدشاه د دې شخړې د مخنیوي له پاره د (۱۱۷۵هـ۱۷۶۳م) کال په لومړۍ نیمايي کښې لاهور ته ولاړ، په ۴۸ ساعته جګړه کښې یې د امرتسر خوا ته ۱۳۵ میله واټن وواهه او په "روهي" کښې د سیکانو له دوه سوه زریز لښکر سره مخامخ شو، د ۱۱۷۵هـ کال د رجب د ۱۱ مې نېټې په جګړه کښې یې د شلو زرو سکانو په شاوخوا کښې ووژل او مات یې کړل. د پټیالې او سرهند حکومت یې امبر سنګهه ته ورکئ او د ۱۱۷۵هـ کال د برات تر ۷ مې پورې لاهور ته بریالی را وګرځېد، نورالدین خان بامیزی یې کشمیر ته واستاوه، هغه یاغي مستوفي سکجیون بندي کئ او کشمیر یې بیا ونیو.

احمدشاه تر ۱۱۷۷ هـ کال پورې د پنجاب د چارو په سمون اخته و او د ملتان ډېره اسمعیل خان له لارې ګومل او غزني ته راغی، خو په دغه سفر کښې سختې ګرمۍ ناروغ کړ.

۱۲- بخارا ته تګ:

پر ۱۱۸۱هـ کال وزیر شاه ولي خان له شپږو زرو سپرو سره له کندهاره بلخ او بدخشان ته واستول شو.

د بخارا حکمران شاه مراد بې چې د افغانستان په شمالي سیمو کښې یې یاغیان پارول، ځکه نو پر همدغه کال په خپله احمدشاه د هرات له

لارې میمنه، اندخود، بلخ او شبرغان تصفیه کړل، د بخارا پاچا د آمو په شمال قرشي کښې لښکر راغونډ کړی و، خو احمدشاه د بخارا له مسلمان لښکر سره جګړه له خپل شان سره ورنه بلله؛ د بخارا له پاچا سره یې روغه وکړه، او آمو سیند یې د دواړو هېوادو برید وټاکه.

په دغه سفر کښې وزیر شاه ولي خان د جوزجان له فیض آباد څخه خرقه شریفه کندهار ته راوړه چې تر اوسه په دغه ښار کښې ده.

۱۳ - خراسان ته تګ:

څه مهال وړاندې د احمدشاه له خوا د نادرشاه ړوند لمسي شاهرخ میرزا د خراسان پاچا ټاکلی شوی او د احمدشاه تر شاهنشاهۍ لاندې و، خو دا چې د ۱۱۸۳هـ په شاوخوا کښې د شاهرخ زلمی زوی نصرالله میرزا او د تون او طبس حاکم علي مردان خان خپل سري شوي وو او د فارس پاچا کریم خان زند دربار ته یې رجوع هم کړې وه ځکه نو د ۱۱۸۳هـ کال په پای کښې احمدشاه له کندهاره هرات او مشهد ته ولاړ په دغه سفر کښې د بلوڅو پاچا نصیرخان چې د احمدشاهي دربار تابع و له شلو زرو تنو سره د خراسان په جګړو کښې ښې کارنامې وکړې او د ترشیز په کلا کښې یې علي مردان مات کئ، چې د دې خدمتو په مقابل کښې د احمدشاه له حضوره د ډېرهٔ غازیخان د داجل او هرند سیمې او د بلوڅو ولجې هم ده ته وبخښلې شوې.

خو احمدشاه د مشهد تر لنډې کلا بندۍ وروسته د نصرالله میرزا عذر ومانه او د شاهرخ لور ګوهر شاده یې شهزاده تیمور ته وکړه او نصر الله میرزا ته یې د "فرزندخاني" لقب ورکئ د خراسان پاچاهي یې شاهرخ ته وبخښله او ۱۱۸۴هـ کال د صفرې پر ۸ مه د هرات له لارې کندهار ته راغی.

The Digital Library

احمد شاه او سندهـ

پر (۱۱٦۰هـ) کال چې نادر شاه افشار ووژل شو، احمد شاه ابدالي په کندهار کښې د افغانستان په پاچاهۍ وټاکل شو، په سندهـ کښې ميان نور محمد کلهوره د نادري تر امر لاندې اسير ؤ، پر (۱۱٦۱هـ) - (۱۷۴۸م) کال احمد شاه هند ته سفر وکړ. ده په سندهـ کښې د ميان نور محمد کلهوره امارت په رسميت وپېژاند او هغه ته يې د "شاهنواز خان" لقب ورکړ. هغه هم د کندهار دربار ته د کالنيو ماليو دور کړې ژمنه وکړه.

خو چې وروسته ميا نور محمد د خراج په ورکړه کښې سستي وکړه احمد شاه يو فرمان ور واستاوه او په هغه کښې يې د ماليو ورکړه وغوښته چې "خايف" سندهي د هغه فرمان مضمون د احمد شاه له خولې د "نامهٔ نغز" په دې بيت کښې داسې ځای کړې دی:

رساندی تو گر گنج درباج ما　　شدي ايمن از تاب تا راج ما

دا فرمان چې د سندهـ دربار ته ورسېد، ميان نور محمد د اطلس، کمخاب، ديبا او وريښمو د کاليو او قرنفل، مشك، عود او عنبر قيتمداره سوغاتونه د يوې درې کسيزې جرگې په لاس د بهای خان کلهوره په مشرۍ د کندهار دربار ته واستول او وې ويل:

سلامی رسانش بعجز ونياز　　که ای شاه افغان گردن فراز
منم بندهٔ تاجدار تو ام　　به فرمانبداري نامراد تو ام
من ازلطف تو چشم دارم بهي　　بر شاه من ميکنم آگهی

دا سفارتي جرگه چې احمد شاهي دربار ته ورسېده د دواړه دربارو دوستانه اړيکې؛ تر پخوا لا ښه شول او د شيخ محمد مريد قانوگو زوی شيخ محمد محفوظ سر خوش د سندهـ دربار له خوا کندهار او کابل ته د وکيل په توگه وټاکل شو، چې تر ۱۱٦۸هـ کال پورې په کابل کښې و. خو سره له دې هم هغه ماليې چې د ورکړې وعده يې شوې وه له سنده کندهار دربار ته راونه رسېدې، ځکه نو احمدشاه د سردار جهان خان سپه سالار په مشرۍ د هند د سفر له پاره يو لښکر چمتو کړ، چې پر (۱۱٦٦هـ ۱۷۵۳م) کال په سندهـ کې سپه سالار د ورتلو اوازه گډه شوه، خو د همغه کال په پای ځرگنده شوه چې په خپله پاچا هم د سندهـ خوا ته رهي شوي دی.

د (۱۱٦۷هـ کال د محرمې پر ځلورمه - ۱۷۵۳م د نومبر پر لومړۍ نېټه) احمد شاه د محمد آباد شکې (ريگستان) ته رسېدلی و، د سندهـ دربار په ډېره ښېره ديوان گدومل د سفير په توگه دده حضور ته واستاوه، چې د ميان نور محمد د اطاعت او انقياد خبر ورووړی او په وروستۍ هڅې د احمد شاه د پرمختگ مخه ونيسي.

گد ومل سکهرپل ته نژدې شاهي لښکرگاه ته ورسېد، خو تر دوو ورځو پورې يې پاچا و نه ليدلای شو، ځو چې شاهي موکب نوښار ته راغی هلته گدومل د پاچا حضور ته ورغی او د پاچا راضي کولو کښې يې ډېر زيات زيار ويوست. وايي چې احمد شاه ډېر غضبناك و، خو گدومل هم هوښيار، ژبور او کارپوه سفير و، چې په لطايف الحيل يې د شاهي غضب په آرامولو کښې زيار ويوست. دی په دې پوه و چې احمد شاه اولياء الله ته عقيده لري، نو ځو جواله يې له خاورو ډك کړل او له نورو سوغاتو سره يې وړاندې کړل، احمد شاه پوښتنه وکړه: په دې جوالو کښې څه شی دی؟ گدومل ورته وويل: د سند ډېر ښه سوغات، يعنې د سندهـ د اولياوو د قبرو

The Digital Library

پاکې خاورې.

احمد شاه هغه سوغات ته په درنه سترګه وکتل، قهر يې کښېناست، او د سندهـ له خلکو سره يې نرمه رويه را واخيستله، خو ميان نور محمد خان په دې وخت کښې سندهـ پرېښوو او ختيځ خوا ته جيسلمير ته ولاړ. هلته د (۱۱٦۷هـ کال د صفر پر ۱۲ - ۱۷۵۳م ددسمبر پر ۹مه) د کورهره په سرکهات کښې د ستغې (خناق) په ناروغۍ مړ شو.

په تذکرهٔ مخاديم کهرا کښې د احمد شاه يو فرمان دی چې د ۱۱٦۷هـ کال د محرم پر ۲۱ مه ليکلی شوی، له هغه څخه ځرګندېږي چې احمد شاه د همغه کال په سر کښې سندهـ ته تللی و، د زياتو مؤرخانو څېړنې هم دې ليکنې سره سمون خوري، لکه چې ووېل شول احمد شاه د همدغه کال په منځ کښې له سندهـ نه خراسان ته ولاړ، يعنې د بېرته راګرځېدو پر مهال يې مخ خرسان ته شو.

د ميان نور محمد تر مېړنې وروسته يې زوی محمد مراد ياب خان د ده پر ځای کښېناست، د احمد شاه حضور ته يې يو وکيل واستاوه او د مالياتو ورکړه يې ومنله. احمد شاه هم دی د سندهـ د حکمران په توګه ومانه او د "سربلند خان" لقب يې ورکړ.

ښکار پورښار چې تل د کلهوره حکمرانانو او بلوڅو د داود پوه تره قبيلو تر منځ د شخړې ځای ؤ. څکه نو احمد شاه هغه ښار د سبي په ولايت پورې وتاړه اداره يې افغان حاکم ته وسپارله، په دې ډول د افغانستان تجارت د ښکارپور له لارې تر ماوراء النهر او خراسان پورې جاري شو، دغه ښار د سوداګرۍ يوه غوره ځای شو سربېره پر دې احمد شاه په سند کښې اسماعيل خان پنې د شهنشاهي دربار استازی وټاکه او اسماعيل، محمد آباد ته ورغی څو تنه عاملان يې د سيد شاه مخمد تر ادارې لاندې تته او نورو

ښارو ته واستول، چې له هغې جملې څخه صالح خان تته ته ولاړ او د پخواني حاکم ګل محمد خان خراساني ځای يې ونيو او د ماليو په ټولولو يې لاس پورې کړ.

په دې وخت کښې احمد شاهي سفير محمد بيګ شاملو هم تته ته راغی، او آقا محمد صالح يې د تته حکمران وټاکه د ښار سپين ږيري او مخ روبي يې شهرياري حضور ته وروستل، خو چې د اسماعيل او شاملو د ګمارل شوېـ تر منځ اختلاف راټوکېد، نو څکه قاضي محمد محفوظ د تته حکمران وټاکل شو.

دا مهال محمد مراد ياب خان د احمد شاه له خوا دسند د امير په توګه وپېژاند شو، د "سر بلند خان" لقب ورکړه شو، په دې ټوله موده کښې يې د ميان نور محمد مرحوم سفير ديوان ګدومل شاهي دربار ته فعاليت کاوه، چې د کلهوراد امارت د کاله مشران يې دربار ته نژدې کړه او احمدشاه دوی په رسميت وپېژندل، د محمد مراد ياب خان کوچنی ورور محمد عطر خان يې په شاهي دربار کښې د يرغمل په توګه مېلمه وساته، په دې روغه جوړه کښې محمد مراد ياب خان احمد شاهي دربار ته د سندهـ تر ټاکلې ماليې څه ډېره منلې وه.

تر هغه وروسته د سندهـ مشران او مخ روبي په امر کوټ کښې د خپل نوی امير محمد مراد ياب خان حضور ته ورغلل او هغه يې د امير مرکز ته بوت (د ۱۱٦۷هـ کال د صفر ۱٦مه) او شيخ ظفر الله د تته په حاکمۍ وګمارل شو.

دغه مهال ديوان ګدومل له احمد شاهي فرمان او فخر وړ سوغاتو سره د احمد شاه له حضوره امرکوټ ته ورسېد، هغه فرمان او سوغاتونه يې نوي امير ته وړاندې کړل، نصر پورته نژدې په يوه ميدان کښې د محمد

The Digital Library

مرادیاب خان د تخت ناستې جشن جوړ شو، چې همدلته د نوي ښار (مراد آباد) بنسټ کېښېښوو شو، (د ۱۱۷۰هـ محرمه- ۱۷۵۷م ستمبر).

محمد مراد یاب خان درې کاله په کامرانۍ حکومت وکړ، خو ځینې منبران ورسره مخالف شول او د ۱۱۷۱هـ د ذیحجې په ۱۷۵۷،۵م) یې دی په خپل تاتوبي کښې بندی کړ، بله ورځ یې دده ورور میان غلامشاه پر تخت کښیناوه، ده د سند د خلکو او مشرانو په تسلۍ کښې زیار یوست. د فتح نومي په وینا مراد یاب خان عیاش او لاابالي سړی و ژوند یې په چتیاتو تېراوه او خلك ځنې زړه بدي وو، ځکه نو میر بهرام خان له نورو مشرانو سره لاس یو او د امیري له تخته یې وغورځاوه، خو د مراد یاب خان سکنی ورور یار محمد خان چې په خدا آباد کښې او د بهار شاه زوی مقصوره فقیر چې له مخ روبیو ځخه و، مخالفان پاته شول.

دا وخت د سنده کورنۍ اوضاع ګډه وډه وه، عطر خان د امیرانو بل ورور چې د کندهار په شاهي اردو کښې یې د یرغمل په توګه ژوند کاوه د خپلو حقوقو په اړه یې د دربار د مشرانو په واسطه د احمد شاه حضور ته عرض وکړ او له شاهي حضوره هم یو فرمان صادر او عطرخان د سنده امیر وټاکل شو.

احمد یار خان د دغې پېښې په اورېدو سره یو لښکر غونډ کړ، خو سرایي مشرانو چې د عطرخان په نامه د احمد شاه فرمان صادرېدل واورېدل په احتیاط یې ګام اخیسته، میان غلام شاه چې په دې منځ کښې څه چانس نه درلود، د (۱۱۷۱هـ کال د صفر پر ۲۵مه - ۱۷۵۷م د نومبر پر ۸ مه) له خپلو قواو سره د سند د ریګستان خوا ته وخوځېد، په همدې وخت کښې مقصوده فقیر ته د عطر خان لیکونه ورسېدل، چې د هغو په اغېز محمد مراد یاب خان له بنده خوشې شو، د سرایي له یوې ډلې مشرانو سره د نوي

ټاکل شوي امیر عطر خان لیدو ته ورغئ، او میان غلام شاه د راجه لیکهي او خپلو نورو طرفدارو مشرانو سره لیرې پاتې شو.

عطر خان چې سند تش ولید بې له کومه خنډه ور ننوت، احمد یار خان چې دا خبر واورېد نوښار خوا ته پر شا شو او د ۱۱۷۱هـ پر دویمه خور د ۱۷۵۷م پر دسمبر) محمد مراد یاب خان هم ور سره یو ځای شو.

د سرایي مشرانو او دغو دواړو ورونو داسې ګڼله چې عطر خان به د دوی د مشر تابۀ حقوق وپېژني او دوی به د سنده په امارت ومني، خو عطر خان تر دوی زیات چلباز او ځان پالی و، د ورونو تر لیدو دمخه یې پر دوی د بندیګرت او خدا آباد ته د بیولو حکم وکړ. له همدغه وخته د عطر خان په اړه د خلکو او مشرانو بدګمانې پیل شوه. احمد شاهي دربار ته یې د مالیو په ټولولو او ورکړه کښې زیار ویوست، خلك یې تنګ کړل، خو دا کار یې تر سره نه کړای شو، نو په لږه موده کښې خلکو وغوښتل چې دی د امارت له تخته را وغورځوي.

دا مهال میا غلام شاه چې ادی پور ته شړل شوی و، بهاولپور ته ورسېد، خپل زوی میان سر فراز خان یې هلته پرېښوو، په خپله سنده ته ولاړ او د (۱۱۷۱هـ) کال د روژې په پای کښې په روهړی کښې له عطرخان سره مخامخ شو.

تر څو جګړو وروسته د شوال پر لومړۍ عطرخان او ورور یې احمد یار خان له مقصوده سره مات او وتښتېدل، میان غلام شاه بریالی شو او د سرایي له مشرانو سره سیوستان ته راغی (د ۱۱۷۱هـ د شوال لومړۍ ۱۷۵۸م).

لږ وروسته محمد مرادیاب خان مړ شو او میا غلام شاه د خلکو او مشرانو رضا وګټله چې په کامرانۍ سره یې امارت کاوه، خو عطر خان او

The Digital Library

احمدیار له سنده د کلات نصیر خان ته پناه یووړه او د سندهـ د وکیل ګدومل په لاس یې خپل عرایض د احمد شاه حضور ته ولیکل. احمد شاه له کندهاره د دوی د ملاتړ له پاره یو لښکر ور واستاوه احمد یار خان په شاهي دربار کښې پاتې شو او عطر خان د شاهي لښکر له افسرا عطایی خان سره بیا پر سندهـ یرغل وکئ، د فتحنامې د لیکوال په وینا د احمد شاه له حضوره یو فرمان د داؤد پو تره د قبیلو په نامه ولېږل شو چې له عطر خان سره مرسته وکړي، ځکه نو داؤد د پو تره یو لوی لښکر دبهادر خان یو غوړي په مشرۍ د عطرخان خدمت ته چمتو شو.

میا غلام شاه د (۱۱۷۲هـ- ۱۷۵۹م کال تر دوهمې خور "ربیع الثاني" وروسته) په لښکر سمبالونه پیل وکړ، د دواړو خواو لښکرې په چاکچیکان کښې سره مخامخ او سختې جګړې ونښتې، نو میر بهادر خان تالپور چې د غلام شاه له خوا جنګېده د جګړې په ډګر کښې ووژل شو، عطر خان روغه ومنله او د روغلیك (صلح نامې) له مخې یې سندهـ پر درو برخو وویشه، یوه برخه میان غلام شاه ته ورکړ شوه او دوې برخې یې عطر خان او ورور ته ورکړې شوې.

خو د دغو دوو وروڼو تر منځ هم شخړه پیدا شوه او میا غلام شاه د ۱۱۷۲هـ ۱۷۵۹م کال په روژه کښې پر عطر خان یرغل وکئ، له نوښاره یې وخغلاوه او ټول سندهـ یې ونیو، پر (۱۱۷۵هـ ۱۷۶۲م) کال په کندهار کښې د سندهـ د سفیر ګدومل په زیار له احمد شاهي درباره یو فرمان د امارت له سوغاتو سره غلام شاه ته ورسېد او دی یې د "شاه وردی خان" په لقب د سندهـ د امیر په توګه وپېژاند، تر هغه وروسته پر (۱۱۷۷هـ- ۱۷۶۴م) د کچه تر سوبو وروسته له احمد شاهي حضوره د "صمصام الدوله" لقب هم ورکړه شو، احمد شاهي فرمانونه یو د ۱۱۷۷هـ کال د دویمې خور پر ۲۰مه

او بل د ۱۱۷۷هـ کال د دریېمې خور پر لومړۍ د ده په نامه صادر شول، پر (۱۱۸۱هـ ۱۷۶۷م) کال دېره غازي خان او دېره اسماعیل خان د احمد شاه بابا له خوا میا غلام شاه ته وسپارل شوې ده پر ۱۱۸۲هـ کال په پخواني نیرون کوټ کښې د حیدر آباد کلا ودانه کړه او هلته استوګن شو، خو د (۱۱۸۶هـ) کال د دریېمې خور پر ۳ مه (۱۷۷۲م د اګست پر ۲مه)د ګوزن (فلج) په ناروغۍ مړ شو.

د عبدالمجید جوکیه په وینا "غلام شاه یو ځل د خپل حماسي جوش په ترخ کښې وویل: "زما لښکر ټول باید چمتو اوسي چې احمد شاهي ښار (کندهار) نیسم". د همدې وینا په وخت کښې د فالج ناروغی ور باندې راغله خبرې یې ودریدې او ژر مړ شو."

د میا غلام شاه تر مړینې وروسته د سندهـ مخ روبو او مشرانو د ده زوی محمد سرفراز خان پر تخت کښیناوه دوې میاشتې وروسته چې احمد شاه ابدالي په کندهار کښې له دنیا ولاړ، میان سرفراز خان، میر بهرام خان تالپور د درناوي او اطاعت له پار د افغانستان نوي پاچا تیمور شاه د احمد شاه زوی ته را وستاوه د کندهار دربار د سندهـ د حکمرانۍ فرمان له سوغات سره د ده په نامه ور ولېږه او د خدایار خان لقب هم ورته ورکړ شو.

The Digital Library

د احمد شاه مړینه او د هغه خویونه:

احمد شاه د خپل ژوند په پای کښې د پر له پسې جګړه ییزو سفرو د کړاوو له امله کمزوری شو او دی یې د کندهار له ښاره د کوړک، توبې غره ته چې لوړ او ښه هوا یې درلوده بوت، تر څو میاشتو وروسته د (۱۱۸٦هـ) کال د رجب پر شلمه د جمعې پر شپه همهلته د خوراړه (آکله) په ناروغۍ وفات شو، وزیر شاه ولي خان او یاقوت خان خواجه سرا دده مړی کندهار ته راوړ او په هغه ځای کښې یې ښخ کړ چې ده د مخه ټاکلی و، د مړینې پر وخت ۵۱ کلن و او ۲٦ کاله یې پاچاهي وکړه.(وګوري ۸۱ نومره عکس)

هغه ګنبده چې اوس په کندهار کښې د دغه نومیالي پاچا پر مزار ولاړه ده، د دوو تاریخي قطعو په استناد چې میرزا هادي خان د دربار منشي باشي ویلي دي په (۱۱۹۰هـ) کال د تیمور شاه په امر ودانه شوې ده او له دې دوو مصرعو څخه:

بګو "فیض آباد عالی مقام"

او

"مـزار شـاه فـردوس برین ګو"

د دې ګنبدې د ودانۍ نېټه څرګندېږي.

(وګورئ ۸۲ نومره عکس)

احمد شاه متشرع، حنفي مذهبه، عالم او په دیني احکامو پابند باسواد سړی ؤ، د ده د پښتو اشعارو دیوان پر ۱۳۱۹هـ ش کال د عبدالحی حبیبي په زیار په کابل کښې چاپ شوی چې په هغه کښې د ده عشقي،

تصوفي، حماسي او اخلاقي کلام په دوه نیم زره بیتو کښې راغلي او د شعر مشهور اقسام: غزل، رباعي، قطعه، مخمس او مربع لري.

د ده په کلام کښې د تصوف ښه ښه ښکاره ده او ځینې اخلاقي او وطني اشعار هم پکښې شته دی، د خپل عصر د دوو تنو عارفانو د جلال آباد د حصارك شاه فقیر الله ته چې په ښکار پور کښې ښخ دی او د پېښور میا محمد عمر ته (چې پر ۱۱۹۰هـ مړ دی) ارادت درلوده، له ده څخه په تصوف او عرفان کښې هم ځینې منثور کلمات او ملفوظات پاتې دی چې د پېښور قاضي ملا محمد غوث پر هغو باندې د شرح الشرح په نامه په دري ژبه شرح لیکلې وه.

خو په سیاست کښې احمد شاه تل د اسلامي ورورګلوۍ، نرمۍ او دوستۍ پر خوا و. په ډهلي، بخارا، خراسان، بلوچستان او سندهـ کښې یې له خپلو همهالیو امیرانو سره د روغې له لارې سوله ییز چلند لاره، پر شهنشاهۍ، برم او پوځي ځواك سر بیره یې هغه ټول امیران چې سرکښې به یې کوله څو واره عفو کړه او تاج بخښنې یې وکړې چې حتی د هغه وخت سترګور او د نظر خاوندان د ده دې تاج بخښنې او د نظر وسعت ته هیښ حیران پاتې شوي دي. د شاه ولي الله دهلوي په وینا، د ابدالي دارویه "د دې مادي دنیا په چارو کښې حساب نه وه".

احمد شاه له جهانګیرۍ سره سره د مسلمان له وینو تویولو څخه ځان ژغوره، د جهاندارۍ په چارو کښې یې له عدالت او انصاف څخه کار اخیست او خلك یې د خپلو زامنو په شان پالل، نو ځکه افغانان ده ته "بابا" وایي او دا هغه لقب دی چې بې له میرویس او رحمانه د بل چا په برخه شوی نه دی.

احمد شاه جنګیالی او فاتح و، خو د ده له ټولو فتوحاتو او عسکري

The Digital Library

اعمالو څخه ځرګنده ده چې يو غارتګرو خرابكاره ستم پیشه او مظلوم وژونکی نه ؤ او که یو کار د روغې او مسالمت له لارې پر مخ تلای له مسلمانانو سره یې په جګړه لاس نه پورې کاوه، د ورور پر مخ یې توره نه ایستله. احمد شاه زموږ په ملي تاریخ کښې د اوسني افغانستان د بنسټ اېښوونکي او د افغانستان د خلکو د عظمت مجدد او د یو متحد هېواد او یو اولس جوړوونکي په حیث لوړ مقام لري، علامه اقبال وايي:

از دل و دست گهر ریزی که داشت
سلطنت هابردو بي پـروا گـذاشت

له همدغه امله ځینې لیکونکي ده ته ګوته نیسي چې ده ولی د ډهلي پاچاهي ناپوهو واکمنو ته پرېښووه؟ خو که د شاه ولي الله دهلوي او د نورو هندي مسلمانانو نومیالو او امیرانو لیکونه وکتل شي، را ځرګندېږي چې هغه وخت احمد شاه هند ته د چور او چپاو د پاره نه ؤ تللی، دده یوازنی هدف دا و، چې د هغه ځای مسلمانان چې له ده څخه یې غوښتنه کړې وه - نجات ومومي بل دا چې ده نه غوښتل د خپل ملي قوت مرکز یعنې افغانستان پرېږدي، د پښتنو د نورو پاچاهانو لکه خلجیان، سوریان، لودیان او نورو کورنیو په شان په هند کښې ورك او مستهلك شي او یا دا چې د جهاد فی سبیل الله خالص خدمت به یې په دنیوي ککړتیاوو ولړي، د ډهلي د پاچاهۍ د نیولو او د جهانګیري په حرص یې ککړ کړي، له همدې امله کټ مټ همدغه رویه یې څو واره د افغانستان له نورو ګاونډیو امیرانو سره په بخارا، خراسان، سند او بلوچستان کښې هم و کړه.

د افغانستان طبیعي بریدونه تل د احمد شاه په نظر کښې وو، که یې د ختیز خوا ته د پنجاب او کشمیر ځمکې تر خپلې اداري لاندې ساتلې دا کار یې د خپل هېواد د ساتنې له پاره ؤ، دی پوهېده چې د ده د پاچاهۍ،

واك او قدرت چینه په خپله د افغانستان خاوره او د افغانستان خلك دي، ځکه نو که د پاني پت د فتح او د ډهلي له نیولو سره یې د خپلې پاچاهۍ او قدرت مرکز پرېښی وای، د خپلې انساني، فکري او اداري قواوې یې د هند په ارت هېواد کښې مستهلکې کړې وای ممکنه وه چې د ده هېواد افغانستان د پاچاهۍ د مرکزیت له نعمته بې برخې پاتې شوی وای او د ده کهول به هم د هغو نورو هندي شویو افغاني کهولو په سرنوشت اخته شوی وای چې بیخي له منځه تللي دي.

احمد شاه د ده د اشعارو د دیوان په شهادت د خپل وطن او خپلو خلکو سره توده مینه درلوده، په عین حال کښې صوفي مشر به دینداره سړی و، نه یې غوښتل چې د هند پاتې مسلمان امیران او خپل ګاوندی مسلمان امیران د خپلې جهانګیرۍ او د خپل دولت او جاه د حرص له پاره له منځه یوسي او د خپل ملي مرکزیت په محوه کولو خپلې مراندې په خپله پرې کړي. ځکه نو د ده سیاست تل دا و چې خپل ګاونډي، امیران یې د شهنشاهي تر بیرغ لاندې د دوستۍ او پلار ګلوۍ په توګه ساتل او خپل ځان یې د کوم هېواد نیوونکی قهار او سرابن جهانګیر نه ښوو.

The Digital Library

تر احمد شاه وروسته

د احمدشاه بابا تر مړینې وروسته یې له اتو زامنو څخه کشري زوی، شهزاده سلیمان د وزیراعظم شاه ولیخان په زیار په کندهار کښې پاچا شو، د ده مشر زوی تیمور چې د پلار پر ژوندانه د لاهور او ملتان حکمران و او هلته یې سکه هم وهله په دغه وخت کښې هرات کښې حکمراني کوله دستی کندهار خوا ته راغی (وګورئ ۸۳ نومره عکس) سلیمان یې له تخته واچاوه او شاه ولي خان یې وواژه، لږه موده وروسته یې پایتخت له کندهار کابل ته یو وړ، قاضي فیض الله دولت شاهي یې وزیر او د حاجي جمال الدین خان محمدزي زوی سرادر پاینده خان یې د سرفرازخان په لقب د کندهار د درانیو قبیلو مشر وټاکه او د خپلې پاچاهۍ دوره یې په کامرانۍ او د دښمنانو پر ټکولو تېروله د خراسان خلك درې واره نادري شهزاده شاهرخ میرزا ته پورته شول تیمورشاه هم درې واره د هغه ملاتړ وکړ، دریمه پلا، احمد خان نورزي پورته شوي کسان خورا سخت پر سر وټکول، پر (۱۱۸۸هـ ۱۷۷۴م) کال عبدالخالق خان سدوزی تیمورشاه نه یاغي شو، خو تیمور هغه مات او ړوند کړ او بیا پر (۱۱۹۳هـ ۱۷۷۹م) کال د پېښور او خیبر مشران لکه فیض الله خان خلیل او ارسلان خان مومند د پېښور په بالاحصار کښې تیمورشاه کلابند کړ، خو تیمور پر دوی بریالی شو او ټول یې ووژل، څنګه چې د سیکانو لښکر پر ملتان حمله کړې وه، نو څکه تیمورشاه پر(۱۱۹٦هـ ۱۷۸۱م) کال هغه ښار بېرته ونیو په سندھ کښې هم میرفتح علي خان تالپوری یاغي شو، خو د تیمورشاه د لښکر پوځي مشر مدد خان د تالپور

قبیلې پر سر وټکولې او بېرته یې میرفتح علي خان د هغه ځای حکمران کړ (د ۱۲۰۱هـ ۱۷۸٦م په شاوخوا کښې). دوه کاله وروسته په کشمیر کښې آزادخان سر واخیست، خو تیمور هغه بېرته آرام کړ (۱۲۰۳هـ ۱۷۸۸م). څنګه چې د بخارا پاچاهان د سدوزیو د دولت مطیع او دوستان وو، څکه نو احمدشاه هم تل د دوی دوستۍ ته درناوی کاوه، خو د تیمورشاه په وخت کښې شاه مراد معصوم منغیتي مرو ونیوله، څکه نو تیمورشاه له سلزریز لښکر سره د کندوز او آقچې له لارې ورغی، او له شاه مراد سره یې روغه وکړه او آمو سیند یې برید وټاکه (۱۲۰۴هـ ۱۷۷۹م). هېواد یې پر خپلو زامنو داسې وویشه چې کندهار یې همایون، هرات یې محمود، پېښور یې عباس، کابل یې زمان، غزنه یې شجاع او کشمیر یې کوندل ته وسپاره او خپله دی تر دوویشتو کالو پاچاهۍ وروسته په داسې حال کښې چې پلرنی هېواد یې له کشمیر، پنجاب او سنده تر آمو او د خراسان تر مشهده ساتلي وو، د (۱۲۰۷هـ ۱۷۹۳م) کال د شوال پر اوومه په کابل کې مړ شو. څلورویشت زامن یې پاتې شول، چې د هغو له جملې څخه زمانشاه چې مور یې یوسفزۍ وه د سردار پاینده محمد خان محمدزي په مرسته د کابل پرتخت کښېناست او خپل ورونه یې د کابل په بالاحصار کښې بندیان کړل، خو همایون ورور یې له کندهاره د ده مقابلې ته راووت، د غلجیو په کلات کښې یې ماته وکړه او بلوچستان ته وتښتېد.

زمانشاه دننه په هېواد کښې په سختو ګورنیو جګړو اخته شو د افغانستان بهرنیو دښمنانو د وروڼو له دغه نفاقه ګټه واخیسته د شمال له خوا د بخارا منغیتی پاچاهانو، د لوېدیځ له پلوه د سندھ میرانو د لوېدیځ له خوا آقا محمد قاجار او له ختیځ پلوه سیکانو د هېواد سرحدونه وګواښل څکه نو زمانشان پر (۱۲۰۸هـ ۱۷۹۳م) کال د سیکانو د خطر د مخنیوي له

The Digital Library

پاره د پنجاب خواته متوجه شو، خو چې پېښور ته ورسید همایون وررور یې د سنده امیرانو په مرسته د بولان له خوا راغی او کندهار یې و نیو، شاه زمان ونه کړای شو د پنجاب سیمه تصفیه کړي، دستي یې په کندهار یرغل او همایون یې ونیو روند یې کړ او له هغه ځایه سنده د تالپوړ د امیرانو د سرکوټېلو له پاره د بولان تر درې تېر شو او له فتح عالي تالپور سره یې د درې لکو طلاوو په اخیستلو روغه وکړه بېرته د خپل وررور محمود مقابل ته چې له هراته یې لښکر را ایستی و، ورغی هغه یې په فراه کښې مات کړ، او د محمود د مور په سپارښتنه یې هغه بېرته د هرات حکمران وټاکه تر هغه وروسته یې بلخ هم د بخارا له اوزبکو پاچهانو څخه ونیو او پر (۱۲۱۰هـ - ۱۷۹۵م) کال له خپل لښکر سره تراټك پورېوت او په حسن ابدال کښې یې د سیکانو لښکر سره ومرورل او له دېرش زریز لښکر سره یې لاهور بیاونیو ځنګه چې محمود وررور یې په هرات کښې بیا سر اخسیتی او یاغی شوی و بېرته کابل او کندهار ته وګرځېد محمود له هراته ایران ته وتښتېد او زمانشاه، هرات خپل زوی شهزاده قیصر ته وسپاره (۱۲۱۲ هـ - ۱۷۹۷م).

زمانشاه یو لوړ همته او ادعا طلبه سړی و او په کابل کښې یې د یوه لوی لښکر په جوړولو لاس پورې کړ چې پر هند یرغل وکړي د احمدشاه شهنشاهي بیا نوي کړي او هم د انګریزانو د متجاوزو قواوو په مقابل کښې د هند له مسلمانانو سره مرسته وکړي په دغه وخت کښې ناپلیون هم مصر ته رسېدلی و او د زمانشاه دربار ته یې یو پیغام راواستاوه چې په هند کښې د انګریز د متجاوزو او بریالیو قواو مخه ونیسي او فرانسه امپراتور ته د دوستۍ او همکارۍ له لارې ور وړاندې شي څکه نو زمانشاه هم په هند کښې د انګریز د استعماری قواو د مخنیوی لپاره ملا وتړله او د هند د نیولو په غرض له خورا درانه قوت سره پېښور ته لاړ (د ۱۷۹۸ م د اکتوبر

۲۵مه - ۱۲۱۳هـ) ده په لاهور کښې له رنجیت سنګه سره سیاسي خبرې اترې وکړې او هغه یې خپل اطاعت ته اړکړ او پر ډهلي باندې یې د یرغل له پاره خپل لښکر سمبالاوه.

انګریزي سیاست پوهانو چې په هند کښې یې تر اوسه خپل مخ ته داسې خېږ خنډ نه و لیدلی او له بلې خوا یې د زمانشاه په مقابل کښې لښکرې قوت هم نه شو رایستلای، نو په سیاسي فعالیت یې لاس پورې کړ، لارډ ولزلې د هند ګورنر جنرال د برتانیا د دولت یو سفیر کپتان جان ملکم د ایران دربار ته واستاوه د (۱۸۰۱م کال د جنوری د لسمې نېټې) تړون یې له ایران سره لاسلیك کړ چې د هغه له امله د ایران پاچا ژمن شو چې که افغان پاچا پر برتانوي هند حمله وکړي، د قاجار لښکر به پر افغانستان وردانګې او که افغان پاچا یا فرانسه پر ایران یرغل وکړي، د ایران پر سمندریزو کڅو تېری وکړي، انګریز دولت به خپل پوځونه د ایران مرستې ته واستوی، پر دغه تدافعي او حربي تړون سربېره د برتانیا سفیر جان ملکم لا پخوا د آقامحمد قاجار پر ځای ناست فتح علیشاه پر خراسان او هرات یرغل ته پارولی و، چې په دې توګه د جبهې تر شاه زمانشاه ته ګواښ پېښ او هغه پر هند باندې له یرغل څخه منصرف کړ (۱۲۱۴ هـ ۱۷۹۹م) څکه چې د زمانشاه دغو لښکرکښیو په هند کښې لوی بدلون پېښ کړی و او نژدې و چې د احمدشاه د فتوحاتو تاریخ بیا له سره شي.

د "ولزلې" د اسیاسي فعالیت چې د ایران په دربار کښې یې د ملکم په واسطه کړی و، بریالی شو، د قاجار لښکر چې د انګریز په پارونه، پر خراسان یرغل وکړ، زمان شاه مجبور شو چې د پېښور او کندهار له لارې خپل ځان هرات ته ورسوي، فتح علیشاه په خپل مقصد کښې چې د هند له نیولو څخه د شاه زمان راګرځول و، بریالی شو، نو خپل لښکر یې له خراسانه

The Digital Library

بېرته وغوښت.

خو زمانشاه د هند نیولو تکل پرې نه ښوو، بیا یې له افغاني ځواکونو څخه یو لوی لښکر جوړ کړ او په پېښور کښې یې په هر اړخیزه سمبالونه لاس پورې کړ، انګریزی ښکېلاکګرو چې دی په هند کښې د ځان خورا غښتلی رقیب باله، نو د ده له پاره یې اساسي چاره وسنجوله او و یې غوښتل چې د ده د ورونو له رقابت او له افغاني کورني نفاق (زموږ د ملي تباه کوونکی ناروغی) څخه کار واخلي او خپل دا خطرناك رقیب بیخي له منځه یوسي. دا ځل د انګریز سیاست پوهانو پام د زمانشاه شړل شوي ورور شهزاده محمود ته وروواښت، چې هغه وخت یې له سردارفتح خان بارکزي سره په ایران کښې یوځای و، سردار پاینده خان د فتح خان پلار چې د شاه زمان په امر وژل شوی و ځکه نو فتح خان هم د شاه زمان له مخالفانو څخه ګڼل کېده.

د ویلو وړده چې: هاغه مهال فتح خان یو غښتلی، هوښیار او متنفذ شخصیت و، چې په درانیو قبیلو کښې له فراه تر کندهاره یوازینی مرد میدان او د ملي قوت خاوند ګڼل کېده. ده ډېر غښتلي ورونه درلودل او د ده کهول تر شاهي کهاله وروسته د افغاني قوت یوازینۍ ښېلګه وه.

د قاجار په دربار کښې انګریزکار کوونکیو شاه محمود د شاه زمان د رقیب په حیث پېژاند چې په ترټلي او پرېشانه حالت له هېواده وتلی او د ایران خاورې ته یې پناه وړې وه، ځکه یې نو دا وار محمود د قاجار د پاچا په وسیله وپاراوه او د سردار فتح خان په ملګرتیا د سیستان او فراه له لارې د افغانستان خاورې ته راننه ووت، دوی د درانیو او بارکزیو قبیلو په مرسته چې د ایران له بریده تر کندهاره پرتې وې سیستان، فراه او کندهار ونیول او بیا چې یې یو لوی او غښتلی لښکر تیار کړ نو د سردار فتح خان په مشرۍ

یې د کابل خوا ته مخه وکړه، شاه زمان چې په پېښور کښې د هند نیولو په تکل لښکر جوړاوه د دغه خبر په اورېدو کابل ته راغی، د خپل ورور او سردار فتح خان د مخنیوي له پاره تر غزني تېر شو، د دواړو ورونو لښکر د غزني او مقر تر منځ په تازي کښې سره وجنګېدل، په دې جګړه کښې زمانشاه مات شو، د خپل ورور په لاس کښېووت او ژر تر ژره یې ړوند کړ، انګریزانو په دې لویه پېښه خپل خطرناك رقیب له منځه یووړ او هم یې په افغانستان کښې د کور پر کور جګړو اور بل کړ، چې تر هغې وروسته هېڅ د هند نیولو فکر ونه کړ" داوه د کور پر کور جنګېدو او داخلي نفاق بده نتیجه چې تل یې د افغان کور وران کړی دی."

محمود چې د کابل پر تخت کښېناست (۱۲۱۵هـ - ۱۸۰۰م) سردار فتح خان محمدزی یې خپل وزیر وټاکه (چې تفصیل به یې د محمدزیانو په برخه کې راشي)، افغانستان د وزیر فتح خان د ورونو په لاس ورغی او محمود تش په نامه پاچا و.

شجاع الملك د زمانشاه سکنی ورور چې له لیرې دا ویرجنې پېښې لیدې، په پېښور کښې یې لښکر جوړ او د محمود مقابلې ته راووت، د شاه محمود د رېزریز لښکر چې له کابله راغلي وو، په اشپان نومي ځای کښې یې د شجاع الملك له لښکر سره جنګ وکړ او شجاع الملك یې د خیبر غرو ته پر شا کړ (۱۲۱٦هـ - ۱۸۰۱م).خو کورنیو جګړو شامحمود هم غلی پرې نه ښوو، پر (۱۲۱۷هـ - ۱۸۰۲م) کال له غلجیانو او هم په پېښور کښې له شجاع او اپریدیو سره او د هېواد په شمالي سیمو کښې د اوزبکو له حکمرانانو سره چې له جیحونه یې تیری کړی و، لوی جنګونه پېښ شول د ایران قاجاري دولت هم د نادري کهاله پایځوړ چې په خراسان او مشهد کښې یې د افغاني پاچهانو تر لاس لاندې حکومت کاوه له بېخه ویوست او مشهد

The Digital Library

یې ونیو، له بلې خوا د بلوڅو امیرانو ته هم د خپلواکۍ فکر پیدا شو پردغو ټولو فتنو سربېره شاه محمود چې عیاش او خېټور سړی و، په خپله یې کارنه کاوه او د هېواد چارې یې ټولې وزیر فتح خان او د هغه ورونو ته سپارلې وې، څو چې خلکو بلوا وکړه او د شاه ولي خان بامیزي زوی مختارالدوله شېرمحمد خان چې د ده پیشکارو شجاع الملك ته د کابل د پاچهۍ له پاره بلنه ورکړه، شجاع هم پر (۱۲۱۸هـ - ۱۸۰۳م) کال له پېښوره کابل ته راغی او د پاچهي پرتخت کښیناست شاه محمود یې لرې کړ او ویې باخښه، د محمود زوی شهزاده کامران او وزیرفتح خان چې په کندهار کښې وو ځکه نو شاه شجاع د زمان شاه زوی شهزاده قیصر د هغو د مخنیوي له پاره واستاوه، هغه کندهار بې جنګه ونیو او کامران یې فراه ته پرشا وشاړه؛ وزیر فتح خان خپل ځان شاه شجاع ته تسلیم کړ او دګرشك جنوبي خواته د بارکزیو د ناوې د "ادې" په کلا کښې ظاهراً منزوی شو، خو په باطن کښې یې د سیاست په چارو کښې له مداخلې څخه لاس نه و راټول کړی، پر (۱۲۱۹هـ - ۱۸۰۴م) کال چې شاه شجاع په پېښور کښې دېرش زریز لښکر غونډ کړ او د کشمیر، پنجاب او سند د تصفیې له پاره رهي کېده په کندهار کښې شهزاده قیصر د خپل اکا پر خلاف راپورته شو، شاه شجاع د خپل وراره غوږونه تاو کړل او بېرته یې د کندهار حکمران کړ په خپله یې د سند د تالپور پر شورشي امیرانو یرغل وکړ او تر ۳۲۰ زره روپیو اخیستلو وروسته یې روغه ورسره وکړه، خو داخلي اوضاع نا آرامه او ښوریدلې وه او د پاچا ناپوهو وریرونو کامران او قیصر تل د مخالفت هڅې کولې شاه شجاع چې د کشمیر او پېښور په جګړه اخته و، د داخلي مخالفانو د مقابلې له پاره یې فرصت نه درلود، نو ځکه د افغانستان اوضاع بحراني، تیت پرکه او پرېشانه وه. دا مهال انګریز ښکېلاککرو ځواکونو هندوستان تر لودهیاني

پورې ونیو، خو دا چې د ایران په دربار کښې د فرانسې، له ورځ پر ورځ زیاتېدونکې اغېزې څخه بېرېدل او غوښته یې چې د هند په فتوحاتو کښې خپل اروپایي رقیبان بیخي له منځه یوسي او د هند پرلویه مځکه یوازې خپېه واچوي، ځکه نو د برتانوي هند د حکومت له خوا یو ایلچي "الفنسټون" له مستر استر چې سره د (۱۸۰۹ م کال د مارچ پر ۵ مه) په پېښور کښې شاه شجاع ته راغله، دی یې پر افغانستان باندې د ایران له احتمالي حملې څخه و بېراوه، له دې کبله د شاه شجاع او برتانوي هند تر منځ د دوستۍ لومړی تړون وتړل شو، چې هغه بیا د (۱۸۰۹م کال د جون پر ۱۷ مه، ۱۲۲۴هـ) د هند ګورنر جنرال لاردمنتو تصدیق کړ، دغه تړون دفاعي بڼه درلوده، ځکه چې په لومړۍ او دویمه ماده کښې یې ویلي شوي چې: که فرانسه او ایران د افغان پاچا پر متصرفاتو تېری وکړ، د برتانوي هند دولت به د کابل له پاچا سره مرسته کوي او پر افغانستان به د تېري مخه نیسي. دریمه ماده یې د دواړو خواو دوستانه روابطو او یووالي ته اشاره کوي چې افغان پاچابه خپل هېواد ته هېڅ یو فرانسوی نه پرېږدي او دواړې خواوې به یو د بل په هېواد کښې مداخله نه کوي او تل به دوستۍ ته په درنه سترګه ګوري.

دغه تړون شاه شجاع ته ګټورنه و، دی یې خلکو ته سپك کړ او شاه محمود بیاد فتح خان په مرسته دی دوه کاله په هېواد کښې دننه په جګړو او فتنو اخته وساته - چې په پای کښې یې ماته وکړه او په هندوستان کښې یې برتانوي دولت ته پناه یوړه (۱۲۲۶ هـ - ۱۸۱۴م) خو دویمه پلا بیا د انګریزانو په ملاتړ پر تخت کښیناست دی په هند کښې برتانوي هند دولت د دې له پاره ساتلی و چې په راتلونکی کښې یې په افغانستان کښې و کاروي.

The Digital Library

خو شاه محمود چې دويمه پلا پرتخت کښېناست د هېواد د چارو واګې اصلاً د وزير فتح خان په لاس کښې وې دغه زړور وزير بلوچستان، سند او کشمير د ځان تابع کړل او د شاه محمود په نامه يې پر هېواد حکم کاوه. افغانستان يې خپلو ورونو ته سپارلی و. چې دا مهال رنجيت سنګه اټک کلا ونيوه، نو فتح خان په ضلع هزاره کښې تر يوې سختې جګړې وروسته هغه مات کئ او کشمير يې هم خپل ورور سردار محمدعظيم خان ته ورکئ (١٢٣٠ هـ - ١٨١۴م).

دا وخت هرات د محمود د ورور حاجي فيروزالدين په لاس کښې و، پر (١٢٣٢ هـ -١٨١٦ م) کال فتح علي شاه قاجار د هرات نيولو اراده وکړه ځکه نوفتح خان د کابل له لښکر سره هرات ته ولاړ، لومړی يې حاجي فيروزالدين ونيو کابل ته يې واستاوه او بيا يې د هرات لوېديځ ته د کهسان په جګړه کښې د قاجاريانو د لښکر لس زره تنه ووژل او له هراته يې وشړل، په خپله د هرات د چارو په سمون بوخت شو، خو په دې وخت کښې يوه بدمرغه پېښه وشوه او هغه دا چې "سردار دوست محمدخان" د وزير ورور په هرات کښې د حاجي فيروزالدين کاله ته ورننوت، د ښځو ګينې، پسول جواهر او دانه نښانه قيمتي ملابند چې د (تاريخ احمدشاه دراني د مولف) شيرازی په وينا پنځوس زره تومانه قيمت يې درلود له نورو نفايسو سره واخيستل او کشمير ته ولاړ، دې پېښې پرشاه محمود او کامران ډېره ناوړه اغېزه وکړه او د دوی او وزير فتح خان د کهاله تر منځ بد وردي او کينه پيدا شوه، همدا د کرکې او بدبينۍ احساس و، چې په زړبوګنوونکې توګه د وزيرفتح خان د وژلو او د سدوزيو او بارکزيو د کهاله تر منځ د دښمنۍ سبب شو.

شاه محمود خپل ناپوه او کينه ناك زوی کامران هرات ته واستاوه،

کامران د وزير فتح خان د ورور د اعمالو د کسات اخيستلو په غرض وزيرفتح خان ونيو او د هغه پوه وزير په سترګو يې سيخ ومانډه او ړوند يې کئ (١٢٣٣ هـ - ١٨١٧م) د شهزاده کامران دا کار په ظاهره د فتنې آرامولو سبب وګڼل شو، ځکه سودوزي کورنۍ دا کارونه د وزير په اشاره ګڼل، خو ړانده وزير ډېر غښتلي ورونه لرل، هغو چې د خپل مشر ورور د ړندېدو خبر واورېد، په ټول هېواد کښې له کشميره تر هراته فتنې وخوټېدلې او د قهر او غضب اور لمبې پورته شوې، سردار دوست محمد خان له کشميره راوګرځېد کابل يې ونيو او شاه محمود يې غزني ته وشاړه.

له هاخوا کامران له ١٢ زرو لښکريانو سره په غزني کښې د خپل پلار مرستې ته راورسېد له بلې خوا سردارمحمدعظيم خان له کشميره د سردار دوست محمدخان مرستې ته راغی او د کابل او غزني په منځ کښې سره وجنګېدل، خو محمود او کامران مات شول په همدغه وخت کښې يې ړوند وزيرفتح خان هم د وردګو په سيدآباد کښې د کسات له مخې په ډېر بد عذاب ووژاه او بند پر بند يې پرې کئ (١٢٣۴ هـ - ١٨١٨ م) دوی په خپله هرات ته ولاړل او هلته د حکومت پر سر د محمود او حاجي فيروزالدين تر منځ شخړه پيدا شوه کامران پر دواړو بريالی شو او دوی يې ووژل (١٢۴٥هـ - ١٨٢٩م) په خپله کامران تر (١٢٥٨ هـ - ١٨۴٢م) کال پورې پر هرات حکومت وکئ.

دا مهال چې پر ټول هېواد د نفاق اور بل و، د ايران قاجاري دولت بيا پر (١٨٣٢ م) کال د تزاري روسيې په پارونه او د عباس ميرزا په قوماندانۍ ډېرش زريز لښکر د هرات نيولو له پاره را واستاوه خو د انګريز له خوا له دغه کار څخه د قاجاريانو مخنيوی او خپل هېواد "افغانستان" ته د هراتيانو وفاداري د دې لامل شول چې هرات د پخوا په څېر د افغاني

The Digital Library

سلطنت په پلازمينې پورې نښتې پاتې شي.

سدوزي پاچاهان:

* ۱- احمدشاه "باباابدالي" د زمانخان زوی (۱۱۶۰ هـ ۱۱۸۶ م)

۲- سليمان د احمدشاه زوی (۱۱۸۶ هـ)

۳- تيمورشاه د احمدشاه زوی (۱۱۸۶ هـ ۱۲۰۷ هـ)

۴- زمان شاه د تيمورشاه زوی (۱۲۰۷ هـ - ۱۲۱۵ هـ)

۵- شاه محمود د تيمورشاه زوی (۱۲۱۵ هـ ۱۲۴۵ هـ)

۶- شاه شجاع د تيمورشاه زوی (۱۲۱۸ هـ ۱۲۵۸ هـ)

۷- فيروز الدين د تيمورشاه زوی (په هرات کښې د ۱۲۳۰ هـ شاو خوا).

۸- کامران د شاه محمود زوی (په هرات کښې ۱۲۳۴ هـ - ۱۲۴۵ هـ)

اخـځليـك:

حيات افغاني، سراج التواريخ، تحفة الحبيب تاريخ سلطانى- خورشيد جهان سير المتاخرين، د سرجان مالکم تاريخ - تاج التواريخ - احمدشاه بابا، لوی احمدشاه بابا، مجمل التواريخ بعد نادريه، د فروغی تاريخ ايران، د عباس اقبال تاريخ عمومی - جهانکشاء نادری، دايرة المعارف اسلامي، صولت افغانی، تاريخ احمدی (قلمي)- تتمة البيان - نادر نامه (قلمي) - خلاصة الانساب (قلمي)، رهنمای افغانستان، مجمع التواريخ، رياض المحبة - خصايل السعادة، مکتوبات سياسی شاه ولي الله، مکتوبات شاه فقير الله، رنجيت ظافر نامه، حيات حافظ رحمت خان، تاريخ نظامي ايران، تاريخ پښتون شوکت افغانی، تاريخ پشاور، شمس النهار کابل (جريده)، سراج الاخبار (جريده)، تاريخ افغانستان دمليسون، احمدشاه درانی د گنډاسنګ په انګريزی، تاريخ احمدشاه دراني د سيد حسين شيرازی، عماد

السعاده د سيد غلام علی خان، راجګان پنجاب د ګريفن په انګريزي، تاريخ بلوچستان خزانهٔ عامره، تاريخ سندهـ د مولانا مهر، تاريخ سند په انګريزي، ګزيتير سندهـ، تاريخ کلهوره په انګريزي، تحفة الکرام.

✿✿✿✿✿

The Digital Library

اوومه برخه

محمدزايان

له (۱۲۱٦ هـ) تر (۱۳۳۸ هـ)

محمدزي د کندهار د بارکزيو درانيو يوه پښنه ده. د دوی پخوانی نيکه "محمد" د کندهار د ابداليو د قبيلو د حکمران ملك سدو هممهالی ؤ چې د (۱۰۰۰ هـ-۱۵۹۱م) پرشاوخوا يې د کندهار جنوب ختيز خوا ته په ارغستان کښې له خپلې کوچنۍ قبيلې سره ژوند کاوه.

محمد د عمر زوی د دارو او بارك په ټبر پورې چې د سړبن ابدالي پښتنو يوه څانگه ده اړه لرله. د محمد نيکه مزار اوس هم د کندهار په ارغستان کښې دی. د محمد اولادې د بارکزيو قبيلو په منځ کښې د رياست مقام لاره، مرکز يې د بارکزيو ناوه گرشك و چې د هلمند پر غاړه پروت دی. تر اوسه هلته د ادې کلا شته دا د دغه کهاله پخوانی ځای دی.

لکه مخکې چې مو ولوستل د شېر سرخ په جرگه کښې چې د پادشاه د ټاکلو له پاره جوړه شوې وه د دغې قبيلې مشر حاجي جمالْ خان د حاجي يوسف زوی د يارو لمسي او د محمد کړوسي هم گډون کړی و، هغه وروسته د احمدشاه په دربار کښې مشاور گڼل کېده چې پر (۱۱۸۴هـ) مړ او

د کندهار په جنوب سيمه "ذاکر کلي" کښې ښخ شو. تر ده وروسته يې زوی سردار پاينده خان د کندهار په جنوب کښې له ارغستانه د هلمند د بارکزيو تر ناوه پورې د بارکزيو قبيلو د مشر په توگه وپېژندل شو. تيمور شاه ده ته مهم منصوبونه ورکړل. ده د کشمير د آزادخان او د عبد الخالق سدوزي د پاڅون په ټکولو او د مومندو لالپورې ته د تيمور د زوی شهزاده عباس په شړلو کښې، تيمورشاه ته غوره خدمتونه وکړل چې له همدغه امله د سرفرازخان په لقب و وياړل شو.

خو د تيمورشاه تر مړينې وروسته زمانشاه د ده پر ځای رحمت الله خان سدوزي ته د وفادارخان په لقب وزارت ورکړ او سردار پاينده خان د هلمند غاړې ادې کلا ته وشړل شو. خو دا چې نوموړی ځای د خلکو د ورتگ ځای و، نو زمان شاه دی له ځينو همکارنو سره په کندهار کښې وواژه (د روژې (۱۳مه ۱۲۱۴هـ - ۱۷۹۹م). سردار پاينده خان شل تکړه او مېړني زامن لرل چې د پلار تر وژل کېدو وروسته په افغانستان کښې خواره شول، د سردار پاينده خان مشر زوی، سردار فتح خان له کندهاره د زمانشاه ورور شاه محمود ته چې په ايران کښې اوسېده پنا وروړه، هماغسې چې د سدوزيو په اړه مو وويل: دا مهال زمانشاه پر هند د يرغل له پاره سل زريز لښکر جوړ کړی و، انگرېز سياسي استازيو د دغه لښکر د ناکامېدو له پاره هرې خوا لاس او پښې وهلې، ډېر ډاربدل چې ناپليون د زمانشاه له دربار سره له سياسي خبرو او اړيکو ځخه گټه وانه خلي، ځکه يې د ايران د قاجاريه حکومت په مرسته شاه محمود ولمساوه او افغانستان ته يې د زمانشاه پر خلاف راواستاوه. سردار فتح خان هم د سيستان او فراه له لارې هېواد ته راستون شو. د محمود د ځواکونو په مشرۍ يې پر کندهار يرغل وکړ، د "تازي" په جگړه کښې يې شاه زمان مات او د محمود په حکم يې هغه ړوند

The Digital Library

کړ. دوی کابل هم ونيو او د شازمان وزير رحمت الله خان سدوزی يې وواژه.

همدا چې شاه محمود د کابل پر تخت کښېناست، سردار فتح خان يې د" شاه دوست" په لقب خپل وزير وټاکه، ټول هېواد يې هغه او د هغه ورونو ته پرېښوو (۱۲۱٦ هـ ۱۸۰۱م). د سردار پاينده خان محمدزي زامن له همدغه مهاله د افغانستان حکمرانان شول، فتح خان چې هراړخيز واك يې لاره خپل ټول ورونه يې د افغانستان پر ولايتونو حکمرانان کړل. يوازې يو ورور سرداردوست محمد خان يې له ځان سره په مرکز کښې وساته، محمد عظيم خان او بيا وروسته عبداالجبار خان ته يې کشمير ورکړ، پېښور يې تر اټکه يار محمدخان او سلطان محمدخان ته وسپاره، سند او ښکارپور يې رحمدل خان، غزني يې شېردل خان، باميان يې کهندل خان، کندهار او د هغه خواوشا له کلاته تر بولان درې او فراه پورې مهردل خان او پردل خان ته او دېره جات تر پنجاب او د پېښور تر غرنيو سيمو پورې نواب عبدالصمد خان او د هغه زوی نواب زمان خان ته ورکړ شو. په دغه کشمکش کښې هېواد د جګړو او وينو بهولو ډګر شو خو په هرات کښې وزير فتح خان د شهزاده کامران د وزير عطامحمد خان په لاس ړوند کړای شو (۱۲۳۴هـ ۱۸۱۸م). دغې پېښې بارکزي ورونه غچ اخيستو ته اړ کړل او سخت اړدوړ پيل شو. وروسته تر هغې چې د سدوزيو د کهاله وروستی ټغر يې ټول کړ، د وزير فتح خان د ورونو تر منځ هم د پادشاهۍ پر سر شخړې را وزيږېدې. تر هغې چې سردار دوست محمد خان په کابل عيدګاه جومات کښې خپل امارت اعلان کړ او د کابل امير په توګه يې په نامه خطبه ولوستل شوه، (۱۲۵۴هـ - ۱۸۳۸م).

امير بې له ځنډه په افغانستان کښې خپل ټول زامن پر خپلو سيمو وټاکل خو رنجيت سنګهـ د افغانستان له کورنيو شخړو څخه ګټه واخيسته

او ګرد پنجاب يې تر پېښوره ونيو، سردار سلطان محمد خان هم د بالا کوټ په جګړه کښې د ميراحمدخان بريلوي او مولوي اسماعيل په مشرۍ د مجاهدينو په شهادت او د پېښور په صوبه کښې د يار محمد خان او د هغه د ورور په مړينه، کمزوری شوی و، دا وېره هم وه چې رنجيت سنګهـ به پر خيبر يرغل وکړي، ځکه نو اميردوست محمد خان د يوه ليك له لارې د هند له ګورنر جنرال لاردبنتك څخه د پېښور د بېرته نيولو په چار کښې مرسته وغوښته او د باسول له لارې يې له شپېته زريز لښکر سره د پېښور پر لوري حرکت وکړ. خو سردار سلطان محمد خان د امير لښکر تار پر تار او امير بېرته ناکام له پېښوره خيبر او جلال آباد ته راستون شو. په دې توګه اشنغر تر کوهاټ او ټله د امير ورور سلطان محمد خان ته پاتې شو (۱۲۴۵هـ ۱۸۳۸م).

امير دوست محمد خان د رنجيت سنګهـ د ماتولو په تکل د ليکونو له لارې له انګليس، ايران او زارې روس دولتو څخه مرسته وغوښته. د هند وايسرای لاردآکليند پر (۱۸۳٦ - ۳۷م) د بريتانوي هند له خوا سر الکساندر برنس، ميجر ليچ، لفتننت او دومسترلارډ د لومړني سياسي او اقتصادي هيئت په توګه کابل ته ولېږل.

په عين وخت کښې د روسيې يو نفر نماينده ويتکويچ (۱) هم کابل ته رسېدلی و، چې د کابل دربار او د کندهار حکمرانان يې په سند او پنجاب کښې د انګليس د پرمختګ پر خلاف هڅول، امير دوست محمد خان له الکساندر برنس سره په دې شرط مفاهمه وکړه، چې که د انګليس دولت دوه

۱- Vitkievitck په ۱۳۳۸ کښې کابل ته راغی، خو دا سفير په غير رسمي ډول د روسيې د وزير مختار له خوا په تهران کښې کابل ته رالېږل شوی ؤ. (اريانا- ټ ۲- ګڼ ۱).

The Digital Library

زره ټوپك وركړي او د سند درياب د لوېديځ څمكې هم ده ته پرېږدي نو دی به تل د انګليسانو دوست او همكار وي.

مګر د هند برتانوي دولت د روس له احتمالي حملو څخه د هند د ساتلو له پاره پر شاه شجاع سدوزی چې له سلطنت څخه خلع او په لودهيانه كښې فراري و نظر درلود. پر دې اساس لارډآكليند د اكتوبر پر لومړۍ (۱۸۳۸ م) د افغان او انګليس لومړی جنګ پيل او د امير دوست محمد خان د خلع او ربنېې كښېلو له پاره يې ملا وتړله.

شاه شجاع چې په دغه وخت كښې د خپل تخت و تاج د لاس ته راوړلو له پاره هر ډول پستی ته حاضر و، د مارچ پر ۱۲ (۱۸۳۴م) يې خپله لومړی تړون چې ۱۴ مادې يې لرلې له مهاراجه رنجيت سره وتاړه كه څه هم مخلوع پاچا په دغه وخت كښې هيڅ ډول حقوقي او رسمي حيثيت نه لاره، خو په معاهده كښې يې ټول كشمير، پنجاب او د اټك، پېښور څمكې تر خيبر او سند پورې، رنجيت ته پرې ښوولې، دوارو خواو د (۱۱ - ۱۳ - ۱۴) مادو پر بنسټ د خطر په وخت كښې د يوه بل لښكري مرسته قبوله كړه؛ د تجارت د جريان په هكله يې هم ځينې مواد په دغه تړون كښې ځای كړل، خو څرنګه چې دغه تړون يوازې د شاه شجاع او رنجيت تر منځ و او انګليسانو په هغې كښې ګډه نه درلوده د هند بريتانوي دولت هغه ونه منله پر هغې پسې د لاهور تړون د (جون ۲٦ - ۱۸۳۸م) د بريتانوي ګورنر جنرال، مهاراجه رنجيت سنګهـ او شاه شجاع الملك تر منځ په شمله كښې د جولای پر ۲۵مه ۱۸۳۸م وتړل شوه {دا هغه كال دی چې روسي نماينده ويټكويچ كابل ته راغلی و} په دغه معاهده كښې چې ګورنر او رنجيت سنګهـ حقوقي شخصيتونه وو او اختيارات يې درلودل دريېم شخص شجاع الملك په هيڅ ډول د خپل هېواد د استازي صلاحيت نه لاره؛ په دغه وخت كښې دی يو

فراري او له ملي حقوقو فاقد سړی و.

په هر حال د لاهور تړون د مسټر ډبليوايچ مكناټن په ذريعه چې د لارډآكليند د هند د نائب السلطنه له لوري يې استازي توب لاره، په "۱۸" مادو كښې لاسليك شو، شاه شجاع د افغانستان د تاج و تخت د بيا نيولو د وعدې په مقابل كښې د افغانستان له ټولو څمكو چې په ماوراء بولان او خيبر كښې وې لاس واخيست او پر كال يې دوه لكه روپۍ باج له پېنځه زريز لښكر سره ومانه چې د تاج و تخت تر لاس ته راوړو وروسته يې رنجيت ته وركړي او له بل هيڅ دولت سره چې د انګليس او مهاراجه د دولت مخالف وي د دوستۍ او سياسي اړيكو تړون و نه كړي. په هرات كښې به هم خپل وراره حكمران وپېژني او د هرات په امورو كښې به مداخله نه كوي.

اتلسمه ماده د پوځي يووالي د تضمينولو تړون و چې كه له تړون كوونكيو څخه يو (انګليس، رنجيت او شاه شجاع) د كوم طرف تر خطر لاندې راشي نور به له ده سره د خطر په دفع كولو كښې لښكري مرسته كوي، په دغه عجيبه تړون كښې چې د دوو حكومتو او يوه فراري له خوا لاسليك شو، انګليس لښكريانو د سرجان كين په قوماندانۍ. شاه شجاع د (۱۸۳۹م فبروري ۱۲۵۴هـ). د سند او بولان له لارو راوست او پر كندهار يې حمله وكړه د اپريل پر ۲۰ - ۱۸۳۹م = ۱۲۵۵ هجري يې د كندهار ښار ونيو او د امير ورونه ايران ته وتښتېدل شاه شجاع د كندهار پر پاچهي تخت باندې كښېناست د (صفر ۲۳ - ۱۲۵۵ هجري). په كندهار كښې مكناټن له شاه شجاع څخه ژمنه واخيسته چې د انګليس عسكر به له يوه نفر سياسي نماينده سره د تل له پاره په افغانستان كښې پرېږدي او په دغه ډول د بريتانيې عسكر د شاه شجاع په ملګرتيا د غزني له لارې او همدا رنګه "كپتان ويډ" له شهزاده تيمور د شاه شجاع له زوی سره د خيبر او جلال آباد

…: The Digital Library

له لارې پر کابل باندې حمله وکړه د (اګست پر ۱۷ - ۱۸۳۹م - غره جمادی الاخر ۱۲۵۵هجري) شاه شجاع بې په کابل کښې پر پاچهۍ کښېناوه. امیر دوست محمد خان له خپلو زامنو سره بخارا ته ولاړ خو په هغه ځای کښې د بخارا پاچا دی بندی کئ. د هند ګورنر جنرال لارډآکلینډ د کابل د فتح او د امیر دوست محمد خان د ویستلو له کبله د لندن دربار له خوا د ارل Earl په لقب ویاړل شو.(۱۸۳۹م).

دغه مهال چې د حکومت مشران او امیر له هېواد څخه ولاړل او وطن بې دښمن ته پرېښووئ، افغان ملت د انګلیس متجاوز لښکر ته د غزا اعلان وکئ او له هر لوري پر انګلیسي لښکرو د افغاني ډلګیو له خوا حملې پیل شوې، یو کال وروسته امیر دوست محمد خان له خپل زوی محمد افضل خان سره له بخارا څخه راغی، له آمو څخه را تېر شو مګر په ایبك کښې بې د انګلیس له لښکر څخه ماته وخوړه او تاشقرغان ته ولاړل (۲۸ ستمبر ۱۸۴۰م ۱۲۵٦ هجري). تر دې وروسته امیر خپل ځان انګلیس ته تسلیم او کلکتې ته ولېږل شو (نوامبر ۱۸۴۰). خو ملي مجاهدینو د کابل په شمال کښې د مسجدي خان سلطان محمد نجرابي او نورو په مشرۍ د فرنګي متجاوزانو په مقابل کښې په غزا لاس پورې کئ عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری او نورو هم د ۱۲۵۸هجري د منې په سر کښې د کابل په شاوخوا کښې د خلکو په اتفاق پر شاه شجاع او فرنګیانو را پورته شول، سردار محمداکبرخان د امیردوست محمد خان زوی هم د شمال له لورې له دوی سره یو ځای شو او پر انګلیسانو باندې بې کار تنګ کئ په دغه کش و ګیر کښې مکناټن Sir.w Macnaghten د ستمبر په ۲۳ مه نېټه ۱۸۴۱م د سردار محمد اکبر خان په لاس په کابل کښې ووژل شو او الکساندربرنس هم د نومبر په ۲ مه نېټه ۱۸۴۱ م

د غازیانو له خوا وژل شوی و. وروسته په خپله شاه شجاع هم په کابل کښې د غازیانو په لاس ووژل شو (د صفر ۲-۱۲۵۸ هجري د آپریل ۳-۱۸۴۲م) (وګورئ ۸۴ نومره عکس). څرنګه چې د انګلیس عسکر د دغه کال په ژمي له کابل څخه د جلال آباد په لوري ولاړل؛ په لار کښې د افغاني غازیانو په لاس ټول ووژل شول.

انګلیسانو په دغه جنګ کښې ډېر زیانونه ولیدل یعنې (۳۰) زره تنه بې ووژل شول او (۲۱) کروړه هندي روپۍ بې مصرف شوې، په پای کښې د خپل ځان له ساتلو څخه هم عاجز شول او د افغاني غازیانو له لاسه، له یو تن پرته چې ډاکټر (۲) بریډون نومېد، یو هم ژوندی پاتې نه شو؛ بېرته بې امیر دوست محمد خان له هند څخه راووست، امیر د خپل مجاهد زوی وزیر اکبرخان په همت د کابل پر تخت بیا کښېناست، وروڼه بې له ایران څه راغلل پر کندهار باندې حکمرانان شول او هرات د یارمحمدخان الکوزي د شهزاده کامران د وزیر په لاس کښې پاتې شو.

امیردوست محمد خان د خپل امارت په دویمه دوره کښې د لومړي جنګ مشهور مشران چې د هېواد د ساتلو په لاره کښې بې قرباني ورکړې وې لکه نایب امین الله خان لوګری، سردارسلطان احمد خان سرکار، محمد شاه خان بابکر خیل، نواب محمد زمان خان او زوی بې شجاع الدوله خان، محمد عثمان خان او نواب جبارخان، مسجدي خان او نور تر باور لاندې رانه وستل، او د هېواد په چارو کښې بې شامل نه کړل پر عکس ټول هېواد بې د خپلو زامنو تر واك لاندې وساتئ، پر دې اساس سردارسلطان احمد خان د

---

۲ - William Brydon ولیم بریډون (۱۸۱۱ - ۱۸۷۸م) د انګلیسي لښکرو ډاکتر چې له دیارلس زریز لښکر څخه یوازې دی ژوندی پاتې شو او جلال آباد ته ورسېد. د جنورۍ ۱۳مه - ۱۸۴۲م (انډین بیوګرافي ۵۸).

The Digital Library

امیر وراره او زوم چې له ده څخه مایوس شوی و کندهار ته لاړ او له هغه ځایه یې له پینځه زرو کندهاري لښکرو سره پر کابل حمله وکړه، خو امیر ده ته په مقر کښې ماته ورکړه تر هغه وروسته سلطان احمد خان ایران ته فرار شو او د امیر نامتو مجاهد زوی وزیر اکبرخان هم په مزار شریف کښې له دې دنیا څخه لاړ (۱۲۶۳ هجري = ۱۸۴۶م). (وګورئ ۸۵ نومره عکس).

سردار محمد اکرم خان د امیر زوی په شمالي ولایاتو کښې ایشان اوراق د میر بلخ، ایشان صدور د اقچې، میر حکیم خان د شبرغان والي، میر بابا بیګ د ایبك رئیس، غضنفرخان د اندخوی سالار، ګنج علي د خلم مهتر، محمودخان د سرپل د اور او شاه مراد د قطغن برید ساتي مطیع کړل، تر آمو پر مخ ولاړ، او د هېواد شمالي برید یې وساته (۱۲۶۵ هجری ۱۸۴۸م) په دې ډول یوازې کندهار او هرات د امیر له امارت څخه د باندې پاتې شول. څو کاله وروسته کندهاري سرداران د امیر ورونه (کهندل، پردل، مهردل) مړه شول او رحمدل پاتې شو، ده له خپلو وریرونو سره جنګ وکړ. پر (۱۲۷۱ هجری = ۱۸۵۵م) د رجب ۱۱ مه امیر دوست محمد خان خپل ولیعهد سردار غلام حیدرخان جمرود ته ولېږه چې د سرجان لارنس د پنجاب چیف کمشنر د اندریومارکویس د هند له ګورنر جنرال استازي سره یې وکتل وکړ او د پېښور تړون چې د مارچ پر ۳۰ مه - ۱۸۵۵م شوی و او درې مادې یې لرلې، د هند له بریتانوي دولت سره یې وکړه.

دغه تړون د دوستۍ د مراسمو او د یو او بل د هېواد په چارو کښې د طرفینو د نه ګوتوهنې متضمن وه، درېیمې مادې ویل چې تړون کوونکي به یو د بل دوست - دوست او دښمن به دښمن بولي.

په دغه تړون سره امیر له ختیځ لوري مطمئن شو، ضمناً یې د کندهار په نیولو کښې بریتانوي هند دولت پلوي هم تر لاسه کړه، تر هغه

وروسته یې له کابل څخه لښکر ویوست کندهار یې ونیو او خپل زوی غلام حیدر خان ته یې وسپاره په دې ډول کندهار مستقیماً د کابل په امارت پورې اړه پیدا کړه.

خو په هرات کښې د سدوزیو د کورنۍ پایځوړ د یارمحمد خان الکوزي د کامران د وزیر په لاس له منځه لاړ، یارمحمد خان الکوزی هم په (۱۲۶۷هـ = ۱۸۵۰م) کال وفات شو او نالایق زوی یې چې سید محمد خان نومېده د ده پر ځای کښېناست، خپل مسکوکات یې د ناصرالدین شاه قاجار په نامه ووهل، خو د هرات خلکو دغه وضع خوښه نه کړه هغه یې وواژه او شهزاده یوسف د حاجي فیروزالدّین لمسی چې د سدوزیو له پاتې شونیو څخه و، د هرات په پاچهۍ وټاکه (محرم ۱۲۷۲هـ = ۱۸۵۵م) تر هغې چې ناصر الدین شاه هرات ته لښکرې راولېږلې او هاغه ښار یې ونیو (۱۲۷۳هـ).

افغاني مشرانو هرات د افغانستان پخوانی نه بېلېدونکې برخه ګڼله او نه یې غوښتل چې پردي هېوادونه دې په هغه کښې لاس ولري، پر دې اساس امیر دوست محمد خان له مرکز سره د هرات راساً یو ځای کېدل غوښتل. په دغه وخت کښې امیر دوست محمد خان انګلیسانو جمرود ته دعوت کړ او د سرجان لارنس په ذریعه یې د پېښور تړون پر (جنوري ۲۶-۱۸۵۷م = ۲۹ د جمادی الاول ۱۲۷۳هـ) کال له ده سره وتاړه، دغه تړون چې د (۱۲) مادو درلودونکی و د هند د ګورنر جنرال جان وایکونت کیننګ له لوري د جان لارنس چیف د پنجاب کمشنر او لفټننټ کرنل ایچ، لی ایدواردس، د پېښور کمشنر په وسیله له امیر سره وتړل شوه.

تړون وایي: دا چې د ایران پاچا تړون مات او پر هرات یې قبضه وکړه او په افغانستان کښې مداخله کوي، نو د هند انګلیسي حکومت به امیر دوست محمد خان ته مرسته ورکړي او د ده د ځمکو په ساتلو کښې به د

The Digital Library

قاجاريانو پر خلاف زيار وباسي؛ تر هغه وخته پورې چې له قاجاري دولت سره جنګ جاري وي د مياشتې يو لك روپۍ به امير ته ورکوي په دې شرط: چې امير خپل سواره او توپخانه لښکر له (۱۸) زره پليو سره ډېر ښه وساتي او تل (۱۳) زره روزل شوی لښکر ولري. په کابل کندهار بلخ او يا په هر ځای کښې چې له قاجاريانو سره جنګ ونښلي، د انګليس نمايندګان به له هندي عملې سره مقرر وي څو د مرستې پيسې د دوی تر نظارت لاندې په لښکري چارو کښې ولګول شي، خو په کورنيو چارو کښې به ګوتې نه وهي او يوازې به له جنګي پېښو څخه خبر اخلي.

امير دې خپل يو نماينده په پېښور کښې مقرر کړي او سربېره به پر مياشتنۍ مرستې پينځه لکه روپۍ نقدې ده ته ورکوي. په مقابل کښې امير نه شي کولای په پټه يا ښکاره له بل دولت سره په سياسي مفاهماتو لاس پورې کړي څلور زره ټوپك يې هم د دغه تړون پر اساس امير ته په تېل کښې وسپارل.

سربېره پر دې انګليس دولت پر قاجاري دولت هم سياسي فشار راووست چې هرات چې د افغانستان د مځکې پخوانۍ برخه ده ژر خوشې کړي همدارنګه يې پر نومبر ۱۸۵۷ م = ۱۲۷۳ هجري يو لښکر له جنګي کښتيو سره د عرب د بحيرې له لارې پر بوشهر باندې وروهڅاوه، هغه ښار يې ونيو او د هغه پرېښوول يې د هرات په پرېښوولو پورې اړ کړه.

دا چې د پردې ترشا يا د سياست په فضا کښې د هرات په باره کښې په هند، لندن، تهران او کابل کښې فعاليت کېده د تړون د نص او د انګليس له بحري لښکرکښيو څخه ښکاره ده، خو د افغانستان او هرات خلك هم د قاجاريانو تر بار لاندې رانه غلل، هر طرف ته ملي حرکتونه وليدل شول، سرښندويه خلك د آزادۍ په لار کښې پر خوځښت راغلل او له هرات

څخه يې د متجاوزو لښکرو ايستل وغوښتل. پردې اساس قاجاريه لښکر د جولای پر ۲۷مه-۱۸۵۷ = ۱۲۷۳ هجری هرات تخليه او مشهد ته ولاړل، خو په دغه وخت هماغه کښې سردار سلطان احمد خان سرکار د امير وارره هرات ته راغی او دی يې د هغه ځای حکمران وپېژاند، په دغه ډول زړورو هراتيانو خپل ښار د پرديو له واکمنۍ خلاص کړ.

دغه سرادر د انګليس له مخالفو عناصرو څخه ؤ، چې په لومړي جنګ کښې د ملي مجاهدينو له مشرانو څخه ګڼل کېده، پر دې اساس په هرات کښې د ده شتوالی د هند دولت له پاره خاطر جمعي نه وه.

هرات ته د سردار له راتلو سره خلك پرده باندې راټول شول او سياسي فعاليت هم شروع شو، د بريتانيا حکومت يو سياسي هيئت د ميجرتيلر په مشرتابه له بغداد څخه هرات ته ولېږه په دې توګه د روس دولت يو هيئت د خانيکوف په رياست د سردار دربار ته راولېږه، سلطان احمد خان د انګليس لېږلي په ناکامۍ له هراته وويستل (۱۲۷۴ هجری) او په آزادۍ سره حکم چلاوه.

د هغه بل لوري امير دوست محمد خان چې له مرکز سره د هرات په يو ځايوالي د خلکو هيله وليده په خپل لښکر باندې ګوتې ووهلې او پر هرات يې حمله وروړه، د صفر پر لسم ۱۲۷۸هـ ۱۸۶۱م خپل وراره او زوم سلطان احمدخان يې په هرات کښې کلابند کړل.

کلابندي ۱۸ مياشتې اوږده شوه، سلطان احمدخان له نرۍ سترګې پټې کړې، زوی يې شهنواز خان هم تر دوو مياشتو پورې مقاومت ته دوام ورکړ، خو تر دوو مياشتو وروسته د امير په لاس ورغی (د ذيحجې اتمه ۱۲۷۸هـ ۱۸۶۱م)، خو امير په خپله څو ورځې وروسته د ساړندۍ په مرض د ۷۷ کالو په عمر له دې دنيا څخه لاړ او په هرات کښې د خواجه عبدالله

The Digital Library

انصاري د مزار تر څنګ په ګازرګاه کښې ښخ شو، د ذیحجې (۲۱ - ۱۲۷۸هـ =۱۸۶۱م). هغه ګټور کار چې امیر د خپل عمر په پای کښې د هېواد د یووالي په خاطر وکړ، په افغاني مرکزي دولت پورې د هرات تړل و چې سیاسي وحدت او د هېواد پخواني حدود یې تامین کړل. (وګورئ ۸۶ نومره عکس)

امیر دوست محمد خان د محمدزیو کورنۍ، امیر او په (امیر کبیر) مشهور دی چې د سپینو زرو د روپیو پر سکه باندې یې دغه بیت لیکل شوی و:

سیم و طلا شمس و قمر میدهد نوید
وقت رواج سکهٔ پاینده خان رسید

دی یو جاه طلب، نرم خویه او عشرت دوست سړی، خو زړور او مدبر و چې ۱۴ منکوحه ښځې او په سل هاو سراری او (۵۲) اولاده یې درلودل (۲۹) تنه اولاد یې د ده تر مرګ وروسته په افغانستان کښې د ویروونکیو کورنیو جنګو لامل وګرځېدل.

په لومړي امارت کښې چې امیر دوست محمد خان کابل ونیو د خپلو ورونو جرګه یې جوړه کړه او د ۱۲۴۲ هجري کال د ربیع الثاني د میاشتې د ترون له مخې چې اصل یې د کابل په موزیم کښې موجود دی، هېواد یې په خپل منځ کښې وویشه د دغې جرګې ریاست نواب عبدالصمد خان کاوه چې تر ټولو مشر و او دغه لاندیني ترون یې دده په ضمانت سره وکړ:

۱ - کوهاټ وهنګو او د هغه توابع چې پخوا بنګښ ورته ویل کېدل: نواب عبدالصمد خان ته.

۲ - پېښور سردار یار محمدخان، سلطان محمدخان، پیر محمدخان

او سید محمدخان ته: اشنغر او د هغه توابع، له یو لکو روپیو سره د کابل له عایداتو چې امیر دوست محمد خان ورکولې.

۳ - د حصارك غلجایي سیمه د کابل ختیز خوا نواب عبدالجبار خان ته.

۴ - کابل، کوهدامن، لوګر او د هغه توابع تر بامیان پورې امیر دوست محمد خان او سردار امیر محمد خان د ده سکه ورور ته.

۵ - نواب محمد زمان خان او د ده سکه ورونوته (د نواب اسد خان زامن د پاینده خان لمسي) د کابل د ختیزه خواږ لغمان، جلال آباد تر خیبر او د هغه تر توابعو پورې.

۶ - سردار حبیب الله خان او سردار محمد اکرم خان (د سردار محمد عظیم خان دامیر د مړه ورور زامن) ته لوګر، بتخاك، څرخ، میدان او غوربند.

۷ - کندهاریو سردارانو پېنځو ورونو (پردل، کهندل، شیردل، رحمدل، مهردل) ته کندهار له شاه جوی څخه تر فراه پورې.

د هېواد په دغه اوو برخو کښې پورتنیو اشخاصو حکم چلاوه، نواب اسد خان ډېره جات په خپل واك کښې لاره او رحمدل خان د بولان پر درې تر ښکارپور پورې حکمراني کوله.

د بارګزیي ورونو د هڅو دغه نتیجه وه چې سدوزیو د سلطنت له ضعف څخه وروسته هېواد په خپل منځ کښې وویشي. د احمد شاه بابا د شاهنشاهي قوي مرکزیت له منځه ولاړ پردې اساس قوی او نیرومند هېواد موقتاً په ناتوانی او تجزیې محکوم شو.

د موهن لال په په قول چې د سید حسین د کابل مستوفي او د مستوفیت د غړو دیوان میتها او دیوان بیربا او له "یارام" څخه یې اورېدلي دي د ده د امارت په لومړۍ دوره کښې د امیر د قلمرو ټول عواید

The Digital Library

(۲،۵۰۹،۲۳۸) کابلی روپۍ وې، چې د کابل او د هغه له شمالي سمت څخه له غوربند میدان وردګ، غزني، بهسود، بامیان، زرمت ګردیز هزاره کورم، خوست، جلال آباد او لغمان څخه لاس ته راتلې.

د کندهار تر یووالي او د کندهاري سردارانو د خپلواکۍ تر پای ته رسېدو وروسته، د امارت عایداتو د فراه له شاوخوا څخه تر کندهار او شاه جوی د کابل په مرکز پورې اړه پیدا کړه، د فیض محمد هزاره په وینا امیر له دغو عوایدو څخه (۱۵) لکه روپۍ تنخواه د کندهار پاتې سردارانو ته چې د ده ورېرونه وو مقرر کړې.

خو د پېښور، اشنغر او د هغهٔ تړابع حکمرانانو سردارانو عایدات د کال (۶۹۲) زره روپیو په شاوخوا کښې وو، چې هرد روپۍ "لس شاهي" له لسو آنو سره برابره وه او پردې سربېرد د خواراکه بابو د مالیې، د هندوانو د جزیې او له نورو متفرقاتو څخه هم د (۶۲) زره روپیو په شاوخوا کښې عاید و چې ټول (۷۵۴) زره روپۍ شي. (د پېښور تاریخ).

په دغه ډول که موږ د کابل، کندهار او پېښور پر عایداتو او مالیاتو سربېره د شمالي ولایاتو عایدات یعنې قطغن، بنګښ او ختیزه خوا، لغمان او دېره جات ټول په جلا ډول سره د (۵۰) لکو روپیو په شاوخوا کښې اټکل کړو نو د بارکزیو ورونو (امیر دوست محمد خان او ورونه یې) ټول د لس (۱۰) ملیونو روپیو په شاوخوا کښې کېدې.

په دغه وخت کښې د افغانستان له لارې د هند او بخارا تجارت روان و، له امرتسر او ښکار پور څخه تجارتي قافلې کابل، کندهار، بخارا او مشهد ته تللې، په ځانګړي ډول د کشمیر د شالو او نفیسه پارچو تجارت کېده. څرنګه چې د ۱۸۶۲ په تجارتي راپور کښې راغلي دي چې د افغانستان او هند ټول تجارت ۱۱۸، ۹۳۹ پونډه و او ګمرکي محصول هم

په سلو کښې دوه نیمې روپۍ اخیستل کېده. د کوچیانو په وسیله هم د یو مېلیون او درې لکو روپیو مالونه له افغانستان څخه هند ته وړل کېده او د یو مېلیون او شپږ لکو روپیو مالونه واردېدل په کابل کښې ملا رحیم شاه، غلام قادر او ښکار پورې ګوپالداس او په کندهار کښې ملا جلال اڅکزی او ملانسو لوی تاجران وو، د کابل ګمرك د څلورو لکو روپیو په شاوخوا کښې تجارتي محصول درلوده. په کابل کښې سید حسین خان او وروسته عبدالرزاق خان او میرزا عبدالسمیع خان مستوفي الممالك (د مالیې وزیر) و، میرزا محمدحسن خان د سلطنت دبیر (سرمنشي) شاغاسي شیر دل خان بارکزی د کورنیو چارو او دربار وزیر، غلام محمدخان پوپلزی لښکري مشاور، قاضي عبدالرحمن خانعلوم بارکزی د عدلیې وزیر او قاضي القضاة میر حاجي د میر واعظ زوی د دیني امور مشاور او فراموز خان نورستانی سر لښکر او د امیر د دربار سپه سالار و.

خو د امیر لښکر د مستر کیمپل انګلیسي (چې په لومړي جنګ کښې مسلمان شوی او نوم یې شېر محمد ایښودل شوی و) او امریکایي ډاکتر هارلان چې د رنجیت سنګهه له دربار څخه کابل ته راغلی و، تر اداره او تعلیم لاندې و او نایب عبدالصمد هندي و، چې د هغو شمېر د سلطنت په لومړۍ دوره کښې (۱۲) زره سوعاره، درې نیم زره پیاده ټوپك لرونکي، (۵۰) لوی توپونه او (۲۰۰) کچرو په منځ کښې توپونه وو، سوارانو یو تن (۱۲۰) روپۍ او پلي یو تن (۸۴) روپۍ د کال تنخواه درلوده خو د امیر دوست محمد خان د امارت په پای کښې د ده عسکری تشکیلات داسې وو:

۱ - په کابل کښې دوه پیلي غنډونه له(۱۸) صحرایي توپو سرد دوه درانه توپونه یو مورټر او یو زنبورك.

۲ - په بلخ کښې درې پیلي غنډونه او دوه سوارد غنډونه له ۱۶

The Digital Library

صحرایي توپو سره.

۳ - په بامیان کښې یو پلی غنډ له دوو جبل توپو سره.

۴ - په کوهستان کښې یو پلی غنډ له دوو صحرایي توپو او دوو جبل توپو سره.

۵ - په فرا کښې یو پلی غنډ او څلور صحرایي توپونه.

٦ - په گرشك کښې یو پلی غنډ او څلور صحرایي توپونه.

۷ - په غزني کښې یو پلی غنډ او څلور صحرایي توپونه.

۸ - په آقچه کښې یو پلی غنډ او دوه صحرایي توپونه.

۹ - په غلز يي کلات کښې یو پلی غنډ د درو جبل توپو او یو صحرایي توپ سره.

۱۰ - په کندهار کښې درې پلي غنډونه او یو سپور غنډ، له دوو ثقیلو، دوو جبل او دوولس صحرایي توپو سره.

۱۱ - په ز میداور کښې یو پلی غنډ له څلورو صحرایي توپو سره.

په دغه ډول د امیر تر اداري لاندې ځمکو کښې یوولس عسکري مرکزونه وو او هر غنډ ۸۰۰ تنه چې په ورځنیو تمریناتو کښې ۶۰۰ نفر حاضرېدای شول، خو هر غنډ سواره عبارت و له (۳۰۰) تنو څخه چې ټول منظم عسکر یې عبارت وو له:

۱٦ پلي غنډونه، هر غنډ ۸۰۰ تنه - ټول ۱۲،۸۰۰ تنه.

۳ سواره غونډونه ۳۰۰ تنه ټول ۹۰۰ تنه.

٦۷ صحرایي توپونه - ٦ جبل توپونه - ۴ ثقیل توپونه، یو مورتر- چې ټول منظم عسکر - ۷۰۰، ۱۳ تنه له ۸۱ توپو سره وو، پر دې سربېره د ایلجاري لښکرو شمېر د ضرورت په وخت کښې په کابل کښې ۳۱ زره - په کندهار کښې ۱۸ زره - په هرات کښې ۲۲ زره - په بلخ کښې ۲۹ زره وو

(افغانستان، د لندن طبع ۱۹۰٦م) مگر کورنی امنیت د کوتوال او د کوتوالی د پولیس په ذریعه اداره کېده، شرعي محاکمو، عدلیه امور، اداره کول، چې قاضي د خانعلوم په ذریعه د امیر له حضور ټاکل کېده. د امیر د حکمدارۍ او له دوره یو ډول مشترك امارت و چې افغانستان د ده د ورونو تر منځ د پخواني - ترون له مخې وېشل شوی و، هر ورور په خپله حکمدارۍ سیمه کښې خپلواکي درلوده، په دویمه دوره کښې د هېواد مرکزیت قوي شو او د امیر د ورونو نفوذ له منځه ولاړ د ده د امارت توابع د امیر د زامنو تر منځ ووېشل شول، مگر دوی د پلار په اجازه سره حکم چلاوه او د خپلو سیمو له عوایدو څخه یې یوه برخه د خپلو مصارفو له پاره گرځوله او پاتې یې د کابل په خزانه کښې تحویلوله د پلار له اجازې څخه پرته یې ټول کارونه سرته نه شول رسولای، په دویمه دوره کښې د امیر زامنو په دغو سیمو کښې حکم چلاوه:

سردار شېرعلي خان د بنگښ په کورم کښې (د پېښور جنوبي خوا).

سردار محمد افضل خان پر زرمت د کابل په جنوب کښې چې وروسته د بلخ په نیولو او حکمرانۍ باندې مامور شو.

ولیعهد سردار غلام حیدر خان په غزني او کندهار کښې چې وروسته په جلال آباد کښې حکمران او د ده پر ځای سردار شمس الدین د امیر سکه وراره چې په کوهستان کښې حاکم و په غزني کښې وټاکل شو.

سردار محمد اعظم خان پر لوگر د کابل په جنوب کښې، سردار محمد شریف خان پر بامیان د کابل شمال لوېدیځ او وروسته په کلات او فراه کښې.

سردار محمد امین خان په کوهستان د کابل په شمال کښې. سردار محمد اکرم خان پر هزاره جات د کابل په لوېدیځ کښې چې وروسته شمالي

ولایتو او قطغن ته وګمارل شو.

سردارمحمداکبرخان په لغمان او جلال آباد کښې د کابل ختیځه خوا.

د امیر تر مړینې وروسته په هرات کښې، دده ولیعهد سردارشېرعلي خان د امارت اعلان وکړ (د ذیحجی ۱۲ مه - ۱۲۷۸ هجری ۱۸٦۱ م) او په دغه سجع یې سکه ووهله:

جمال دولت پاینده قسمت ازلیست
وصی دوست محمد، امیر شیرعلیست

یو له هغو مهمو سړیو څخه چې له امیرشیرعلي خان سره د تخت ناستي پر مهال په هرات کښې و، سید جمال الدین "افغان" دی چې ده ته یې د کورني سمون پروګرام او د نوي مدنیت د اصولو طرح ورکړه، خو امیر د خپل لومړي امارت په دوره کښې چې تر (۱۲۸۳ هـ - ۱۸٦٦ م) پورې پېنځه کاله وه، له خپلو وروڼو سره په کورنیو جګړو بوخت و؛ د هېواد د سمون له پاره یې فرصت ونه موند؛ سید جمال الدین هم له هېواده ووت، د اسیا او اروپا هېوادو د ځوانانو اروا یې راوېښه کړه، د اسلامي یو والي غږ یې اوچت او د اروپایي ښکېلاك پر وړاندې یې ستره مبارزه پیل کړه.

مومندو قبیلو پر (۱۲۸۰هـ - ۱۸٦۳م) کال د سعادت خان د زوی سلطان محمد خان په مشرتابه د انګریز پر وړاندې پاڅون وکړ.

امیر شیرعلي خان خپل زوی محمدعلي خان او وزیرمحمدرفیق خان لودین، مومندو ته ورولېږل چې له قبایلو سره خپل اړیکي وساتي، خو انګریز د ده امارت په رسمیت ونه پېژاند، د امیر ورور محمد اعظم خان یې د ده پر خلاف په پېښور کښې وساته، تر ده وروسته د امیر بل ورور محمدافضل خان هم سر غړاو شو او د هندوکوش په "باجګا" دره کښې یې د ده له لښکر سره جګړه وکړه، خو په پای کښې یې غاړه کښېښووه او بندي شو، زوی یې

he Digital Library

سردار عبدالرحمن خان بخارا ته لاړ.

تر دې وروسته یې له خپل بل ورور محمد امین خان سره چې د کندهار حکمران و د کلات د ترنك په کجباز کښې جګړه وکړه، په نوموړې جګړه کښې یې ورور محمدامین او زوی محمدعلي دواړه ووژل شول (۱۲۸۲هـ - ۱۸٦۵ م). یو کال وروسته عبدالرحمن خان له بخارا راوګرځېد او د محمداعظم خان په مرسته یې پر کابل یرغل وکړ او ویې نیو. د امیر شیرعلي خان مشر ورور محمدافضل خان یې پر پلاز (تخت) کښېناوه (۱۲۸۳ هـ - ۱۸٦٦م) او امیر شیر علي خان کندهار ته لاړ.

امیر محمدافضل خان د کورنیو جګړو پر مهال تر یوه کال امارت وروسته مړشو (۱۲۸۴ هـ) او دده بل ورور، امیر محمداعظم خان پر کابل تخت کښېناست، وراره یې عبدالرحمن خان د هېواد شمالي ولایتونه ونیول او بیا یې له کابل سره وتړل.

خو کندهار او هرات له امیر شیرعلي خان سره پاتې شول ده هلته نوی پوځ چمتو او د کندهار له لارې یې پر کابل ورودانګل، هغه یې ونیو او امیر محمداعظم خان او عبدالرحمن خان ایران ته لاړل، محمداعظم خان همهغلته مړ شو او روسي حکمران "جنرال کوفمن" په ترکستان کښې د عبدالرحمن خان هرکلی وکړ او په سمرقند و تاشکند کښې یې مېشت کړ.

امیر شیرعلي خان دویم ځل د ټول افغانستان امیر وګڼل شو (۱۲۸۵ هـ - ۱۸٦۸ م).

امیر داخل په کابل کښې په نویو اصولو لښکر جوړکړ؛ نوي ښوونځي یې پرانیستل؛ د "شمس النهار" په نامه یې د افغانستان لومړنی اخبار چاپ او خپور کړ؛ په کابل کښې یې نوې چاپخونه جوړه کړه او په هغې کښې یې ځینې کتابونه "له هغې ډلې": پوځي قواعد له انګریزۍ نه په پښتو

The Digital Library

او دري وژباړل او چاپ يې کړل.

امير شيرعلي خان، سيد نورمحمد شاه کنډهاری د سر وزير (صدراعظم) په توګه وټاکه او د وزيرانو لومړنۍ کابينه يې منځته راوسته چې عصمت الله خان د کورنيو چارو، ارسلاخان د بهرنيو چارو، حبيب الله خان وردګ د ماليې، حسين علي خان د دفاع او احمدعلي خان د زېرمو (خزانو) وزيران او محمدحسن خان د دربار سرمنشي و. نوموړې کابينه د افغانستان له استوګنو قامونو څخه، پرته له ژبنيو او قامي توپيرونو جوړه شوې وه چې د شاهي کورنۍ او د امير له خپلوانو څخه هيڅوك هم په کښې نه و، دغه کار دا رابښيي چې امير په سياسي چارو کښې په پراخه سينه او اسانۍ چلند کاوه او هېواد والو ترمنځ يې عدل په پام کښې ساته .

د امير له يادونې وړ کارو څخه يو هم د نوي، چمتو او سمبال پوځ جوړول دي، سره له دې چې دغه پوځ هېواد او امير ته د اړتيا او ګواښ پر مهال مرستندوی نه شو، خو بيا د دغې دورې په تاريخ کښې د يادونې وړبښکاري.

دغه پوځ په اتو پوځي هڅو: کابل، جلال آباد، شيرآباد، کندهار، کورم، هرات، ميمنه او بلخ کښې په لانديني شمير، درې ټولګيه و:

١ - ٦٢ پلي غنډونه، هر غنډ ٦٠٠ جنګيالي - ټول ٢٠٠، ٣٧ جنګيالي.
٢ - ١٦ سپاره رر رر رر رر رر ٩،٦٠٠ رر.
٣ - د پيلانو، آسونو، غويانو او کچرو د توپخانو ټول ٥،١٩٠ جنګيالي.

په دې ګڼه د ټولو وسلوالو چمتو پوځيانو شمېر پر (١٨٧٢ م) کال (٥١،٩٩٠) و، سر بېره پردې (٨٠٠٠) پلي او (١٦٠٠٠) سواره ايلجاري (پوځي ډولي) هم وو.

د وسلو ډولونه يې (٤٠،٨٢٥) انګريزي او افغاني ټوپك او (٣٦٩)

انګريزي توپونه وو. بريتانوي هند دولت د (١٨٧٧) تر مارچه پورې امير شيرعلي خان ته نه ويشت زره ټوپك بخښلي وو. (افغانستان هملتون).

امير د توپونو د جوړولو له پاره په کابل او هرات کښې کارخانې جوړې کړې چې په هغو کښې يې ارابه لرونکي درانده توپونه جوړول، همداراز يې د ټوپك جوړولو کارخانې هم لرلې چې تر اوسه هم په هماغو کارخانو کښې جوړ شوي توپونه شته.

د بريتانوي هند دولت چې د افغانستان اوضاع ډاډمنه او سمه وليده، د نوامبر د (٢مې) نېټې (١٨٦٨م). (١٢٨٥هـ، شوال) ليك له لارې يې د امير شيرعلي خان سلطنت په رسميت وپېژاند، دولس زره ټوپك او شپږ سوه زره روپۍ يې ورته راولېږلې.

امير د اړيکو د لا ټينګښت له پاره، د هند د وايسرای په بلنه پر (١٢٨٦هـ، ١٨٦٩م) امبالې ته لاړ. د هند ګورنر جنرال د سياسي کنفرانسونو په ترڅ کښې د امير ټولې غوښتنې ونه منلې، د افغانستان په چارو کښې يې د امير په بښګنه د نه لاسوهنې ځرګندونه وکړه او (١٢٠٠٠) ټوپك يې له درې سوو زرو روپيو سره امير ته ډالۍ کړې.

امير چې کابل ته راستون شو، خپل کشر زوی "عبدالله" يې خپل ځای ناستی وټاکه او مشر زوی يې "محمد يعقوب" له کابله وتښتېد او په هرات کښې يې اړ دوړ پيل کړ، خو امير دی د هرات حکمران وټاکه او د ناخوالو مخه يې ونيوه.

امير ځينو سياسي پوښتنو ته پام واړاوه، له تزاري روسيې سره يې د افغانستان د شمالي بريدونو په ټاکلو لاس پورې کړ، له ايران سره يې د انګريز په منځګړتابه د هلمند د اوبو وېش پيل کړ او صدر اعظم سيد نور محمد شاه يې تهران ته واستاوه، ورسته بيا نوموړي صدر اعظم د بريتانوي

The Digital Library

هند له دولت سره د شملې (۱۸۷۳م) او پېښور (د جنوري ۳۰مه، ۱۸۷۷م) په کنفرانسونو کښې ورګډ شو، خو څه هوکړه ونه شوه. دغه د ډيپلوماتيکې ويناوې کېدې چې د روسيې دولت پر "خيوا" يرغل راوړ، هغه يې ونيوه او هند ته ګواښ لا پسې کلك شو (ربيع الاول، ۱۲۹۰هـ).

څرنګه چې دپېښورپه کنفرانس کښې دصدراعظم سيد نورمحمد شاه دريځ کوم ځای و نه نيو او دی هماڵته ناروغ او مړ شو، دا مهال د بريتانوي هند دولت د افغانستان پر بريدونو خپل څرګند سياست "فاروړډ پاليسي" ترکار لاندې ونيو او دهند دساتنې له پاره يې تيری يوازينی لار وګڼله.

د روسيې دولت چې خپل استازی "جنرال ستوليتوف"(۱) کابل ته رالېږلی و، دده راتګ دهندسياست چارې اندېښمن کړل، ترهغې چې دافغان-انګريز دويمه جګړه يې پيل کړه او د افغانستان پر خاوره يې تېری وکړ.

د انګريز سمبال جګړه مار د (۱۸۷۸م د نومبر پر (۲۰)مه د خيبر، کورمې او بولان له لارې پر مخ تلل، امير شيرعلي خان د روس د مرستې په هيله په خورا ګډوډۍ کښې کابل پرېښوو او مزار شريف ته لاړ او هلته د ماتې په درشل کښې د ۱۲۹۶هـ ۱۸۷۹م کال د صفرې پر ۲۹ مه د "نقرس" په ناروغۍ مړ شو. (وګورئ ۸۷ نومره عکس)

د امير تر تګ وروسته په کابل کښې ناوړې پېښې منځته راغلې

۱- د دغه سياسي پلاوي د هر کلي څرنګوالی چې د روسيې مختار وزير "Stoletoff" په مشرتابه راغلی و د ګولوس "Golos" جريدې د (۱۸۷۸م) کال د نومبر مياشتې په ګڼه کښې چې په سنټپترزبورګ کښې خپرېده راغلی او ژباړه يې د اريانا مجلې د دويم کال په لومړۍ ګڼه کښې چاپ شوې‌ده.
له جنرال ستوليتوف سره ۲۲ قزاقان، (۱۵) قرغيزان او (۴) چوپړي ملګري وو، دی د جنون پر ۱۴ مه له سمرقند راوخوځېد او د ۱۸۷۸م کال د اګست پر ۱۱مه د کابل بالاحصار په شاهي ودانۍ کښې امير ته را ورسېد.

وګړي بې مشرتابه پاتې وو او دښمنان پر مخ راتلل.

دا مهال ځينو مشرانو شهزاده يعقوب خان تر (۸) کالو بند وروسته له زندانه را ووېست او د ۱۲۹۶هـ کال پر ربيع الثاني يې په پاچهۍ وټاکه.

انګريز جګړه مارو په خونړې څواك، افغانستان ونيو او د امير ناپوه زوی يې خپلې پوځې هډې (ګندمك) ته بوت. ګندمك د کابل - جلال آباد تر منځ يو ځای دی چې د افغان غازيانو د لومړۍ جګړې پر مهال، انګريز لښکر تر پايه هلته سټ شوی و، خو اوس د امير دغه ناپو زوی دغلته راکښل شو او د ګندمك کرغېړن تړون يې-چې د افغانستان په تاريخ کښې يو تور ټکی دی او د دغه هېواد خمکنۍ بشپړ تيا يې درې ورې کړه-لاسليك کړ. د ۱۲۹۶هـ د جمادی الثاني ۴ = ۱۸۷۹م د مۍ ۲۶مه).

د ګندمك تړون چې لاسليك شو، په ټول هېواد کښې کلك اړ و دوړ پېښ و. يعقوب خان هم په کابل کښې د پرديو تر سيورې لاندې اوسېده، دی هېڅکله هم د ټول افغانستان د پاچا په توګه ونه پېژندل شو او تر څو مياشتو وروسته له افغانستانه هند ته وتښتېد او د بريتانوي هند په غېږ کښې ولوېد، ځکه نو دغه تړون حقوقي ارزښت نه لري. د نوموړي تړون له مخې خيبر، پښين او کورمه له افغانستانه بېل او بريتانوي هند په خاوره پورې وګڼل شول. سرلويس کيوناري "Sir Piere louis Napoleon Cava Gnari"(۱) چې د ګندمك په تړون کښې د انګريزانو استازی و، د انګريزي استازي په توګه

۱ - د جنرال ادولف زوی پر ۱۸۵۷م کال د ايست انډيا کمپنۍ په لښکر کښې شامل شو، وروسته يې په هند او نورو سرحدي سيمو کښې لوړې دندې ومونديې او تر ۱۸۷۷ کال پورې د کوهاټ او پېښور واکمن و. پر ۱۸۸۷م کال د سرچمبرلين د کابل پلاوي غړی و، چې افغاني مامورينو د دغه پلاوي د راتلګ مخه ونيوله. (انډين بيوګرافي ۷٦) .

د (۱۹۷۹م کال د جولای پر میاشت) په کابل بالاحصار کښې استوګن شو، خو څو میاشتې وروسته په افغانستان کښې ملي غورځنګ پیل شو او افغان غازیانو د پرنګیانو په وژلو لاس پورې کړ. د کابل بالاحصار پوځیانو هم پاڅون وکړ او د مجاهدینو ملګري شول، تر ټولو لومړی یې په بالاحصار کښې انګریز استازی د هغه له همکارانو سره وواژه (د ۱۲۹٦هـ د روژې ۱٦مه - ۱۹۷۹ د ستمبر ۳مه).

د افغان، انګریز دویمه جګړه ډېره توده پر مخ تله، ستر ملي مجاهدین د جنرال چمبرلین(۱) Sir N. Chamberlain چې د خیبر درې له لارې یې پیاوړي انګریزي ځواك سره یرغل کړی و، جنرال رابرټس(۳) Sir E. Roberts چې د کورمې له لارې پر مخ راتلو او جنرال ستیوارټ(۴) J. Stewart چې د بولان درې له لارې یې یرغل کړي و، پر وړاندې په مېړانه ودرېدل.

د انګریز دغه بشپړ سمبال پوځونه تر پنځوسو زرو لږ نه وو، خو غازیانو ستره مېړانه وښوده، د مجاهدینو مشران لکه: محمد جان خان وردګ، ملا مشك عالم اندړ، صاحبجان تره کی سرادر ایوب خان او محمد عثمان خان ساپي او نورو په بېلابېلو ځایو کښې له یرغلګرو سره جګړې وکړې. له دغو ټاکونکیو جګړو څخه یوه هم چې انګریزان یې وځپل د میوند ډګر جګړه وه. په نوموړې جګړه کښې له هرات او کندهاره د امیر شیر علي خان د زوي سرادر محمد ایوب خان جرنیل تاج محمد خان سلیمانخېل په

۱- پر ۱۸٦۵ کال زوکړی (چارلس چمبرلین زوی چې پر ۱۸۷۳ کال د هند حکومت په لښکري خدمت کښې شامل شو، پر (۱۸۷۸ - ۸۰م) له رابرټس سره په افغان جګړه کښې و. تر دې وروسته په مدراس او کشمیر کښې لښکري منصبدار و، پر ۱۸۹۰ کال د خیبر د قواوو قوماندان او تر دې وروسته په جنوبي افریقا د لارد رابرټس ځانګړی سکرتر و. پر ۱۹۰۰م کال د ایرلنډ د قواوو انسپکټر جنرال و. (انډین بیوګرافي ۷۷).

مشرۍ او د مولوي عبدالرحیم کندهاري او د کندهار د نورو پوهانو په فتوا، ملي ځواکونه راغونډ شول.

سردار ایوب خان له هرات او فراه څخه ګرشك ته راغلی و او انګریز پوځ د جنرال بروس Burrows په مشرتابه د میوند پر ډګر د هغه مخ ته ورغی، توده جګړه ونښته او د (۱۸۸۰م) د جولای د (۲۷مې) تر مازیګري پورې د غازیانو په بري او د پرنګیانو په ماته پای ته ورسېده، د انګریز ژوندی پاتې لښکر کندهار ته وتښتېد او په حصار کښې دننه پټ شو. جنرال رابرټس تر دوه ویشتو ورځو وروسته ځان له کابله کندهار ته ورساوه (د ۱۸۸۰ د اګست له ۹مې تر ۳۱مې) او د سپتمبر پر لومړۍ یې د سردار ایوب خان پوځونه ژوبل کړل، سرادر له خپلو ملګریو سره هرات او له هغه ځایه ایران ته لاړ. په ایران کښې د بریتانوي هند د دولت لاس ته ورغی او د ژوند تر پایه په راولپنډۍ او لاهور کښې استوګن شو. (۱۹۱۴ د اپریل ۱۷مه)

د دغه غازي مزار د پېښور سهیل ته په سید حبیب هډیره کښې دی.

د امیر زوی یعقوب خان هم د ۱۲۹٦ هـ پر ذیحجه -۱۸۷۹) کال له خپل کهاله او خپلوانو سره له کابله وتی و. انګریزانو چې نېغ پر نېغه و نه شو کړای چې په افغانستان کښې پښې ټینګې کړي. ځکه یې د محمد افضل خان له زوي سردار عبدالرحمن خان سره چې تاشکند ته تښتېدلی و، اړیکې ومونډل. سردار په چټکۍ تر امو راواوښت او چاریکار ته راغی، د بریتانوي هند له سیاسي استازي سرلیپل ګریفین (۴) Lepel Henry Griffin سره خبرو

---

* پر (۱۸۴۰م) زوکړی چې پر (۱۸٦۰م) د پنجاب ایالت لوی سکرتر، پر (۱۸۷۰م) په افغانستان کښې سیاسي استازی او تر (۱۸۸۰م) وروسته یې هم په هند کښې لوې چارې لرلې، د ده له لیکنو څخه د پنجاب مشران (۱۸٦۳م) د پنجاب راجګان او نور پېژندل شوي کتابونه دي (انډین بیوګرافي ۱۸۰).

The Digital Library

اترو ته کېناست، چاریکار ته له راتلو سره سم یې خپل امارت اعلان کړ (د ۱۸۸۰ د جولای ۲۷مه).

د انګریز سیاست چارو، عبدالرحمن خان چې وسپنیز سړی و، ومانه او په بهرني سیاست کښې د اطاعت منني په شرط د مرستې ژمنه ورکړه. سردار د اړتیا له مخې و منله او د ۱۲۹٦هـ د روژې پر (۵مه) کابل ته راغی او پر تخت کښېناست.

امیر عبد الرحمن خان چې د ده د کتاب له مخې له کوچنیوالي د اداري په چارو پوه او د ژوندانه ډېرې سړې تودې یې لیدلې وې، ده د افغانستان د خلکو اروا ښه پېژنده او په دې پوهېده چې د خپلې پاچهۍ د ساتلو له پاره د هېواد د قبیلو له مشرانو سره څه ډول کلك چلند وکړي او له بریتانوي هند سره په بهرني سیاست کښې خومره پوست وي چې له هغوی نه هم په خپله کار واخلي.

په دغه ډول نوی امیر پر کاپل برلاسی شو او ژر یې په دغه ښار کښې امنیت ټینګ کړ او بیا کندهار ته لاړ.

خو مخکښې تر ده، جنرال رابرټس له لسو زرو جګړنو سره محمد ایوب خان له کندهاره وېشتلی او ایران ته یې شړلی و.

همدا چې امیر کندهار ته ورسېد، انګریزانو هغه ده ته وسپاره، جنرال رابرټس د کندهار او بولان درې له لارې او جنرال سټیوراټ د جلال آباد او خیبر له لارې له افغانستانه ووتل او افغان - انګریز دویمه جګړه پای شوه.

امیر عبد الرحمن خان په کندهار کښې خپل مخالفین ووژل، هغه سیمې یې ګرد سره اېل کړې، د افغانستان د نورو سیمو اېلولو ته یې هم پام واړاوه، ډېر ژر یې خپل مخالفان مړه، بندیان او یا بهر ته وشړل.

د بریتانوي هند دولت هم امیر غبنتلی کړ، پر (۱۸۸۰م) کال یې پېنځه سوه زره روپۍ، څو سوه توپونه او څو زره ټوپك ورکړل، هر کال یې (۱۸) زره پونډه مرسته ورسره کوله، په دې توګه امیر ژر پیاوړی او پر ټول هېواد واکمن شو. پر ۱۸۸۱ع کال یې هرات او کندهار ونیول او پر (۱۸۸۴م) یې بدخشان او شغنان لاس ته راوړل. په واخان کښې یې علیمردان وپرځاوه او پر ځاي یې غفار خان تاتار د حاکم په توګه وټاکه.

تر هغې وروسته یې د افغانستان شمالي ولایتونه تر میمنې او اندخوي پورې پر (۱۸۸۵م) کال ونیول او خپل تره زوی محمد اسحاق خان ته یې وسپارل، خو نوموړي سردار پر ۱۸۸۸ع هلته سرغړاو شو.

امیر عبدالر حمن خان سمدلاسه مزار شریف ته لاړ، اسحاق خان یې تر امو ها خوا وشاړه او ګرد سره شمالي ولایتونه یې لاس ته راوړل.

د ده پر مهال غلجیو له غزني تر کلاته پاڅون وکړ، خو امیر هغوی پر سر وټکول او تر دې وروسته یې د منځني افغانستان هزاره ګان هم اېل کړل (۱۳۱۱هـ ۱۸۹۳ع).

د کونړ شمال ته کوهسار او بلورستان چې سپین کالي او تور کالي کافران په کښې اوسېدل او تل به د افغاني حکومت له واکمنۍ نه بهر وو هم پر (۱۳۱۳=۱۸۹۵) د امیر له حکم سره سم د جنرال غلام حیدر خان څرخي تر برید لاندې راغی، ټول وګړي یې اېل او مسلمان کړل او په "نورستان" یې ونوماوه.

امیر په کورنیو چارو کښې زړور، جنګیالي او پیاوړي واکمن و، چې د مخالفانو په وژلو کښې یې ساري نه لاره، دی نوښتګر او په نړیوالو پېښو پوه سړي و، څه نا څه لیك لوست یې هم زده و. په دري ژبه یې (پندنامه) نومې کتاب هم لیکلی او "تاج التواریخ" یې هم د ده په لارښوونه لیکلي او

The Digital Library

په دې پورې اړه لري.

د ده د ډاډمنو سپه سالارانو په مشرۍ لکه: غلام حیدر خان "څرخي" فرامرزخان، غلام حید خان "لنډی" پیاوړی پوځ جوړ کړ، په ځانګړې توګه یې د جاسوسۍ اغېزمنه کړۍ منځته راوسته، کارپوه حاکمان یې هر خوا ولېږل؛ په افغاني ولایتو او ښارو کښې یې د پوستې ځانګې پرانیستې؛ شرعي محکمې یې بیا روغې کړې؛ دین پوهان یې د کابل په شاهي مدرسه کښې په ښوونه او روزنه بوخت کړل، چاپخونه یې جوړه او د ټوپك جوړولو یوه کارخانه یې هم ودانه کړه.

د پلازمېنې د مستوفي الممالك او د ولایتونو د مستوفیانو تر څارنې لاندې یې د مالیې ځانګې سمې کړې؛ د کورني ټک له پاره یې دارهدارۍ پانې (لارپانې) دود کړې او غله، لارشکوونکي او ناړامي یې تر کلك څار او ګواښ لاندې ونیول، ځکه نو امینت ټینګ شو او سوداګري او صنعت وده وموندہ او ټول هېواد د یوازینۍ اداري خاوند شو.

خو په بهرني سیاست کښې:

امیر پوست سړی او ښه ډیپلومات و، له انګلیس دولت سره یې په سړه سینه چلند کاوه، تل به یې د دوستۍ لار هواروله، مادي او معنوي مرستې یې منلې. وروسته تر هغې چې د امارت په پیل کښې یې هېواد اېل کړ او پر ۱۸۹۶ع یې د "ضیاء الملة والدین" بلنوم واخیست او په نوموړي بلنامه خطبه وویل شوه، سکه ووهل شوه، ناړامي او سرغړاوي ټول ووژل او پاتې یې وشړل؛ بېغمه د هند د ګورنر جنرال لارد دفرین د لیدو له پاره راولپنډۍ ته لاړ او د دوستۍ مزي یې لا پسې ټینګ کړل. (۱۸۸۵م) څو کاله وروسته یې خپل کشر زوی سردار نصر الله خان لندن او د انګریز ملکې دربار ته هم واستاو. (۱۹۸۵- اپریل، ۱۳۱۲هـ).

له ګاونډیو هېوادونو سره د امیر د مهال غوره سیاسي پېښې:

۱- د تزاري روسیې دولت د هرات پر شمالي سیمه (پنجده) یرغل وکړ (۱۳۰۳هـ، ۱۸۸۵ع) سره له دې چې د افغاني پوځونو قوماندان، جنرال غوث الدین په مېړانه ساتنه کوله، خو پنجده د روسانو لاس ته ورغله.

امیر عبد الرحمن خان په تاج التواریخ کښې په دې اړه داسې لیکي:

د ۱۸۸۴ع کال د جولای پر میاشت د بریدونو د ټاکلو له پاره د انګریزي کمیسیون مشر جنرال سرلمسدون او د روسي کمیسیون مشر جنرل یلتاي غوره شوي وو، خو د کار تر پیل وړاندې روسانو پنجده ونیوه.

تر دې پېښې وروسته یو بل کمیسیون چې مشري یې سرجوزف ویست رجوي Sir west Ridgeway د هند د بهرنۍ ځانګې دویم منشي کوله او غړي یې کرل هیولډیچ، کرنیل ایت او قاضي اسلم خان وو، د هند حکومت له خوا د افغانستان او روس د برید ټاکنې له پاره وټاکل شو، نوموړي کمیسیون د ۱۸۸۶م کال د اکتوبر پر میاشت خپل کار پای کړ.

امیر د هغوی د خدمت او هڅو ستاینه وکړه او د سرو زرو نښانونه یې ورکړل، په پای کښې د ۱۸۸۷م پر جولای د برید ټاکنې وروستۍ هوکړه په سنتپترزبورګ کښې لاسلیك او پنجده په رسمي توګه له افغانستانه بېله شوه.

د رجوي په تړون کښې د ذوالفقار له خولې تر خواجه سالاره پورې سیمې راغلې. امیر له هند دولت څخه غوښتل چې هغه د پامیر تر کوهسار پورې په نخښه کړې، خو داسې ونه شول تر دې وروسته پر ۱۸۹۳ع کرنیل ایت د پخواني تړون پاتې ټکې هم حل کړل، په دې توګه امیر وکړای شول چې د دوو سترو امپراتوریو تر منځ حکمراني وکړې.

The Digital Library

۲- بل هغه سیاسي کار چې امیر د افغانستان د خلکو د جرګې له خوښې پرته وکړ او د هغه له کبله د افغانستان په تاریخ کښې ستره ګرمه د ده پر غاړه ده، هغه د ډیورند تړون دی چې د بریتانوي هند له دولت سره یې د افغانستان ختیز او جنوبي بریدونه وټاکل.

امیر وایي: ما له هندي وایسرایانو لاردرپن او لارد سالیسبري څخه هیله وکړه چې د هند د بهرنیو چارو وزیر د برید ټاکنې د کمیسیون د مشر په توګه راولېږي خو زما ناخوښۍ او د سردار اسحاق خان ناراميو هغه وځنډاوه.

لاردلنسډون د سلطنت نایب لارډ رابرټس دغه کار ته غوره کړ، خو رابرټس چې په افغانستان کښې ناوړه سابقه لرله او کېدای شوه چې خلك ورته راپورته شي، ما د هغه راتګ وځنډاوه چې په پای کښې د ۱۸۹۳م د سپتمبر پر وروستیو د هند د بهرنیو چارو وزیر "سرهنري مارتیمر ډیورنډ Sir Morteimer Durand(۱) د برید ټاکنې د کمیسیون په مشرتابه کابل ته راغی.

د دغه کمیسیون غړي کلنل الیس، کپتان مانریس اسمت، مستر کلارك، مستر وانلد او څو نور هندیان وو.

په کابل کښې له امیر سره سیاسي مرکه پیل شوه او په پای کښې یې د ډیورند کرغېړن تړون لاسلیك شو.

نوموړي تړون اووه مادې لرلې چې د هغه له مخې د ډیورنډ برید له بلوچستانه تر چترال او واخان پورې وټاکل شو.

۱- د (۱۸۵۰م) د فبروري پر (۱۴مه) زوکړی، د میجر جنرال سرایچ زوي دی. ایم ډیورنډ پر ۱۸۷۳ د بنګال هېوادني خدمت ته ونیول شو، پر (۱۸۷۹م) په کابل کښې د رابرتس سیاسي سکرتر و، له (۱۸۸۴ - ۹۴م) کالو پورې د هند حکومت د بهرنیو چارو سکرتر او وروسیته په تهران کښې د انګریز سفیر و. (مادرید، واشنګټن هند بیوګرافي، ۱۲۸).

د چمن، پښین، چغنی، وزیرستان، بلند خېل، کورمه، پاړه څنار، اپریدي، باجوړ، سوات، بنیر، دیر، چیلاس او چترال چې د افغانستان ځمکه وه، له افغانستانه بېله او په هند پورې وتړل شوه او د انګریز له لوري امیر ته د یو مېلیون و دوو سوو روپیو پر ځای د کال یو مېلیون و اته سوه زره روپۍ وټاکل شوې همدا راز یې د وسلو د مرستې ژمنه هم ورکړه.

په دغه ډول ډیورند تړون د ګندمك کرغېړن تړون رښتیني کړ، خو امیر زوی یعقوب خان په بیړني، ګډوډ حالت او د پردیو لښکرو د یرغل په ترځ کښې په زور د ګندمك تړون لاسلیك کړی و، همداراز دی چې د خلکو استازي او د هېواد پاچاه نه و، ځکه نو هاغه تړون هم حقوقي ارزښت نه لاره.

امیر عبد الرحمن خان د ملت د استازیو او ولسي جرګې له منلو یا نه منلو پرته په ځانګړې توګه ډیورنډ تړون منلی و.

په هرډول د ډیورنډ کمیسیون د (۱۸۹۳م) د نوامبر پر۱۴له کابله ووت.

امیر عبد الرحمن خان د خپل امارت په پیل کښې د ۱۳۰۰هـ شاوخوا ۵۸,۷۴۰ پوځیان لرل، خو په کابل، هرات، کندهار، بلخ، جلال آباد، اسمار، امو غاړه او د ایران او هند په بریدونو کښې یې د امارت تر ټینګښت وروسته دغه چمتو او یلجاري پوځیان لرل:

- (۸۰) پلي غنډونه هر غنډ (۷۰۰) سرې ټول (۵٦۰۰۰) سرې.
- (۴۰) سواره غنډونه هر غنډ (۴۰۰) سرې ټول (١٦۰۰۰) سرې.
- (۱۰۰) د توپخانې بتریې هره یوه (۱۰۰) سرې له (٦) توپو سره ټول (۱۰ر۰۰۰) سرې.
- شاهي ځانګړي پلي (۴) غنډه (۱۰۰۰) سرې ټول ۲,۴۰۰ سرې.
- پولیس څواك ټول (۲۰ر۰۰۰) سرې.

The Digital Library

- سوارہ ایلجاري ټول (۱۰،۰۰۰) سړي

په دې توګه د ټول وسله وال پوځ شمېر ۱۴۸،۴۰۰ ته رسېده چې امیر د هغوی په مرسته وکړای شو چې په هېواد کښې بېساری امنیت ټینګ او سرغړاوي وټکوي.

امیر عبدالرحمن په کابل کښې د سکې وهلو، د کارتوسو، ټوپکو، وسپنګرۍ، توپ جوړولو، عرق وېستلو، څرمنې، بوټ جوړولو، سابون، د ګنډنې کارخانې، چاپخونه او صحافۍ جوړې کړې.

پوځي، کورنۍ، عدلیه، د ودانولو، روغتیا، کانو، سوداګرۍ، د پوستې څانګې او دینې مدرسې یې پرانیستې، څو ماڼۍ او کابل شاهي ارګ یې ودان کړ او ټول هېواد یې تر یوازینۍ اداري لاندې راوست چې دغه هڅې یې د منني وړ دي.

امیر عبد الرحمن خان تر (۲۱) کالو امارت وروسته په کابل کښې د "نقرس" په ناروغۍ مړ شو (۱۹ جمادی الثاني ۱۳۱۹ = ۱۹۰۱م) (وګورئ ۸۸ نومره عکس).

ده خپل زوي تـه داسـې ایـل او لـه سـرکښـو تش هېـواد پرېښـوو چې خلك یې د نامه په اورېدو لړزېدل او تر مرګ وروسته یې هم د ده مړینه نه باوروله.

تر ده وروسته یې مشر زوي حبیب الله خان د "سراج الملة و الدین" په بلنامه د کابل پر تخت کښېناست د اکتوبر ٦مه ۱۹۰۱م) او پر (۱۹۰۴م) یې خپل مشر زوی عنایت الله د هند وایسرای لاردکرزن لیدو ته واستاوه، وروسته د هند د بهرنیو چارو سکرتر لویس ولیم کابل ته راغی او له امیر سرهٔ یې د (مارچ پر ۲۱ - ۱۹۰۵م= ۱۴ محرم۱۳۲۳ھ) تړون لاسلیك کړ.

د امیر حبیب الله خان د (۱۸) کلن سلطنت پر مهال، پرته له یوه

پاڅونه چې په جنوبي کښې د جانداد احمدزي په مشر تابه شوی و، بله پېښه نه ده لیدل شوې څکه چې پلار یې وړاندې هېواد، د کار له سرېو تش کړی و، په دې توګه امیر په وړ چاپیریال کښې په سړه سینه ژوند کاوه.

پر ۱۳۲۵ کال یې کندهار، هرات، میمنه او بلخ وکتل، او د ۱۹۰۷م پر جنورۍ د سلطنت د مرستیال لاردمنتو په بلنه هند ته لاړ او د همدغه کال د مارچ پر (۷) د پېښور او خیبر له لارې بېرته راستون شو.

امیر له وزګارتیا او کورني امنیت سره سره هم په هېواد کښې کوم غوره کار و نه کړ، ده د نوي مدنیت څو کوچنۍ نخښې راوړې، له هغو څو وړو کارو څخه چې ده وکړل، د حبیبیې په نامه د یوه ملکي ښوونځي پرانیستل، یو پوځي ښوونځی او په کابل کښې څو نور لومړني ښوونځي دي. همدا راز یې (سراج الاخبار افغانیه) خپور کړ او په کابل کښې یې دوې چاپخونې، څو ماڼۍ، باغونه، سړك او دمه ځایونه ودان کړل.

د لویې جګړې (۱۹۱٦م) پر مهال یې ځان ناپیلی وباله.

د امیر کورنی سیاست، د پلار په توپیر پوست و او خلك یې نه ازارول، په خپله یې دیني حکمونه (روژه لمونځ) پر ځاي کول، خو د اداري په ډول، تشکیل، مالیې غونډولو او نورو هېوادنیو چارو کښې یې د وخت له غوښتنو سره سم بدلون رانه وست او هماغه له پلاره پاتې زوړسیستم یې پر ځای پاتې شو.

امیر حبیب الله خان د ۱۳۳۷ھ د جمادی الاولی (۱۸) د پنجشنبې پر شپه (۱۹۱۹م) د لغمان د کله ګوش په ښکارځي کښې د تومانچې په ګولۍ وویشتل شو او له نړۍ یې سترګې پټې کړې. (وګورئ ۸۹ نومره عکس)

په جلال آباد کښې یې ورور د پاچهۍ غږ پورته کړ خو د افغانستان

خلکو د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا د ګټلو له پاره د اتلولۍ غورځنګ پيل کړ، افغان خپلواك غوښتونکيو د (۱۲۹۷ل = ۱۳۳۷ق = ۱۹۱۹م) د مارچ پر لومړۍ د امير حبيب الله خان دويم زوی سردار امان الله خان د پاچهۍ پر تخت کښېناوه او د خپلواکۍ جګړه پيل شوه.(۶)

۶ - د نوي خپلواکۍ او نوي افغانستان تر جوړېدو را وروسته پېښې بېل تاريخ نيکلو ته اړتيا لري، ځکه نو دغه کتاب دلته پای شو.

The Digital Library

ټولنيزه او فکري اوضاع

د کندهار هوتکي دولت تر ړنګېدو او د نادر افشار تر لنډې **واکمنۍ** وروسته چې لس کاله کېږي، پر (۱٦۰۱ هـ ق) کال د احمد شاه **غورځنګ** او د آزاد افغانستان نوی جوړښت د هغو پر له پسې پېښو نتيجه ده چې د افغانستان په تاريخ کښې پخوا منځته راغلې وې، د افغانستان خاورې او اقتصادي اوضاع دا غوښتل چې د روښان، خوشال او ميرويس د هڅو او غورځنګو له امله دې يو افغاني آزاد او غښتلی دولت منځته راشي.

د افغانستان خلکو د هرات د تيموريانو دولت تر ړنګېدو وروسته څو پېړۍ د صفويانو او بابريانو د يرغلو په پېښو کښې د سختۍ، تريخوالي او کور پر کور جګړو په درشل کښې تېرې کړې او د خپل ملي مرکزيت له نه درلودلو څخه متحسس وو، څو چې د کندهار هوتکيانو او د هرات ابداليانو د ايران د صفويانو پردۍ واکمني پر شا وشړله او له منځه يې يووړه.

روښانيانو، خوشال خان ختك، ايمل خان مومند، شېرخان ترين او نورو د هند د بابري پاچهانو د پايځوړ - مقابلې وکړې او خپل ولس يې له ښکېلاکه وژغوره.

په دغو ترخو جګړو کښې خلك په کلکه مبارزه اخته وو، د علومو، ادبياتو او فرهنګ پالنې ته يې فرصت نه درلود، خو بيا هم ليدل کېږي چې

The Digital Library

په کندهار کښې د شاه حسین هوتك دربار د ادب او ادیبانو او پوهانو ځای و او د دغه دربار سرمنشي محمد هوتك د پټې خزانې کتاب ولیکه چې د (۱۱۴۰هـ ق) شاوخوا د فکري او ادبي حرکت یوازنی ښکارندوی دی.

د احمد شاه دربار هم له فکري نظره روښانه ښکاري، ځکه چې په خپله احمد شاه د ښې قریحې خاوند شاعر او تصوف خوښوونکی سړی و، چې د پښتو شعر دیوان لري، د ده په کورنۍ کښې تیمور شاه د دري او پښتو دیوان څښتن او شاه شجاع د دري شعر د دیوان لرونکی و. د شاه زمان زوی شهزاده عبدالرزاق چې دري یې تخلص کاوه او د شاه شجاع زوی شهزاده نادر او نور څو تنه شهزادګان باذوقه شاعران وو.

احمد شاه د خپل هېواد په ښارو کښې علمي کورنۍ وروزلې چې د هغو پایڅوړ په وروستیو دورو کښې د خورا لویو فکري، ادبي او سیاسي کارنامو مصدر وګرځېد، لکه د کندهار د بارکزیانو د خانعلوم کورنۍ چې د خپلواکۍ تر جګړې پورې د قاضي القضات منصب په همدې کورنۍ پورې اړه لرله چې دا منصب اوس د عدلیه وزیر له منصب سره سم و په دې کورنۍ کښې د علمي تالیفاتو خاوندان هم تېر شوي دي او یا د دوی په تشویق نورو مولفانو د کتابو په تالیف لاس پورې کړی دی لکه ملا محمد سعید بارکزی چې د سدوزي شاه محمود په وخت کښې قاضي القضات و او د هغه زوی قاضي عبدالرحمن خان د نصیحة المومنین رسالې لیکوال دی، د عبدالقادر سلیمان خېل زوی اختر محمد د امیر شیرعلي خان په وخت کښې یې د الدفعه رساله د خانملاعبدالسلام د محمد سعید د زوی په هڅون لیکلې وه.

د الکوزي ملا اسماعیل کورنۍ هم د احمد شاه ابدالي پر مهال په کندهار کښې وه چې زوی یې ملا احمد د معقول او منقول استاد د احمد شاهي ښار قاضي او بیان الوافیه لطوایف الصوفیه و تعلیم السلوك او د

کاشفه او فارقه رسالو مولف و، چې د ۱۲۳۳ هـ کال د دویمې خور (ربیع الثاني) پر ٦ مړ دی. د ملا احمد ورور پیر محمد هم په کندهار کښې د هغه مهال نامتو عالم و، چې پر ۱۲۳۳ هـ کال یې د عقیدة المشایخ والعلما کتاب په عربي ژبه لیکلی دی.

قاضي غلام محمد هوتك هم د کندهار نامتو عالم او د ښار قاضي و، چې پر ۱۲٦۴ هـ کال یې د ارشاد الحق کتاب په عربي ژبه ولیکه، د هغه زوی عبدالاحد په کندهار کښې له سید جمال الدین سره آشنایي درلوده، د توخي محمد حسن زوی محمد نور هم د جامع السلوك په نامه په عربي ژبه د ۱۲۳۰ هـ په شاوخوا کښې کتاب لیکلی دی چې د میا فقیر الله جلال آبادي شاګرد و.

د ملا بابړ موسی خېل علمي کورنۍ د هوتکیانو له وختو په کندهار کښې وه چې زوی یې مولوي فیض الله په احمد شاهي عصر کښې د اشرف الوزرا شاه ولي خان د کورنۍ استاد او په منطق کښې د تدریسي رسالې مولف و، تر هغه وروسته د سدوزیو د وختو په پای کښې د فیض الله زوی مولوي حبیب الله مشهور په محقق قندهاري په کندهار کښې ژوند کاوه (۱۲۱۳-۱۲٦۳ هـ) چې په عربي، دري او پښتو ژبو یې په معقولو او منقولو علومو کښې ۳۳ ټوکه کتابونه لیکلي دي، په ریاضي منطق اصول فقه او نورو اسلامي مروجو علومو کښې یې تازه او بکر انتقادي آثار لیکلي دي، تر ده وروسته یې زوی مولوي عبدالرحیم او لمسی یې مولوي عبدالروف او د هغه زامن مولوي عبدالواسع او مولوي عبدالرب د راوروستیو دورو نامتو عالمان وو چې په صحافت، معارف او د عدلې قوانینو په ترتیب کښې یې د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي.

د هرات د سلجوقیانو علمي کورنۍ د ملا محمد له اولادې څخه

The Digital Library

وه چې په روزآباد کښې ښخ دی، احمد شاه بابا د هغه زوی علامه ملا میرزا هرات ته راوست، د پای حصار مدرسه یې وروسپارله، له دې کورنۍ څخه ډېر عالمان او مدرسان پیدا شول چې د هغو له جملې څخه عبدالاحد خلیفه، ملا محمد عمر د محمد ایوب زوی، د نورالدین لمسی او د ملا میرزا کړوسی و، څو کتابه یې لیکلي دي چې یو له هغو څخه په اصول فقه کښې الملهم نومي کتاب دی (د ۱۲۶۰ هـ شاوخوا) همدا راز د محمد صدیق زوی ملا محمد رفیق سلجوقي د رسالهٔ نحو مولف، محمود مشرف او خلیفه محمد حسین خوش نویس د هغې کورنۍ پوهان او هنرمندان غړي و.

یوه بله علمي او سیاسي کورنۍ په پېښور کښې ډېره مشهوره وه، چې ستر نیکه یې د تاج خان زوی اخون ترکمان، د کندهار له غوړې مرغې څخه تللې او د پېښور د شمالي سیمې په امازۍ کښې اوسېد، زوی یې ملا محمد غوث د حاجي محمد سعید واعظ شاګرد په علم او عرفان مشهور او پېښور کښې د احمد شاه له خوا قاضي و، چې په منطق کښې یې پر میرزا کلان حاشیه لیکلې وه، د احمد شاه په نامه یې د ده د عرفاني وینا په شرح کښې د شرح الشرح په نامه په دري ژبه یو کتاب لیکلی دی، د ده لمسی د داد الله زوی قاضي عبدالکریم د نصاب التوحید په نامه یو کتاب ولیکه، خو د محمد غوث لمسی د قاضي اکبر شاه زوی قاضي محمد حسن چې په خان علما ملقب و، د سردار پاینده خان د کورنۍ استاد او د شاه شجاع وزیر و، چې د ده له خوا پر ۱۸۳۸م کال د لاهور درې خواییز (مثلث) تړون لاسلیکوونکی و. همدا راز قاضی طلا محمد د قاضي حسن زوی د علم او ادب خاوند د شعر دوه دیوانونه په دري او عربي ژبو درلودل او د جواهر نغز، سلوة التقریر فی ترجمه التحریر، نفحة المسك او تسلیه العقول او سلوة الکییب مؤلف او د قصیدهٔ بائیه وویونکی و. قاضي عبدالقادر د فضل قادر

زوی د قاضي حسن لمسی د امیر شیر علی خان د دربار عسکری سر منشي او له انګریزي څخه په پښتو او دري د عسکري قواعدو د کتاب ژباړن و، چې دا کتاب د کابل د شمس النهار په مطبعه کښې چاپ شوی دی.

د هرات د برنا باد د میرزایانو کورنۍ هم د فرهنګ او ادب پوهان لرل چې د هغو له جملې څخه میرزا ارشد د خواجه محمد صلاح منشي او متخلص په فایض د هرات د ابدالیانو او درانیانو منشي او خطاط و، دا شعارو د یوان او ډېره خوړه مثنوي یې درلوده (د یوولسمې پېړۍ منځ) بل میرزا ابو طالب د ده مشر وراره چې مایل یې تخلص و، هم د دري اشعارو دیوان درلود، د محمد کاظم زوی میرزا رضا د اشعارو مجموعه درلوده او داربعین او د برناباد منثوری تذکرې خاوند په هرات کښې د هادي متخلص په عشرت هروی په هرات کښې د شهزاده تیمور منشي و، چې د ملا عبدالله روزی ملك سنجر د غور د ملکانو اولاد او یا سهل وملا مسکین (دهزاره لهجی شاعران) په هرات کښې د ده معاصرین وو.

د سدوزیو په دوره کښې او تر هغو وروسته د مجددیانو کورنی هم زیات روحاني شهرت درلود، عالمان او دښې قریحې شاعران په کښې پیدا شوي دي، چې په ټوله منځنۍ آسیا کښې له خراسانه نیولې تر سر هند ماوراء النهر او د چین د خاورې تر څنډو پورې د نقشبندي طریقت د تلقین مرجع و او یو ډول خراساني اسلامي ثقافت یې روزلی دی چې مدار یې شریعت او تصوف و، خو په نقشبندي طریقت کښې یې تصوف تل د خلکو په ګټه او د اخلاقو د سمون له پاره بې له انزوا او رهبانیته کاراوه، نقشبندي مجددیانو چې د افغاني پاچهانو له دربارو سره رابطه درلوده ځکه یې نو په سیاست، فرهنګ او ټولنه کښې هم لوی لاس درلود.

دا فاروقي کورنۍ د شهاب الدین فرخشاء اولاده ده، چې د کابل

The Digital Library

شمال ته د پنجشیر. فرخشاه په دره کښې ښخ دی. امام رفیع الدین له همدې کورنۍ څخه له کابله سر هند ته ولاړ. دده له اولادې څخه شیخ احمد مجدد الف ثاني د مولانا عبدالاحد زوی چې د نسب سلسله یې په ۲۸ واسطه حضرت عمر فاروق ته رسېږي، د ۹۷۱ هـ کال د شوال پر ۱۴ په سر هند کښې وزېږېد او په طریقت کښې یې د خواجه محمد باقي کابلي (چې پر ۱۰۱۲ هـ مړ دی) لاس ونیو. او استفاضه یې وکړه په هند او افغانستان کښې یې ستر علمي او روحاني شهرت درلود (د ۱۰۳۴ هـ کال د صفری پر ۲۸ د سه شنبې پر ورځ د ۶۳ کالو په عمر په سرهند کښې مړ شو.

د سدوزیو د شهنشاهۍ په وختو کښې له دې کورنۍ څخه شاه غلام محی الدین مجددي د غلام صادق زوی د حضرت مجدد شپږم لمسی او د هغه زوی شاه نظام الدین متخلص په نظام د دری دیوان خاوند په ښکار پور کښې روحاني شهرت او د کرهنې ډېرې ځمکې درلودې د غلام صادق بل ورور چې شاه غلام محمد نومېد (پر ۱۱۷۸ هـ کال په پېښور کښې مړ دی) د کندهار د مجددیانو نیکه دی. د دوی د بل ورور شاه عزت الله اولاده په یار کند کښې او سید له اوشاه صفی الله متخلص په صفی د دری د دیوان خاوند و او څلور نور کتابونه یې هم تالیف کړی وو (۱۱۵۶ - ۱۲۱۲هـ) د یمن په حدیده کښې ښخ دی اولاده یې په کابل او ننګرهار کښې وه چې د هغو له جملې څخه شاه عبدالباقي متخلص په باقي (چې پر ۱۲۸۷ هـ کال په کابل کښې مړ دی) د دري اشعارو دیوان درلود. چې د کابل د شوربازار د حضرتانو نیکه دی، زوی یې غلام عمر مخلص په عمر (د ۱۲۹۰ هـ په شاوخوا کښې) او د هغه زوی ناصرالدین متخلص په جانان او شمس المشایخ فضل محمد متخلص په فضلي د دیوان خاوندان شاعران وو، شاه فضل الله د شاه غلام نبي زوی او د شاه غلام محمد لمسی (۱۱۸۴- ۱۲۳۸هـ) د

عمدة المقامات لیکوال او په دري شعر د دیوان خاوند د تیمور شاه او شاه زمان د دربار له لویو روحاني کسانو څخه و، محمد حسن د عبدالرحمن زوی او د شاه فضل الله دریېم لمسی د انساب الانجاب او انیس المریدین او نورو لیکوال دی. میر احمد متخلص په اظهر (۱۲۰۶ - ۱۲۶۹هـ) د پېښور او بدخشان له حضرتانو څخه د هفت مجلس، اربعین، سبیل الرشاد او مناقب الطاهرین مؤلف د غزلیاتو دیوان او شپږ مثنوي او څو نور کتابه لري.

د علي خان پوپلزی کندهاری د زوی وکیل الدوله عبدالله خان کورنۍ هم اداري لښکري خلك او د فرهنګي او د ادبی ذوق خاوندان درلودل، د هغو له جملې څخه په خپله عبدالله خان (چې پلار یې پر ۱۲۰۱هـ مړ دی) دري شعر وایه د هغه زوی محمد علم خان وکیل الدوله متخلص په "علم" هم په دری ژبه شعر جوړاوه (دی پر ۱۲۹۳ هـ مړدی) میر هوتك خان متخلص په افغان د زمان خان پوپلزی زوی (د ۱۲۱۸ هـ په شاوخوا کښې) له هنرمندو شاعرانو څخه و، په دری ژبه یې دیوان درلود، بل ورور یې الله یارخان راسخ هم شعر وایه او مولوي محمد ابراهیم بل ورور یې د خپل وخت له عالمانو څخه و، دې کورنۍ د هنر، ادب او فرهنګ په خپرونه کښې لوی لاس درلود.

بله ادبي او روحاني کورنۍ د شیخ سعدالدین احمدانصاري د عبدالغفار د زوی ده، چې صوفي او ادیب سړی و، د ده آثار د معدن وحدت او دیوان شور عشق او نور تر ۴۳ ټوکو پورې رسېږي، دی د کابل په ده یحیی کښې پر ۱۲۲۵ هـ کال وفات شوی او زوی یې میرظهورالدین ظهور د شعردیوان لرې او دطب د کتابو مؤلف و، د ده بل زوی میرامام الدین متخلص په درویش د پښتو او دري ژبو شاعر او د احوال و اثار حاجي صاحب پای منار مؤلف دی، میرقطب الدین متخلص په فارغ د دري ژبې

The Digital Library

شاعر د مثنوی سمرقند مؤلف و، میر حسام الدین احمد، میرنجم الدین احمد، میر نظام الدین او هم میرسیف الدین عزیزی د میرمقام الدین زوی (د ۱۲۸۲ هـ په شاوخوا کښې) د دری شعر د قریحی خاوندو.

د دې دورې نور شاعران او لیکونکی دادي:

سیدابوالحسن عنوان چې پر ۱۱۲۳ هـ کال د بدخشان په جرم کښې زیږېدلی او پر ۱۳۰۶هـ کال وژل شوی دی، عبدالرحمن عارض بدخشي چې پر ۱۲۲۳ هـ مړدی، میرزامحمد واصل فروغي د شاه زمان معاصر، امیرسبحان قلي خان دروازی (د ۱۲۳۰ هـ په شاوخوا کښې) لعل محمد عاجز د پیرمحمد زوی ملقب په عبدالشافي په دري ژبه د اشعارو د دیوان خاوند چې پر ۱۲۳۸ هـ کال مړ او د تیمور شاه د دربار طبیب و، میرعصمت الله متخلص په کشوری د عبدالله زوی د بلخ د دهدادي دی د اشعارو د دیوان خاوند و، چې پر ۱۲۵۷ هـ مړدی، جنیدالله حاذق د صوفي اسلام هروی زوی چې پر ۱۲۵۹ هـ کال په کندهار کښې مړ دی د اشعارو دیوان او د یوسف و زلیخای حاذق په نامه یې مثنوی درلوده، شهاب ترشیزی هروی د تیمور شاه د وختو شاعر او د دیوان خاوند، میر محمد نبي احقر بدخشي چې پر ۱۲۶۹ هـ کال په رستاق کښې مړ دی په عروضو کښې د حدایق الحقایق د کتاب د قوافی رسالی، په فلسفه حکمت او دینیاتو کښې د هشت بهشت مؤلف د لیلی او مجنون، د حضرت امام حسین د شهادتنامې د مثنویاتو ناظم، میرزا احمد خان مستوفي کابلی (په ۱۲۸۰هـ مړ) د دیوان خاوند شاعر، د میرزاعلي خان زوی میرزا محمد محسن دبیر (۱۲۲۷ - ۱۲۸۲ هـ) د محمدزیو پاچهانو د دربار منشي، د لعل محمد خان عاجز کابلی زوی میرزا عبدالواسع "۱۲۰۸ - ۱۲۸۳ هـ" د اشعارو دیوان درلود او د دربار طبیب و د سیدانو د تنګي د سعدالله زوی میر سعدالدین "۱۱۹۸هـ -

۱۲۸۴" د اشعارو د دیوان خاوند، علي نقي متخلص په وصفی "د ۱۲۰۰هـ په شاوخوا کښې" د اشعارو د دیوان څښتن، فرحت هروي د اشعارو د دیوان لرونکی، ولی طواف کابلی د محمدعلی زوی "د ۱۲۸۸ هـ په شاوخوا کښې" د دري ژبې ناخوانه شاعر، د محمد نبي خلمی زوی دا ملا عبدالقیوم صوفي مشر به شاعر چې "پر ۱۲۶۵ هـ زیږېدلی د اشعارو د دیوان او د تنبیه المرایې او قیامت نامې د مثنوی او د دری او تورکي د مجمع الاشعار، د درةالشهزاد د مثنوي خاوند، محمد غلام غلامی د ملا تیمور زوی د انګریز او افغان د لومړی جګړې د پیښو په اړه د جنګ نامې په نامه د منظومې ویونکی، د میرواعظ د کورنۍ "د ۱۲۵۶ هـ شاوخوا" میر محترم حافظ جي د دری اشعار د دیوان خاوند، د مرتضی کابلی زوی میرمجتبی متخلص په الفت "چې پر ۱۲۲۴هـ زیږېدلی" د اشعارو د دیوان څښتن، د مراد محمد بدخشي زوی دا ملاعبدالله چې د خپلو اشعارو دیوان یې پر ۱۲۹۸هـ کال ترتیب کړی دی، میرزامحمود سالك بالاحصاری "د ۱۲۶۰هـ په شاوخوا کښې" د اشعارو د دیوان خاوند، د وزیرفتح خان منشي شرر کابلي د اشعارو د دیوان خاوند، په بخارا کښې ګل محمد افغان د اشعارو د دیوان څښتن، د محمد علي پادخابي لوګري زوی مولانامحمد عثمان د عجایب الاخبار، ګلشن اسرار، بزم طرب، نزهةالمشتاق، ګلچین بساتین، مشرق انوار او نورو کتابو مؤلف "د ۱۳۰۰ هـ په شاوخوا کښې" د نذرعلی زوی قربان په کاتب د ناظم الوقایه او مفاتیح الاعجاز ناظم او د اشعارو د یوان لرونکی.

میرعنایت الله بدخشی د اصول المعیشت ناظم او د اشعارو د دیوان خاوند "چې پر ۱۲۹۰ هـ مړ دی" د میریوسف علي بدخشی زوی برهان الدین لاغردجام جم او روضهٔ نور ناظم او د اشعارو د دیوان خاوند د ۱۲۹۱هـ په شاوخوا کښې) د میراحمدشاه بدخشي زوی میرمحمود شاه د اشعارو د دیوان

The Digital Library

خاوند (چې پر ۱۲۹۵ هـ مړ دی) د عبدالصمد رستاقی زوی سید جعفر د ګلشن عشق او چمن عشق ناظم او د اشعارو د دیوان لرونکی (چې پر ۱۲۸۴هـ مړ دی) نعمت الله محوی میمنوی د اشعارو د دیوان خاوند، د سکندر هروی زوی احمد قلي د اتش فشان په نامه د شاعرانو د تذکرې لیکونکی (د ۱۲۹۰ هـ په شاوخوا کښې) محمد رسول شهید مارملی بلخي شاعر د دیوان خاوند (د ۱۲۷۰هـ په شاوخوا کښې) د یعقوب علي بارکزي لور عایشه د دري ژبې شاعره او د تیمورشاه په وختو کښې د دیوان خاونده، د سکندرخان لور محجوبهٔ هروی د دري ژبې شاعره (د ۱۲٦۴ هـ په شاوخوا کښې) د سیدمحمد عظیم لور مستورهٔ غوري د غور د پرچمن اوسیدونکی (د ۱۲۴۵ هـ په شاوخوا کښې) د اشعارو د دیوان خاونده، د سید عبدالله کرخی هروی لور مریم د دري ژبې شاعره او د دیوان خاونده (۱۲۵۷ - ۱۳۰۸هـ) د میرحسین زوی سید محسن بالاحصاری کابلی شامل (۱۲۳۸ ۱۳۰۵ هـ) په دري ژبه د دوو دیوانو خاوند، د محمد هاشم ملقب په دبیرالملك زوی میرزا محمد نبي واصل "۱۲۴۴ - ۱۳۰۹هـ" د امیر شیرعلي خان او امیر عبدالرحمن خان د دربار سرمنشي په دري ژبه د دیوان خاوند، د محمد امان دروازی زوی شمس الدین شاهین د بدایع الصنایع مولف د لیلی مجنون او تحفهٔ دوستان ناظم، احمد علی شاه کندهاري په دري ژبه د دیوان خاوند (چې پر ۱۳۱۱ هـ مړ دی) سید میرمشوانی هروی (۱۲۸۰ - ۱۳۳۳هـ) په دري ژبه د دیوان خاوند او رسام، خطاط چې ډېر متین اشعار یې درلودل، سید فخرالدین مجنون شاه کابلی (۱۲۴۲- ۱۳۰۵) د بستان خیال مولف، رحمت بدخشي د میرزا اسمعیل زوی (د ۱۳۰۰هـ په شاوخوا کښې)، په دري ژبه د پېنځو دیوانو څښتن، صاحبزاده عشرت کندهاری (د ۱۳۰۰هـ په شاوخوا کښې) عبدالغفور ندیم کابلی (۱۲۹٦ - ۱۳۳۴ هـ) په

دري ژبه د دیوان خاوند د رحمت الله زوی ندیم بلخي (۱۲۵۴ - ۱۳۳٦ هـ) د شعر د دیوان خاوند، محمد ابراهیم حریت کابلی (۱۲۵۰ - ۱۳۲۸هـ) د دیوان شاعر او د مخمس د پېنځو کتابو او د تحفهٔ شهنشاهی ناظم، او د شهاب الدین زوی سیداحمد مشهور په ادیب پشاوری (۱۲٦۰ - ۱۳۴۹هـ) د پخو او متینو اشعارو د دیوان خاوند و او د عربی قصیدو او قیصر نامې ویونکی.

پښتانه شاعران:

عبدالرحیم هوتك د دیوان خاوند، عبدالحمید مومند (۱۱۰۰ - ۱۱۵۰هـ) د درومرجان په نامه د دیوان او د شاد و ګدای په نامه د مثنوی خاوند، همدا شان نیرنګ عشق او شرعةالاسلام په پېنځلسو زروبیتو کښې د ده آثار دی (۱۱۴۸هـ). پیرمحمد کاکړ چې د اشعارو دیوان یې پر ۱۱۹٦هـ کال بشپړ شوی او هم یې د پښتو ګرامر کوچنی کتاب د معرفة الافغاني په نامه پر ۱۲۲۸هـ کال لیکلی دی، شمس الدین کاکړ کندهاری چې پر ۱۲۲۸هـ د شعر دیوان او د سراج الموتی په نامه کتاب او نور منظوم کتابونه یې درلودل، شاه حسین هوتك، د عبدالله زوی مسعود د آدم خان او درخانی د نکل ناظم (د ۱۲۰۰ هـ په شاوخوا کښې) ملاپیرمحمد هوتك د سرور زوی د ۱۱۴۰هـ شاوخوا کښې د افضل الطرایق ناظم، د داودخان کندهاري زوی محمد هوتك د پټې خزانې او خلاصةالفصاحة مولف (د ۱۱۴۲هـ په شاوخواکښې) د حسین زوی عبدالرشید (پر ۱۱٦۹ هـ کال) په فقه کښې د رشیدالبیان مولف، مریدي خان مومند د شاه محمود هوتك د حالاتو په اړه د محمودنامې ناظم (د ۱۴۰۰ هـ په شاوخواکښې) شېر محمد هوتك (۱۰۹۲ ۱۱۷۵هـ) د اسرارالعارفین او تجوید افغاني مولف، اخوند ګدا د نافع

The Digital Library

المسلمین مولف او د اشعارو د دیوان خاوند (د ۱۱٦۰ هـ په شاوخواکښې) محمدی صاحبزاده (۱۱۸۰هـ کال) په پېښور کښې د اشعارو د دیوان لرونکی، حافظ مرغزی پر (۱۱۷٦هـ کال د احمدشاهي شهنامې ناظم، محمد مظفر د اسماعیل زوی د ۱۱۲٦ هـ په شاوخوا کښې) د اعثم کوفي د تاریخ مترجم، د حافظ رحمت برېڅ زوی نواب الله یارخان د ۱۲۲۸هـ په شاوخوا کښې د عجایب اللغات پښتو مولف، عبدالکریم کاکړ کندهاری پر ۱۲۳۴هـ کال د زین العلم ناظم چې له عربي عین العلم څخه یې ژباړلی و، حافظ الپوری (پر ۱۲۰۰ هـ کال) د دیوان خاوند، قاسم علي اپریدي د څو کتابو مولف، عبدالعظیم سواتی د اشعارو د دیوان لرونکی (۱۱٦۷-۱۲۵۳هـ ملاحسن تلوکانی کندهاری د اشعارو د دیوان خاوند چې پر ۱۲۴۵ هـ کال مړ دی ، رحمت داوی کندهاری د اشعارو د دیوان او د لیلی و مجنون د مثنوی خاوند د (۱۲۱۰هـ په شاوخوا کښې)، میانعیم متي زی پر ۱۲۳۰ هـ کال د شعر د دیوان خاوند، معین الدین پېښوری پر ۱۲۵٦ هـ کال دوامق او عذراناظم، عبدالرسول کندهاری د اشعارو د دیوان، د سفرنامې او آزادنامې څښتن (۱۲۹۰هـ) ملاجمعه بارك زی کندهاری شاعر چې پر ۱۲۵۹هـ مړ دی، عزیز خان رناخیل د ۱۲۵۰هـ په شاوخوا کښې د هرات د جنګنامې ناظم، د عبدالرحمن زوی مراد علي کاموی پر۱۲۸۲ هـ کال د تفسیر یسیر مولف، دوست محمد ختك کندهاری پر ۱۲۹۰ هـ د بدرمنیر، بحرالعلوم او اخلاق احمد مولف، معزالله مومند پر ۱۲۰۰هـ د شعر د دیوان خاوند، میرزاحنان کندهاری، صدیق اخوند زاده او ګل محمد هلمندی د اشعارو د دیوانو خاوندان.

د پښتو شاعرانې:

نازو توخی د سلطان ملخي لور او د حاجي میرویس خان هوتك مور پر ۱۰٦۱هـ زیږېدلې ده، د میرویس خان لور زینبه هوتکي (پر ۱۱۲۷هـ مړه ده) او سپینه هروي (د ۱۲۵۵ هـ په شاوخوا کښې).

له عالمانو څخه مولوي محمداعظم اندړ د غزني د شلګر اوسېدونکی، مولوی عبدالله غزنوي او ملاعبدالحق د کندهار د خرقې شریف متولي، صوفي محمد رسول ساکزی (پر ۱۲۸۷ هـ په کندهار کښې مړ دی)، ملامشك عالم اندړ غزنوی او ملاسکندر (چې د امیرشیرعلي خان د لښکر قاضي و) ملامحمود او ملا عبدالله د انار درې قاضي، ملا عبدالفتاح او ملا ابوالحسن (د ۱۲۷۰ هـ په شاوخوا کښې د هرات عالمان)، محمد حسین د مداح الکوزي کندهاري زوی چې د میرزاهد هروي د تصور او تصدیق پر حاشیې باندې د شرح انکشافیه مولف دی، مسعود ګل د قاضي عبدالرحمن پېښوری زوی پر ۱۲۲٦هـ د عجایب الاخبار مولف، عبدالحلیم کاکړ کندهاری پر ۱۲۳۴ هـ درد حلیمیه علی مطاعن احمدیه مولف، ملاعبدالحق د عبدالغفور خروټی زوی د پښتو د یاقوت السیر ناظم او د شرح اربعین مولف، ملاقطب توخي چې په کندهار کښې یې پر ډېرو ادبي کتابو شرح لیکلی دي، مولاناعبداللطیف د تیمورشاه د دربار صدرالعلما (چې پر ۱۱۹۵هـ مړ دی) مولوی محمد عمر ساکزی چې د تجوید په علم کښې یې په پښتو یو کتاب تالیف کړی او پر ۱۲۰۵ هـ مړدی، سعدالله خروټی چې پر جلالین او پر مولوي عبدالغفور یې شرح لیکلې او پر ۱۲۰۹ هـ مړ دی.

- سره له دې چې په دې عصر علمي او ادبي هڅه بیخي پر ځای ولاړه نه وه او لکه چې و مو لیدل د هېواد په هر ګوټ کښې پوهان وو، خو که په انتقادي او پرتلیز نظر یې وګورو دا دوره نسبت پخوا ته د علم او ادب د

The Digital Library

زلمیتوب او فعالیت دوره ګڼلای نه شو، بلکې دا د تقلید او انتحال دوره ده، ځکه نو په دې دوره کښې، علمي او فکري بکر آثار لږ لیدل کېږي.

د دري ژبې ادبیاتو هم د دغه عصر په نثر او نظم کښې د انحطاط دوره وهلې او کوم نوښت په کښې نه لیدل کېږي ښایي وویل شي چې حضرت نورالدین عبدالرحمن جامي د دري ژبې خاتم شعراء وو، خو پر عکس د پښتو ژبې ادب ښه وده وکړه، د پیر محمد کاکړ کندهاري، حمید مومند او نورو غونډې د ابتکار او ښې قریحې خاوندان شاعران په کښې پیدا شول، په تېره بیا حمید او کاظم خان ختك متخلص په شیدا د هندي سبك چاشني پر پښتو ګډه کړه.

د سدوزیو دوختو په دري ادبیاتو کښې داسې شاعران لرو چې د حافظ، جامي، د خراسان او عراق د سبك پیروان دي، خو تر ۱۲۵۰ هـ وروسته په دري ادب کښې یوه هڅه او خوځښت وینو چې زموږ شاعران د هند د سبك پیښې (تقلید) کوي دا هغه اغېزه ده چې د میرزا عبدالقادر بېدل د اشعارو او د هغه د اشعارو د کلیات پشپړ مقبولیت په نتیجه کښې منځته راغلې ده، په غزل کښې د دغه سبك لومړی پیرو سردار مهردل خان د سردار پاینده خان زوی دی چې مشرقي یې تخلص و. تر هغه وروسته سردار غلام محمد خان طرزي او زوی یې محمد امین عندلیب هم د دغه سبك ډېره پیروي کوي، خو په دې کورنۍ کښې د سردار پاینده خان ورونه سردار هارون خان، سردار غلام حیدرخان او سردار احمدخان د امیر دوست محمد خان زامن دري واړه شاعران او په دري ژبه دیوانونه لري، سردار شهنواز خان د سردار سلطان احمد سرکار زوی، خوشدل خان د مشرقي زوی، سردار محمد حسن خان سیاه د تیمور قلي خان زوی او د وزیر فتح خان ورور (د ۱۳۰۰ شاوخوا)، سردار محمد عزیز د سردار شمس الدین خان زوی د (۱۳۱۰هـ پر

شاو خوا) او سردار عباس خان د سردار سلطان محمد خان زوی شاعر او د ګل عباسي، جواهر خمسه، عناصر اربعه مولف او د تفسیر کلام الله مفسر (۱۲۵۲ ـ ۱۳۴۳ هـ) هم په دري ژبه شعر ویلی دی، خو د دوی په کلام کښې د هند د سبك پیروي اغېزه او د هغه سبك شاعرانه تلازمات او د تخیل طرز لږ لیدل کېږي.

د احمد شاه بابا له وختو بیا د امیر عبدالرحمن خان د دورې تر پایه (د ۱۳۲۰ هـ شاوخوا پورې) دري شعر د پخوانیو شاعرانو په تېره بیا د هند د سبك د فکري او عروضي تقلید په قالب کښې پاتې شو، هغه شاعران چې په دې دوو پېړیو کښې منځته راغلل ټول د تېرو دورو د شاعرانو مقلدان و، خو د افغان او انګریز تر لومړۍ او دویمې جګړې وروسته چې د هند د شمال له خوا د اروپایي نوي مدنیت اغېزې افغانستان ته راورسېدلې، د دغه ځای پر ادب یې هم اغېزه وکړه او همدا د (۱۳۲۰ هـق شاوخوا) د افغانستان په نویو ادبیاتو کښې د نوي فکر ځرك ښکارېږي.

هغه بدلون چې د اروپا د صنعت او مدنیت اغېز د دغه وخت په ادب کښې راووست هغه فکري بدلون دی چې د شعر پر ظاهري سبك او قالب یې اثر ونه کړ. زموږ شاعرانو همهغه پخواني عروضي قالبونه ښه وبلل، خو لږ تر لږ زموږ پر ملي ادب د نوي فکر اغېزه ولوېده او وینو چې مولوي محمد سرور او اصف کندهاري د جهان اوضاع ته د خیر کېدلو او نوی مدنیت ته د ترغیب او تشویق په اړه یوه قصیده ویلې ده او د ۱۲۹۰ هـ په شاوخوا کښې د امیر شیرعلي خان پر مهال لومړي ځل د "شمس النهار" په نامه یوه جریده د کابل له بالاحصاره خپره شو، تر هغې وروسته پر ۱۳۲۳هـ کال د سراج الاخبار افغانستان لومړۍ ګڼه د مولوي عبدالرؤف خان کندهاري په مدیریت د پوهانو د یوې ټولنې له خوا چاپ شوه، د معارف د خپرېدو،

he Digital Library

د ښوونځیو او مطبوعاتو د تأسیس او د ادبي نویو عصري اثارو د لیکنې، ژباړنې هڅه هم پیل شوه. د دغې نوې فکري او ادبي هڅې مخکښ د سردار غلام محمد خان طرزي کندهاري زوی محمود طرزي چې پر ۱۳۸۴هـ کال په غزني کښې زیږېدلی او د ۱۹۳۳م کال د نومبر پر ۲۲ مه په استانبول کښې مړ شوی دی، پر ۱۳۲۹هـ ق کال سراج الاخبار افغانیه چې پر ۱۳۲۳هـ ق کال یې یوازې یوه ګڼه خپره شوې وه بیا راژوندی کړ او هغه یې تر اتو کالو پورې د یوې پېنځلس ورځنۍ موقوتې جریدې په توګه خپره کړه، چې د افغانستان د خلکو د ویښتابه او خپلواکۍ غوښتنې هڅوونکې شوه، د دري ژبې په نثر او نظم کښې یې نوی فکر او نوې انشاء وروزله؛ شل کتابه یې له ترکي څخه په دري ژبه ترجمه او یا تألیف کړل، دی لومړی سړی دی چې د افغانستان د صحافت او لیکنې په ډګر کښې یې د فکرې او ادبي نوي مکتب بنسټ کېښېښوو.

دا مهال د پښتو او دري ژبو نورو لیکوونکیو او شاعرانوهم افغاني ادب ته نوی فکر ننه یوست د عبدالعلي مستغني (۱۲۹۳ ـ ۱۳۵۲ هـ ق) قاري عبدالله (۱۲۸۸ هـ ق ـ ۱۳۲۲ هـ ش)، عبدالغفور ندیم، عبدالهادي داوي، مولوي صالح محمد هوتك، مولوي غلام محی الدین افغان، مولوي عبدالرب کندهاري او نورو لیکوونکیو او شاعرانو په شان منځته راغلل، سره له دې چې د دوی لیکنې په زړو کلاسیکي قالبو کښې وې، خو څه نا څه یې نوي افکار او مفاهیم چې شلمې پېړۍ زېږولي وو هم وروزل.

د ۱۹ پېړۍ پر لومړۍ نیمایي د انګریز ښکېلاك چې د نوي تمدن او صنعتي بدلون نښې ورسره وې پر ټول هندوستان د سند د سیند تر غاړو خپور شو او زموږ د هېواد له ختیځو طبعي سرحد و سره ونښت، د افغان او انګریز لومړۍ جګړه چې پر ۱۸۳۹م کال د سند د لښکر (اندس ارمی) له خوا

پیل شوې وه تر پېنځو کالو وروسته د افغان ملي څواك په بري او د یرغلګرو په غوڅه ماتې پای ته ورسېده، تر هغې وروسته د هند د ریل پټلۍ دې لورته راوغځېده، د بمبیي او کراچۍ بحري بندرو هم افغاني سرحدو ته د سمندریزو لېږدونو لار پرانیسته، د هېواد لوېدیز خوا ته په قاجاري ایران او د شمال پلو ته په تزاري روسیې کښې هم د نوي مدنیت بنسټونو او نوي فکر وده موندله؛ دغو ټولو اغېزناکو عواملو د افغانستان د خلکو پر ژوندانه، فکر، سیاست او اداره هم اغېزه کوله.

د دې فکري هڅې او حرکت له ممثلانو څخه یو هم سید جمال الدین د کونړ د سید صفدر زوی و (۱۲۵۴ ـ ۱۳۱۵ هـ ق) چې خپل جهاد یې له افغانستانه د ختیځ د بدمرغۍ د دریو عاملو (استعمار، استبداد او خرافاتو) پر ضد پیل، په هند، ایران، عثماني ترکیه او مصر کښې یې فکري او اصلاحي نوی نهضت راووست، نړیوال شهرت یې وموند، دده ته د افغانستان او ختیځو هېوادو د ویښتابه او نوی فکر لومړی روزنکی ویل کېدای شي. خو د ښکېلاك دسیسو، په افغانستان کښې د شهزادګانو کورنیو جنګو او په هېواد کښې د مرکز نشتوالي پرې نه ښوو چې دا فکری هڅه او حرکت خپل طبعي تګ ته دوام ورکړي، څو چې امیر شیرعلي خان پر خپله دویم ځل پاچهۍ وکړای شول لومړی افغاني کابینه د سید نور محمد شاه کندهاري صدراعظم په مشرۍ تاسیس او شمس النهار جریده، منظم لښکر او یوه برخه عصري تشکیلات منځته راولي، په سیاست کښې یې هم آزاد خپلواك تګلوری پر مخ بوت. خو د افغان او انګریز د دویمې جګړې پیل (۱۲۹۵ ـ ۱۲۹۷ هـ ق) دا لړۍ پریکړه او د امیر عبدالرحمن خان دوره (۱۲۹۷ ـ ۱۳۱۹ هـ ق) د استبداد تر فشار لاندې په یو ډول فکري جمود کښې تېره شوه، تر هغې چې پر ۱۳۲۳ هـ ق کال په کابل کښې سراج الاخبار

the Digital Library

ټولنه تاسیس او په نوی فکرې هڅه یې بیا لاس پورې کړ، مولوي عبدالرؤف کندهاری سراج الاخبار خپور کړ او په کابل کښې دارالعلوم حبیبیه هم تاسیس شو چې دا نو د ساینس او نویو مضمونو د تدریس پیل و.

دغې فکري هڅې سره له دې چې کورني او بهرني خنډونه یې درلودل پر ۱۳۲۹ق کال د سراج لاخبار افغانیه د بیا راژوندي کولو په واسطه د محمود طرزي له خوا ادامه وموندده، د "اخوان افغان" په نامه په کابل کښې لومړی افغاني سیاسي ګوند تاسیس شو، چې مرام یې "مشروطیت، خپلواکي او داخلي اصلاحات" وو، خو د دغه ګوند غړي پر ۱۳۲۵ هـ ق کال یا ووژل شول او یا بندیان شول تر ۱۳۲۹ ق چې سراج الاخبار د محمود طرزی په واسطه بیا خپور شو همدا دا خوان افغان ګوند هم بیا راژوندی شو، تر ۱۳۳۷هـ ق پورې د افغاني روشن فکرانو په تنظیم او د معارف په خپرونه کښې یې زیار ویوست، د هېواد د بشپړې سیاسي آزادۍ ګټلو او د خپلواکی د جهاد له پاره د ولس په عمومي پاڅون او د افکارو په تنویر کښې ددې ټولنې زیار ګټورو او چې پر ۱۹۱۹م افغان ولس خپله خپلواکي بېرته وګټله ټولو روشن فکرانو دنیا ته د نوي آزاد افغانستان د ورپېژندلو، د ادارې د نوي تشکیل، د مدني چارو په ترتیب د ښوونځیو د تاسیس او مطبوعاتو د پراختیا په لاره کښې زیار ویوست چې دا ګټور زیار تر اوسه پر مخ ځي.

پای

اخځلیکونه:

هغه کتابونه چې د دغه کتاب په لیکلو کښې ګټه ترې اخیستل شوې:

۱- د سید جمال الدین افغان "تتمة البیان" د قاهرې چاپ-۱۹۰۱م.

۲- د افغان او فارس جګړه - له لاتیني څخه په انګریزي د جارج نیون هامفورد ایزك ژباړه - د لندن چاپ.

۳- زندګانی نادرشاه - د نور الله لارودي لیکنه، تهران - ۱۹۳۹ م.

۴- روضة الصفای ناصري - ۸ ټوك د رضا قلي هدایت لیکنه - تهران ۱۳۰۲هـ ق.

۵- پټه خزانه او پایخوړ یې د حبیبي په قلم، کابل ۱۹۴۴ م.

٦- ایین اکبري - د ابو الفضل لیکنه - لکنهو ۱۳۱۰ هـ ق.

۷- تاریخ افاغنه (اردو) د سید ظهور الحسن موسوي لیکنه - د هند چاپ - ۱۳۳۰ هـ ق.

۸- تاریخ نظامي ایران - لومړی ټوك - تهران ۱۳۱۵ هـ ش.

۹- نادرنامه (خطي) د حبیبي د کتابتون نسخه-مولف یې څرګند نه دی.

۱۰- سیرالمتاخرین - د غلام حسین لیکنه، د لکنهو د نولکشور چاپ.

۱۱- درهٔ نادره - د میرزا مهدی استر آبادي لیکنه - بمبیي ۱۳۰۹ هـ ق.

۱۲- مجمع التواریخ د میرزامحمد خلیل مرعشي صفوي لیکنه-

he Digital Library

تهران ۱۳۲۹هـ ل کال.

۱۳ - کاوه مجله - ۲ کال - د برلين چاپ ۱۳۰۳ هـ ل.

۱۴- تاريخ ايران د سرجان ملکم - بمبيي - ۱۸۶۷م

۱۵- تاريخ افغانستان . د مليسون تاليف د لندن دويم چاپ - ۱۸۷۸م.

۱۶- تاريخ سلطاني . د سلطان محمد خالص کندهاري تاليف . بمبيي ۱۲۹۸هـ.

۱۷ - خورشيد جهان - د شېرمحمد ليکنه . ګنداپور . لاهور ۱۸۹۴ م

۱۸ - منتخب اللباب . د خافي خان . ايشياتك سوسايتي . كلكته ۱۸۹۶م.

۱۹ - حيات افغاني . د محمد حيات خان . لاهور ۱۸۶۷م.

۲۰ - ميرويس نيکه . د ښېنوا ليکنه، کابل ۱۳۲۵ هـ ل.

۲۱ - آريانا مجله د تاريخ ټولنې له خپرونو څخه.

۲۲ - عباسنامه - د محمد طاهر وحيد قزويني، تهران - ۱۳۲۹هـ ل.

۲۳ - خلاصة الانساب ابدالي (قلمي).

۲۴ - مشاهير ابداليان . د حبيبي - کابل ۱۳۲۵ هـ ل.

۲۵ - رهنماى افغانستان . کابل . ۱۳۲۸ هـ ل.

۲۶ - لوى احمد شاه بابا . د حبيبي . کابل . ۱۳۱۹ هـ ل.

۲۷ - دول اسلاميه . د خليل ادهم . استانبول ۱۹۲۷م.

۲۸ - مخزن افغاني . د نعمت الله هروي . (قلمي).

۲۹ - تذکرة الابرار والاشرار . د اخون دريزه . پېښور هندو پريس چاپ، ۱۳۰۸هـ ق.

۳۰ - صولت افغاني . د محمد زردار خان افغان . د لکنهو د نولکشور چاپ . ۱۸۷۶ م.

۳۱ - تاريخ افغانستان . لومړى او دويم ټوک د کهزاد . کابل ۱۹۴۶ م.

۳۲ - افغانستان درقرن نزدهم - دسيدقاسم رشتيا. کابل چاپ ۱۳۲۹هـ ل.

۳۳ - اکبرنامه . منظومه . د حميد کشميری . کابل ۱۳۳۰ هـ ل.

۳۴ - در زواياى تاريخ معاصر افغانستان، د احمدعلي کهزاد-کابل ۱۹۵۲م.

۳۵ - مشاهيرالشرق . د جرجی زيدان . لومړى ټوك . قاهره . ۱۹۱۰ م.

۳۶ - المسالك و الممالك . د ابن خرداذبه، ليدن . ۱۳۰۶ هـ ق.

۳۷ - دائرة المعارف اسلامی . ليدن . ۱۹۲۷ م.

۳۸ - ايرانشهر . د مارکوارت . برلين چاپ ۱۹۰۱ م.

۳۹ - د کرستن سين د"ساسانيانو په وخت کښې ايران" ژباړه . د ډهلي چاپ ۱۹۴۱ م.

۴۰ - فتوح البلدان . د بلاذرى . قاهره ۱۹۰۱ م.

۴۱ - مجمل التواريخ والقصص . د بهار.چاپ . تهران ۱۹۳۸ م.

۴۲ - تاريخ سيستان . دبهار چاپ - د تهران ۱۹۳۴ م.

۴۳ - تاريخ طبرى . د بلعمی ژباړه . لکنهو ۱۹۱۶ م.

۴۴ - چچنامه- د علي حامد کوفي سندي . داود پوته چاپ ډهلي . ۱۹۳۹م.

۴۵ - د امان افغان جريده . د کابل چاپ ۱۹۱۹ م.

۴۶ - د پښتنو تاريخ . د قاضی عطاء الله، د پېښور چاپ . ۱۹۴۷ م.

۴۷ - د ابن النديم الفهرست . قاهره . ۱۳۴۸ هـ ق.

۴۸ - د پېښور د موزيم کتيبې . د عبدالشکور . پېښور ۱۹۴۸ م.

۴۹ - تاريخ التمدن الاسلامی . د جرجي زيدان، قاهره . ۱۹۰۲ م.

۵۰ - تاريخ ادبيات فارسي . د براون . لندن ۱۹۰۲ . ۱۹۲۴م.

۵۱ - کتاب الخراج . د قدامه بن جعفر. ليدن ۱۸۹۲ م.

The Digital Library

۵۲ - تاریخ روابط سیاسي ایران . د نجف قلي معزی . تهران . ۱۹۴۷ م.

۵۳ - تاریخ هند . د دولافوز . تهران . ۱۹۳۶ م.

۵۴ - اقبال نامهٔ جهانګیری . د معتمد خان بخشی . کلکته ۱۸۸۵ م.

۵۵ - تزك جهانګیر . د فیروز هادی چاپ . لکنهو . ۱۳۲۷هـ.ق

۵۶ - مآثر رحیمی . د عبدالباقی . کلکته ۱۹۲۵ م.

۵۷ - تزك بابر . د عبدالرحیم خان خانان ژباړه، بمبیي ۱۳۰۸ هـ ق.

۵۸ - رقعات عالمګیر . د دارالمصنفین اعظم ګډه چاپ . ۱۹۴۵ م.

۵۹ - منتخب التواریخ . د عبداقادر بدایونی . د کلکتي چاپ.

۶۰ - اکبر نامه . دابو الفضل . کلکته ۱۸۸۶ م.

۶۱ - عالمګیر نامه . د محمد کاظم ۱۸۶۸ م.

۶۲ - طبقات اکبری . د نظام الدین هروی . کلکته ۱۹۳۱ م.

۶۳ - مآثر الامراء . د صمصام الدوله . کلکته ۱۳۰۹ق.

۶۴ - بابر . د فرانسوی فرنارد ګروناد . د پاریس چاپ . ۱۹۲۶ م.

۶۵ - فارس نامه . د ابن البلخی . د کمبرج چاپ ۱۹۲۱ م.

۶۶ - افغانستان در عصر تیموریان هند . د حبیبي، د کابل چاپ ۱۳۴۱هـ.ل

۶۷ - تاریخ فرشته . د محمد قاسم . د لکنهو چاپ ۱۳۲۱ هـ ق.

۶۸ - زینت الزمان فی تاریخ هندوستان . د ملك الکتاب شیرازی . بمبیي ۱۳۱۰ هـ ق.

۶۹ - تاریخ مختصر هند-د ابو ظفر ندوی- د اعظم ګډه چاپ ۱۳۵۵هـ ق.

۷۰ - مجمع السلاطین . د نواب محمد غوث خان بمبیي ۱۲۷۹هـ ق.

۷۱ - تاریخ ایران . د عبدالله رازی . تهران ۱۹۳۶م.

۷۲ - کیمبرج هستری آف انډیا . ۴ ټوک، لندن.

۷۳ - مطلع سعدین . د عبدالرزاق سمرقندی (خطي . کابل).

۷۴ - روضة الصفا . د میر خواند . لکنهو.

۷۵ - تاریخ سند . د سید معصوم . بمبیي ۱۹۳۸ م.

۷۶ - مفتاح التواریخ . د جان ولیم بیل . لکنهو.

۷۷ - لب التواریخ . دیحیی قزوینی . تهران ۱۹۳۵ م.

۷۸ - پر بابر نامه باندې د بیورج تعلیقات، لندن ۱۹۲۲ م.

۷۹ - تاریخ هند . د ارسکن . لندن ۱۸۵۴ م.

۸۰ - تاریخ ګزیده . د حمدالله مستوفی . لندن ۱۹۱۰ م.

۸۱ - مخزن اسلام . پښتو . داخون درویزه (خطی).

۸۲ - سلوك الغزات . پښتو . د ملامست زمند (خطی).

۸۳ - تارخ مرصع دافضل خان ختك، هر تفورد ۱۸۶۰

۸۴ - دخوشحال خان د کلیاتو مقدمه . د حبیبی . کندهار . ۱۹۴۰ م.

۸۵ - پښتانه شعرا . ۱، ۲ ټوك . د حبیبی . کابل ۱۹۴۰ م.

۸۶ - تاریخ افغاني . د شیخ امام الدین خلیل (خطی . کابل)

۸۷ - الکامل . د ابن الاثیر . د مصر د بولاق چاپ ۱۲۹۰ هـ ق.

۸۸ - زین الاخبار . د عبد الحی ګردیزی . تهران د ۱۹۳۵.

۸۹ - طبقات ناصري . د منهاج السراج . د ع، حبیبي په زیار، کابل . دوه ټوکه ۱۳۴۲هـ ل.

۹۰ - تذکرة الاولیاء پښتو . د سلیمان ماکو . د پښتانه شعراء په لومړی ټوك کښې . کابل ۱۹۴۰ هـ ل.

۹۱ - تاریخ بیهقی . دابو الفضل بیهقی . ۳ ټوك، تهران ۱۹۴۷ م.

۹۲ - تاریخ یمیني . د ابو نصر العتبی . قاهره ۱۲۹۰ هـ ق.

۹۳ - تاریخ بخارا . د محمد نرشخی تهران ۱۹۳۷ م.

The Digital Library

۹۴ - حدود العالم ـ مؤلف یې معلوم نه دی. تهران ۱۹۳۲م.
۹۵ - پادشاهان متأخر افغانستان، د یعقوب علی خوافی، کابل ۱۹۵۳م.
۹٦ - قابوس نامه ـ د تهران چاپ، ۱۹۴۰ م.
۹۷ - جغرافیای تاریخی ایران، د بارتولد، تهران ۱۹۲۸م.
۹۸ - مسالك الممالك ـ د اصطخری ـ لیدن ۱۹۲۷م.
۹۹ - احسن التقاسیم ـ د المقدسي ـ لیدن ۱۸۷۷ م.
۱۰۰ - چهار مقالهٔ عروضي او د محمد قزوینی تعلیقات، لیدن ۱۹۰۹م.
۱۰۱ - جوامع الحکایات ـ د عوفی (خطي) ـ کابل.
۱۰۲ - لباب الالباب ـ د عوفی ـ لندن ۱۳۲۱ ـ ۱۳۲۴هـ ق.
۱۰۳ - منتخبات آداب الحرب والشجاعة د فخر مدبر ـ لاهور.
۱۰۴ - طبقات سلاطین اسلام ـ د لن پول ـ تهران ۱۳۱۹ هـ ل.
۱۰۵ - تاریخ مختصر ایران د پاول هورن ـ تهران ۱۹۳۴م.
۱۰٦ - تاریخ ادبیات ایران ـ ددکتور شفق ـ تهران ۱۹۴۲ م.
۱۰۷ - اخبار الدولة السلوقية د صدر الدين علی ـ لاهور ۱۹۳۳ م.
۱۰۸ - ذیل جامع التواریخ ـ د حافظ ابرو ـ تهران ۱۹۳۷ م.
۱۰۹ - جهانکشای جویني ـ تهران ۱۳۱۵ هـ ل.
۱۱۰ - تاریخ مفصل ایران ـ د عباس اقبال ـ تهران ۱۹۳۲ م.
۱۱۱ - حبیب السیر ـ د خوان میر ـ بمبیي ۱۲۷۳ هـ ق.
۱۱۲ - سیرة جلال الدين ـ د محمد نسوي ـ تهران ۱۳۴۴ هـ ل.
۱۱۳ - تاریخ هرات ـ د سیفی هروی ـ کلکته ۱۹۴۳ م.
۱۱۴ - ظفر نامه دشرف الدين علی یزدی، د کلکتي چاپ.
۱۱۵ - د تعدیل نسب نامه آل کرت مقاله ـ د حبیبی په قلم ـ آریانا مجله ٦۸مه گڼه کابل ۱۹۴۸ م.

۱۱٦ - ریاض الانشاء ـ د محمودگاوان ـ حیدر آباد دکن
۱۱۷ - نسب نامهٔ افاغنه ـ د محمد عبدالسلام خان عمر خیل. هند ۱۹۱۴م.
۱۱۸ - ظفرنامه رنجیت د امرنات لاهور، ۱۹۲۸م.
۱۱۹ - عمل صالح ـ د محمد صالح لاهوری ـ کلکته ۱۹۳۹ م.
۱۲۰ - تزك افغانی ـ دمحمد عباس خان رفعت ـ دهندچاپ ۱۲۹۹هـ ق.
۱۲۱ - فرهنگ او ستا دبمبیي چاپ.
۱۲۲ - خوشال خان ختك ـ د دوست محمد کامل پیښور ۱۹۵۱ م.
۱۲۳ - تاریخ افغانستان ـ دعلی قلی میرزا ـ تهران.
۱۲۴ - تاریخ ایران ـ د فروغی ـ تهران ۱۳۱۸ هـ ق.
۱۲۵ - تحفة الحبیب د فیض محمد هزاره (خطي).
۱۲٦ - تاج التواریخ، د امیر عبدالرحمن ـ بمبیي ۱۳۳۲ هـ ق.
۱۲۷ - مجمل التواریخ بعد نادریه ـ د ابن محمد امین ـ تهران ۱۹۴۰م.
۱۲۸ - احمد شاه بابا ـ د میر غلام محمد غبار ـ کابل ۱۹۴۴ م.
۱۲۹ - ریاض المحبة ـ د نواب محبت خان (قلمی).
۱۳۰ - د شاه ولي الله دهلوی سیاسی مکتوبات، د خلیق احمد نظامی چاپ ـ علی گډهٔ ۱۹۵۰م.
۱۳۱ - د شاه فقیر الله علوی مکتوبات ـ لاهور.
۱۳۲ - حیات حافظ رحمت خان ـ د سید الطاف علي بدایون ۱۹۳۳م.
۱۳۳ - سراج التواریخ ـ ۲ ټوك، د فیض محمد هزاره، د کابل چاپ ـ ۱۳۳۱ هـ ق.
۱۳۴ - دامیر دوست محمد خان ژوند ـ د موهن لال ـ کلکته ـ ۱۸۳۲م.
۱۳۵ - د بارکزیو عروج ـ د الایسیس ـ لندن.

The Digital Library

۱۳۶ - د کابل پاچهي . د الفنستن . لندن ۱۸۵۱ م.
۱۳۷ - د هند د غرب شمال سرحد . د سروليم بارتن . لندن.
۱۳۸ - د افغان دويمه جګړه . د ډيورند . لندن.
۱۳۹ - د غزني او کابل سياحت . دواين اثر . لندن.
۱۴۰ - دسنداردو . د هوك اثر . لندن.
۱۴۱ - د هند شمال ته سفر . د کونولی . لندن.
۱۴۲ - افغانستان . د سر مکموهن . لندن ۱۹۲۹م.
۱۴۳ - د افغانستان بربادی . د جنرال سيل . لندن.
۱۴۴ - د هند سرحدونه . د هولديچ . لندن.
۱۴۵ - افغانستان . د کپتان ګری . لندن.
۱۴۶ - بلوچستان . د پوتنچر . لندن.
۱۴۷ - تاريخ افغانستان، دسر پرسی سايکس . لندن.
۱۴۸ - د پښتو ادبياتو تاريخ- ۱، ۲ ټوك د حبيبی، کابل ۱۹۵۰م.
۱۴۹ - مورخان ګمنام افغان، د حبيبی، کابل ۱۹۴٦ م.
۱۵۰ - محاربهٔ کابل . د قاسم علی . اګره ۱۲۷۲ هـ ق.
۱۵۱ - فتوح السلاطين . منظوم . د حسامی . اګره ۱۹۳۸ م.
۱۵۲ - تاريخ احمدی . د منشي عبدالکريم . نولکشور ۱۲٦٦ هـ ق.
۱۵۳ - نوای معارك . د عطا محمد . د حبيبی په زيار او سريزه- کراچی- ۱۹۵۹ م.
۱۵۴ - د پښتو ګرامر - سريزه راورتی . کلکته ۱۸۵٦ م.
۱۵۵ - الاصابه فی تمييز الصحابه - دابن حجر عسقلانی-مصر . ۱۳۲۳هـ ق.
۱۵٦ - کتاب البلدان . د يعقوبی . ليدن ۱۸۹۲ م.
۱۵۷ - سياست نامه . د خواجه نظام الملك . د تهران چاپ.

۱۵۸ - ريسز آف افغانستان . د دبليو بليو . کلکته.
۱۵۹ - فتوحات عرب در آسيای ميانه . د ګب . لندن- ۱۹۲۳ م.
۱٦۰ - خلافت . دوليم تمبل ميور . لندن ۱۹۲۴ م.
۱٦۱ - تاريخ الاسلام السياسی والدينی و الثقافی والاجتماعی . د حسن ابراهيم . دريږ ټوکه . دقاهرې چاپ ۱۹۴۸م.
۱٦۲ - تاريخ مبارکشاهی . ديحيی بن احمد سهرندی . کلکته . ۱۹۳۱م.
۱٦۳ - قانون همايوني- د خوند مير . کلکته ۱۹۴۰ م.
۱٦۴ - تذکرهٔ همايون و اکبر - د بايزيد بيات . کلکته ۱۹۴۱ م.
۱٦۵ - خصايل السعاده-د محمد سعادت خان ترين لکنهو ۱۸۵۵م.
۱٦٦ - تاريخ عمومی-د عباس اقبال-دويم چاپ . تهران ۱۳۰۵ هـ ل.
۱٦۷ - مرآة الاشباه . دمحمد حسن . داوده چاپ.
۱٦۸ - کابل کالنی . له ۱۹۳۰ څخه تر۱۹۵۳ پورې د کابل چاپ.
۱٦۹ - کابل مجله . ۱، ۲ ټوك د مير غلام محمد غبار د "افغانستان ونګاهی بتاريخ آن" مضمون ۱۹۳۱ . ۱۹۳۲ م.
۱۷۰ - حديقة الاقاليم . د مرتضی حسين بلګرامي لکهنو ۱۲۹٦هـ.
۱۷۱ - مسکو کات افغانستان در عصر اسلام . د احمد علی کهزاد . کابل ۱۹۳۹ م.
۱۷۲ - منجم العمران . د سيد محمد امين خانجي . مصر ۱۳۲۵ هـ ق.
۱۷۳ - فصلی از خلاصة الاخبار . د خواند مير، د ګويا اعتمادی -کابل . ۱۹۴٦ م.
۱۷۴ - اثار هرات . ۳ ټوکه . د خليل الله افغان . هرات ۱۹۲۹ م.
۱۷۵ - خراسان . دمير غلام محمد غبار . کابل ۱۹۴۷ م.
۱۷٦ - واقعات شاه شجاع-د شاه شجاع سدوزی . کابل . ۱۹۵۳ م.

The Digital Library

۱۷۷ - وفیات الاعیان - دابن خلکان - د مصر بولاق ۱۲۹۹ هـ ق.

۱۷۸ - مروج الذهب - د مسعودی - پاریس ۱۸۶۱ م.

۱۷۹ - تاریخ عرب - د فلیپ هتی - لندن ۱۹۳۴ م.

۱۸۰ - تجارب الامم - د ابن مسکویه - لیدن ۱۹۰۹ م.

۱۸۱ - شوکت افغانی دمحمد عبدالحکیم خان لودی - اګره - ۱۳۲۵هـ ق.

۱۸۲ - دول الاسلام - دشمس الدین ذهبی - حیدر آباد دکن ۱۳۳۳ هـ ق.

۱۸۳ - تاریخ محمود شاهی - د فیض الله بنیانی (خطی - پېښور).

۱۸۴ - تزك تیموري - بمبیي - ۱۳۲۶ هـ ق.

۱۸۵ - سبحة المرجان فی آثار هندوستان - د سید غلام علي بلګرامی - د بمبی چاپ ۱۳۰۳هـ ق.

۱۸۶ - تذکرهٔ نصر آبادی - تهران ۱۳۱۵ هـ ق.

۱۸۷ - مجالس النفایس - د امیر علی شیر نوایی - تهران ۱۹۴۴ م.

۱۸۸ - تذکرهٔ علمای هند - درحمان علی - لکهنو ۱۲۹۲ هـ ق.

۱۸۹ - د پښتونخوا د شعر هارو بهار - د فرانسوي جم دارمستتر - پاریس ۱۸۸۸م.

۱۹۰ - د افغان د ۱۷ پېړی اشعار - د بیدولف - د هرتفورد چاپ - ۱۸۹۰م.

۱۹۱ - هفت اقلیم - د امین احمد رازی - کلکته ۱۹۱۸ م.

۱۹۲ - شمع انجمن - د سید صدیق حسن بهوپال ۱۲۹۲ هـ ق.

۱۹۳ - شګرستان افغانی - دمیر احمد شاه رضواني - لاهور د ۱۳۰۵ هـ ق.

۱۹۴ - بهارستان افغانی - د میر احمد شاه رضواني - لاهور - ۱۳۰۵ هـ ق.

۱۹۵ - سکینة الفضلا - د عبدالحکیم رستاقی - ډهلي ۱۳۵۰ هـ ق.

۱۹۶ - قاموس الاعلام - د شمس الدین سامي - استانبول ۱۳۰۸ هـ ق.

۱۹۷ - مذکراحباب - د حسن خواجه بخاری (خطی - برلین)

۱۹۸ - حجة الاورنګ شاهیه - د تاش محمد القندوزی (خطی - کابل).

۱۹۹ - آتشکدهٔ آذر - د لطف علی آذر - د بمبیي چاپ - ۱۳۰۹ هـ ق.

۲۰۰ - ګلشن روه - دراورټي - هر تفورد ۱۸۶۰ م.

۲۰۱ - چراغ انجمن - د عبدالحکیم رستاقی - ډهلي ۱۵۲۹ م.

۲۰۲ - تذکرهٔ حسینی - د محمد حسین سنبهلی لکنهو ۱۲۹۲ هـ ق.

۲۰۳ - کلید افغانی - د هیوز - لاهور ۱۸۹۳ م.

۲۰۴ - جامي - د علی اصغر حکمت - تهران ۱۹۴۰ م.

۲۰۵ - خزانهٔ عامره - د غلام علی آزاد - د هند چاپ.

۲۰۶ - تاریخچهٔ شعر پښتو د عبدالحی حبیبی - دکندهار چاپ - ۱۹۳۵م.

۲۰۷ - ریاض الشعراء - دواله داغستانی (خطی - کابل)

۲۰۸ - مرآة الخیال - د امیر شیر علی لودی - د هند چاپ.

۲۰۹ - تذکرة الخواتین - دعبدالباری آسی - د لکنهو چاپ.

۲۱۰ - خزینة الاصفیاء - د مفتی غلام سرور لاهوری، لکنهو ۱۹۱۴م

۲۱۱ - د عبد القادر خان خټك د دیوان مقدمه - د عبد الحی حبیبی - د کندهار چاپ ۱۹۳۷ م.

۲۱۲ - فوایدالشریعة - پښتو - داخون قاسم پاپن خیل - د لاهور چاپ.

۲۱۳ - تاریخ روسای پنجاب - د سرلیپل ګریفن لاهور.

۲۱۴ - د پېښور تاریخ - درای ګوپال داس - لاهور ۱۸۷۰م.

۲۱۵ - البرامکه - د محمد عبدالرزاق - د هند چاپ.

۲۱۶ - د ګنداهارا پخوانی جغرافیا - د موسیوفوشه - کلکته ۱۹۱۵ م.

۲۱۷ - اخبارېر امکه د عبداعظیم ګرګانی - تهران - ۱۲۱۲ هـ ل.

۲۱۸ - تاریخ تمدن ایران ساسانی - د سعید نفیسی - د تهران چاپ - ۱۳۳۱هـ ل.

The Digital Library

۲۱۹ - تهذیب و تمدن اسلامی . لومړی او دوهم ټوك . دزشید اختر ندوی . د لاهور چاپ ۱۹۵۲ م.

۲۲۰ - نقود الاسلامیه . د مقریزی . (خطی نسخه . د مشق . د تهذیب او تمدن اسلامي په ذریعه).

۲۲۱ - تاریخ طبرستان . د بهاء الدین محمد بن حسن بن اسفندیار . په ۶۱۳ هـ ق- د تهران چاپ ۱۳۲۰ هـ ل.

۲۲۲ - افغانستان به یك نظر . د میر غلام محمد غبار د کابل چاپ.

۲۲۳ - روضة السلاطین-د فخري هروی . د تبریز چاپ ۱۳۴۵ هـ ل.

۲۲۴ - تاریخ ادبیات فارسی - د ډاکتر بروان د لندن چاپ

۲۲۵ - تاریخ ادبیات در ایران . د ډاکتر صفا. دتهران چاپ ۱۳۳۸ هـ.ل.

۲۲۶ - تاریخ الادب العربی - د برو کلمان - (۱۹۶۲ م)

۲۲۷ - د بهارسبك شناسی دري ټوکه - د تهران چاپ ۱۳۳۷ هـ ل

۲۲۸ - آریانا انتیکوا - د ویلسن - د لندن چاپ ۱۳۳۷ هـ ل

۲۲۹ - طبایع الحیوان مروزی - د مینارسکی چاپ په لندن کښې ۱۹۴۲م

۲۳۰ - مجمل فصیحی- ۳ ټوکه په مشهد کښې د محمود فرخ چاپ ۱۳۳۹ هـ ل.

۲۳۱ - کتاب الهند - د البیروني - د حیدر آباد د کن چاپ ۱۹۵۸م

۲۳۲ - آثار الباقیه، د البیروني- د لیبسیك چاپ، ۱۸۷۶م.

۲۳۳ - معجم الانسباب - زامباور - د قاهرې چاپ ۱۹۵۱ م

۲۳۴ - جغرافیای خلافت شرقي - د جی، لی سترینج اردو ترجمه - د حیدر آباد دکن چاپ ۱۹۳۰ م

۲۳۵ - الاعلام - د خیر الدین زر کلی - د قاهرې چاپ ۱۹۵۹م

۲۳۶ - راحة الصدور راوندی - د تهران چاپ ۱۳۳۳ هـ ل

۲۳۷ - الفهرست- د ابن ندیم - د قاهرې چاپ، ۱۳۴۸ق

۲۳۸ - احیاء الملوك در تاریخ سیستان - د ملك شاه حسین سیستاني - د تهران چاپ ۱۳۴۴-هـ ل.

۲۳۹ - مقالات الشعرا - د میر علی شیر قانع تتوي، د کراچی چاپ ۱۹۵۷م

۲۴۰- تکلمهٔ مقالات الشعرا - د محمد ابراهیم خلیل تتوي - د کراچی چاپ ۱۹۵۸ م.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library